مکمل و مدلل
مسائلِ امامت
په قندهاري پښتو
امام او د لمانځه وامامت سره د متعلقه
مسائلو او احکامو يو جامع کتاب او دارالعلوم
ديوبند د حضرات مفتيانو کرامو د تصديق او تائيد سره
مؤلف
مولانا رفعت قاسمي
مدرس دارالعلوم ديوبند
مکتبه رشيديه

نام کتاب : پښتو مسائل امامت

مرتبه : مولانا محمدرفعت قاسمي

پښتو ترجمه : حافظ عبدالرحمن محمدزاني

کمپوزنګ : عزیزکمپیوټر سینټر خلجی کالونی سریاب

موبائل نمبر : ۰۳۰۳-۶۱۸۱۳۰۹

تعداد : ۱۰۰۰ ټوکه

تصحیح / نظرثاني : مولوي حمدالله اغا صاحب

ناشر : مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه

موبائل نمبر : ۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴

طبع : لاهور

قیمت :

دنشرنیټه : ۲۰۰۶ء

طبع او اهتمام : محمدساجد

﴿دمضامینوفهرست﴾

Scanned with CamScanner

رائے گرامی

حضرت مفتی نظام الدین صاحب اعظمی مدظله مفتی دار العلوم دیوبند

باسمه سبحا نه

الحمدلولیه والصلوة علٰی اهله وعلٰی آله واصحابه اجمعین

وبعد:پیش نظررساله تألیف دحضرت مولاناقاری رفعت قاسمیؔ صاحب سلمه دموصوف دنوروررسالوپه رقم داهم ډیره دمستنلوحوالوسره تیاره سوی ده او د امامت پراکثره ضروری مسائلوباندی مشتمله ده.

درسالی خصوصیت دادی چی هیڅ یوه مسئله ئی بی له مستندی حوالی څخه نه ده ورکړی.په حواله اخیستوکی ئی ډیرداحتیاط څخه کاراخیستی دی.دمعتملو کتابو څخه ئی بعینه عبارتونه رااخیستی دی.بس له دی وجه ددی رسالی فائدی ډیری لوړی دی.اوپه عواماوخواصوکی غرض دهری طبقی دائمه مساجدلپاره بی اندازی فائده منده مجموعه تیاره سوی دی.

دالله څخه دُعاکوچی داپه خپل حضورکی قبول کړی.اوموصوف ته دفائدد منلورسالودلیکلواودشائع کولوتوفیق ورکړی.آمین.

فقط

العبدنظام الدین اعظمی

مفتی دار العلوم دیوبند

۵۸۸/۸/۳۴

﴿تقریظ﴾

حضرت مولانامفتی محمدظفیرالدین صاحب مدظله مفتی دارالعلوم دیوبند

بسم الله الرحمٰن الرحیم

الحمد لله وَكَفٰى وَسَلام عَلٰی عِبَادِهِ الذين اصْطَفٰی

لمونځ یوداسی عبادت دی کم چی پرهرعاقل بالغ مسلمان باندی فرض دی اوپه ورځ کی پنځه وخته په مسجدکی په جماعت باندی داداکولو حکم ئی سوی دی.الحمدلله مسلمان داپر ځای کوی نوله دی امله زمونږ اکثره مسجدونه آبادمعلومیږی.

دمسجدامامت یادلمانځه امامت پرخپل ځای باندی یواهمه ذمه داری ده.په نبوی زمانه کی دغه ذمه واری پخپله نبی کریم ﷺ پرغاړه وه.ده مبارك پخپله د لمنځوامامت ورکاوی.کله چی دی مبارك ناجوړه سونوپردغه عظیم منصب باندی ئی ده ﷺ خپل یارغارحضرت ابوبکرالصدیق رضی الله تعالٰی عنه فائز کړی.اودارقم یکے بعددیگرے خلفاء راشدینؓ پردغه مقام باندی فائزکیدل.

هم دغه وجه ده چی اسلام پرفغه عظیم منصب باندی دعظیم

شخصیت والادفائزکیدوتأکید کړی دی.لیکن افسوس دادی چی نن ورځ ترټولودغه منصب زیات پست پاته دی.دبی کاره ځخه دبی کاره سړی انتخاب ددغه منصب لپاره کیږی.اوخاص عام دغه خوښه وی.

الله جل شانه دی ومحمدرفعت قاسمیؔ ددارالعلوم اُستادته خیر ورکړی چی هغوی ددغه منصب اهمیت ومخ ته کښیښودی اودامامت سره متعلق ئی هغه ټول مسائل سره یو ځای کړه کم چی دفتاوٰی په کتابوکی سره پاشل سوی ؤوقابل نکریوه مسئله هم داسی نه ده چی په دی کتاب کی دی نه وی راوړه سوی.

ترنظرلاندی "دامامت مسائل" نومی کتاب زمونږدمسلمانانولپاره یوه عظیمه تحفه ده.د کم ځخه چی هرلمونځکونکی په آسانی سره استفا ده کولای سی.دقاری صاحب دوه دری کتابه ددی ترمخه هم چاپ سوی دی اوداهل علم ومخ ته راغلی دی.اوعا م مسلمانان دهغه ځخه مستفیدهم سوی دی.الله تعالٰی دی دهغه دغه خدمت قبول کړی اودده لپاره دی الله پاك زاد آخرت جوړ کړی.

طالب دُعا

محمدظفیرالدین غفرله

مفتی دارالعلوم دیوبند

۲۵ رمضان المبارك ۱٤۰۸ھ

﴿عرض مترجم﴾

ویاړو په دی چی الله پاک دپیروراهسی مسلمانان پیدا کړی یواو بیاپښتانه.دمودومودراهسی داقوم مسلمان دی.یعنی اسلامیت دده په ختہ کی اخښلي دی.نورهرڅه چی کوی خومسلمان به وی.ددی سره سره په دی هم ویاړوچی حنفیان یو.پرسُنت ولا ړددی قوم اوددی مذهب خلقولپاره دالازمی ده چی هغه په خپل مذهب پوه سی.له بده مرغه زمونږدسیمی زیات أئمه مساجددامامت دمسائلو څخه ناخبره دی کم چی یونبوی ﷺ وظیفه ده.نو هڅه می وکړه چی.دمحمدرفعت قاسمیؒ صاحب دغه بی بهاکتاب چی دامامت د مسائلوپه باره کی دی پښتوترجمه کړم.اودازمادیوملګری مولوی حمدالله آغایوخواهش هم ؤو.هیله ده چی کتوربه ثابت سی.الله دی قبول کړی.آمین

حافظ عبدالرحمٰن محمدزائی

شنبه ۱۰/ستمبر ۲۰۰۵

﴿عرض مؤلف﴾

بسم الله الرحمٰن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

اما بعد:

په شریعت کی دلما نځه دامامت مسئله لوی اهمیت اوعظمت لری ، امام چونکه دټولومقتدیانو ذمه واره وی له دی وجهی دامام دمقررولوپه سلسله کی شریعت یو څه شرطونه اوضابطی بیان کړی دی اودائی ویلی دی چی ددغه جلیل القدره منصب لپاره کم سړی لائق کیدلای سی.اوبدده دمقررولو په وخت کی باید سړی دکمو خبرولحاظ وساتی.اوداچی دامامت حق وکم خلګوته حاصل دی.اوددی بلندوبالامنصب فرائض اوددہ سره متعلق مسائل څه دی.

احقرپه زیرنظررساله "دامامت مسائل" کی مستنداومفتی به اقوال د خپل بساط په اندازه مدلل اوپه عام فهم انداز کی سره یوځای کړی دی.دا ټوله دالله رب العزة فضل اوکرم دی اودخپل مشفق اُستادانواومفتیانوکرامو د توجه ثمره ده.الله تعالی دی قبول کړي اوزمالپاره ده آخرت زادجوړ کړی.

رَبَّنَاتَقَبَّلْ مِنَّااِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ

دذعامحتاج

محمدرفعت قاسمیؒ

مدرس دارالعلوم دیوبند

﴿بسم الله الرحمٰن الرحيم﴾

﴿امامت﴾

ددین په ټولواعمال خیر کی لمونځ دټولو څخه اهم اومقدم شی دی. په دینی نظام کی ددی در جه اومقام هغه دی کم چی دانسان په بدن کی دزړه مقام دی. دلمانځه امامت د هیڅ شک او شبهی نه علاوه یوعظیم الشان دینی منصب او ذمه واری ده. بلکه دا درسول الله ﷺ نائب توب دی. نوله دی امله دالازمه ده چی امام دی هغه سړی جوړسی کم چی په موجوده لمونځ کونکو کی دنوروپه نسبت ددی عظیم منصب لپاره زیات اهل اولائق وی. او داهغه څوک کیدای سی کم چاچه د رسول الله ﷺ سره نسبت زیات وی په دینی اعتبار. دنبی علیه الصلاة والسلام په میراث کی مهم میراث قرآن مجید دی. نوکم سړی چی دایمان په نورمنورسی نود هغه وروسته به دده دقرآن مجیدسره زیات تعلق وی. قرآن مجیدئی زده کړی او خپل زړه ته ئی کښته کړی. اودقرآن په دعوت اوتذکیرسره اواحکاماتوئی ځان پوه کړی اودائی په خپل ځان کی جذب کړی اوپه خپل ځان کی ئی طاری کړی. اوس نودی دنبی کریم ﷺ د خاصوقریبانویوخاص قریب دی. اودهغه خلقوپه مقابله کی څوک چی په دی سعادت کی دده څخه وروسته دی به دی دحضور ﷺ ددی نائبتوب یعنی امامت لپاره زیات اهل اوموزون وی. او که بالفرض

ټول لمونځ کونکی په دی لحاظ سره برابروی نوچونکه دقرآن مجید څخه وروسته دسُنتودرجه ده نوپه دی صورت کی به ترجیح دله ورکول کیږی. څوک چی دسُنت او شریعت په علم کی دنوروخلقو څخه امتیازلری او که بالفرض په دی لحاظ هم ټول سره برابرؤونوبیاهغه څوک اهل دی چی په دوی کی تقوی داره، پرهیز ګاره اوپه محاسن اواخلاقو کی ممتازوی نوبیاهغه دامامت لپاره احق دی. او که بالفرض په قسم صفاتو کی هم سره یورقم ؤونو بیابه دعمرپه لحاظ وکتل سی کم یوچی په عمر کی زیات وی هغه دامامت لائق دی. ځکه چی دعلم لوی والی او بزرګی هم یو مسلّمه فضیلت دی. په هرحال دامُت لپاره دا اصولی ترتیب بالکل دعقل سلیم مطابق اومقتضاء حکمت دی اودا درسول الله ﷺ تعلیم اوهدایت دی.

﴿دامامت ترتیب﴾

عن ابی مسعودالانصاری رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم يَؤُمَّ الْقَوْمَ اَقْرَأُهُمْ لِكِتَابَ اللهِ فَاِنْ كَانُوْافِی الْقِرَأَةِ سَوَاءُ فَاَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَةِ فَاِنْ كَانُوْا فِی الْسُّنَّةِ سَوَاءُ فَاَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَاِنْ كَانُوْا فِی الْهِجْرَةِ سَوَاءُ فَاَقْدَمُهُمْ سِنًّاوَلَايُؤُمَّنَّ الرَّجُلَ فِیْ سُلْطَانِهٖ وَلَايَقْعُدُفِیْ بَيْتِهٖ عَلٰی تَكْرِمَتِهٖ اِلَّابِاِذْنِهٖ رَواه مُسْلِم)

ترجمه: دحضرت ابومسعودانصاری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چی نبی ﷺ فرمائی چی دیوی ډلی امامت دی هغه څوک وکړی چی په

دوی کی دټولو ښخه زیات دقرآن کریم ویونکی وی. که چیری په دی کی
سره برابروه نوبیادی په دوی کی هغه‌ښوک ددوی امامت و کړی چی په
دوی کی ئی تر ټولـودمـخه مهاجر سوی وی.او که چیری په هجرت کی هم
سره برابروه نوبیا دی هغه ښوک امامت و کړی چی پلوی کی د عمرد
لـحاظه مشروی.او یو ښوک دی دبل چاپـه سیادت په کلی اویاپه حکمت
کی دهغه خلقوامام نه جو ړیږی.اودکوربه په کورکی دی دهغه پرخاص ځای
باندی نه کښینيږ.بلکه دهغه په اجازه سره.(دا روایت صحیح مسلم شریف کړی)

تشریح په دی حدیث شریف کی دلفظ "اَقْرَأُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ"لفظی ترجمه هم
دغه ده چی کـمـه چـی دلته وسوه.یعنی دقرآن زیات ویونکی به وی.اوددی
مـطلبّ دقرآن حفظ دی.اونه صرف دقرآن حفظ بلکه دقرآن خاص علم اود
قرآن سره خاص شوق مراددي.

دنبی کریم ﷺ په زمانه کی چی به کم چاته قاری یاقراء ویل کیدل
دهغوی امتیازهم داؤوچی هغه به حافظ ؤواودقرآن عالم به ؤ او دقرآن مجید
سره به ئی خـاص مـحبـت ؤو.پـردغه اساس باندی به ددی حدیث شریف
مطلب داوی چی د لمانځه د امامت لپاره موزون اواهل سړی هغه دی دچا
چی د کتاب الله په باره کی علم اودقرآن مجید سره شغل اوتعلق په نوروخلقو
کی لوړاو اُوچت وی.ظاهره خبر ه ده چی د نبی کریم ﷺ په زمانه کی د

قرآن سره تعلق اوشغل تر ټولولوی امتیاز درلودی.اوهم دا دفضیلت معیارؤو.
پـه هـغه وخت کی چی دچاپه دی سعادت کی ښومـره زیاته حصه وه په هغه
اندازه باندی هغه دنبی کریم ﷺ دخاص وراثت او امانت حامل اوامین ؤو.د
قرآن دفضیلت ښخه وروستـه دسنت اودشریعت علم د فضیلت دوئم معیار
ؤو.او دا دواړه عـلمونه یعنی دقرآن علم اودسُنت علم چی به دچاسره ورسره
ؤواوعمل به ئی هم ورسره ؤو.اګرچه هلته دعلم بلاعمله هیڅ وجود نه ؤو.

دفضیلت دریم معیاردنبی کریم ﷺ په دغسی خاص چارپیریال کی
پـه هجرت کښيږ وړانـدی والـی ؤو.نـوپـه دی وجه پـه حدیث کی په دریم
نمبرکی ددی ذکرسوی دی.خوبیاداشی پاته نه سو.نوپه دی وجه فقهاؤ د دی
په ځای کی پـه صـلاح اوتـقـوی کـی فضیلت اوفوقیت دترجیح دریم معیار
کرځولی دی اودابالکل صحیح دی

دترجیح ښلورم معیارپه دغه حدیث شریف کی دعمرمشروالی کنټرل
سوی دی.چی که دپوره ذکر شوودریومعیارونوپه لحاظ سره ښوک فائق او
قـابـل ترجیح نه وی نوبیابه هغه ښوک لائق وی چی دعمرد لحاظه پرنورو
بـانـدی مشـروی.دحـدیـث شـریـف په پای کی دوی نوری خبری هم راو ړه
سوی دی

(۱)هغه داچی کله یو ښوک دبل چا د امامت اویاسیادت په حلقه کی راشی

نو که څه هم دی زیات عالم وی بیادی هم هلته پخپل سربانلدی امامت نه ور کوی.بلکه دهغه ځای په امام پسی دی اقتداء وکړی.او که چیری هغه امام په خپله خوښه سره اجازه ورته وکړی اوتاکیلورته وکړی نوبیاپرواه نلری.

(۲)داچه کله یوڅوک دبل ځاکره ولاړشی نومیلمه دی دکوربه پرخاص ځای باندی نه کښینی. که چیری هغه پخپله خوښه سره هغه خپل ځای ور پریښوونوبیاپرواه نکوی.ددی دواړ خبرو حِکمَتونه او مصلحتونه بالکل ښکاره دی.اومونږتاسی پخپلوسترګولیدلی دی.

﴿کم څوک چی په تاسی کی بهتره وی هغه امام کړی﴾

عن عبدالله بن عمررضی الله تعالٰی عنه قال قال رسول الله ﷺ اجعلوا أئمتكم خيارکم فَاِنَّهُمْ وَفْدُكُمْ فِيمَا بينِكُمْ وَبَيْنَ رَبِّكُمْ **(رواه الدارقطني والبيهقي (كنزا لعمال))**

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمررضی الله تعالٰی عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی په تا سو کی چی څوک ښه اوبهتره وی هغه امام جوړ کړی.ځکه چی امام ستاسو اودالله په مابین کی نمائنده وی.

تشریح: داخبره بالکل ښکاره ده چی امام دټولی جمعی لخوادالله په حضور کی نمائند ګی کوی.نوپه دی وجه داخبره په خپله دجَمْعِيُ په خلقوباندی فرض دی چی هغوی ددی اهم اومقدس منصب لپاره په خپل

مابین کی یوبهترین سړی وټاکی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چی ترڅوپوری په دی دُنیاکی جلوه افروز ؤو نوپخپله به ئی امامت کولواو کله چی مرض الموت کی کمزوری سونودعلم اوعمل په لحاظ سره ئی دأمت افضل ترین سړی حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالٰی عنه ئی دامامت لپاره مقرر کړی.

دحضرت ابومسعودانصاری رضی الله تعالٰی عنه په دی پورتنی حدیث شریف کی چی دامامت دحق کم تفصیلی ترتیب بیان سوی دی د هغه منشاء هم په اصل کی دا ده چی په ټولنه کی کم سړی غوره اوبهتر وی هغه دی امام جوړسی. "اَقْرَأُهُمْ لِكِتَا بِ اللهِ ، اَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ......الخ داټول هم ددی غوره والی اوافضلیت فی الدین کی تفصیل دی.

خوافسوس خبره داده چی په وروستیوزمانوکی ددی اهم هدایت څخه ډیر تغافل اختیارسوی دی او ددی په وجه دأمت ټول نظام درهم برهم سو.(معارف الحدیث ۳/۲۱۷)

دامام لپاره صحیح معیاراورهنمااصول هم دادی چی دده لمو نځ مختصراوسپک رقم نه وی.خوورسره مکمل اوتام هم وی یعنی هرر کن او هرشی ئی سم وی او دسنت نبوی برابراداسی.(معارف الحدیث ۳/۲۲۲)

"خوغم دادی چی نن صباخاص کردافغانستان اوپاکستان په ځینو

علاقوکی د امامت شرط صرف اوصرف ارزانی.ده.یعنی خلق هغه امام دروی چی لږتنخواه غواړی اوپه ډیرلږشی باندی قناعت کوی.اودارقم امام د دی پر ځای چی دخلقومقتداء وګرځی اوس داسی شکل اختیار کړی دی لکه مزدورالیعاذباالله.دازمو نږددین انحطاط اوکمزوری ده.په دی کارکی علماء حکومتونه اوپه خاصه بیاعوام ذمه واره دی. ولی چی دامشهوره ده چی خلق وائی خاص کرپه روژه مبارکه کی چی راځی په فلانکی امام پسی لمونځ او تراویح وکړوولی چی هغه ئی په ۲۰دقیقی کی هر څه خلاصوی. یعنی مونږ لکه هغه مُرداربوره وری چی دپورور کونکی غاړه هسی په یوشی باندی ور خلاصه ږو.چی هسی په نام یوشی وی.چی دهمدغه سپک لمو نځ کونکی لپاره په دی دُنیاکی په پنځلس عذابوباندی اخته کوی.یوخوئی دادی چی په رزق ئی الله نه مروی اوبل داچی مرکیږی کلمه ئی پرخوله نه راځی.چی دا ډیرد افسوس اودغم ځای دی.(مترجم)

﴿داامام ذمه واری اومسئولیت﴾

ترجمه: عَبْدُاللهِ بْنِ عُمَرَرَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ اَمَّ قَوْمًافَلْیَتَّقِ اللهَ وَلْیَعْلَمْ اَنَّهٗ ضَامِنٌ مَسْئُوْلٌ لِمَاضَمِنَ وَاِنْ اَحْسَنَ کَانَ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِمَنْ صَلّٰی خَلْفَهٗ مِنْ غَیْرِ اَنْ یُّنْقَصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَیْءٌ وَمَاکَانَ مِنْ نَقْصٍ فَهُوَ عَلَیْهِ (رواه الطبرانی فی الاوسط(کنزالعمال)﴾

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عُمررضی الله تعالٰی عنه څخه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل چی کم سړی چی دجمعی امامت کوی نودهغه لپاره پکارده چی دی د الله پاک څخه وبیریږی اودایقین دی ولری چی دی(د مقتدیانو دلمانځه هم)ضامن او ذمه داردی.اوده څخه به ددغه ضمانت اوذمه واری پوښتنه کول کیږی.که ده په ښه طریقه لمو نځ ورکړی ؤونوکم مقتدیان چی پسی ولاړدی دهغوی دمجموعی ثواب په اندازه هغومره ثواب به وده ته هم ورکول کیږی.حال داچی دمقتدیانوپه ثواب کی به هیڅ کمی نه راځی.اوکه چیری په لمانځه کی یوڅه کمی اویاڅه نقصان پاته سی نوددی پیتی به ټول دامام پرغاړه وی اوداټول بوج به پرامام راپریوځی.

﴿دمقتدیانورعایت﴾

عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَاصَلّٰی اَحَدُکُمْ لِلنَّاسِ فَلْیُخَفِّفْ فَاِنَّ فِیْهِمُ السَّقِیْمَ وَالضَّعِیْفَ وَالْکَبِیْرَوَاِذَاصَلّٰی اَحَدُکُمْ لِنَفْسِهٖ فَلْیُطَوِّلْ مَاشَاءَ (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت ابوهریرة رضی الله تعالٰی عنه څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی کله په تاسوکی یوڅوک دخلقوامام سی اولمو نځ ورکوی نوده له پکاردی چی لمو نځ مختصرو کړی (یعنی ډیردی نه اُوږدوی) ځکه چی په مقتدیانوکی ناجوړه ،کمزوری اوسپین ږیری وی(چی ددوی

لپاره اُورِد لمونځ باعث دزحمت گرځي)او کله چي په تاسو کي يو څوک يوازي لمونځ کوي نوڅومره چي ئي خوښه وي هغومره دي ئي اُورِد کړي.

تشریح: په صحابه کرامو کي کم چاچي په خپلو قبيلو ياخلقو کي دجمعي يانورلمنځونه ورکول نود خپل عبادتي شوق اوذوق مطابق به ئي اُوږدلمونځ ورکاوی.نود دي په سبب به کمزوری ، ستړی ستومانه خلقوته کله کله ډير تکليف ورسيدی نوددی کارداصلاح لپاره رسول الله ﷺ په مختلفومواقعو کي دارقم هدايت وفرمائی.دهغه منشاء ددی نه داوه چي امام له پکاردی چي هغه ددی هدايت لحاظ وساتي چي په مقتديانو کي کله کله ناجوړه کمزوری ياسپين ږيری هم وی نوپکارده چي لمونځ دي ډيرنه اُوږدی.بلکه دسُنت خيال دي هم وساتي اودمقتديانوخيال هم. لنډاومختصر سورتونه دي وای اوپه رکوع اوسجده کي دي تسبيحات ترډيری واره زيات نه وای. د نبي کريم ﷺ لمونځ يو ميانه لمونځ ؤوبايدچي دهغه پيروی وسي

مقتديانوته لاربنوونه

عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاتُبَادِرُوْا الْاِمَامَ اِذَاكَبَّرَفَكَبِّرُوْا وَاِذَا قَالَ وَلَاالضَّالِّيْنَ فَقُوْلُوْاٰمِيْنَ وَاِذَارَكَعَ فَارْكَعُوْا وَاِذَاقَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ فَقُوْلُوْرَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ **(رواه بخاری)**

ترجمه: دحضرت ابوهريرة رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي نبي

کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چي ای خلقو دامام څخه مه مخته کيږی (بلکه دامام اتباع اوپيروی دی وسی) کله چي امام اَللّٰهُ اَکْبَروروائی نو تاسی هم اللّٰهُ اَکْبَرُووائی او کله چي امام وَلَاالضَّالِّيْنَ ووائی نوتاسی اٰمين ووائی او کله چي دی رکوع و کړی نوتاسوهم رکوع و کړی او کله چي امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ووائی نوتاسی رَبَّنَالَکَ الْحَمْدُووائی.

تشریح: دامام درمخه کيدلومطلب دادی اوپه ده پسي داقتداء مقصدهم دادی چي څه ډول هغه کوی هغسی به مقتديان هم کوی. کله چي چااقتداء وکړه په يوه امام پسي هلته بيادمقتدی خوښه نه چليږی.يعني په ټولوارکانو او اجزاؤکي مقتديانوله پکاردی چي په امام پسي وی په هرشي کي.په مسندبزار کي هم دابوهريرة رضي الله تعالٰی عنه څخه روايت سوی دی اووائی چي کم سړی چي دامام څخه دمخه په رکوع ياپه سجده کي سرپورته کوی ياکښته کيږی.نودهغه تندی دشيطان په لاس کي وی اوشيطان په ده باندی داسي کوی اودارقم بل حديث شريف دصحيح بخاری او مسلم شريف کي د رسول الله ﷺ څخه روايت کړی دی اووائی چي حضورﷺ وفرمايل چي کم څوک چي په سجده ياپه رکوع کي دامام څخه دمخه کښته کيږی يا پورته کيږی نوهغه له داويره پکارده چي داسي نسي چي دده سردخره سي.

(معارف الحديث ص ۳۲۳، جلد ۳)

خلاصه: په مستخلص کي يوه قيصه راغلي ده وائی چي يوه عالم داحديث

شریف واوریدی خوده ته په دغه خبره کی شک پیداسوچی آیادابه په حقیقت کی داسی وسی او که نه.نوئی په قصده دامام ځخه دمخه په رکوع او په سُجده کی ولاړی.الله پاک په خپل کامل قدرت سره دهغه سردخره کړی.دغه عالم به چی کله وطالبانوته سبق وائی نوبه ئی په محراب کی پرده خرولی وه اودپَرْدِی دشالځوابه ئی سبق ورته وائی.یوه شاګرد ئی ډیر عمروسره تیر کړی خویه دی ونه پوهیدی چی زمونږ اُستاذولی مخ نه ښکاره کوی.بیائی یووخت پوښتنه ځنی وکړه چی ته ولی مخ نه ښکاره کوی.هغه عالم ورته وویل چی پرپرده څه ئی کوی.خو هغه شاګردئی ټینګاروکړی چی خامخابه حال راته وائی نوبیاده دا قیصه ورته وکړه.الله پاک دی مونږ وساتیّ دداسی امتحان ځخه.(مترجم)

﴿داامام صفتونه﴾

کم څوک چی دا اهمه فریضه ترسره کوی په هغه کی دغه لاندی صفتونه یاخوبیانی بایلموجودی وی.(۱)کم څوک چی امامت کول غواړی باید خواهش ئی ونلری.خوداپه دی صورت کی چی ددی منصب لپاره بل سړی موجودوی.(که چیری بل اهل سړی موجودنه وی نوبیاخواهش کول پکار دی)(۲)که دده څخه افضل سړی د امامت لپاره موجودنه ؤنوبیادی هم دی پخپله نه ترمخه کیږی.(۳)دنبی کریم ﷺ ارشاددی چی خلقوته یو سړی

دجمعی لمونځ ورکوی لیکن په ده پسی داسی یو څوک ولاړوی چی تر ده بهتره اوغوره وی نوداسی خلق به همیشه په انحطاط کی وی.حضرت عمر فاروق رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چی که زما ځته پری سی دابه ښه وی چی زه دداسی جَمْعِیْ امامت و کړم په کم کی چی حضرت ابوبکرالصدیق رضی الله تعالیٰ عنه موجودوی.(۴)امام به قاری دقرآن وی.ددین په خبروبه پوهیږی.په سُنت به ښه خبروی.په حدیث شریف کی راځی چی "تاسوخپله دینی معامله خپلو فقهاؤته وروسپاری اوقاریان خپل امامان مقرر کړی" اوپه بل حدیث شریف کی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چی ستاسو امامت دی هغه خلق و کړی چی ستاسو ځخه بهتره وی ولی چی دوی دالله په دربار کی ستاسونمائندګان دی.

حضور ﷺ دا تخصیص په دی وجه فرمایلی دی چی دینداره امام او دعلم او فضل لرونکی والاالله پیژنی اودهغه ځخه ویریږی.(ځکه خوالله جل شانه فرمائی "اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا"بی له شکه دالله په بندګانو کی علماء دالله څخه بیریږی) دوی پخپل لمانځه اودمقتدیانو په لمانځه پوهیږی اوکمی خبری چی لمونځ خرابه وی دهغه خبرو څخه هغه ځان ساتی.

دقاری قرآن ځخه مراددحضور ﷺ بی عمله قاری ندی بلکه باعمله حافظ اوْ قاری دِی.په حدیث شریف کی راځی چی ددی قرأت زیات

حقدارهغه خوک دی چې په دی باندی عمل کوی.او که چیری دی په دی باندی عمل نه کوی اونه ئی تلاوت کوی خواه که هغه حافظ وی او که نه، په قرآن باندی عمل نکوی اونه دالله د حلودوپرواه کوی اونه ددی دممنوعاتو څخه احترازاواجتناب کوی نوالله تعالیٰ د داسی سړی هیڅ پرواه نلری.نو داسی سړی دځه عزت اواحترام لائق ندی.(۵)امام دی خپله خوله دخلقو د غیبت کولواودهغوی دعیبود لټولوڅخه بنده کړی.نوروخلقوته دی دنیکی حکم ورکوی اوپخپله دی هم عمل پر کوی نورخلق دی دبدو څخه بند وی اوپه خپله دی هم بندلسی.نیکی اودنیکوخلقوسره دی مینه لری.دبدی اودبدو خلقو څخه دی نفرت کوی دلمنځوپه وختوبه خبروی اود وختوبه ډیرزیات پام کوی.برداشت اوصبرلرونکی بایلوی.د جاهل سره په ورین تندی باندی پیش راځی دنفس دخواهشاتوڅخه دی ځان وساتی.

امام ته لارښوونه

امام ته پکاری دی چې بی کاره خبری دی نکوی.امام به دعامیانوپه مجلس کی بلاضرورت نه کښیني.خپل ځان دی دانبیاؤ کرامو استازی بولی اودنبی کریم ﷺ خلیفه.دلمانځه دار کانودی زیات خیال ساتی (سپک لمونځ دی نکوی.امام به په محله یاپه کلی دماره سړی په دی وجه چې هغه موردی چاپلوسی دی نکوی اونه دی طمع او اُمیدورته کوی.چې داده د

منصب خلاف خبره ده.د امام کالی به صاف اوستره وی.غروراوتکبردی نکوی.دحکاموسره دی نه کښیني.دخپلو مقتدیانو کره دی بی اجازی نه ورځی.اودستر کوحفاظت به کوی اودچاپرده دی نه پورته کوی.امام به په داسی تجارت او یا کاروبارکی نه اخته کیږی په کم چې دربایاسُود اونورو خبائثو امکان وی.په اوس زمانه کی دی دبینک ملا زمت نکوی.دخلقود امانتوبه خیال ساتی.مبتدع به نه وی اوچاپلوسی به نکوی.اود ځان څخه به فتویٰ نه ورکوی)

دامام لپاره نورشرطونه

دامام لپاره لازمی ده چې هغه دی دفتنی د پیداکولوکوشش نکوی او نه دی وفتنی ته تقویت ورکوی.بلکه دباطل پرستوخلاف دی داهل حق سره دی کمک کوی.هغه که په لاس باندی ممکن وی او که په ژبه باندی.که دا امکانات نه ؤونوبیا دی په زړه کی ددوی دکومک غوښتونکې وی.دالله په معامله کی دی دبلویونکی د بلویلوخیال نکوی.خپل تعریف دی نه خوښوی .اونه دی خپل ملمت بد ګڼړی.په دُعا کی دی ځان نه مختص کوی.بلکه کله چې دُعاکوی نود ځان لپاره اودعاموخلقولپاره دی عامه دُعاکوی.که یوازی په تنهائی کی یو ځای ځان ته دُعاکوی نوبیا که چیری یوازی وځان ته دُعاوکړی نوبیاپرواه نکوی.خوښه خبره داده چې دی بایلهمیشه د عامو

خلقو خیرخواه اُوسی په هرشی کی.

داهل علم نه ماسوی دی چاته پربل چاترجیح نه ورکوی. درسول الله ﷺ ارشادگرامی دی چی "په لمانځه کی دی زماسره نژدی اهل علم اود فهم اوادراک کسان ودریږی" نوداسی دی دامام نه وروسته یعنی په اول صف کی داسی خلق ودریږی. داسی نه چی دولت مندخلق و ځان ته نژدی کوی اوغریب کسان دځان څخه لری ساتی. دداسی خلقو امامت دی نکوی چی هغوی دده امامت نه خوښوی. که په مقتدیانو کی یو څه خلق دده امامت خوښوی اویو څه ئی نه خوښوی. نو که دنه خوښونکو تعدادزیات وی نوامام لره پکارده چی محراب پریږدی. (یعنی لمونځ دی نه ورکوی) خوشرط دادی چی دمقتدیانو نا خوښي به دده دعلم ، تقوی اوپوهی دکمی له وجهي وی. او یابل شرعی نقص پکښې وی. که چیری دمقتدیانو ناخوښي ددوی د جهالت، باطل پرستی ، فرقه وارانه تعصب، قومی تعصب (چی داقومی تعصب په پښتنو کی ډیرزیات سته) اونفسانی خواهشاتو په وجه سره وی نوبیادی ددوی د ناخوښي پرواه نکوی. او نه دی ددوی په وجه لمونځ پریږدی. او که چیری په خلقو کی دده په سبب فتنه اوفسادپیداکیدی نوپکارده چی دمصلحت نه کار واخلی اوکناره کش سی. امام لره پکارده چی دتهمت له ځایه لری وگرځی. دفسادیانو سردارانو او نوروغیر اخلاقی خلقو سره دی تعلق اومحبت نه ساتی

(البته که چیری د دوی د اصلاح لپاره وی بیاپرواه نلری) که چیری خلق دی آزاروی نودی دی صبر کوی اوددی په عوض کی دی دهغوی سره د اخلاقو مظاهره کوی. دهغوی سره دی مینه و کړی او د هغوی خیرخواهي دی وغواړی.

﴿دامامت دحصول لپاره جنګ کول﴾

دامامت دحصول لپاره جنګ کول ندی پکار. که بل څوک دابار د امامت پورته کول غواړی نودهغه سره دی په دی معامله کی جنګ نکوی. د اکابرواودسلف صالحینو په باره کی داسی منقول دی چی هغوی به دامام جوړ یدلو څخه حتی الامکان انکار کاوی. اوپه خپل ځای ئی داسی کسان ته د امامت وظیفه په لاس ورکول کم چی به بزرگی او تقوی کی ددوی سره برابر نه ؤو. ددی طرزعمل څخه ددوی دادعوه وه چی په خپل د دوئ بار سپک سی اودوئ به ددی خبری څخه بیریدل چی داسی نه چی د دوئ څخه په امامت کی څه قصوراو کوتاهي ونسی. (غنیة الطالبین صفحه ۸۶۵)

﴿دامامت اُجرت (مزدوری)﴾

دامامت داُجرت یامزدوری په باره کی هم دابتداء څخه اختلافی مسئله رارو انه ده. دامام شافعی امام احمدبن حنبل رحمهماالله تعالیٰ علیهمااود یوی ډلی دامذهب اورأیه ده چی پریوداسی طاعت چی کم داجیرپه ذمه متعین

نه وی عقداجاره ئی منعقدکول او اُجرت اخیستل اوور کول جائزدی.لکه
قرآن مجیدتعلیم،اذان، امامت اونور دا سی.

امام اعظم ابوحنیفه،زهری اوقاضی شریح رحمهم الله تعالی علیهم
اویو ډله د دی خبری قائل دی چی په اطاعت باندی اُجرت(اخیستل)ناجائزه
دی.

دمتقدمینواحنافو دامسلک دی چی په طاعت باندی اُجرت ا
مزدوری اخیستل او ورکول ناجائزه دی اوقدماء حنفین هم ددی سره موافق
فتوی ور کوی .او عمل هم پر کوی.

علم دین ښونکوته ،مؤذنینوته،امامانوته به پخوا دبیت المال څخه
وظائف اوتنخواه ورکول کیدل او ددی خلقوبه ډیرپه آرام اوفارغه زړه سره
خپل کارسرته رسولو. څه وخت وروسته چی اسلامی مملکت پاته نسو
بعضی مسلمان باچهانو چی دبیت المال په مصارفو کی دشرعی حدودو څخه
تجاوزو کړی نودعلماؤ، مؤذنینواو أئمو وظائف اوتنخواوی ئی بندی کړی.او
دین په تعلیم ورکولو کی یاپه اذان اواقامت او امامت کی چی دوی ته کم قلبی
فراغت حاصل ؤوهغه ختم سونوچونکه داخلق هم آخرانسانان وه او ضروریات
نه ئی درلودل نوپه دی وجه دوی مجبوراًدحال دحاصلولو ذرائعوته متوجه
سول چی ددی په ذریعه دخپل ځان او داولادا ومتعلقینو وخت تیرسی.

ذرائع معاش چونکه په مختلف قِسمُووی.چا څه طریقه اختیار کړه
اوچا څه،چاتجارت، چازراعت چاملازمت ،چاصنعت اوچادستکاری اختیار
کړه.داسی ضرورتونه هم کم وبیش مختلف ؤونوپه دی وجه د شپی او
ورځی په ۲۴ساعتو کی یوه غټه حصه په کسب معاش کښې دتیرولوباوجود
هم دبعضی کسانوضروریات پوره نه سول.ددی حالاتوپه وجه مجبوراً ډیرو
علماؤ، مؤذنینو اوامامانوددینی تعلیم یااذان اوامامت خلمت بالالتزام پوره
نه کړای سواو بالآخره ئی داخلمت پریښووی.

خودتعلیم دپریښووڅخه ئی دانقصان وسوچی دعلمِ دین سلسله ئی
پری کړه.ځکه چی هر کله سبق ښوولووالاته دضروریات معاش دمشغولتیاپه
وجه دومره فرصت نه ؤوچی طالبانوته ئی درس ور کړی وی.نوبیاددین د
علومودژونداوبقاءڅه صورت پاته سو؟

داذان دپریښولوڅخه داتاوان ورسیدی چی دلمانځه دوختودانضباط
چی کم معین صورت دمؤذنی سره کیدی سوهغه درهم برهم سو.چونکه په
دی زمانه کی په غټو غټوښارونو کښې بلکه په بعضو کلو کښې اکثرغریب
مسلمانان په کارخانواوکیمپونو کی اوپه مِلونو کی په مزدوری کارکوی اود
خپلوافسرانوخوشامندی کوی نو هله د جمعی اجازت حاصلوی.داسی خلقو
ته ددی خبری زیات ضرورت دی چی د اذان اود لمونځ وخت معین وی

چي د هغې موافق دوی د کارخانو څخه په صحیح وخت راځي او په جمعه لمونځ وکړی او بیا خپل کار له ځي که د اذان او دجمعي وختونه معین نه وی نو دوئ یاخو به جُمُعه پریږدی او یا به په خپل کار کی ډیر وخت غیر حاضروی نو افسران به ئی ناراضه کیږی او خپل دمعاش ذریعه به ئی دلاسه ووځی. که امام معین نه وی نو دجُمُعی انتظام سم نه پاته کیږی او په ښه انضباط او نظم سره لمونځ نسی کیدای. نو متأخرینو حنفي فقهاؤ ددی ضرورتِ شرعي په وجه د حضرت امام شافعي رحمه الله تعالیٰ علیه دقول مطابق دافتوی ور کړه چي د ضرورت موافق په طاعت باندی اُجرت یا مزدوری اخیستل جائز دی. دوئ د قرآن ،حدیث او د فقهي په تعلیم او په اذان او اقامت باندی دأجرت یا مزدوری اخیستلو دجواز تصریح ور کړه. ځکه چي دا داسي شیان دی چي که دا باقي پاته سی نو اسلامي حقیقت باقي پاته کیدل به ګران وی (خدمات او معاوضه صفحه: ۱۷۲)

دحاکم وخت څخه اجازه ضروری ده

که په حاضرینو کی حاکم وخت موجود وی نو دهغه داجازی پر ته دی امامت ته دی نه ورمخته کیږی.

امام او محراب

امام ته پکارده چي کله دلمانځه لپاره درمخه سی نو ټول ځان دی په محراب کی نه دروی. یعنی چي ټول په محراب کی دننه سی. او په ده پسی

ولاړ کسانو څخه پټ وی. بلکه ده لره پکار ده چي دمحراب نه لږ د باندی ودریږی. یعنی دامام پوندی دباندی وی. امام لره پکارده چي دسلام ګرځولو څخه وروسته دی ډیر ساعت دی په محراب کی نه پاته کیږی بلکه ده لره د محرابه څخه وتل پکار دی. او یا دی د محراب په یوه خوا کی ودریږی او سُنت دی ادا کړی. دحضرت مغیرة بن شعبة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چي نبی کریم ﷺ وفرمایل چي امام په کم ځای کی ودریږی او جُمُعه ور کړی په هغه ځای کی دی بیا نفل یا سنت نکوی. البته مقتدی ته جائز دی چي په خپل ځای کی ودریږی نفل یا سُنت و کړی. او که وغواړی نو ځای هم بدلولای سی.

دقرأت څخه اول او وروسته سکوت کول

امام له پکاردی چي دوه واره وقفه و کړی. یو وار دلمانځه په اول کی او دوئم وار دقرأت څخه وروسته درکوع څخه ترمخه. په دی مابین کی به ده ته دساه اخیستلو وخت ورملاؤ سی. او په دی قرأت کی چي کم جوش پیدا سوی دی هغه به په سکون او آرام بدل سی. دقرأت پرله پسی والی به درکوع په تکبیر هم نه کیږی. دحضرت سمرة بن جندبؓ څخه چي کم روایت سوی دی په هغه حدیث شریف کی درسول الله ﷺ دا معمول نقل سوی دی.

په تسبیح ویلو کی دی چابکی نکوی

امام چې کله رکوع لره ولاړسي نودري واره دې تسبيح ووائي.په تسبيح ويلو کې دې چابکي نکوي.بلکه ډيرپه مزه دې الفاظ اداکوي.اوپرله پسې دې وائي.ځکه که چيرې امام تسبيح چابک ووائي نومقتدي به ئې ونه وائي.دغه رقم امام لره پکار ده چې کم وخت درکوع څخه سرراپورته کوي سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ دې ووائي سم دې ودريږي اوچابکي دې نکوي. ترڅو چې مقتدي رَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ ووائي.حضرت انس بن مالک رضي الله تعالیٰ عنه وفرمايل چې رسول الله ﷺ به د رکوع څخه خپل سرمبارک راپورته کړې نودومره وخت به ئې د سجدې څخه ترمخه ځنډ کاوې چې چابه ويل چې ګواکې سجدې له تګ ځنې هيرسو.دغه رقم به ئې په سجده کې او دواړوسجدوپه مابين کې ځنډ کاوې. اودهغه چاهيڅ خيال مکوې څوک چې وائي چې په دې صورت کې به مقتدي د امام څخه دمخه بعض ارکان ادا کړې اوکه يورُکن مقدم کې نو لمونځ به ئې فاسد سي. کله چې مقتديان دامام وخنلته وګورې نوپوه به سي چې امام هميشه داسې ځنډ کوي. اودواړو سُجدوپه مابين کې وقفه کول دامام عادت دې نو دوئ به هم ځنډ کوي.اود امام څخه به دمخه سُجده نکوي. (غنية صفحه ۸۶۹)

﴿امام دې دلمانځه څخه دمخه مقتديانوته خبرورکړي﴾

امام ته پکارده چې دلمانځه څخه دمخه مقتديان خبرکړي چې ګورې

تاسي په رکن کې هم زما څخه ترمخه نسي.بلکه ماورُکن اداکولوته پرېږدې اوبيازما اقتداء وکړئ. که تاسي زما څخه دمخه ارکان اداکړې نو الله تعالیٰ به ناراضه کړې اوخپل لمنځو نه به هم خراب کړې.(اودسخت وعيدسره به هم مخامخ سی)

امام ته پکارده چې خپلو مقتديانوته نصيحت کوي اودوي پوهوي چې په رکوع اوسُجده اونورو ارکانو کې دتلوارې څخه کاروانخلي.اولمونځ بنه سم په طريقه باندې اداکړې.ځکه چې امام ددوئ ساتونکې دې.دقيامت په ورځ به دامام څخه دخلقوپه باره کې پوښتنه کول کيږي.امام لره پکارده چې خپل لمونځ په بنه طريقه باندې اداء کړي. که چيرې کوتاهي کې وکړي نولکه څرنګه چې به دده مقتديانوته د ګناؤسزاملاويږي هم هغه رقم به امام ته هم ددې کوتاهي اوغفلت په وجه ددې خلقود لمنځونودخرابولو سزاورکول سي.(غنية الطالبين صفحه نمبر ۸۷۱)

﴿دامام په زړه اوپه ژبه نيت کول﴾

امام ته پکاردې چې ترڅوئې دزړه نيت نه وي کړې ترهغې دې لمونځ نه شروع کوي اونه دې تکبير تحريمه وائي. که چيرې په ژبه هم دنيت الفاظ اداکړې نوښه خبره ده.امام ته پکارده چې اول راسته خواته اوبياچپه خوا ته وګورې او صفونه سم کړې او مقتديانوته ووائي چې سم ودريږي.الله دې

پرتاسوباندی رحمت نازل کړی سم ودریږی الله پاک دی ستاسی څخه
راضی سی.دمابین خالی ځایونو ډکولوحکم دی ورکړی اودا دی ورته ووائی
چی اوږه په اُوږه سره و دریږی او اُوږی سره برابری کړی. دصفونو د کوږو
الی څخه په لمانځه کی نقص پیدا کیږی.شیطان دخلقوسره په صفونو کی ور
ننوزی اوهلته ورسره دریږی.په حدیث شریف کی راځی رسول الله ﷺ
فرمائی"چی صفونه سموی اواُوږه دی داُوږی سره برابره وی اوپه مابین کی
خالی ځایونه مه پریږدی چی د مرغومی دبچی په شان شیطان ستاسوپه مابین
کی ونه دریږی."

﴿دحضورصلی الله علیه وسلم طریقه﴾

رسول الله صلی الله علیه وسلم چی به کله پر لمانځه درید ی نو دالله
اکبرونیلو څخه ترمخه به ئی خلقوته داُوږو برابریلوحکم ورکاوی.اوفرمائیل
به ئی چی ښوک دی مخ یاشاته نه کیږی داسی نه چی ستاسوپه مابین کی
اختلاف پیداسی.رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په لمانځه کی
وکتل چی دیوه سړی سینه دصف څخه وتلی وه هغه ته رسول الله صلی الله
علیه وسلم وفرمائیل چی تاسوته پکار ده چی خپلی اوږی برابری کړی کنی الله
تعالیٰ به ستاسوپه زړونو کی بی اتفاقی واچوی.

دبخاری شریفی اودمسلم شریف متفق علیه روایت دی چی سالم بن

جوررضی الله عنه دحضرت نعمان بن بشیررضی الله تعالیٰ څخه واوریدل
هغوی وائی چی رسول الله ﷺ به فرمایل چی خپل صفونه سیدهاوساتی کنی
الله تعالیٰ به ستاسوپه مخونو کښې فرق پیدا کړی.په یوبل حدیث شریف کی
حضرت قتادة رضی الله تعالیٰ عنه دحضرت انس بن مالک رضی الله تعالیٰ
عنه څخه روایت کړی چی رسول الله ﷺ وفرمائیل "صفونه سیده ساتل د
لمانځه په تکمیل کی شامل دی(یعنی دلمانځه دتکمیل یوه حیصه ده)

﴿دصحابه کرامورضی الله تعالیٰ عنهم معمول﴾

امیرالمؤمنین حضرت عمربن خطاب رضی الله تعالیٰ عنه یوسړی صر
ف دصفونو د سیده کولولپاره مقرر کړی ؤو.ترڅوچی به هغه وامیر المؤمنین
ته دصفونود سیده کیلوخبرنه ؤوور کړی تـرهغوبه هغه تکبیرتحریمه نه وائی.
دحضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله علیه هم دامعمول ؤو.په یوه روایت کی
راغلی دی چی حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه(د رسول الله صلی الله علیه
وسلم مؤذن)به صفونه سمول اوخلق به ئی په کوږو پرپونلوباندی وهل.چی
خلق بـه هوارا وسیده ودریږی.بعضی علماء فرمائی چی ددی روایت څخه دا
ښکاره کیږی چی حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه به داخلمت درسول الله
صلی الله علیه وسلم په ژوندمبارک کی داقامت په وخت د لمانځه دشروع
کیلو څخه ترمخه کاوی.ځکه چی حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه دیوه

امام لپاره هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته اذان نه ؤو کړی. صرف یو ورځ چی کله حضرت ابوبکر الصدیق دشام دملک څخه بیرته راوګرځیدی نو حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه او نورو صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین دعهدنبوی دیاداو دشوق دتازه کولو لپاره د حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه څخه درخواست وکړی چی هغه یو اذان وکړی. کله چی حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه اَشْهَدُاَنَّ مُحَمَّدًرَّسُوْلُ اللهِ ته راورسیدی نو دریدی او پرمخ ئی ونه وویل. دحضرت مُحمدﷺ په محبت او عشق کی بی هو ښه سوا و پر مځکه راولویدی. دمدینی په انصارو او مهاجرو کی دنبی کریمﷺ دفراقت غم راتازه سو. تردی چی دنبی کریمﷺ د محبت په وجه سره ښځی هم دپردی څخه دباندی راووتی. غرض داچی د دی روایت څخه ثابته سوه چی حضرت بلال رضی الله تعالیٰ عنه خلق په پونلو پـه ډُروبانـدی وهل درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی ؤو. (غنیة صفحه ۸۶۹)

﴿دامام دمقرر کیدو حق﴾

﴿سوال﴾ که دیو جماعت اکثر مقتدیان او دمحلی خلق او د کمیټي ممبرانو پیش امام صاحب دخپلو خلماتو څخه رُخصت کړی او بـل امام ئی دهغه پر ځای باندی ودراوی نو په داسی صورت کی به داکثریت درائی احترام کیږی

او که د اقلیت ضدبه منل کیږی؟

﴿جواب﴾: که دواړه امامان په علم وفضل او تقوی کښې برابروی نو په قوم کی به د اهـل اصـلاح والاد اکثریت اعتبار به تسلیمیږی. (احسن الفتاوی ۳/۲۹۴ بحواله رد المختار ۱/۵۲۲)

دامـام دتقرر کولو حق دمسجدلوبانی ته حاصل دی. او بیادهغه وخاندان ته (دهغه اولادورو ته او نـورو تـه) بیاد محلی وخلقوته دااختیار حاصل دی. خود امام اهلیت شرط دی. (فتاوی محمودیه ۲/۸۵ بحواله انتباه ص: ۱۴۱)

کـه بـانی یامتولی یو غیرمستحقه سړی مقرر کول غواړي او دمسـجداو محلی خلق لائق سړی نوبیا د اهل محله او مسجدلو الا حق راجح دی. (**فتاوی قاضی خان هندیه ۳/۳۳۸**)

﴿آیا په امامت کی وراثت سته؟﴾

﴿سوال ۱﴾: یو خطیب صاحب یو ځای مقرر سوا و په خپل ژوندئی خپل وراره خپـل نائب وګرځاوی او ورورئی هم ؤوا وده پنځه کاله ښه پـه دیانت داری سـره خپله وظیفه تر سره کړه او بیـا خطیب صاحب وَفات سو نو آیادهغه او لاد خپل نائب مقررولی سی؟

﴿سوال ۲﴾: دامـام صـاحـب وروروستـه اوده خپل وراره مقرر کړی قوم او د جَمعی خلقو د هغه منظوری ور کړه او اوس ئی ورور دعویدارسو نو دهغه دعوی

صحیح ده که نه؟

﴿الجواب﴾: کم ځوک چې مخ کې خطیب صاحب خپل نائب مقرر کړی ؤ نو هم هغه به امام وی ځکه چې په حقیقت کې دامام دمقرر کولو حق د مسجدوبانی اودهغه اولادته حاصل دی اوددوی ځخه وروسته بیااهل محلی والاته.نوقوم چې ځوک امام مقرر کړی هغه به امام تسلیمیږی.نوبس اوس به دچادعوه صحیح نه وی نه داولاداونه د وروږ ځکه چې په امامت کې وراثت نه جاری کیږی. (فتاوٰی دار العلوم ۲/۹۵ بحواله ردالمختار ۱/۳۷۳ باب الاذان)

په امامت کې وراثت نسته بلکه دامام دمقرر کولوحق اول دمسجد وبانی ته حاصل دی بیادهغه اولاد ته اوبیادهغه وقریبانوته.او دهغوی ځخه وروسته ولمونځ گزارو ته اودمحلي وخلقوته.که چیری دمسجد بانی یو داسی سړی مقرر کړی چې هغه امامت صلاحیت نه درلودی اولمونځ گزارو د ده ځخه یوبل ښه لائق امام مقرر کړی نوهم هغه به امام مقرروی کم ځوک چې لمونځ گزارو مقرر کړی دی.

دردالمختارحنفی مذهب فقهی کتاب په دریم جلدصفحه نمبر ۵۷۳ کی دی چې که امام بدعتی سو اودمسجدلمونځ گزار دده ځخه خوشحاله نه ؤنو ددی خرابی په وجه سره هغه معزول کیدای سی اوبل ښه لائق اود لمانځه په مسائلوباندی پوه امام مقرر کول پکاردی.(فتاوٰی دار العلوم ۳/۸۵)

﴿که دامام په مقرر کولو کی اختلاف پیداسی﴾

﴿سوال﴾: دمحلی په مسجد کی دوه کسان وائی چې کم امام مو نږ مقرر کړی دی هم هغه به وی. اودمحلی کسان بیاوائی چې کم ځوک چې مونږ مقرر کړوهم هغه به وی.د دی اختلاف شرعاً څه حکم دی؟

﴿جواب﴾: کم امام چې اهل محله مقرر کړی هم هغه به امام وی (فتاوٰی دار العلوم ۳/ ۷۹ بحواله ردالمختار ۱/ ۳۲۲ باب الامامت)دمحلی خلق دیوه امام په مقرری کی سره دوی ډلی سی نوچې دکمی ډلی تجویزسوی امام ډیر لائق وی هم هغه به راجح وی اوکه ددوا ړوډلو امام لائق وی نودغټې ډلی امام به راجح وی.(فتاوٰی عالمکریه ۱/ ۸۸)

﴿عدالت/محکمه امام مقررولی شي؟﴾

﴿سوال﴾: آیاعدالت یوداسی امام په زوره مقرره ولی سی چې په هغه باندی قوم ناراضه وی په دی حکم کی عدالت/محکمی ته څه شرعی حق سته؟

﴿جواب﴾: عدالت ته داحق حاصل نه دی ځکه چې ددې نفع اونقصان قوم ته دی نوپه دی وجه دی عدالت یامحکمه دخلقو دخو ښې ځخه پرته ځوک نه امام کوی اومحکمی یاعدالت ته په دی کی هیڅ حق نشته.(فتاوٰی دار العلوم ۳/۹۵ بحواله ردالمختار ۱/۳۲۲ باب الامامت)

{دامامت دعوی او دمقتدیانو انکار}

{سوال}: که دیوی خانقاه سجاده بحیثیت سجّاده نشین که دامامت دعوی وکړی او باقي وارثان کم چي دده دورورى خلق دی او مقتديان ئی دده امامت منظورنه کړی نود امامت دعوی صحیح ده او که نه؟

{جواب}: دفقهې په کتابونو کی راځي چي دمسجدباني او واقف ته دامام په مقررولو کی ډیر حق دی او که هغه نه وی نو دهغه اولاداو ورشته داران ډیر حقدار دی.ددی څخه ورو وسته بیادمحلي دخلقوزیات حق دی.چي امام مقرر کړی او هغه به امام وی.نو که د خانقاه یاسجّاده نشین اولاددواقفو(یعني دمسجدوقف کونکی) څخه وی نوبیابی له شکه هغه ته دامام مقررولو حق حاصل دی خونور خپلوخپلوانو دواقف هم داحق سته. سجّاده نشین ته څه ترجیح او خصوصیت نسته.(فتاوی دارالعلوم ۹۵/۳ بحواله ردالمختار ۱/ ۳۲ه باب الامامت)

{که دامام دمقررولو ګنجائش نه وی نو بیاڅه حکم دی؟}

{سوال}: که په یوښار کی مسجدونه ډیروی اولمونځ ګزار کم وی اوپه هر مسجد کی دامام دمقرره ولوس اوطاقت نه وی نو که دنژدی نژدی محلو خلق سره راټول سی او یو امام مقرر کړی اونورمسجدونه پریږدی اوپه یوه مسجدکی دجُمعِي لپاره سره رایوځای سی اوپه یوه امام پسی لمونځ کوی نو

ددی څه حکم دی؟

{جواب}: بنه خبره داده چي حتی الوسع چي ترڅو کیدای سی ټول مسجدونه دی آبادسی او لږلږلمونځ ګزاردی په ټولومسجدو کی لمنځونه وکړی.اود مجبوری په حالت کی څرنګه چي موقع وی هغه رقم دی وکړی (فتاوی دار العلوم ۶۷/۳ بحواله ردالمختار ۶۱۷/۱باب احکام المساجد)

{دامام فرائض منصبی}

امام دخپل منصب (عُهدے)په لحاظ سره صرف دلمانځه ورکولو ذمه واردی.البته که دهغه(امام)سره دنصیحت کولو اوطالبانوته دسبق ویلو شرط ولګول سی او امام هغه(امام)ئی قبول کړی نوبیاددی کارونو ذمه واری هم پرده باندی راځي.داضروری خبره ده چي دامام سره دی دداسی کارونو شرط ونه لګول سی.کم چي دهغه دامامتی د حیثیت اودوخت څخه خلاف وی.(کفایة المفتی ۴۶/۳)

که دی(امام) په امامت اوأوبوتودولوباندی ملازم وی او دده په مزدوری کی د محلي څخه ډوډی راوړل هم شامل وی نوپه دی دده په امامت کښې څه تاوان نه راځي . که د محلي څخه ډوډی راوړل په مزد وری کی شامل نه وی.بلکه دی ئی هم داسی د خپله ځانه غواړی او راوړی اود دی باوجودچه په څه مشروع طریقهٔ ئی دکتي طاقت سته اوبیائی هم دا

پیشه کرخولی وی نوبیاداپیشه ناجائزه ده داسی شوک امام جوړول مکروه تحریمی دی چی بل شوک دامامت اهل موجود وی.(فتاوی محمودیه ۶۱/۷)

کله چی قوم یو سړی امام مقررولواو ټولودهغه په ذمه دمسجد جاروکول اوپه حمام کښې اوبه ډکول شرط لګولی وی نودامامت په شان به داهم دامام ذمه واری کې وی او که تقررئی صرف په امامتی کی سوی وی نودابیادامام ضروری ذمه نه ده.(فتاوی محمودیه ج ۷/ص:۶۱)

﴿دپیش امام مرتبه﴾

دپیش امام عزت اوتوقیر کول پکاردی. دامام بی عزتی او اهانت کول سخته ګناه ده.(کفایة المفتی ۳/ ۹۳)

﴿آیاامام خپل نائب ټاکلی سی؟﴾

(۱) که دمسجدیوه کمیتی وی نوهغه د امام یادنائب ټاکلو حقداره ده. خو که کمیتی نه وی نوبیادلمونځ ګزاروحق دی

(۲) نائب امام به هم هغه وی شوک چی دمسجدد کمیتی یادلمونځ ګزارار لخواو ټاکل سی. یوازی امام ته دا اختیارنسته چی دی نائب ودروی. خصوصاً چی کله امام پخپله هم دامامت تنخواه داره ملازم وی.(کفایت المفتی ۳/ ۸۳)

﴿دامام دلری کولویادټاکلوحق﴾

فقهاؤلیکلی دی چی امام ساتل یا لری کول دمسجدد بانی حق دی اودهغه د اولاد. که متولی دواقف لخواڅخه دشرطو نوسره برابروی نوهغه هم قائم مقام دی. او که دلمونځ ګزارو او اکثریت لخوا یو نیک صالح سړی امام وټاکل سی نودی به امام ټاکل کیږی. (فتاوی دارالعلوم ۷۸/۳ وردالمختاروکتاب الوقف ۵۷۲/۱)

﴿دمسجدونو داامامانو تنخواه اوشرعی ذمه واری﴾

﴿سوال﴾: د مسجدد امام څخه دامامت نه علاوه جارووهل، نالی صفاکول اذان کول اوددی څخه علاوه نورواړه غټ کارونه اخیستل کیږی او تنخواه ورته صرف دامامت ورکول کیږی نو په دومره لږتنخواه دهغه نه دومره ډیر کارونه اخیستل جائزدی؟ شرعاًدامام ذمه واری څه شی دی؟دمسجدلود امامانوتنخواه څوپکارده؟ که تنخواه دمعیارڅخه کمه ورکړه کیږی نو متولی او محلی والابه ګناه ګاره وی او که نه؟مفصل جواب ورکړی؟

﴿جواب﴾: په حدیث شریف کی راغلی دی"چی دمزدور مزدوری دی د هغه دخولی دوچیدو څخه ترمخه ورکوی". (مشکوٰة المصابیح ۲۵۸)

حضور ﷺ فرمائیلی دی "دقیامت په ورځ چی به د کمودرو کسانوخلاف دعوی وی په هغوی کی یو هغه سړی دی چی دیومزدور

څخه پوره کار واخلی خو مزدوری بیاپوره نه ور کوی" (بخاری بحواله مشکوٰۃ ۲۵۸)
دمزدوری دپوره نه ور کولو مطلب صرف داندی چی دهغه
مزدوری مالک وخوری بلکه ددی څخه مراد داهم دی چی څومره
مزدوری ددی کارومزدورته ور کول پکاروو دهغه څخه ئی کمه ور کړه.
فقهاء کرام رحمهم الله ددی خبری تصدیق کړی دی چی دمسجدمتولی
اودمدرسی پرناظم باندی لازم دی چی د مسجداو دمدرسی خادمانوته د
هغوی دعلمی قابلیت اوتقوی اوصلاح سره مناسبه تنخواه او وظیفه ور
کړی. دګنجائش باوجود کمه تنخواه ور کول بده خبره ده او د متولی
څخه به دالله په نیزپوښتنه کیږی. (درمختار ۳/ ۳۸۹ والشامی ۳/ ۷۸)

و امام ته صرف دامامت تنخواه ور کوی او بیاپه امام باندی داذان ذمه
واری هم اچوی اوجاروهم په وهی اونالی هم په پاکوی اوپه نوروامورو کی
هم خدمتونه په اخلی نودا ډیرغټ ظلم اودامام توهین دی. د نبی کریم ﷺ
فرمان دی "دقرآن دحاملینو (حافظانو، قاریانو او علماؤ کرامو) تعظیم اوعزت
کوی بیشکه چا چه ددوئ عزت او اکرام و کړی نوهغه زماتکریم اوعزت
و کړی". (الجامع الصغیر للامام الحافظ السیوطی ۱/ ۱۲۵)

په یوبل حدیث شریف کی راغلی دی چی دقرآن حاملین داسلام
علمبرداره دی (بیرغ پورته کونکی دی) چاچی ددوئ تذلیل و کړی نو په هغه

به دالله پاک لعنت وی. (فتاوی رحیمیه ٤/ ٣٥٥)

که تنخواه معقول نه وی او دامام اومؤذن لپاره په مسجدکی چنده
وسی اولمونځ کونکی حضرات په خپله خوښه هغه ته چنده ور کړی او د
تنخواه کمی په پوره کړی خو چی چنده په جبرنسی ټوله. که داسی دامام او
مؤذن امداد ونسی نوبیابه د دوئ ګزاره څنګه کیږی اوڅنګه به دوی ژوند
تیروی؟ خوبهتره خبره داده چی دامام او مؤذن تنخواه دوخت سره سمه
وټاکل سی (فتاوی رحیمیه ٤/ ۴۳۷)

﴿دامامت اُجرت﴾

﴿سوال﴾: زیدوائی چی دمسجدامام نه اجیردی اونه نوکر ځکه چی هغه ته د
وقف مال څخه تنخواه ور کول کیږی اوعمروائی چی امام اجیرهم دی او
نو کرهم دی نودچاقول صحیح سو؟

﴿جواب﴾: کم امام چی دامامت تنخواه اخلی نودهغه په مزدوری کی هیڅ
شک نسته. پرامامت باندی مزدوری متأخرینوفقهاؤ جائز کړی دی. اودوقف
دمال څخه تنخواه ور کول ددی دلیل نه دی چی دادی مزدوری نه وی او
تنخواه اخیستونکی دی اجیریامزدورنه وی. که دوقف تعمیرلپاره دوقف مال
څخه د تعمیرعاملین مقررسی نوآیاهغوی به اجیریامزدورنه وی؟ په دی کی د
عُمروخبره صحیح ده. (فتاوی دار العلوم ۳/ ۸۷) پرامامت باندی تنخواه

اخیستل روادی.(ردالمختار ۱/ ۳۷٤ کتاب شروط الصلوٰة)

په تنخواه داره امام پسې لمونځ کول هیڅ پرواه نلري او هیڅ کراهیت نسته.په دې کې څه شک کول هم نه دي پکار (فتاویٰ دارالعلوم ۳/۲۰۰)

﴿امام ته د رخصتی کولو حق سته او که نه؟﴾

﴿سوال﴾ که یو امام د امامتئ تنخواه هم اخلي او بیا هم کله کله غیرحاضري کوي نو ددې څه حکم دی؟

﴿جواب﴾:امام امام لره دخپل ضروریاتو یادراحت لپاره دیوې جمعې یادې ته نژدې یعنې پنځلسو ورځو څخه کم عادتاً غیرحاضري شرعاً روا ده(شامی ۳/ ٦٤ کتاب الوقف) ددې خبرې تصریح داده چې که په ټوله کال کې هفته یادوې هفتې امام غیرحاضرسي نوخیر دی معاف دی.نودصورتِ مسؤله حکم هم ددې څخه کنړل پکاری دی.چې دامام کله کله غیرحاضري به معاف وی.(فتاویٰ دارالعلوم ۴/۸۴ بحواله ردمحتار ۳/ ۵٦۴ کتاب الوقف)

﴿دغیرحاضرئ دوخت تنخواه اخیستی سی او که نه؟﴾

﴿سوال﴾: که د څه عُذره یابغیره عُذره څخه دنیمې میاشتی کم که امام صاحب دامامت کارونکړی نوشرعاً هغه دټولی میاشتی دتنخواه اخیستو حقداره دی او که نه؟

﴿جواب﴾:حاصل جواب دادی چې اَلْمَعْرُوْف کَالْمَشْرُوْطِ.نوچې څو مره

غیرحاضری معروفه وی نو د هغی تنخواه اخیستل به هم صحیح وی.او امامت به ئی هم صحیح وی (فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۷۹ بحواله ردالمختار ۳/ ٤٤۷) او دامام تنخواه کاټول جائز ندی. او داکاردشرع او دعُرف څخه خلاف دی (فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۳۷٤ بحواله ردالمختار ۳/ ۵۲۵)

﴿دامام دغیرحاضری حکم﴾

﴿سوال﴾:دڅه کارپه وجه امام په هفته یاجمعه کې پنځه یا شپږواره غیرحاضری کوی نو ددې څه حکم دی؟

﴿جواب﴾:بنه خبره داده چې دمقتدیانو په رضامندی دی داسې وکې.د مقتدیانو د رضامندی بغیرداسې کول بنه کارندی.(فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۱۳۳)

﴿دامام دحجاب یاپردې په احاطه کې داُوسیدلو حکم﴾

که د مسجدپه احاطه کې دننه دامام یامؤذن لپاره علیٰحده کمره وی نوپه هغه کې دامام اومؤذن لپاره اوسیدل صحیح دی خو دبال بچیانو سره په اُوسیدلو کې عموماً بې پردګي کیږی نوداستنجا ځای ځانته نه وی او د کوچنیانو شوراو زوږ به لمونځ ګزاروته تکلیف او حرج پیداکې.نوپه دې وجه دابه ممنوع وی که داخرابیانی نه وی نوبیاجائز دی.(فتاوٰی رحیمه ۹۵/٦)

﴿دامام دمسجدپه احاطه کې خپل کارکول﴾

که دکمرې دروازه دمسجد وهغه حصې ته نه خلاصیږی کم چې د

لمانځه لپاره خاص ده یعنې چې داخیستلو اوخرڅولو والاپه مسجد کې نه
تیرېږي نو دامام داسې کار کول مباح دی.(فتاوی رحیمه ۳/۱۴۳)

په مسجد کې یعنې په هغه حصه کې کمه چې دلمانځه لپاره
استعمالیږي پـه هغه کې اخیستل اوخرڅول یـا بل داسې کار کول کم چې د
لمونځ ګزارو لپاره دتکلیف باعث ګرځي یادمسجدداحترام څخه مخالف وي
نو داجائز او روا نه دی. دمسجدپه نورو حصو کې کمې چې دلمانځه لپاره نه
استعمالیږي په هغه کې اخیستل اوخرڅول جائز او روا دي خو دمتولي اجازت
پکښې لازمي دی.(کفایت المفتی ۳/۱۶۷)

﴿آیاامام څلورویشت ساعته پابندي دی؟﴾

﴿سوال﴾: امام یامؤذن مقید کول چې څلورو یشت ساعته به په مسجد کې
حاضروي دا حکمراني تر کمه حده جائز دی؟

﴿جواب﴾: کـه دامام یامؤذن دمتولي سره دامعاهده وي نو بیابه ددې مطابق
عمل کوي. او که معاهده ئې نه وي نو بیاداسې پابندي لګول ظلم او زیادتي
ده. او ناجائز دی. (فتاوی رحیمیه ٤/٣٦٢)

﴿په یو وخت کې دوه ځایه امامت﴾

هر کله چې دیو سړي لپاره معاوضه یامزدوري مقرره کړې وي او دیوه

مسجدد امامت لپاره مقرر سوی وي نو ددغه مسجدد امامت ذمه واري پر هغه
باندې لازمي ده. که چیرې دې دغه مسجد پر یږدي او بـل مسجدته دامامت
لپاره ځي نو دا خبره ددغه امام لپاره ناجائزه ده. که دې دامسجد پریږدي او بل
مسجدلره ځي نـو دې بـه دهغه مزدوري لائق او حقداره نه وي کمه چې دده
لپاره مقرره سوې ده. که دا امام هم یو لمونځ پـه دوو مسجدونو کې دوه واره
ورکوي نو دادوئم لمونځ بـه جائز نه وي. ددې دوئم مسجدد مقتدیانو لمونځ نه
صحیح کیږي. یعنې ددوی غاړې دفرضیت څخه نـه خلاصیږي. بلکه د
هغوی پر ذمه به فرض هم هغه رقم پاته وي

چونکه دامام اولنی لمونځ فرض اداکیږي او په دوئم واربیانفل لمونځ
وي. او حال داچې پـه دوئم مسجد کې دمقتدیانو لمونځ فرض دی او دامام دا
نفل. نو دفرضونیت په نفل والاپسې نه صحیح کیږي. نو پـدې وجه دناجائزه ده.
(فتاوی محمودیه ۷/۷۹)

﴿دیوه امام دوه ځایه امامت کول﴾

﴿سوال﴾ کـم امـام چې دری وخته لمونځ پـه یـوه مسجد کې ورکوي او دوه
وخته په بل مسجد کې نو آیا داجائزه ده او که نه؟

﴿جواب﴾: په دې کې دممانعت څه وجه نسته.(فتاوی دارالعلوم ۳/۱۶۹)

﴿په يوه مسجد کې ددو امامانو امامت﴾

که دوه امامان په دې وجه وي چې يوامام يو خوخلقوته لمونځ ور
کوي اواوبل امام ونوروته نودامکروه ده.اوکه دامنشائي وي چې دوه امامان به
وساتو کله به يولمونځ راکوي او کله به بل دضرورت لپاره.نوبياپرواه
نکوي.دوه امامان دې وساتل سي کله دې يولمونځ ورکوي او کله دې
دضرورت په وخت کې بل.(فتاوی دارالعلوم ۳۶۹/۳ بحواله عالمگيری ۵۱/۱ باب فی الاذان)

﴿يوسړی امامت او اذان ورکولی سی او که نه؟﴾

﴿**سوال**﴾که امامت اواذان هم يوسړی ورکړی نو آياداجائزه ده که نه؟

﴿**جواب**﴾يوسړی دې اذان هم کوي اوامامت دې هم کوي داپه شرع کې
صحيح دی اوپه دې کې ثواب ډيردی.(فتاوی دارالعلوم ۹۵/۳ بحواله رد
المختار ۳۷۲/۱ باب الاذان)

﴿دوفات سوی امام دبچيانو کمک کول﴾

﴿**سوال**﴾امام صاحب وفات سويو خو کوچنيان ئې پريښول نواوس چې کمه
وظيفه ودته دبيت المال يادمحلې والالخواورکول کيده ددغې وظيفې شرعاً
حقداره دغه يتيمان بچيان دي او که نه؟

﴿**جواب**﴾:دبيت المال هم هغه حکم دی کم چې پورته تيرسو.ددغې

وظيفې شخه دي ودغه بچيانوته دامام صاحب کمک وکړه سي.اودمحلې
خلقوچې دامام لپاره دچاندې شخه يوشه ورکول هغه دي ودغه يتيمانوته هم
ورکوي.اودضرورت په اندازه ددوئ امداداوکمک کوي اوددوئ پالنه دي
کوي.اگرچه دوي ته به دنوي امام ضرورت هم وي اودهغه دتنخواه انتظام
هم پکاردی.او که يوامام ورته بغيردتنخواه شخه ورته ملاؤنه سونوبيادي هم د
يتيمانو دبچيانو امداداوکمک پرخان باندې لازم وګڼي اودآخرت ثواب
دي حاصل کړي.(فتاوی دارالعلوم ۹۵/۳ بحواله مشکوة شريف ۳۷۲/۳ باب الشفقة)

﴿په امامت کې دذات لحاظ کول﴾

په امامت کې دذات پات ياقوم هيڅ لحاظ نسته صرف د اَفضيلت
لحاظ ئې کول کيږي.اوددې خبرې لحاظ دې هم وساتل سي چې په جمعه
کې دې هم کمې نسي رااولمونځ کونکي هم سره منتشرنسي.

نوپه لمونځ گزاروکې چې کم غوره وي هغه دامامت حقداره دی
چې لمونځ صحيح او کامل اداء سي.اومقتديان په ډيرتعداد کې په لمانځه کې
شريک سي.نو د داسې يوقوم ياقبيلې سړی چې خلق ئې ذليل اورذيل گڼړي
اوپه علم اوتقوی کې تر ټولو ښه وي اوپه دې دُنيا کې نورخلق دده ادب او
حترام کوي نوبلا شبهه په هغه پسې لمونځ کول بهتره دی.هيڅ کراهت نسته
پکښې.البته که دهغه افعال داسې وي چې دهغو پر بناء باندې دي په

خلقو کی ذلیل اوبی وقعته وی نوبیادداسی امام جوړول نـدی پکاراوداکار
کول مکروه دی. چی هر کله خلقو دهغه عزت او احترام نکوی نوپه هغه پسی
به لمونځ کول هم نه خوښوی او جَمُعه به کمه سی. چی افضله سړی امام جوړ
کی نوپه دی کی دا مصلحت دی چی خلق به دده سره مینه کوی اوپه جَمُعه
کی به شرکت کوی او دغه رقم به جَمُعه هم درنیږی.(فتاوٰی عالمکریه ۸۳/۱)

افضل امام هغه څوک دی چی په شرعی احکامو دټول ښخه زیات
خبروی اوقرآن مجیدپه تجوید سره سم اوصحیح وائی.هم دار نګه پرهیزګار
ه وی صحیح عقیده اودلو ړحسب اونسب والاوی ښه ښائسته اومعمَّره وی
نسبی شرافت پکښې وی(خوش الحانه وی) ښه اخلاق ولری پاکی جامی
اغوندی.نو دا سی امام دامامت حقداره اولائق دی. خلق به په رُغبت سره دده
اقتداء کوی او ښه درنه جَمُعه به در یږی.په حدیث شریف کی را ځی چی ک
ستاسی داخو ښه وی چی ستاسی لمنځونـه دی دالله په دربار کی قبول سی ن
پکارده چی علماء تاسی ته لمونځ در کړی.اوپه بل حدیث شریف کی‌راځ
چی پـه تاسو کی ترټولوزیات نیک اوپرهیز ګاره سړی دی ستاسی امامت
وکړی ولی چی دی ستاسی اودالله په مابین کی استازی دی.(شرح نقایه ۱/۱
پـه ننی عصر کی بایدیو امام دعلم زُهداوتقوی سره باید ددی شیط
سیاست ښخه ځان وژغوری اوبی ځایه دی پـر چـابـاندی غلطه اوبی اس

فتوی نـه لګوی.دی بـاید دالله دین پـخپل ځان کـی جـاری ولـری اوخپلو
مقتدیانوته حق خبری وکړی اګرکـه حق ویل یو څه تـرخه دی.دَی به ددِی
لحاظ نکوی چی ما به دامامت څخه جواب کړی.ولی چی رزق دالله په لاس
کـی دی. کـه دامعیارغوره سی نواُمیلسته چی غیرخلق به ددین وخواته رُغبت
وکړی.اویـو امـام یاعالم دی دقرآن مجیدد مثـقـال ذرةٍ حساب کول په خپل
ذهن کـی ولری.اوداحساس دی په ځان کی پیدا کړی چی صباپه قیامت
باندی زما څخه دمثقال ذرةٍ حساب کیږی آیا د دی جواب زه ورکولای سم
او کـه نه ؟که دآخرت دغه فکرپه یوچاکی وی نوهغه هیڅ کله بیابی ځایه نه د
چاسره اختـلاف کوی اونه پربل چا بـاندی غلط اودځانه څخه جوړسوی
حکم کوی(مترجم)

﴿دیو داسی سړی امامت چی دهغه لاس پړی سوی وی﴾

﴿سوال﴾: کـه یو داسی سړ ی امام وی چـی یـو لاس ئـی نه وی اونابینایعنی
ړوند هم وی نو دداسی امام امات جائزدی او که نه؟

﴿جواب﴾:په داسی سړی پسی لمونځ کـول جائزاوصحیح دی خو که بل
امام چی په ستر ګوبیناوی اودوا ړه لاسونه ئی جوړوی اودلما نځه دمسائلو
څخه خبروی اونیـک سړی وی نو ددغسی سړی امامت بهتره دی .(**فتاوٰی
دارالعلوم ۱۶۵/۳ بحواله ردالمحتار ۵۲۳/۱ باب الامامت)**

﴿د داسی سړی امامت چی لاس ئی کوچنی وی﴾

﴿سوال﴾ زمابنې لاس دغوړنرمی ته نه رسیږی په داسی حالت کی زماامامت کول(په پنځه وخته لمونځ اودجمعی دورځی دلمانځه)لپاره جائز دی اوکه نه؟

﴿جواب﴾ په دی صورت کی دسائل پنځه وخته لمونځ اودجُمعی د ورځی لمونځ ورکول بغیرد څه کراهیت څخه جائزدی.دامامت د کراهیت پکښې هیڅ وجه نسته. ولی چی فقهاؤچی کم دالیکلی دی چی ګوتی به د تکبیرتحریمه په وخت کی دغوږو د نرمی سره مبنلې نوهغه په اصل کی د محاذاتو(یورقم کولو)د حاصلولولپاره دی لکه څنګه چی فقهاؤدتحقیق څخه او د روایاتو څخه معلومیږی.

نو که دیوعُذردوجهی څخه لاس غوږوته نسی وروړلای اونه رسیږی اود ګوتودغوږوسره محاذات حاصل سی نوداسُنت به ادء سی. (فتاوٰی دارالعلوم ۲/۱۶۵ بحواله هدایه ۱/ ۹٤)

﴿دلاس پری سوی سړی امامت﴾

﴿سوال۱﴾ دمقطوع الید(لاس پری سوی)سړی امامت څه حکم لری؟

﴿سوال ۲﴾ تردیره وخته وریسی لمونځ کړو،بیاوروسته یو څوخودغرضه خلقوپه مقطوع الیدباندی الزام ولګاوی اوپه خپله هم لمونځ نه پسی کوی او

نورخلق ئی هم دلمانځه څخه منع کول.نوداخبره ترکمه ځایه پوری صحیح ده؟

﴿جواب﴾ نمبر ۱ : که داسړی طهارت اوپاکی په ښه ډول سره کولای سی اود ی اهتمام لری نودده امامت شرعاًصحیح دی. کنی بیامکروه دی.د صحیح او سالم امامت په هرحال کی اولٰی اوبهتردی.

نمبر ۲ :داختلاف څخه ځان ساتل پکاردی.که په ده پسی دلمونځ کولو څخه یو څه شرعی عُذرمانع وی نوپکارده چی په اتفاق سره بل څوک امام کړی صرف دخودغرضی پربناء باندی اختلاف پیداکول ګناه ده.(فتاوٰی محمودیه ۲/۱۰۳ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۸۷)

﴿دچاچی پښې پری سوی وی دهغوی امامت﴾

﴿سوال﴾ د یوسړی دواړه پښې تر ګونډو پوری پری سوی وی اودده په وجه سره رکوع اوجلسه کماحقه نسی اداکولای البته قرآن مجیدسم ویلای سی.دلمانځه او روژی پابنده دی.نودده دامامت لمونځ صحیح دی اوکه نه؟

﴿جواب﴾ په داسی سړی پسی لمونځ کول صحیح دی خوغوره خبره دا ده چی بل امام مقرر کړی.دچاچی لاس اوپښې جوړ سالمی وی.اودامامت په صفاتوباندی متصف وی.ردالمختارلیکی چی دمقطوع الرجلین(هغه څوک چی دواړی پښې ئی پری سوی وی)امامت په درجه اولٰی سره

مکروه دی (ردالمختار ۱/۵۲۵ باب الامامت) اګر چه لمونځ ورپسې
صحیح کیږي. خو ښه خبره داده چې بل امام مقرر کړي (فتاوی دارالعلوم ۳/۳۰۸م)

﴿کم سړي چې په سُجده کولو باندې قدرت نلري دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾ کم سړی چې دسُجدې څخه عاجزه وي اوباقي ټول ارکان
رکوع اوقومه اونورپه ښه شان سره اداکوي اوپه ولاړه سره لمونځ کوي
داسې سړي لمونځ صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾: په داسې سړي پسې دهغه خلقو کم چې سُجده کولای شي
صحیح نه دی (فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۵۷)

﴿د کانړه، شل، چُغلخور او دبرګ سړي امامت﴾

په یوه ستر که باندې ړوندسړي پسې لمونځ کول مکروه نه دی
ړوند که د مُرداري څخه ځان نسو ساتلای او احتیاط نکوي. او د ټولو څخه
غټ عالم هم نه وي. نو په ده پسې لمونځ کول مکروه دی او که دی په خلقو
کی دټولو څخه غټ عالم وي نو بیا په ده پسې لمونځ کول مکروه نه دی
په جذامي، برګي والا، شل او چُغلخور پسې لمونځ کول مکروه دی
او که دی خپل کوروالا دبې پردګۍ څخه منع کوي اودا بد ګنړي نوبیا په
پسې لمونځ بغیردڅه کراهیت نه صحیح دی. او څوک چې درواغ وائي
دهغه پسې لمونځ مکروه دی. (فتاوی دارالعلوم ۳/۱۹۵ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۲۳)

﴿دبرص والا (فِسْ) امامت﴾

﴿سوال﴾ یو امام صاحب داسې دی چې دینیات ئې ویلي دي بعضې حضراتو
په ده پسې لمونځ کول په دې وجه پریښول چې دهغه په بدن کې دبرص
مرض دی هغه ئې علاج کوي په ده پسې لمونځ جائز دی او که مکروه؟

﴿جواب﴾: په دې امام صاحب پسې لمونځ بغیردڅه کراهیت څخه
صحیح دی. ځکه چې فقهاؤ په دې حالت کې په ابرص پسې لمونځ کول
مکروه په کراهیت تنزیهي لیکلي دی. کله چې برص دده په ظاهربدن وي
یعنې دبرص پرې ډیرې علامې وي چې دهغه په وجه مقتدیان متنفره کیږه او
که برص ظاهرنه وي او نه مقتدیان متنفره وي نو بیادده په امامت کښې هیڅ
کراهیت نسته. (فتاوی دارالعلوم ۳/۲۵۶ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۲۵ باب الامامت)

په مبروص پسې لمونځ کیږي البته که برص والادومره ښکاره وي
چې مقتدیان ترینه نفرت کوي نو بیادهغه امامت مکروه دی. دی په حوض
کې اودس کولای سي ځکه چې په برص کې څه ظاهري نجاست نسته.
صرف په بدن داغونه وي اودی دمسجدلوښې هم داودس لپاره استعمالولای
سي (کفایت المفتي ۳/ ۸۶)

﴿په ناستي دلمونځ ور کونکي امامت﴾

دولاړ سړي لمونځ په ناست سړي پسې جائز دی لکه څرنګه چې نبي

کریم ﷺ په مرض الوفات کی په ناستی لمونځ ور کړی.

نوبیا که چیری امام په دومره اندازه معلوره وی چی نسی ولاړیدلای نوهغه دی په ناستی لمونځ وکړی نوددہ لمونځ صحیح دی.اوپه دہ پسی د شالخوالمونځ کول صحیح کیږی.(فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۳۰۱)

﴿دپک امامت﴾

﴿**سوال**﴾ په پَک پسی لمونځ کول صحیح دی او که نه. او په پک پسی دلمانځه د مکروه والی کم حدیث شریف سته او که نه؟

﴿**جواب**﴾ په پک پسی لمونځ کول جائزدی کله چی دی بنه سوی وی اوپه سر کی هیڅ زخم نه وی.نولمونځ په ده پسی بغیرد څه کراهیت څخه صحیح دی.په پکَ پسی دلمانځه دمکروه والی کم حدیث شریف نسته.

(فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۳۰۱)

﴿دنابینایاړانده دامامت حکم﴾

فقهاء کرام دداسی نابینایاړانده امامت چی غیرمحتاط وی اود نجاست څخه نه بچاو یری مکروه تنزیهی ئی بللی دی.خوداحکم عام نه دی بلکه دا دغیرمحتاط سره خاص دی.نوچی کم ړونداحتیاط کوی اودنجاست څخه ځان ساتلو بنه پوره اهتمام کوی اوځان پاک اوصفاساتی دهغه امامت بی له دڅه کراهیته څخه جائزبللی دی.

دحضرت عائشة صدیقه رضی الله تعالٰی عنهابیان دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم چی کله غزوه تبوک له تلی نوحضرت عبدالله بن اُم مکتوم رضی الله تعالٰی عنه چی په ستر ګوړوندلؤ په مسجدنبوی ﷺ کی ئی دلمانځه دورکولولپاره خپل قائم مقام یانائب مقرر کړی.دغه رقم حضرت عبدالله بن عُمیر رضی الله ړونلؤ خودخپلی قبیلی امام ؤو.هغه فرمائی چی زه درسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کی دبنی حطمه امام وم حالانکه زه نابیناوم.

(**فتاوٰی رحیمیه ۴/ ۳۶۳**)

دړانده اقتداء مکروه تنزیهی ده.البته که ړونددتولوڅخه افضل وی اودمسائلو څخه زیات خبروی نوبیا هیڅ کراهیت پکښي نسته.بلکه دی امام جوړول افضل دی.(**احسن الفتاوٰی ۳/ ۲۶۰**)

دهدائی کتاب مصنفؒ د ړانده سړی دامامت دمکروه والی دوی وجهي لیکلی دی (۱) یوه خوداده چی دی دنجاست اومرداری څخه ځان نسی ساتلای.(۲)دوئم داچی خلق نفرت ځنی کوی.نو که دا دواړه وجهي نه وی نودړانده امامت بی له څه کراهیت څخه صحیح دی.عبدالله بن اُم مکتوم اوعُتبان رضی الله تعالٰی عنهمانبی کریم صلی الله علیه وسلم امامان مقرر کړی ؤو.(**فتاوٰی دارالعلوم ۲/ ۱۲۷**)

۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞

﴿دږیرې کونړې کونکې امامت﴾

﴿سوال﴾: په هغه سړي پسې لمونځ څنګه دی چې ږیره ئې کو نړې کړې وي یائې خریلې وي؟

﴿جواب﴾: دیوه مټ څخه ږیره کمول حرام دي. بلکه دا دنورو ګناو څخه هم بلتره ګناه ده. ځکه چې دایو علانیه کاردی نو په دې وجه دابنکاره ددین توهین دی. اودالله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دبغاوت اعلان دی. نو په دې وجه فقهاؤ فیصله کړې ده چې کم سړی په روژه مبارکه کې ښکاره خورک کوي یعني په قصد سره روژه خوري بې له څه عُذره نو هغه واجب القتل دی. ځکه چې دې په ښکاره طریقه د شریعت مخالفت کوی. د حضورصلی الله علیه وسلم ارشاد ګرامی دی"زمااُمت د بخښنې لائق دی خو په ښکاره ګناه کونکې دبخښنې لائق نه دی".

دوئم فرق دادی چې نورې ګناوې په څه خاص وخت کې کیږې خو دږیرې کونړې کولو ګناه هر وخت ورسره مُبتنې وي. داکه دې بیده وي او که ویښ اوکه ولاړوي او که ناست روان وي که ساکن هر وخت دده سره دا ګناه موجوده وي اودې په دې ګناه کې اخته وي. اودلما نځه اونورو عباداتو په وخت کې هم ورسره دا ګناه موجوده وي. اودقوم لوطؑ دعذاب یوه وجه د ږیرې پریکول هم ؤو. (دُرمنثور)

مقصدادچې ږیره کونړې کونکې اوخرونکې فاسق دی اودفاسق امام امامت مکروه تحریمي دی. نو په دې سبب داسې سړی امام جوړول جائز نه دی. که یو داسې سړی جبراًامام جوړسوی یادمسجدلمنتظمینو جوړ کړی او په لرې کولو کې ئې قدرت نه ؤو نوچیرې بل مسجدکې چې نیک امام وی هلته دې ولاړ رسي. که بل ځای هم نیک امام نه ؤو نو بیادې په دغه فاسق پسې مجبوراً لمونځ کوی. دجُمعې لمونځ دې نه پرېږدی. چې ددې وبال او عذاب به د مسجدپه منتظیمنو باندې وی. (احسن الفتاوی ۳/ ۲۶۰)

که بل امام دده څخه ښه نه پیداکیدی نو داسړی دې نه امام کوی. ده ته دې وویل سی چې یو مټ ږیره پریږده نو که ئې ږیره غټه کړه نوبیا صحیح ده. (کفایت المفتی ۳/ ۸۷)

په امدادالمفتین کې د ږیرې په متعلق لیکلي دي چې دږیرې کونړې کولو والا یا ږیرې خریونکې فاسق او ګناه ګاردی. دداسې سړی امام جوړول پکارندې. ځکه چې په ده پسې لمونځ کول مکروه تحریمي دی. او که دې امام جوړ سی نو دی به واجب التعظیم وی. نو په دې وجه دده امام جوړول جائز نه دی. (امداد المفتیین ۱/ ۳۶۱ بحواله شامی ۱/ ۳۷۶ باب الامامت)

چې شوک ږیره خروي دهغه امامت مکروه دی البته که ټول مقتدیان ږیر خرئیلي ؤونوبیادې ږیر خرئیلي امام سي. (کفایت المفتی ۳/ ۵۷)

﴿دریری کونړی کولو څخه توبه کښونکی امام صاحب﴾

﴿سوال﴾: یو سړی دی چی ډیره کونړی کوی یائی خروی. اوس هغه په ریشتونی توګه توبه وکښل دریری کونړی کولو څخه او دخریلو څخه او دریری پر ډیڼو لو قصدئی کړی دی نو په دی حالت کی هغه توبه کړی ده خو ډیره لا اوس نه ده غته سوی او نه ډیره راختل دده په وس کی ده. نو آیا ددی په امام جوړیدلو کی څه کراهیت سته او که نه؟

﴿جواب﴾: دتوبی کښلو باوجود ددا سی سړی امام جوړولو کی به په دوو جهو کراهیت وی. یو دا چی پرده باندی لا تر اوسه داصلاح اثر ندی ښکاره سوی. دا فیصله نسی کیدلای چی په آئنده کی به دی ددغه کبیره ګناه څخه پرهیز کوی او که نه؟ دونمه وجه ئی داده چی کمو خلقوته ددغه امام دتوبی علم نسته هغوی به په مغالطه کی ولویږی او هم به دا وګڼری چی فاسق لګیادی لمونځ ور کوی. (احسن الفتاوی ۳/۳۶۲)

ددا سی امام جوړول مکروه دی. البته که دی پخپله امام سی او جُنه ور کوی نو لمونځ پسی کیږی اګرچه هغه ثواب به نه ور کول کیږی. (فتاوی محمودیه ۷/۴۳)

﴿دجوړ سړی اقتداء په ناجوړه (معذور) پسی﴾

﴿سوال﴾: د صحت منداقتداء په معذوره یاناجوړه پسی صحیح ده او که نه؟

﴿جواب﴾: صحیح نه دی. (احسن الفتاوی ۳/۲۶۴ بحواله ردالمختار ۱/۵۴۲) ولی چی دابناء دطاقورده پر کمزوری باندی.

﴿څوک چی مسح کوی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: یو سړی دیو عُذر په وجه پر یوه اندام باندی مسح کوی او نور خلق داسی عُذر نلری نو دهغوی لمونځ په دغه معذور امام پسی صحیح کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: په داسی امام پسی لمونځ کول صحیح دی. (احسن الفتاوی ۳/۲۶۴) ځکه چی دی دمعذور شرعی په حکم کی نه دی. وَصَحَّ الْاِقْتِدَاءُ مُتَوَضِّیءٍ بمتیمم و غاسل بما سح ولو علٰی جبیرة الخ (درمختار ۱/۳۹۶ باب الامامت)

﴿دهغه سړی امامت کم چی په بواسیرو اخته وی﴾

﴿سوال﴾: یو سړی داسی دی چی دخونی بوا سیرو په مرض باندی اخته دی. هر وخت دده څخه دوینی دجاری کیدلو بیره وی ددا سی سړی امامت باوجود ددی چی صحت منداامام هم موجود دی صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾: صرف دوینی دجاری کیدلو ویری څخه دغه سړی شرعاً معذوره نه بلل کیږی. شرعاً دی هغه وخت معذوره بلل کیږی چی د لمانځه په ټولو وختو کی وده ته وینی راځی. او ده ته دومره موقع په لاس نه

﴿سوال﴾: یوسړی دځلوپښتو کالوراهسی امامت ورکوی خود دری ځلورو کالوراهسی دهغه په نظر کی فرق راغلی دی.خویاکی اوناپاکی په خپله لیدلا ی نسی لیکن خلق اعتراض پر کوی چی په ده پسی لمونځ کول مکروه دی. صحیح حکم ئی څه دی؟

﴿جواب﴾: په دغسی امام پسی بلاکراهیته لمو نځ صحیح دی.(فتاوٰی دارالعلوم ۱۹۶/۳)

﴿دنائی یاحجام امامت﴾

نائی یاحجام(سرجو رونکی اوبیښتان پریکونکی)که ددین په مسئلو باندی خبر وی اودینداره هم وی نوامام کیدای سی.خو که دی دخلقو ږیری خریی نوبیابه فاسق وی په ده پسی بیالمو نځ کول مکروه دی. اوکه دی جاهل وی اودینداره هم نه وی اودنائی توب پیشه کوی نوبیاد ده لپاره امامت ورکول افضل نه دی.مجبوراًپه ده پسی جمعه کول دیوازی لمانځه څخه بهتره ده ځکه چی دجُمعی دلما نځه تاکیدسوی دی. او د جُمعی اهمیت ډیرزیات دی.(فتاوٰی رحیمیه ۲۵۷/۴)

﴿دچاپه ژبه کی چی لکنت وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: زه احقر د یوه مسجدامام یم د څه مودی راهسی می په ژبه کی لکنت راځی اوهغه هم صرف داَلْحَمْدُلِلّٰهِ په الف لام باندی. کله چی سورة

دی لاتراوسه معذوره سوی نه وی دده امامت صحیح دی.او څه کراهیت نسته پکښې. کم وخت چی دی معذوره سی نوهغه وخت بیا دی دجوړ... امام نسی جوړیدلای.اوس به نودده امامت دعُذرپه وجه سره بالکل ناجائز وی.(فتاوٰی دارالعلوم ۲۰۳/۳ بحواله شامی ۲۰۳/۱ ۳۸۹أ)

﴿دهغه سړی امامت څوک چی سُلسُلُ بول ... شک کی اخته وی﴾

﴿سوال﴾یوسړی دسلسل البول په مرض اخته ندی خوچی اندام ... ورکړی نو دبولو څاڅکی ځنی راځی.اوبعضی وختونه داسی خیال ... چی دمچاړو څاڅکی د خپل ځایه څخه راوتلی دی.خوپه نظر کی نه ... داسی سړی امامت څه حکم لری ؟

﴿جواب﴾په کم حال کی چی څاڅکی نه راوزی نودی امام کیدای ... وهم اوشک ته اعتبارنسته.(فتاوٰی دارالعلوم ۲۰۳/۳ بحواله الاشباه والنظائر)

﴿دګوزن وهلی امامت﴾

بلاکراهیته لمونځ ...

﴿... ی دهغه ... امامت﴾

الفاتحه شروع کم نو آآآ و کرم.اودهمزه تکرارراڅخه وسی.اولږساعت ورو
سته بیا دالْحَمْدُلِلّٰهِ تلفظ اداسی.ددی وروسته بیاپاته تلاوت صفاء وی.ددی
شرعی حکم څه دی؟

﴿**جواب**﴾:په دی باره کی بهتره خبره داده چی ستاامامت نه صحیح کیږی
اولمونځ دِاعادی قابل به وی. اولفاظ آآآ ډیرقبیح اودقرأت په قانون کی لحن
جلی دی.تاسوباید دلمانځه ورکولوجرأت ونه کړی.(فتاوٰی رحیمیه ۲۵۲/۴ بحواله
شامی ۵۴۴/۱)ددی مسئلی تفصیل په"الفقه علی المذاهب الاربعه"نومی کتاب
کی داسی دی.

"دامامت دصحت په شرائطوکی یوشرط داهم دی چی دامام ژبه
(تلفظ)دی صحیح وی.دیوحرف پرځای دی بل حرف نه اداکیږی مثلاً د
"ر"پرځای "غ" "س" او د"ت" "ذ"پرځای "ز"یاد"ش"پرځای "س"او
نور.په دی وجه داسی سړی ته الثغ وائی ځکه چی د"الثغ"لغوی معنیٰ ده د
ژبی دیو حرف څخه وبل حرف ته اوړیدل هم دداسی کیفیت راتګ دی".

په داسی سړی واجب دی چی خپل الفاظ سم کړی اوچی ترڅو
کیدای سی نودحرف تلفظ دی په صحیح طریقه د اداء کولو کوشش وکړی.
که بیاهم ددی څخه نیمګړی وی نوده ته دخپل ځان په رقم کسانوڅخه بغیر
دبل چاامام کیدل نه دی پکار. که په چا کښې داخامی یا کمزوری وی اوهغه

دخپلی ژبی داصلاح کوشش ونه کړی نود هغه لمونځ به له سره باطل وی او
امام کیدل خوئی لاڅه کوی؟

په دی مسئله کی چی کم بیان دلکنت(تړب ژبی)والاوسوهم هغه
حکم دهغه سړی دی څوک چی په غلطه طریقه یوحرف په بل حرف کی
مدغم کړی مثلاً"س" په "ت" بدلوی او د"س" څخه وروسته چی کم
"ت"حرف وی په هغی کی ئی ګډوی لکه لفظ "مُسْتَقِيم"په صحیح طریقه د
اداء کولوپرځای"مُتَّقِيم" وائی داسی لمونځ ګزاروته واجب دی چی دخپلی
ژبی په اصلاح کی کوشش و کړی که په اصلاح کی ناکامه سی نودی به
یادخپل ځان په رقم دکسانو امام خوجوړیدلای سی لیکن د نورو خلقوامام
نسی جوړیدلای.اوکه ئی په اصلاح کی غفلت و کړی نودده لمونځ به هم
باطل وی اوامام کیدل به ئی هم.

په دی کی یوه بله خامی داده چی هغی ته (فافا)وائی یعنی په خبروکی
ځنی بار بارد"ف"آوازووزی او یا"تمتام"وی یعنی باربارد" ت"تلفظ کوی
نوداسی‌سړی د امامت هم هغه حکم دی کم چی دلکنت والا پورته تیرسو
یعنی په دی سړی کی که مذکوره بالاشرطونه نه وی نوامام کیدل ئی مکروه
دی. **(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ۶۵۸/۱)**

﴿دملاټيټي امامت﴾

دامامت دصحت لپاره داضروری ده چی دامام مُلادی دومره ټيټه نه وی څومره چی درکوع په حالت کی وی که دامام مُلادومره ټيټه وی چی خلق وائی ګنی رکوع له تللی دی نودسم سړی به په ده پسی لمونځ صحيح نه وی.البته که کم امام اومقتدی دواړه يورقم ؤونو بياخيردی دده امامت صحيح دی.(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ۱/۶۷۳)

﴿دترتری امامت﴾

﴿سوال﴾:يوترتری ژبی والاامام چی علم ئی هم نه ؤو،مقتديانوته ئی لمونځ کولوديورکعت کولووروسته يوعالم صاحب لمانځه ته راغلی نوهغه به په جُمُعَه کی شريکيږی او که نه؟

﴿جواب﴾:هغه عالم کم چی وروسته راغلی که هغه خپل لمونځ ځانته وکړی نودهغه لمونځ به هم صحيح وی اوکم اُمِّی چی د مخکښې شخه په لمانځه کی اخته ؤواولمونځ ئی کاوی نودهغه لمونځ به هم صحيح وی. که دغه عالم په دی ترتری پسی اقتداء وکړی نوبيابه دهيچالمونځ هم نه صحيح کيږی نوددی عالم اونه دهغه اَميانو کموچی مخکښې لمونځ کولو.(فتاوٰی دارالعلوم ۳/ ۱۱۲ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۴۵ باب الاملمت)

ترتری دبعضی حروفوپه اداء کولوقادرنه وی نوپه دی وجه دهغه

امامت جائزنه دی.خودخپل ځان په رقم دخلقوامامتی هغه وخت کولی سی کله چی په قوم کی داسی يو سړی موجودنه وی چی هغه داحروف صحيح اداء کولی سی که په قوم کی يوداسی سړی موجود وی نودترتری امام اودټول قوم لمونځ به فاسد وی.(فتاوی هنديه ۱/۱۳۴)

﴿دګوډ امامت﴾

دګوډ سړی امامت جائزدی خودداسی سړی شخه عموماًطبعی انقباض وی.نوپه دی وجه دداسی سړی امامت مکروه تنزيهی دی.البته که هغه صاحب علم اوتقوی والاوی اوخلق ځنی انقباض نه کوی نوبياتنزيهی کراهيت هم نسته.(احسن الفتاوی ۳/۳۱۸ بحواله ردالمختار ۱/۵۲۵)

يوداسی ګوډ چی ښه سم نسی دريدلای دهغه امامت مکروه تنزيهی دی که يوجوړ او سالم سړی چی دلمانځه دمسئلو شخه واقف وی اوهلته موجودوی نوبياهم دی اولٰی دی. که داسی يوبل سړی موجودنه ؤو چی هغه دلمانځه دمسئلو شخه خبروی او ګوډ دلمانځه د مسائلوشخه خبروی نوبياده امامت افضل دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۱۷۷)

﴿دکوڼ امامت﴾

﴿سوال﴾کم سړی چی کوڼ وی اوبالکل نه اوری دهغه امامت شنګه دی؟

﴿جواب﴾:دکوڼ امامت صحيح دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۱۷۷)

﴿دهغه سړي امامت چې په لمانځه کې بیلیږي (خوب کوي)﴾

په لمانځه کې په بدیلوباندې لمونځ نه فاسد یږي اوپه لمانځه کې چې څه خلل نه راځي البته که په قرآن ویلویعنې قرأت کې څه داسې غلطي وکړي چې معنٰی ئې بدلیږي اود هغه غلطۍ په وجه سره په لمانځه کې فسادراځي نولمونځ به فاسدسي خو په دې کې بیده او ویښ دواړه برابردي.

﴿چې تعویذ ګنډي دهغه امامت﴾

چې په قرآني آیاتونواوپه مأثوره دُعا ګانوساخت اوتعویذ کول صحیح دي نوپه دې وجه دداسې کارکولووالاپه امامت کې څه کراهیت نسته.البته په دې ددرواغواودافتراء خصلت دفسق اومعصیت موجب دی اوپه داسې سړي پسې لمونځ مکروه دی.(فتاوی دارالعلوم ۱۸۷/۳ بحواله ردالمختار ۵۲۳/۱)

﴿دغیرمختون (ناسُنته)امامت﴾

﴿سوال﴾:په ناسُنته سړي پسې لمونځ کول شرعاًڅنګه دي؟

﴿جواب﴾:سُنت کول دپیغمبرعلیه الصلاة والسلام طریقه ده څوک چې دضرورت بغیردا پریږدي نوهغه تارک السنة دی. که دقدرت اووسعت باوجودڅوک بدن په غسل او استنجاپاک نه ساتي نوبیادې هیڅکله نه امام کوي اوکه ئې پاک ساتي نوبیادده امامت صحیح دی.لمونځ پسې

کیږي.اګرچه دَ دِئ تارک السنة په مقابله کې دعامل سنت په مقابله کې د عامل سُنت امامت مقدم دی.(فتاوی محمودیه ۹۸/۲)په دې شرط چې دې اتفاقي طور غیرمختون پاته سوی وي اودسنت قائل وي.(کفایت المفتی ۴۳/۳)

﴿دمعذور امامت﴾

طاهر(پاک سړی)ته په معذورپسې اقتداء کول چیرې هم جائزنه دي.البته معذوربه طاهرپسې اقتداء کولای سي.اودیومعذوراقتداء په بل معذور پسې جائزه ده. په دې شرط چې دواړه معذوروي.اوکه چیرې د دواړوعُذرونه سره جلاجلاوي نوبیاهم دیوه په هغه بل پسې اقتداء نه ده جائزه.

که امام په شرعي طورباندې معذورنه وي بلکه اتفاقي طوروړته یوعُذر کله کله وررپیښ سي نوبیادده امامت صحیح دی.(فتاوی محمودیه ۱۰۰/۲)

﴿دنامرده امامت﴾

﴿سوال﴾(۱)که څوک په څه وجه نامرده سي نودده اقتداء جائزه ده او که نه؟
(۲)که دپیدائش څخه څوک نامرده وي نودده اقتداء جائزه ده او که نه؟

﴿جواب﴾(۱)که څه مانع نه وي نوبیاصحیح دی.(۲)جائزه خوده خوچې نرښځې نه وي.دنرښځې امامت دښځولپاره جائزدی دنرانولپاره نه دی جائزه.(فتاوی محمودیه ۱۰۱/۲)

﴿دزناکاری دزوی امامت﴾

﴿سوال﴾: یوحافظ صاحب دی ډیرښه آوازئی دی دلما نځه اوروژی پ...
دی اوښه اخلاق هم لری.قرآن شریف ئی هم ډیرښه یاد دی...
ولدالزنایعنی حرمنی دی.نوآیا دی امام جوړیدلای سی.په ده پسی...
لمونځ اوتراویح کیدلای سی؟

﴿جواب﴾: که داحافظ صاحب صالح اونیک وی اودمعاشرت پ...
سره محفوظ وی نوبیاپه ده پسی لمونځ کول جائزدی.ولدالزناکیدل...
دی کی موجب کراهیت نه دی.(کفایت المفتی ۳/۶۴)

﴿دحمل ساقطونکی والا امامت﴾

﴿سوال﴾: یوسړی دپیغلی انجلی سره نکاح وکړه دوی میاشتی...
تشخیص وکړی نومعلومه سوه چی منکوحی ته د پنځو میاشتو حمل...
شخه لری.نوده دا حمل درسوائی باعث وګڼړی اوقصدائی حمل ساق...
اوبیائی ورسره دوباره نکاح وکړه نواوس په ده پسی لمونځ صح...
که نه؟

﴿جواب﴾: په دی مسئوله صورت کی نکاح س...
کړی نود دوباره نکاح کولوحاجت نه ؤو...
صحبت کول ښه کارنه دی.خو که دا...

وی نوده له دوضع حمل څخه مخکښې همبستری صحیح ده.قصداً حمل
ساقطول په دی صورت کی سخته ګناه ده. که دعلم باوجودئی داسی کار
وکړی نوتوبه ایستل ورته لازمی ده دزړه ده اخلاص. که دی توبه ونه باسی
نود ده امامت کول جائزنه دی.په دی شرط چی بل اهل اولائق امام نه
وی.اوکله چی دزړه داخلاص توبه وکاړی نوبیاده په امامت کی هیڅ
مضائقه نسته. (فتاوی محمودیه ۹۲/۲)

﴿دپیښنګی لمونځ کونکی امامت﴾

﴿سوال﴾: زیداکثره دلما نځه کولوعادت نلری اوچی پر پیښ سی بیائی
کوی.خوپه ده کی دامامت کولولیاقت سته.نو که دمحلي یاکلي خلقوورته
تنخواه مقرره کړه او امام ئی کړی او هغه ددی لالچ په وجه امام جوړسی
اودلمانځه پرکولوباندی مجبورسی نوپه ده پسی لمونځ کول جائزدی او که
نه؟ که دی پخپله بی له ت... دی لپاره چی خلق به زماعزت
ک... لمو نځ جائزدی او

تنخواه.په دواړو حالاتو کې دده امامت صحیح دی.

پاتـه سـو دده دنیت سوال.نو هغه خو الله تعالیٰ ته معلوم دی.یوازې په قیاس باندې دهغه ونیت ته که څوک فاسلووائي نو داخبره به نه وي جائزه.
(فتاوی محمودیه ۲/۹۳)

﴿دنوی مسلمانی سوی ښځې دزوی امامت﴾

﴿سوال﴾ که یو هلک چې نوی مسلمان سوی دی اوپه شرعي احکامو باندې خبر دی نو آیاد ده امامت صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾:دده امامت بلاکراهیته صحیح دی.او کم څوک چې وائي چې د ده امامت صحیح نه دی نوهغه پرغلطي باندې دی او دهغه په مسئله سم سر نه دی خلاص سوی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۲۰۳ بحواله رد المختار ۱/۵۳۰)

﴿دهغه سړي امامت چې لاس یا پښه ئې پرې سوې وي﴾

﴿سوال﴾:دزیدچپه لاس په مُتې کې پرې سوی دی.دی دقرآن مجید قاری دی او د سُنت مطابق دی ادعلمِ فقهي څخه خبر دی. آیاپه ده پسې لمونځ کول کیږي؟ که کیږي نو په لمانځه کې ئې کراهیت سته او که نه؟

﴿جواب﴾:چونکه ددارقم معذوره څخه طبعاًخلق نفرت کوي اوبله داچې دهغه لپاره طهارت کامله ممکنه نه ده.په دې وجه به دبل جوړ امام په موجودګۍ کې دده امامت مکروه تنزیهي وي.که دده څخه بل څوک زیات دامامت مستحق

موجود نه وي نوبیا څه کراهیت نسته.(احسن الفتاوی ۳/۲۶۹ بحواله رد المختار ۱/۵۲۵)

﴿دنر ښځې امامت﴾

﴿سوال﴾:دنرښځي امامت ښه دی او که نه؟د مقتدیانو به وریسې لمونځ کیږي او که نه ؟او نرښځې دسنت اوشریعت تابعداري کونکې دی.لمونځ ګزاره اودینداره وي اوږیره ئې هم پرې ایښې وي

﴿جواب﴾:که په دې نرښځې کې دنارینوو علامتونه زیات وي نوبیا دده امامت صحیح دی او که دزنانه وُو علامې زیاتې پکښې وي یادواړې علامې کې برابرې وي نوبیا دده امامت صحیح نه دی.بلکه بیا دی د همجنسو امام هم نسي جوړیدلای.البته په ده پسې دښځو اقتداء صحیح ده(احسن الفتاوی ۳/۲۷۶ بحواله ردالمختار ۱/۵۴۰)

﴿دهغه سړي امامت څوک چې دنامه څخه لاندې بیښتان نه خروي﴾

﴿سوال﴾:که یو سړی دنامه څخه لاندې بیښتان دڅه کمزورۍ په وجه نه خروي نو په ده پسې لمونځ کیږي او که نه؟

﴿جواب﴾:دده لمونځ صحیح دی او په ده پسې لمونځ کیږي.(فتاوی دارالعلوم ۳/۱۷۷)که معقول عُذر نه وُو نوهره جمعه ئې صفاکول پکار ده او د څلوېښتو

ورځوشخه زيات سائل مکروه تحريمي دی.(رد المحتار کتاب الخطروالاباحة ۵/۲۵۸)

﴿دهغه چاامامت چي په خُوله کی ئی يوغاښ هم نه وی﴾

﴿**سوال**﴾: دچاچی په خُوله کی يوغاښ هم نه وی او ددی په وجه سره د حروفو اداءسم نسی کولای يادچاد پُښو گوتـی آخوااودی خواته وی او دده شخه ښه سړی پيدا کيږی نو آيادده امامت صحيح دی او که؟

﴿**جواب**﴾: په دی دواړوصورتو کی ئی امامت صحيح دی خوبهتره خبره داده چی امام يوداسی سړی جوړسی چی دهغه شخه مقتديان نفرت نه کوی اودغه صالح امام د لمانځه دمسائلو شخه خبروی. اوقرآن مجيدهم ښه ويلای سی.(فتاوٰی دارالعلوم ۱/۱۲۲ بحواله ردالمحتار ۱/۵۲۰ باب الامامت)

﴿دمصنوعی غاښوو الاامامت﴾

کم سړی چی مصنوعی غاښونه ايښي وی نوفقهاؤدهغه امامت صحيح بللی دی. که غاښونه دسپنوزرووه. بلکه امام محمدرحمه الله تعالٰی عليه خود سروزروغاښونهلگول هم صحيح بللی دی.(فتاوٰی دارالعلوم ۳/۲۰۶ بحواله ردالمحتار ۵/۲۳۸ کتاب الخطر)

﴿دقاتل امامت﴾

﴿**سوال**﴾: دقاتل شخه قصاص نه دی اخيستل سوی او نه دمقتول ورثاء ده ته

بخښنه کړی ده قاتل فقط توبه کښلې ده.اوحقوق العبادذمه واری اوس هم دده په ذمه باندی باقی پاته ده.نو آيادی په دی وجه سره فاسق بلل کيږی او که نه اوپه ده پسی لمونځ مکروه کيږی او که نه؟

﴿**جواب**﴾: په دُرمختار کی راغلی دی چی دقاتل صرف توبه او استغفار کافی اوبس نه دی ترشوچی دمقتول ميراث خورو ودته بخښنه نه وی کړی. (ردالمختار ۱/۳۸۴ باب الجنايات)

ددی خبری شخه داښکاره سوه چی دقتل گناه به نه بخښل کيږی اودی به فاسق وی اولمونځ وريسی مکروه وی.(فتاوٰی دارالعلوم ۳/۱۱۲)

﴿دښځوامام جوړيدل﴾

دامامت دصحت لپاره يوشرط دامام په حقيقی معنٰی کی سړيتوب دی.په دی وجه دښځو دخنثٰی مشکل(يعنی د داسی نرښځي چی دهغه جنس نه متعين کيږی)امام جوړيدل چی په هغوی پسی دی سړی مقتديان ولاړوی نه دی صحيح. خو که ښځی ئی مقتديانی وی نودهغوی دامامت لپاره سړيتوب شرط نه دی بلکه که يوه ښځه هم دځان په رقم دنوروښځو يادنرښځيانو امامه جوړه سی نوصحيح ده.(کتاب الفقه ۱/۶۵۳)

﴿دامام دعاقل کيدوشرط﴾

دامامت دصحت په شرائطو کی يوشرط عقل هم دی.نوپه دی وجه

به دفاتر العقل امامت چې که دهغه دجنون څخه افاقه کیږي نو صحیح به نه وي
البته که دده حالت داسي وي چې کله افاقه کیږي او کله ورته جنون
لاحق کیږي نو دافاقې په حالت کې به دده امامت صحیح وي او دجنون په
وخت کې به دده امامت بالاتفاق سره باطل وي. (کتاب الفقه ۱/ ۶۵۴)

﴿دخوانده سړي اقتداء په ناخوانده پسې﴾

دامامت دصحیح کیدلویو شرط دادی چې که مقتدی تعلیم یافته وي
نو پکار ده چې امام هم تعلیم یافته وي. دناخوانده سړي خوانده لره لمونځ
ورکول نه دی صحیح. او دخوانند کیدلو شرط دادی چې امام دی ددومره
قرأت څخه خبروي چې دهغه څخه بغیرلمونځ نه صحیح کیږي. نو که دیوه
کلي امام ددومره قرأت څخه خبروي چې دهغه څخه بغیرلمونځ نه کیږي نو
تعلیم یافته له جائزده چې په ده پسې لمونځ وکړي خو که هغه اُمّي ؤوا
قطعاًناخوانده ؤونوهغه ته دخپل ځان په رقم دناخواندو د امامت څخه ماسوی
وبل چاته امامت نه سي ورکولای. ددی څخه قطع نظرچې څوک خوانده
سړي ذدوی سره په جمع کې شریک سته او که نه. (کتاب الفقه ۱/۶۵۴)

﴿دامامت لپاره دروغتیا شرط﴾

دامامت دصحت لپاره یوشرط دادی چې امام به په څه مرض با
معذوری کې مبتلانه وي (یعني یوداسي مرض نه وي ورته پیښ چې دهغه

شمارپه شرعي معذوري کې راځي) مثلاً سُلسل البول (یعني دمچا ږوشاڅکي
تلل) په دائمي پیچش باندې اخته کیدل، دهواء مسلسل خارجیدل او د
پزې څخه همیشه وینې تلل. نو که امام په دې امراضو کې په یوه باندې اخته
وي نو هغه ته د داسي کسانو امامت ورکول صحیح نه دی په چاکې چې د
دغو امراضو څخه یو مرض نه وي ور پیښ. البته دده په رقم په یو مرض باندې
اخته وي نو دداسي معذورانو امامت ورته صحیح دی.

او که مرضونه مختلف وي مثلاً یو دمچا ږومریض وي او دبل پُزه
وینې کیږي نو په دوئ کې دیوبل لپاره امام جوړیدل ښه کارنه دی. (کتاب الفقه
۶۵۵/۱)

﴿دعدت په دوران کې چې نکاح تړي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: یوسړی دعدت په ورځو کې نکاح و تړله نو دده امامت څرنګه
دی؟

﴿جواب﴾: که دعلم باوجودئی داسي نکاح تړلې وي نو دنکاح تړلو والا
ټول خلق ګناه ګاره دی دټولوپر ذمه علی الاعلان توبه ایستل لازمي ده. که د
دغه سړي څخه بهتربل څوک دامامت لائق بل سړی موجود وي نو بیاددغه
سړي امامت مکروه دی. بل سړی امام جوړول پکاردی ترهغه وخته پورې
چې ترڅوده توبه نه وي کښلي. (فتاوی محمودیه ۲/ ۱۱۴)

﴿په ګرو مځکه ور کول او بیا پر هغه باندې فائده اخیستل د داسې سړي امامت﴾

دشامي نومي كتاب داتحقيق دی چې په ګروباندې مځکه ور کونکې اوبيا پر هغه باندې فائده اخيستل په سود کې راځي.ولې چې داپه **كُلُّ قَرْضٍ جَرَّ نَفْعاً فَهُوَ رِبواً** کې داخل دی.نو کم سړی چې ددې حرام فعل مرتکب وی نو هغه عاصي اوفاسق دی اوپه فاسق پسې لمونځ مکروه دی (فتاوی دار العلوم۳/۱۱۱ بحو اله ردالمحتار ۱/۵۳۳)

مرتهن ته دمرهون د مځکې څخه فـائده اخيستل صحيح نه ده. او دا کارپه سود کې راځي اوداسې کار کونکې سړی امام جوړول ممنوع دی. په داسې سړي پسې اګرچه لمونځ صحيح دی سره د کـراهيت خودی بايد مستقل امام نسي جوړ.(فتاوی دارالعلوم۳/۱۹۱ بحو اله ردالمحتار ۱/۵۲۳ باب الامامت)

﴿دعاق سوی امامت﴾

په حديث شريف کې راځي صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بِرٍّ وَفَاجِرٍ نوعاق هم مسلمان دی کافرنه دی په دی وجه په ده پسې لمونځ صحيح دی خومکروه دی ځکه چې دی دمور اوپلاريااُستادڅخه عاق سوی دی اوعاق سوی سړی فاسق دی.اودفاسق امامت مکروه دی.(فتاوی دارالعلوم۳/۱۲۲ بحو اله ردالمحتار ۱/۵۲۳

﴿دعاق ترجمه داسې کيدلای سی. ع :معنی عيب ويونکې. ا :اذی يا تکليف رسونکې. ق قهر کونکې.دادرې شيان پرخپل پلار اومور يا اُستاد باندې کول حرام دی او کونکې ئې فاسق بلل کيږي.الله پاک دی مو نږ داسې کارو څخه وساتي چې دهغه په وجه دالله بندګان راڅخه ناراضه کيږي . آمين(مترجم)﴾

﴿دکم وزن تلُونکې(په ترازو کې کمونکې)امامت﴾

داسې سړی دامام جوړ ولو لائق نه دی. دکم وزن په وخت کې دده امامت اوپه ده پسې لمونځ کول مکروه دی. کلي،يامحلي والاله پکاردي چې دی ژرترژره لری کړي اودده پرځای بـاندې يو لائق سړی ودروي(فتاوی دارالعلوم۳/۱۷۱ بحو اله رد المختار ۱/۵۲۵)

﴿څوک چې سپين بيښته کاږي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:امام صاحب دخپلې ږيرې څخه سپين بيښتان کاږي نوپه ده پسې لمونځ صحيح دی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:داکاربنه نه دی مکروه دی اولمونځ پـه ده پسې صحيح دی. خوداکارده له نه دی پکار(فتاوی دارالعلوم۳/۱۲۲ بحو اله ابوداؤدکتاب الترغيب ص ۱۹۶)

﴿دګناه کبيره کونکې امامت﴾

﴿سوال﴾:یو امام صاحب دی هغه اکثره دخلقو سره کښینی او غیبت کوی دغه رنګ په ډیرو خبرو کی دده څخه درواغ هم ثابت سوی دی.په پاکه ښځه پوری ئی دزنا تهمت هم لګولی دی او نوری هم ناقابل ذکر خبری پکښې وی نو داسی سړی فاسق ویلای سوا و که نه ؟دده لپاره شرعی حکم څه دی؟

﴿جواب﴾:غیبت کول په پاک دامنه ښځه باندی تهمت لګول وغیره ګناه کبیره دی دداسی کارو والا فاسق دی او دفاسق امامت مکروه تحریمی دی که بل څوک دده څخه بهتره سړی موجود وی نو ددی پورته ذکر سوی امورو مرتکب سړی ته امامت ورکول پکار نه دی.بلکه بل څوک دی امام جوړ کړي. که دا سړی په رښتیا توبه و کښله او دخپلو داسی حرکتو څخه ځان وساتی نو بیا به دده امامت مکروه نه وی.بهتره او غوره خبره داده چی دامذکور شخص په مسئله باندی پوه سی او دفتنی اندیښنه ورته په ګوته سی او توبه پر وکاږی که دی ئی نه منی او دفتنی اندیښنه وی نو دی دامامت څخه معزول کړی او بل څوک بهتره سړی دی امام مقرر سی.

او که دده په ایستلو کی فتنه او مشکلات وی نو بیا دی په بل مسجد کی لمونځ و کړی(فتاوی محمودیه ۱۰٦/۲ بحواله ردالمختار ۸۸۴/۱)

﴿چی خُولی یالنګوټه نه پر سر کوی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:یو امام صاحب دی چی پرسرباندی ئی نه خُولی سته او نه لنګوټه

صرف یو پټو پر سر باندی اچوی.نو یو مقتدی و امام صاحب ته وویل چی په داسی حالت کی لمونځ کول مکروه دی.امام صاحب ورته وویل چی زه خو داسی کم که دچاخو ښه وی نو لمونځ دی و کړی او که ئی نه وی خو ښه نو نه دی کوی.ددی په باره کی شرعی حکم څه دی؟

﴿جواب﴾:که خُولی یا لنګوټه موجوده وی نو سرتور سر لمونځ ورکوی نو دا کار مکروه دی.په معززه کالو کی لمونځ ورکول پکار دی.البته په دی مذکوره مسئله کی فرض ادا کیږی.(فتاوی محمودیه ۱۱۴/۲)

﴿دجُنب امامت﴾

﴿سوال﴾: که څوک دناپاکی یعنی دجنابت په وخت کی امامت و کړی نو دهغه لپاره څه حکم دی؟

﴿جواب﴾:داسړی دګناه کبیره مرتکب دی او د ټولو لمونځ ګزارو لمونځ ورتباه کوی. که په داسی کولو دلمانځه سپکاوی کول غواړی نو بیا خو دا کار کول کفر دی.(فتاوی محمودیه ۷٦/۲ بحواله شامی ۵۵/۱)

﴿دجاهل او غله امامت﴾

﴿سوال﴾:زید امام دی.او دی صرف حافظ دی او هغه هم غلط وائی او که موقع ورته پیدا سی نو غلا هم کوی.غسّالی ئی پیشه ده،په نکاح سابقه باندی بله نکاح کوی که په مسجد کی وی نو لمونځ کوی ورنه بیائی قضا را

کړ خوی. دقوم بدځنی کیږی دده په باره کی شرعی حکم څه دی؟

﴿جواب﴾: که په ده کی دااُمور موجودوی اودده څخه بهتره دامامت اهل سړی موجودوی نوبیا دی امام جوړول مکروه تحریمیء دی که دا سړی ددی کارو څخه توبه وکاړی او آئنده داسی ممنوعات نه کوی او قرآن مجیدصحیح وائی نوبیادده امامت منع نه دی. (فتاویٰ محمودیه ۲/۱۰۵)

﴿دفیشن پرسته امامت﴾

﴿سوال﴾: یوداسی سړی چی دسر ببینتان ئی انګریزی ماډل جوړ کړې وی ږیره ئی خشخشی وی کالی ئی دنیکانو په رقم نه وی نودداسی سړی دخپله ځانه دامامت لپاره پرمصلیٰ باندی دریدل څنګه دی؟

﴿جواب﴾: دکم سړی جامه، و ببنته، ږیره اونور کارونه دشرعیت څخه خلاف وی نودی دی نه پخپله مصلّی ته درمخه کیږی اونه دی نوردی امام کوی. چونکه داسړی فاسق دی نوفاسق په مکمل طورباندی امام جوړول مکروه تحریمی دی.

که حافظ (امام) دخپلو قبیحو حرکتونو دپریښنولو عهدو کړی نودی د تراویحو امام جوړیدلای سی او که انکارو کړی نوبیاداسی سړی دامامت د منصب لائق نه دی. اوهم ددغه اعمالو په وجه خلق دده څخه ناراضه کیږی نودهغوی ناراضګې په حقه ده. په حدیث شریف کی راغی که "په شرعی

سبب لمونځ ګزاره دامام څخه ناراضه سی نوپه داسی امام پسی مقبول لمونځ نه کیږی" (یعنی دلمانځه فرضیت خوبه اداسی خو افضلیت به ئی نه وی)

که حافظ صاحب دخپل ژوند دبدلولو لپاره تیارسی نوبیادی امام جوړیدای سی. کنی داسی نه چی دامامت دغه مقدسه منصب به پاته وی. (فتاویٰ رحیمیه ص۲۱۷ بحواله دُرمختارمع شامی ۱/۵۲۲)

﴿دفاسق امامت﴾

﴿سوال﴾: زیدپه یو ځای کی امامت کوی. دی په قبیحه افعالو کی شرکت کوی مثلاً ناچ کتل، غزلی، سینماته تلل، ګنده او فحش مسخری کول په دین اودینداره پوری خندل اونور داسی کارونه کوی. آیاداسی سړی امام جوړیدلای سی اوپه ده پسی اقتداء کول جائز دی او که نه؟

﴿جواب﴾: داسی سړی امام جوړول جائزنه دی (فتاویٰ محمودیه ۲/ ۷۷ بحواله شامی ۱/۳۷۶)

﴿دکوچنی هلک امامت﴾

صحیح قول دادی چی په نابالغه پسی دبالغ اقتداء نه ده صحیح. په نفل لمنځو کی هم. که ئی داسی وکړه نواحتیاطاًدی نفل بیرته راو ګرځوی. (فتاویٰ محمودیه ۲/۷۷)

دحنفیه ؤ صحیح مذهب دادی چی دنابالغه دبالغانو لپاره په فرض او

نفلوپه هیڅ یوه کی هم نه صحیح کیږی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۱۵)نوتراویح هم په نابالغه پسی نه صحیح کیږی هم دغه دحنفیه ؤ صحیح مذهب دی.اوبالغ د پنځلسو کالوو الاشمارل کیږی.په دی شرط چی ددی څخه دمخه پرده باندی دبلوغ څه نښانه یاعلامه نه وی ښکاره سوی.نوپه دی وجه چی تر څو هلک بالغ سوی نه وی نوامام ئی مه جوړوی.

هسی په نفلو کی د کوچنی څخه دی قرآن اوری.یعنی دغه هلک دی دنفلونیت وتړی اوودی درېږی اواوریدونکی دی هم داسی کښینی قرآن کریم دی اوری.او کله چی دپنځلسو کالوسونوبیادی دتراویحو امام جوړ کړی.(رد المختار ۵/ ۵۳۹)

دکوچنی تراویح صرف نفل دی اودبالغ داسُنت مؤکده دی.بله دا چی د کوچنی په نفل شروع کولوسره پرهغه باندی نه واجبیږی اوپربالغ باندی دنفلو شروع کیدووروسته پوره کیدل ئی پرواجب دی او که ئی ونکړه نوبیائی قضارا وړل واجبه ده.نود کوچنی لمونځ ضعیف دی اودبالغ لمونځ قوی دی.نوداقانون دی چی دقوی بناء پر کمزوری یاضعیف باندی نه کیږی.نو څکه داجائز نه ده.(امدادالفتاوی ۱/ ۳۶۱)

نابالغه دتراویحو لپاره امام جوړول صحیح نه دی.البته که دی دنا بالغو امامت وکړی نوبیا جائز دی. (فتاوی محمودیه ۲/ ۳۵۰)

﴿دامامت مستحق﴾

﴿سوال﴾:داختردلمانځه په باره کی په مسلمانانو کی اختلاف پیداسوبعضی وائی چی داخترلمونځ به هم داامام ورکوی اوبعضی بیا وائی چی داخترلمونځ به حافظ صاحب ورکوی.داختر لمونځ امام صاحب ور کړی اوحافظ صاحب نیت مات کړی اوولاړی.په دی صورت کی څه پکاردی؟

﴿جواب﴾:په مسلمانانو کی تفرقه بدلشی دی.لمو نځ په حافظ پسی هم کیږی اوپه امام صاحب پسی هم کیږی.انانیت ښه شی نه دی.کم څوک چی د نفسا نیت په وجه دجماعت څخه جلاکیږی اونیت ماتوی. اودلمانځه څخه ئی نودا کارښه نه دی او گناه گاره سو.توبه دی وکاږی.اوټولو خلقوته په خپل مابین کی په اتفاق سره پاته کیدل پکاردی اوپه اتفاق سره امام درول پکاردی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۹۲)(په قاعده کی عالم د امامت لپاره حقداره دی او بهتره خبره خوداده چی په متفقه طوردامام انتخاب وسی.چی څه اختلاف پی داسی درأی دکثرت طرف ته فیصله کول پکار دی.اوبیا ټولوته داکثریت رأیه منل پکاردی)

﴿په امامت کی دشیخ اودسیدتخصیص﴾

لمونځ په هرچا پسی کیږی دشیخ اودسید په دی کی څه تخصیص نسته.دشیخ اودسیدلمونځ په غیرد شیخ اودسیدپسی کیږی.په امامت کی

صرف دامام لیاقت پکاری دی .دنسب په دی کی څه قید نسته.کم سړی
چی دلمانځه دمسئلو ښه خبروی اومتقی وی هم هغه دامامت لائق دی
اوزیات حقداره ئې دی.داکه سیّلوی اوکه پیر دُکانداروی اوکه ربړهی
والا.ځوان وی اوکه سپین ږیری غرض چی دهری پیشی والاوی هغه لائق
دامامت دی خوتقوی اوعلم ئې شرط دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۲۱۹ بحواله رد مختار)

دیو امام ښخه چی بعضی مقتدیان ناراضه وی دهغه امامت

دفقهی په کتابو کی راغلی دی چی که چیری په امام کی یو څه نقص
اوتاوان ؤونو دمقتدیانو دناراضګی اثرپه لمانځه کی هیڅ شی نه دی.دامام لمونځ
بی له څه کراهیت ښخه صحیح دی او ګناه ټوله پرمقتدیانو باندی ده.او که
چیری په امام کی یو څه شرعی نقص وی او مقتدیان دهغه نقص په وجه ناخوښه
وی نو بیا پر امام باندی مؤاخذه سته اودده امام جوړیدل مکروه دی.-
که په امام کی څه خلل یانقص نه وی او مقتدیان بی له څه وجهی ښخه
دده ښخه ناراضه وی نو ددی ګناه به پر مقتدیانو باندی وی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۰۲)

دناصالح اولاد والاپلار امامت

که یو سړی په خپله صالح وی او دامامت لائق وی نو دهغه په امامت

کی څه کراهیت نسته بلکه دی اَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ دی.(داولاد په ناصالحی سره
دده په تقوی کی هیڅ فرق نه راځی) (فتاوی دار العلوم ۳/ ۱۰۲)

دکم امام ښځه چی لنګ وهی دهغه امامت

دپیش امام په امامت کی په دی باندی څه کراهیت نسته.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۳۰۲)

دلور دوا وده پر سر باندی دپیسو اخیستونکی امامت

دانجلئ مور او پلار ته دانجلی دخاوندیانئ دخاوند مور او پلار ښخه
روپی اخیستل فقهاؤ رشوت او حرام ګرځولی دی.نو داروپی واپسول
ضروری دی.او توبه ددی داده چی روپی واپس کړی.که ئې روپی واپس
نه کړی نو دی فاسق پاته کیږی او دفاسق امامت مکروه دی.او فاسق لائق د
امامت نه دی.په ده پسی او دده په معاوینو پسی لمونځ اګرچه صحیح کیږی
خو مکروه دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۲۶۰ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۲۳ باب الامامت)

دمسجدمال چی پر خپل ځان باندی مصرف کوی د داسی سړی امامت

(دمسجدمال پرخپل ځان باندی مصرف ول)داصریح خیانت دی
اودده په ذمه باندی ضمان لازم دی.او که دا امام توبه ونه کړی نو بیا ددی امام
ساتل نه دی پکار.دی دامامت لائق نه دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۷۸ بحواله

ردالمختار ۱/۵۲۳ باب الامامت)

﴿دشیعه امامت﴾

په شیعه پسې دسُنّي لمونځ نه کیږی. چونکه ددوی بعض عقائددا سې دی چې هغه دکفرموجب ګرځي. نوپه دی وجه په دی صورت کې د لمانځه نه صحیح کیدل یقینی امردی. او که شیعه غالی نه وی نوبیاهم احتیاط په کاردی ځکه چې عقیده خومخفي امردی اوشیخینوته بښکنځل او پر عائشة رضی الله تعالیٰ عنهاباندی دتهمت لګول وڅخه یوشیعه هم ندی خلاص. سبّ شیخین د بعضوعلماؤپه نیز کفردی. اوقذف عائشة رضی الله تعالیٰ عنهابالاتفاق کفردی. (فتاویٰ دارالعلوم ۳/ ۳۰۲)

﴿دموچي، دغسال اودنوی مسلمان سوی امامت﴾

په موچي، غسّال اوپه نوی مسلمان سوی پسی لمونځ کول صحیح دی. اوصرف په دی وجه ددوی په امامت کې څه کراهیت نسته. البته که څه بله وجه دکراهیت وه نوبیالمونځ مکروه دی. او دامامت لپاره غوره هغه سړی دی څوک چې دلمانځه دمسائلوڅخه خبروی. اوقرآن مجید صحیح ویلای سی اوصالح وی (فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۴۸ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۴۱ باب الامامت)

مړی ته غسل ورکول اوتجهیزاوتکفین په امامت کې څه خرابی نه

راولی. خوداهل محله والاپاره دا ډیره دشرم ځای اوبده خبره ده چې هغوی دامام څخه داسی کاراخلي. کم چې دوی ئې پخپله نه خوښوی. بلکه د ذلّت کارئې بولی. دوی ته پکاردی چې دمړی په غسل اونوروامورو کې په خپله هم کاروااخلي که نه په پوهیږی نودامام څخه دی زده کړی. داکاردی دذلّت کارنه بولی. ځکه چې مړی ته غسل ورکول فرض کفائی دی. اود ثواب کاردی. (فتاویٰ محمودیه ۷/ ۴۲)

﴿دغیرمقلدامامت﴾

﴿سوال﴾: په غیرمقلدپسی دمقلدمقتدی لمونځ کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: که غیرمقلدامام ددی امررعایت کوی چې دغې خبری د لمانځه په معامله کې نه داخلوی په کموچې دحنفي لمونځ مکروه کیږی یا فاسد یږی اومتعصب نه وی نوبیادده اقتداء صحیح ده. (فتاوی دارالعلوم ۳/ ۳۰۸ بحواله دُرمختار ۱/ ۵۲٦)

﴿دمنکرین حدیث امامت﴾

قادیانی فرقه چې دحدیثو څخه منکره ده کافره ده. په هغوی پسی لمونځ کول صحیح نه دی. اودغیرمقلدوفرقه کمه چې ځان ته اهل حدیث وائی هغوی هم په حقیقت کې اهل حدیث نه دی په دوی پسی هم لمونځ مکروه دی. امام یوعالم اوحنفي سړی مقررول پکاردی (د منکرینو دحدیث

امامت هم صحیح نه دی علماؤ ددوی د کافر کیدو فتویٰ ور کړی ده)(فتاویٰ
دارالعلوم ٣/ ١٤٨ بحواله عالمگیری باب الامامت ج ١ /صفحه٨٣)

﴿د غزل ویونکی ښځی د خاوند امامت﴾

که امام د خپلو ښځو په منع کولو قادر وی او بیائی هم نه منع کوی نو د
غه خلق ګنهګاره دی د دوئ په ذمه واجب دی چی ښځی د ناشائشته او د
ناجائزو افعالو څخه منع کړی. که چیری دی پر منع کولو باندی قادر نه وی او
یائی منع کوی خو ښځی ئی نه منی نو بیا په ده د ښځو د دی افعالو ګناه نسته او په
دی صورت کی د ده په امامت کی هم په دی خبره کراهیت نه راځی. البته
که د قدرت باوجودئی نه منع کوی بلکه د ښځو د غه ذکر کړی سوی
افعال (اتڼ، غزلی او نور) خوښوی نو بیا د ده امامت منع دی په دی شرط چی
څوک بل سړی دده څخه بهتره وی که په مقاطعه کولوئی دده د اصلاح
توقع وی نو مقاطعه کول مناسب دی. (فتاویٰ محمودیه ٧/ ٥٩)

﴿د نامحرمو څخه پرده نه کوی د هغه ښځی د میړه امامت﴾

﴿سوال﴾ (١) د زید ښځه د خپل ماما او د اکا د زوی څخه پرده نکوی بلکه
مخ ته ورله راځی. خو زید ئی منع کوی لیکن تشدد نه پر کوی نو پر زید باندی
د ښځی د پردی د نه کولو ګناه کیږی او که نه؟ او په زید پسی لمونځ کول ښه
[illegible]لته خومره تشدد پکار دی او که تشدد و کړی نو د فساد اندیښنه وی

نو بیا تشدد و کړی او که نه؟

(٢) که د زید ښځه او د زید وروړ عمر دواړه په یوه کور کی اوسیږی او په بل
کور کی ئی اوسیلو امکان نه وی نو په داسی صورت کی به د پردی څه
صورت وی که د زید ښځی د عمر څخه پرده و نکړه نو د دی ګناه به پر عمر
باندی وی او که نه؟

﴿جواب ١﴾: د اکا د زوی او د ماما د زوی څخه شرعاً پرده کول ضروری
ده. که د زید ښځه پرده نه ځنی کوی نو بیا هغه ګناه ګاره ده او زید له ړه پکار دی
چی دا منع کړی که ئی نه کړی منع نو بیا به زید ګنهګاره وی. زید ته په
تشدد کولو او په پرده نه کولو خپله ښځه وهل شرعاً صحیح دی. که د نا قابل
برداشت فساد خیال وی ورته او په دغه وجه زید خپلی ښځی باندی تشدد نه
کوی او حال دا چی د تشدد بغیر هغه ئی نه منی نو شرعاً پر زید باندی څه ګناه
نسته. په اول صورت کی د زید امامت مکروه دی کله چی د هغه څخه بل
څوک بهتره امامت والا موجود وی او په دوئم صورت کی د زید امامت
مکروه نه دی.

﴿جواب ٢﴾ پرده په هر حال کی ضروری ده که د فساد اندیښنه وی او که نه
خو شریعت چی کمی موقعی مستثنیٰ کړی دی صرف هغه مستثنیٰ دی.

که ئی وس کیدی نو د زید پر ذمه باندی د خپلی ښځی لپاره دیو قو

مستقل مکان انتظام کول لازمی دی چی هلته پکښې دده ورور اونور
هیڅوک نه اُوسی. که دی ورته دپردی کولوپاره ووائی اودزید ښځه د
کوشش اوفهم باوجودپرده نکوی نودهغی گناه به پرزیدباندی نه وی. (فتاوی
محمودیه ۲/۹۹بحواله خیریه ص:۱۱۸)

﴿دچاښځه چې بی پرده وی دهغه امامت﴾

که امام خپله ښځه دبی پردګی څخه منع کوی اود هغی ددی بی
پردګی دکاره څخه راضی نه وی خو ښځه دخاوندخبره نه اوری نوپه امام
ددی مؤاخذه نسته اودهغه امامت جائزدی.(کفایت المفتی ۳/۸۰)

که دګی امام ښځه په شرعی طورباندی پرده نکوی اودبی پردګی
څخه نه منع کیږی بلکه دهغی ددغه کاره څخه راضی دی اودهغه بهتره یو
بل سړی دامامت لپاره موجوددی نوپه داسی حال کی بیادغه امام ته امامت
ورکول مکروه دی څکه چې داسی سړی شرعاًفاسق دی که داامام ئی دبی
پردګی څخه منع کوی اوښځه ئی نه منی نوامامت ئی بیانه دی مکروه.
(فتاوی محمودیه ۷/۴۵)

﴿دکم امام لوڼړی چی بی پردی وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:چاچی خپلی خوانی لوڼړی دنامحرمه سره پری ایښې وی نو که
دته خلق وای چی دالوڼړی دی منع کړه لیکن دی دخولی څخه د ګمراهی

الفاظ اداکوی دداسی سړی امامت څرنګه دی؟

﴿جواب﴾:دنامحرمه کسانو څخه پرده کول فرض ده اودنامحرمه سره
خلوت حرام دی نوکه دغه سړی په دی قادروی چی خپلی لوڼړی دنامحرمه
کسانو څخه په پرده کولومجبوره کړی خوبیاهم داسی نه کوی نودی ګنهګاره
دی.ده ته ددی کارڅخه منع کیدل پکاردی.اوکه دی د دغه کارڅخه منع نه
سواودده څخه ماسوئ بل څوک موجودؤنودده امامت بیامکروه دی.اوبل
څوک چی اهل وی امام جوړول پکاردی.اوخاص کرکله چی دی دخلقود
پوهیدووروسته دګمراهی الفاظ هم اداء کوی په داسی حالت کی دده د
امامت څخه زیات احترازکول پکاردی. ګویا چی ترڅودغه الفاظ متعین نه
وی نوڅه حکم نسی پرکیدلای.**(فتاوی محمودیه ۲/۱۰۱)**

﴿په ضدکی دطلاق ورکولوالاامامت﴾

﴿سوال﴾:یوسړی دی ډیرښه مُلااوعالم دی خو ښځی ته ئی صرف په دی
وجه طلاق ورکړی دی چې دهغه اخښې دهغه وخورته طلاق ورکړی.یعنی
دده خورد هغه سره وه اودهغه خورددہ سره وه.نوچی اول هغه ددی عالم
خورته طلاق ورکړی نومولوی صاحب هم په ضدخپل اخښې خورته چی د
ده ماینده ده طلاق ورکړی.او بیا ددی څخه علاوه مهراوخرڅ هم نه ور
کوی نوپه دی ظالم پسی لمونځ کول او دسلام طعام معامله ساتل ور سره

څنګه دی؟

﴿جواب﴾: کم خلق چې په داسې ظلم کې یاددې شخه په غټ ظلم کې (حقوق الله یادحقوق العبادپه تلف کولو کې) اخته نه وی هغوی لره پکار ده چې داسې سړی دخپل لمانځه لپاره نه خوښوی. دسلام اوطعام اونوروشیانو پریښولو شخه ښه داده چې هغه پر اصلاح باندې آماده سی. کنې نن صباځو سلام اوطعام دپریښولو شخه دچااصلاح نه کیږی بلکه ډیروخت په طبیعت کې ضدپیدا کیږی په خاص ډول بیااهل علم حضرات دکم چاچې د صاحب نسبت بزرګ سره اصلاحی تعلق نه وی اوهغه داصلاح دفکر شخه خارج وی. (فتاوی محمودیه ۷۸/۲)

﴿دهغه سړی امامت چې رکوع اوسُجده ژر کوی﴾

﴿سوال﴾: یو امام چې دومره چابکی کوی چې مقتدی دری واره تسبیح هم نسی پسی ویلای نو په داسی امام پسی لمونځ کول څرنګه دی؟

﴿جواب﴾: دومره ژر کول مکروه دی. امام ته دمقتدیانو رعایت کول هم پکار دی. چې هغوی هم کم از کم دری واره تسبیح په سُجده اورُکوع کې ووائی. (فتاوی محمودیه ج ۱/۴۵)

﴿دبدعتی امامت﴾

﴿سوال﴾: آیاپه بدعتی پسی لمونځ کول جائزدی او که نه؟ آیاداسی سړ

دامامت دی؟

﴿جواب﴾: دنن صباه بدعیه فرق وعقائد دشرک وحدته رسیدلی دی په دی وجه په دوی پسی لمونځ نه کیږی. البته که یو بدعتی مشرکانه عقائد نه لری بلکه موحد اوصرف دریمی ،خلو پېښتمې په رقم عقائدو کی مبتلاوی دهغه امامت مکروه تحریمی دی.

که چاته صحیح العقیده امام پیدا نسی نو په بدعتی پسی دی لمونځ نه کوی. او که نه زونو هم په ده پسی دی اقتداء کوی. جُمعه دی نه پریږدی. د بدعتی په اقتداء کی اګرچه لمونځ مکروه تحریمی دی خو واجب الاعاده نه دی (یعنی دسره بیرته را ګرځول نه غواړی) دا دداسی بدعتی حکم دی څوک چې مشرک نه وی. (احسن الفتاوی ۲۹۰/۳)

﴿دمودودی عقیده لرونکی امامت﴾

﴿سوال﴾: دجماعت اسلامی سره تعلق لرونکی حافظ صاحب دښالخوا قرآن اوریدل جائز دی او که نه؟

﴿جواب﴾: دداسی سړی امامت مکروه تحریمی دی که چیری په فرائضو کی صحیح العقیده امام میسرنسی نو بیاپه ده پسی لمونځ وکړی. لیکن تراویح په هرحال کی دده په اقتداء کی مه کوی. که صحیح امام نسی پیدانو بیائی یوازی وکړی. (احسن الفتاوی ج(۳)ص: ۲۹۱)

﴿دخضاب لګونکی امامت﴾

﴿سوال﴾: کم حافظ چې پر ږیره باندی خضاب لګوی آیاهغه دتراویح لمونځ ورکولای سی؟

﴿جواب﴾: څوک چې توره خضاب لګوی هغه فاسق دی نو په دی وجه په داسی امام پسی تراویح کول مکروه دی تحریمی دی (صحیح قول دا دی چې مکروه تنزیهی دی) که صالح امام پیدانسی نوتراویح خانته باید وکړی (احسن الفتاوی ۲۹۳/۳)

﴿چې سینماته ځي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: یو حافظ صاحب یا مولوی صاحب یاامام صاحب دی چې سینمااو ډرامو کتو ډیرشوقین دی او اتڼ (ناچ)اوغزلی هم په شوق ګوري
ده پسی لمونځ کول څنګه دی؟

﴿جواب﴾: کم سړی چې سینما ګوری او داتڼ(ناچ)اوغزلو په محفلو
شرکت کوی داسی سړی دامامت لائق اوو ړنه دی اوپه ده پسی لم
مکروه دی.

که توبه و نکړی او امامت هم نه پر یږدی نو بیاپه بل مسجد کی لم
کول پکاردی. که بل مسجدنه وی نو دیوازی کولو پر ځای دی په ده پسی
لمونځوکړی ځکه چی دجمعی اهمیت اوتأکید ډیر دی. (فتاوی رحیمیه
۳۴۸ بحواله شامی ۱/ ۵۲۵باب الامامت)

﴿دتې وی TV (تلویزون) کتونکی امامت﴾

﴿سوال﴾: آیاد داسی امام اقتداء کول جائزدی څوک چې تلویزون
وی TV) ګوری؟

﴿جواب﴾: تلویزون کتل ناجائزدی اود داسی امام اقتداء کول مکر
تحریمی ده خولمونځ پسی کیږی. راګرځول ئی ضروری نه دی. (احسن
الفتاوی ۳/۲۸۸)

﴿دچاکره چې شرعی پرده نه وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: که دامام صاحب ښځه پرده نکوی نودهغه امامت جائزدی او که
نه؟

﴿جواب﴾: دچاکره چې دشرعی پردی اهتمام نه وی نو هغه فاسق دی. دده
امام جوړیدل جائزنه دی. دده امامت مکروه تحریمی دی. (احسن الفتاوی ۳/۲۸۹)

که امام خپله ښځه دبې پردګی څخه منع کوی اوددی کاره څخه
راضی نه وی خو ښځه ئې خبره نه منی نوپرامام باندی ددی خبری مؤاخذه
نسته اودده امامت جائزدی (کفایت المفتی ۳/۸۰)

﴿دخصّی امامت﴾

﴿سوال﴾: کم سړی چې خصّی سوی وی دهغه امامت جائز دی او که نه؟

﴿جواب﴾: دخصّی څخه طبعاًلږغوندی انقباض محسوسیږی په دی وجه
دده امامت مکروه تنزیهی دی. که چیری دده څخه بهتره سړی نه سی
پیدانوبیادده امامت مکروه نه دی. (احسن الفتاوی ۳/۲۸۶)

﴿دهیجړا امامت﴾

هیجړاکه عالم باعمل وی اونور ټول جاهلان پسی ولاړ وی نو دده
امامت جائزدی. (فتاوی دارالعلوم ۳/۷۳ ابحواله ردالمختار ۱/۵۲۳ باب الامامت)

دهغه سړی امامت چاچې نسل بندی کړی وی

مکرم ومحترم جناب مفتیان کرام دارالعلوم بعدسلام مسنون ددی لاندینیوسوالونوجوابونه مدلل راکړئ!

{سوال ۱} په هغه امام پسی لمونځ کول مکروه تنزیهی دی که تحریمی چاچې نسل بندی کړی وی؟

{سوال ۲} که دده نسل بندی په زورسره کړه سوی وی نوبیادده څه حکم دی؟

{سوال ۳} امام پخپله خونسل بندی نه ده کړی خودده ښځې کړی ده نو په دی امام پسی لمونځ صحیح کیږی او که نه؟

{الجواب (۱)} دتوبې څخه دمخه مکروه تحریمی دی اودتوبې څخه وروسته بی له څه کراهیته صحیح دی. (۲) صحیح کیږی (۳) په دواړو صورتونوکی دتوبې اود استغفار څخه وروسته دده امامت بی له څه کراهیته صحیح دی. والله اعلم

الجواب الصحیح

محمدظفیرالدین غفرله
مفتی دارالعلوم دیوبند

کفیل الرحمٰن نشاط عثمانی
نائب مفتی دارالعلوم دیوبند

۱۴۰۸/۱/۹ هج

دنسبندی باوجودسړی بیاهم سړی باقی پاته وی. دی دښځې مُخنث په حکم کی نه دا خلیږی نوپه دی وجه دامامت په مسئله کی هم دده احکام دعامو خلقوپه رقم دی. دده امامت جائزدی. که دده نسبندی جبراً کړی سوی وه نوبیاخودده هیڅ قصورهم نسته پکښې. اوکه ده پخپله په رضاپه رُغبت باندی کړی وی نو بیاخو موجب دفسق دی.

دتوبې اوندامت وروسته به ئی کراهیت ختم سی ترڅوچې توبه گارسوی نه وی نوچونکه نسبندی ناجائزه ده اوپه خلق الله کی تغیرراوستل دی نوپه دی وجه به دی فاسق شی نوځکه به ئی امامت مکروه وی.
(جدیدفقهی مسائل ص:۵۹)

دلیونی امامت

یو سړی داسی لیونی یادیوانه وی چی یووخت هم ورته هوش نه راځی اوپه داسی حالت کی جمعه ورکوی نوبیاپه ده پسی لمونځ جائزندی اوکه دلمانځه ورکولوپه وخت کی په هوش کی وی نوبیاپه ده پسی لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ۳۰۱/۳ بحواله شامی ۲۰۴/۱)

چی په جُماع باندی قادرنه وی دهغه امامت

{سوال}: مخنث امام کیدلای نسی خوکه یو سړی دمرضونوپه وجه نا قابل جماع سی نو داسړی امام کیدای سی او که نه؟ اوچی هم دغه سړی په ډله کی

دصاحب کمال اوفضل والاوی؟

﴿جواب﴾:دعنین یعنی نامرده امامت صحیح دی.دنامرده حکم دخنثی په
رقم ندی نوپه دی وجه دداسی معذورامامت صحیح دی (فتاوی دارالعلوم ۳/ ۲۰۰)
هم پردغه ځای پـه حاشیه کی داعبارت هم موجود دی چی دخنثی
امامت خوپه دی وجه نه دی صحیح چی په هغه کی د ښځی کیدلو احتمال
وی اوپه عنین (نامرده) کی داقسمه احتمال نه وی.

﴿دوهم په وجه به امامت پریږدی او که نه﴾

﴿سوال﴾:زه ددیره وخته راهسی امامت کو م اوس داسی وهم غوندی کم
چی کیدای سی اودس بـه می مات سوی وی په دی وجه می په زړه کی دا
تقاضاده چی امامت پریږدم ددی شرعا څه حکم دی؟

﴿جواب﴾:پـه وهم باندی هیڅ شـی بـندیدل نه دی پکار.اوداسی وسوسی
دفع کول پکاردی.اوهروخت ولاحول ولاقوة الاباالله اکثرویل پکاردی او نـ
خوچـی دی داودس دمـاتیلویقین نه وی ترهغوپوری څه تـوجه نه ده پکار او
خپل امامت کول پکاردی.

پـه حـدیث شریف کی داسی راغلی دی چی تر څـو دحدث(دهواء
خـارجیـلو) آوازنـه وی راغـلـی اویاپه بدبوئی نه وی پوه سوی نوترهغوپوره
اودس نه ماتیږی(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۲۸ بحواله مشکوة (باب مایجب الوضوء) کم لمنځونه چی

ده ورکړی دی کـه په هغه کښې ئـی دهواء خارجیلو یقین نه وی نو لمنځونه
دټولواداسول.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۳۳۴)

﴿دسوزاک والاسړی امامت﴾

﴿سوال﴾:یـوامام صاحب ته دسوزاک مرض ورلویدلی دی داغونه هروقت
پرښکاری په داسی امام پسی لمونځ کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾:که داسی سړی دعُـذروحدته رسیدلی وی اومعذوره سوی وی
چی هر وخت داغونه پر ښکاره کیږی یووخت هم دده لمونځ خالی نه وی نو
په ده پسی به د جو ړوخلقولمونځ صحیح نه وی دَی دِی دامامت څخه لری
کړه سی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۳۰۹ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۴۱ باب الامامت)

﴿دمسافر امامت﴾

﴿سوال﴾:که مسافرامام څلورر کعته پوره کړی نـوهغه مقتدی چی مسافر نه
وی دهغه لمونځ به په ده پسی صحیح وی او که نه؟

﴿جواب﴾:دامـام آخـری دوه رکـعته نفل دی اودمقتدی آخری دوه رکعته
فرض دی اودفرض کولوو الااقتداء په نفل کولوو الاپسی نه صحیح کیږی په
دی وجه دمقتدیانولمونځ نه دی صحیح.البته که مقتدی آخردوه رکعته دځپله
ځانه څخه وکړی اودامـام واقـتداء تـه ونه ګوری نـوبیـاددی مـقتدی لمونځ
صحیح دی.(احسن الفتاوی ۳/ ۳۶۴)

﴿چې انعامي بانډونه ساتي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: آیاداسې سړی د امامت لائق دی څوک چې پرائزبانډونه ساتي اوپرهغه باندې دانعام رقم اخلي او انعام دسوددپیسوڅخه تقسیمیږي؟

﴿جواب﴾: انعامي بانډونه په دې وجه حرام دي چې دا دسود اودخمار مجموعه ده نوپه دې وجه انعامي بانډونه چې څوک ساتي هغه فاسق دی اودده امامت مکروه تحریمي دی.(احسن الفتاوی ۳/۲۹۷)

﴿چې دنامحرموښځوسره لاس ملاووي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: کم سړی چې نامحرمو ښځوسره لاس ملاووي دهغه امامت څرنګه دی؟

﴿جواب﴾: دنامحرموښځوسره لاس ملاوولوالافاسق دی نوپه دې وجه دده امامت مکروه تحریمي دی.(احسن الفتاوی ۳/۲۹۹)

﴿دبینک دملازم امامت﴾

﴿سوال﴾: داوقاف دامامانودچاچې ډیره دیوه موټ څخه کمه وي اود بینک دملازم حفاظواوقاریانوچې ډیره کوچنی کوي نود دوئ په امامت کې لمونځ کیږي اوکه نه؟

﴿جواب﴾: داډیره خورپه بینک کې دملازمت په وجه سودخورهم دی په

دې وجه ددغه دوو ګناوه څخه هریوه ګنادفسق موجب ګرځي نوپه دې وجه دده امامت مکروه تحریمي دی.(احسن الفتاوی ۳/۳۰۳)

﴿دابرص(فِسُ) والااودجزامي امامت﴾

په چاچې ابرص وي اوابرص هم معمولي نه وي بلکه په ټول بدن کې ئې خپورسوی وي اوخلق نفرت ځنې کوي نودی امام جوړول مکروه دی.

دجذامي درجه خوپه دې معامله کې دابرص څخه هم زیاته ده چې جذام که خپورسوی وي په بدن کې اوهروخت راڅاځي نوبیاداسې سړي ومسجد ته حاضرېدل منع دي.دده څخه جَمُعَه هم ساقطه ده اودی امام هم نسي کیدای.(فتاوی محمودیه ۲/۸۲ ردالمختار ۱/۳۷۸فتاوی هندیه ۱/۴۴۱)

﴿دسودخور امامت﴾

﴿سوال﴾: په سودخورپسې اوپه ډیره خریونکي پسې لمونځ کیږي اوکه نه؟ اوددوی امام جوړېدل ښه دي اوکه نه؟

﴿جواب﴾: داسې سړي امام جوړول مکروه تحریمي دی په ده پسې لمونځ مکروه دی.(فتاوی محمودیه ۲/۸۲ ردالمختار ۱/۳۸٦)

﴿چې مکروهات کوي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: دمکروهاتوپه مرتکب پسې اوچې دسُنتواومستحباتوپابندي نه

ساتی نو په هغه پسی لمونځ کول څنګه دی؟

﴿جواب﴾: مکروه دی. (فتاوی محمودیه ۲/۸۴ طحاوی علی مراقی الفلاح ص: ۲۴۵ طبع مصر)

﴿چی قوالی اوری دهغه امامت﴾

که بل څوک دامامت لائق وی نو هغسړی چی قوالی اوری اوپه عُرس کی شراکت کوی دهغه امام جوړیدل نه دی پکار (فتاوی محمودیه ۲/ ۸۴ طحاوی علی مراقی الفلاح ص: ۲۴۵ طبع مصر)

﴿چی پخوانی نسل ئی خراب وی دهغه امامت﴾

دداسی سړی که اولادنیک وی اودامامت قابل وی مثلاً داکه عالم وی اودشریعت دمسائلو څخه خبروی نوپه ده پسی بلاکراهیته لمونځ کول جائزدی بلکه افضل دی. (فتاوی دارالعلوم ۳/۱۳۰ غنیة المستملی ص: ۳۵۱)

﴿دمُتهم بالزنا امامت﴾

﴿سوال﴾: یوه ښځه ده اوهغه پخپله خوله اقرار کوی چی فلانکی امام زما سره زنا کړی ده اوهغه امام انکار کوی په دی کی شرعاً څه حکم دی؟

﴿جواب﴾: دښځی په وینا په سړی باندی دزناثبوت نسی راتلای اوده په امامت کی څه کراهیت نسته (فتاوی دارالعلوم ۱۱۸/) (ترڅوچی څلورشاهدان نوی تیر سوی)

﴿دولدالزنایاحرام زاده امامت﴾

دولدالزنایاحرام زاده چونکه پلارنه وی نوپه دی وجه ده ته صحیح تربیت نه وی حاصل سوی دده څخه طبعاًخلق انقباض کوی په دی وجه دده امامت مکروه تنزیهی دی.

اوکه په ده کی داد کراهیت علت نه وی بلکه دی عالم اومتقی انسان وی نوبیا کراهیت هم باقی نه پاته کیږی. بلکه ترنوروده امامت افضل دی که چیری تر ده په علم کی بالانه ؤو. اوهم داحکم دنوروديني منصُبُونو هم دی.
(احسن الفتاوی ۳/ ۲۹۵ ردالمختار ۱/ ۵۲۳)

﴿چی دډمی کره ئی پرورش سوی وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: دیو کوچنی موراوپلارپه کوچنی والی کی وفات سوه دی دیو جت یا ډم (ډم یاجت هغه څوک دی چی ډول ډنګوی) کره لوی سواودغه هلک قرآن شریف ووائی آیادی امامت کولی سی اوکه نه؟

﴿جواب﴾: هغه هلک چی دډم یاجت کره لوی سوی وی اودده قرآن مجیدزده وی اودلمانځه په مسائلوباندی خبروی نودده امامت بلاکراهیته صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۹۱)

﴿دتوبه کښونکی زناکاره امامت﴾

که زانی توبه وکاړی اودتیروبدو افعالو څخه توبه وکړی او اکثر
لمونځ ګزاره دده دامامت څخه خوشحاله وی نودده امام جوړیدل ښه دی
اودده په امامت کښې څه کراهیت نسته(فتاوی دارالعلوم ۳/۹۳ بحواله مشکوٰة
شریف باب التوبه ص:۲۰۶)

﴿دغیرشادی شده امامت﴾

﴿سوال﴾: بعض خلق وائی چی دچانکاح نه وی سوی دهغه امامت جائزنه
دی او امام صاحب وائی چی زه ددین علم حاصلوم چی فارغ سم نونکاح به
کوم دچاخبره صحیح ده،آیاچی واده ئی نه وی کړی هغه امامت کولی سی او
که نه؟

﴿جواب﴾: دامامت دصحت لپاره دامام واده کول شرط نه دی که دی دپا
کبازی ژوندتیروی اوددین په علم حاصلولو کی مشغول وی اودتعلیم دپوره
کولو څخه وروسته وائی ی واده به وکړم نوبده خبره خونده. کم خلق چی ور
پسی سوی دی اوامامت ئی ناجائزه ګڼلی دی هغه خلق زیاد تی کوی ک
اوس ئی واده وکړی او تعلیم ځنی پاته سونوهغه ته به خومره غټ نقصان ور
سیږی البته که دتعلیم پوره کیلوتروخته دده په ګناه کی داخته کیلو اندیښ
وی نومقتدیانوته پکاردی چی دده دواده انتظام ورته وکړی.(فتاوی رحیمیه ۶/ ۲۵۱)

که پرده باندی دشهوت غلبه نه وی نودده په ذمه واده ضروری نه
دی اوپه دی دده په امامت کښې خلل نه راځی البته که پرده باندی دشهوت
غلبه وی اوخیالات ئی پراګنده وی نودده پرځای دی بیایوداسی سړی امام
جوړول افضل دی دچاچی ښځه وی اوخیالات ئی پراګنده نه وی بلکه هغه
ته اطمینان حاصل وی اودامامت اهلیت هم لری.(فتاوی محمودیه جلد۷/۴۰)

﴿هغه امام چی واده ئی کړی وی خویوکال کورته نه وی تللی دهغه حکم﴾

﴿سوال﴾: زمونږامام صاحب د دوه نیموکالو راهسی امامت کوی اودواده
ئی دری کاله کیږی یوکال ئی وسوچی کورته نه دی تللی.یو څوجاهل ناخوا
نده کسان وائی چی کم امام صاحب چی واده ئی کړی وی اوتریوه کاله
پوری کورته ولا ړنسی نودهغه امامت جائزنه وی،دلته په دی وجه خلق په
جنګ کی سره لوپږی صحیح خبره څرنګه ده؟

﴿جواب﴾: چاچی واده کړی وی هغه دی دخپلی ښځی درضایاخوښې او
اجازت څخه بغیردخلورومیاشتوڅخه زیاته موده لری نه تیروی.(شامی ۷/۳۵۷)
ددغه امام صاحب ښځی به ورته اجازه کړی وی اودنوکری په وجه
په ده پسی په لمانځه کولو کښې څه شبه کول نه ده پکار.(فتاوی رحیمیه ۴/ ۳۵۷)

﴿چی پائیڅی ئی تر بجلکو لاندی وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:دامام صاحب دپرتا که پائیڅی تربجلکو لاندی وی چی کله سُجدی له ځی نوپائیڅی په دواړو لاسوباندی پورته کوی اوبیاسُجدی له ځی داکارکول په لمانځه کی په هررکعت کی جاری وی مونږلمونځ پسی وکړواوکه نه؟

﴿جواب﴾:دغه امام صاحب ته داسی کارنه دی کول پکار ځکه چی اول خو دلمانځه څخه دباندی هم دبجلکو څخه لاندی پرتوګ راکښته کول حرام او منع دی.داامردامام دفسق موجب دی.اوپه فاسق پسی لمونځ مکروه دی اودتوبی څخه بغیرداسی فاسق امام کول مکروه دی.

اوبل په لمانځه کی داسی حرکت باربارنه دی کول پکار. ځکه چی په دی کی هم کراهیت دی اوپه بعضوصورتونو کی دلمانځه دفاسدیدلوبیره هم ده.بهرحال دغه امام صاحب له دغه کارڅخه منع کول پکاردی.اوکه منع نه سی نودی معزول کول پکاردی.اوکه په دی موقدرت نه وی نوپه ده پسی لمونځ کول جائزدی اودجمعی ثواب حاصلیږی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۱۷ بحواله ردالمختارباب الامامت ۱/ ۵۲۳)

﴿چی پتلون اغوندی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:یوسړی دی چی پتلون اغوندی او لمونځ ورکوی نو دده څه حکم

دی؟لمونځ ئی کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾:لمونځ ئی کیږی.(احسن الفتاوی ۳/ ۲۱۸)

﴿چی پراخ پرتوګ اغوندی دهغه امامت﴾

په ده پسی لمونځ صحیح دی ځکه چی دپراخی پائیجامی اغوستل بنه دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۳۰)

﴿چی لنګ اغوندی او امامت کوی﴾

﴿سوال﴾:لنګ وهل ،دوه پریزی خولی اوپورته پائجامه اغوستل او امامت کول بنه دی او که نه؟

﴿جواب﴾:که دعورت ستر(پرده پوشی)ئی پوره وی نولمونځ ئی کیږی خو بهتره خبره داده چی لنګوټه وتړی اوپه شرعی جامه کی لمونځ ورکړی.

(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۱۶۶ بحواله ردمختار ۱/ ۱۷۴ باب الشروط الصلوة).

﴿په قمیص پرتوګ کی امامت کول﴾

په لمانځه کی چی بجلکی یا پښې په اکثره اوقاتو کی پو تیږی.سړی ته دودمره اُوږدپرتوګ اغوستل ناجائزدی دکم څخه چی دهغه دپا ئیڅوپه وجه دده بجلکی پو تیږی.اوپه دی باندی لمونځ مکروه کیږی.په لمانځه کی پښې یا بجلکی مه پوټوی.قمیص اغوستل جائزدی خوکُرته افضله ده.هر

خای چې د صُلحاؤ جامه وی هغه اختیارول پکاردی. خصوصاًدلمانځه او د امامت په وخت کی.(فتاوی محمودیه ۷/۷۲)

﴿چې قرأت صحیح نه اداکوی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: کم سړی چې په صفاصحت سره نسی ویلای یعنی "**الف**" او "ع"، "ت" او "ط"، "س" او "ص" او "ح" او "ه" او "ض، ذ، ز، او د "ظ" فرق نسي کولای. نو دداسی امام اقتداء کول ښه دی او که نه؟ او که دکلی بعض خلق داسی امام وساتی نو ددی گناه به پر امام وی او که پر کلی والاباندی؟

﴿جواب﴾: که دده څخه بل څوک بهتروی او په مسائلو باندی خبروی، قرآن صحیح ویلای سی دسُنتو تابع وی نو دی امام نه دی جوړول پکار او د امام دامامتی څخه لری کول پکاردی. په دی شرط چې فتنه نه وی پکښې. که دده څخه بل څوک بهترنه وی بلکه ټول خلق دده په رقم ویونکی وی نو بیا دده په امامت کی څه نقصان نسته. خودحروفوتصحیح بهرحال لازمه ده. او ددی تارک گنهگاردی.(فتاوی محمودیه ۲/۷۴بحواله درمختارمع ردالمحتار ۱/۳۷۷)

﴿درشوت خورامامت﴾

که د ده څخه بل څوک بهترامام موجودوی نو رشوت خوردی نه امام کوی. دده امامت مکروه دی.(فتاوی محمودیه ۲/۷۴بحواله درمختارمع ردالمحتار ۱/۳۷۷)

﴿دتارک جماعت امامت﴾

﴿سوال﴾: دتارکِ جماعت امامت په جُمُعه او اخترونو کی ښه دی او که نه؟

﴿جواب﴾: کم سړی چې بغیرد څه عُذر څخه دجُمُعی لمونځ پریښولو عادی وی دهغه امام جوړول مکروه تحریمی دی. دمجبوری په حالت کی چې په ده پسی کم لمونځ وسی دهغه اعاده به لازمه نه وی.(فتاوی محمودیه ۲/۷۰بحواله درمختارمع ردالمحتار ۱/۳۷۱ او په حواله دشامی ۱/۳۸۶)

﴿داهل حدیث امامت﴾

﴿سوال﴾: په اهل حدیث پسی لمونځ کیږی او که نه؟ آیا دی په اهل سُنت والجماعت کی شامل دی او که نه؟

﴿جواب﴾: که دغه(په نامه)اهل حدیث أئمه مجتهدینو ته ښکنځل اوبد وړدُنه وائی او په فرائضو او واجباتو کی دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالی علیه د مسلک رعایت کوی او لمونځ ورکوی نو په ده پسی لمونځ صحیح دی. او دارقم اهل حدیث هم داهل السنت والجماعت څخه جلانه دی کم چې په دیانتداری سره په احادیثو باندی عمل کوی او دفقهاؤ سره بغض او عنادنه ساتی. (فتاوی محمودیه ۲/۷۱)

﴿درضاخانی امامت﴾

﴿سوال﴾: یوسړی دی چی دبریلوی خیالاتو والا دی دده داعقیده ده چی رسول الله ﷺ پـه غیبوعالم دی اومختارکل دی.دغه رنګ هغه یعنی نبی کریم ﷺ هر ځای حاضراوناظروی.داسړی پـه مسجدونو کی امامت هم ورکوی.نوپه دی سړی پسی لمونځ کول ښه دی او که نه؟

﴿جواب﴾: داصفت دالله تعالیٰ لپاره خاص دی.داصفت دحضورصلی الله علیـه وسلم لپاره منل هسی بی دلیله خبره ده.بلکه دنص هم خلاف ده.نوپه دی وجه داسی سړی امام جوړول پکارنه دی. ټولولمونځ کـونکوته پکارده چی داسی سړی لـه امامت څخه لری کړی اوبل ښوک صـحیح العقیده اود طهارت اودلمانځه پـه مسئلوباندی خبرمتبع سُنت سړی امام جوړ کړی.که داسی ونکړی نوداټول کسان به ګنهګاران وی.(فتاوی محمودیه ۲/۷۹بحواله در مختارمع ردالمختار ۱/۳۷۶)

﴿چی کمونسټ ګوندته رایه ورکوی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾(۱)دکمونیسټ ګوندغړی جوړیدل اوددی ګوند دکامیابولو لپاره رایـه ورکـول جـائزدی او که نه؟اوپه رایه ورکولووالاپسی لمونځ کول څنګه دی؟

(۲)زیدد کمونیسټ ګونـدلـخوادښارګوټی دممبـرلپاره پـه ټاکـنوکی

اُمیدوارټاکـل سوی دی دده حمایت کونکی هم سته په ده پسی لمونځ کول څرنګه دی؟

(۳)بکرحافظ قرآن دی ده دکمونیسټ ګونداُمیـدوارد کامیابی لپاره رایه هم ورکړی ده په ده پسی تراویح کول څرنګه دی؟

﴿جواب﴾: کمونیسټ یـادهرئ دخپل اصل په اعتبارسره داسلام دمذهب څخه خـلاف دی او د دوی ددی بـنیـادی نـظرئیی په پابندی د دوی دګوند ممبرجوړیـدل دمذهب اسلام مخالفت کول دی.دوی ته رأیه ورکول داسلام دمذهب مخالف ته رأیه ورکول دی.چی ښوک په دی خبره باندی پوهیږی اوعقیده پرلری اوممبرئی جوړیږی اودوی ته رأیه ورکوی نودده امام جوړول صـحیح نـه دی.بـعضِ کسـان داسـلام دمعتقلواوپابنلوخلقوڅـخه وی اود بعضـوسیاسی اووقتی مصلحتونوپه وجه باندی کمونیسټ اویادیوبل اسلام مـخالفه ګوندپرټکټ بـانـدی ممبرجوړیږی اودهـغـوی ددی مـصلحت په ورانـدی ریشتـونی اوپاخه مسلمانان دوئ ته رأیه ورکوی دداسی کسانوبیا دا حکم نه دی.خوپه دی عادت یوه مخالف ګوندته ترقی ملاویږی اواقتدارورته په لاس راځی نوپه دی وجه به ډیرخلقوته غلط فهمی پیداسی اوکمونیسټ ګونـدبـه داسلام خلاف نه بلکه موافق ګونـدبـه ئی وبلی.اوچی کله دامبران سی نوهغه کمونیسټ چاچی دوئ واقعی کمونیسټ کنټرل اورأیه ئی

ورکړي وه په دوئ به خپلي مطالبي اوغو ښتني پوره کوي کم چي
داسلام څخه خلاف وي.

اوکه چیري دوي په دي کي کوشش نه کوي نورأيه چي
څوک ورکړي هغوی به دوئ غدّاراومکارو ګڼړي اوداغداري او
مګاري به ټوله د اسلام پرسر باندي وتپل سي او آئنده به نه په داسي
ممبرڅوک اعتماد وکړي اونه به په داسي رأيه ورکونکي باندي کم
چي دکمونیسټ ګوندپه آسره باندي یومسلمان ممبر کوي.

داعمل یوشریف ریشتوني سړي هیڅیري هم نسي کولای
ولي چي په خپله مسلمان وي اونوري دُنیاته دهوکه ورکوي اوخپل
ځان کمو نیسټ ښکاره کوي اورأيه حاصلوي داسي سړي به خپل
ضمیرډیرزیات ملامت کوي په اسلام کي دداسي کارکولوهیڅ
اجازت نسته.

دنبي کریم ﷺ په خدمت کي چي به کم خلق حاضریدل اود
ضمیرخلاف به کول دهغوی ډیرسخت مُذمّت په قرآن اوحدیث کي
راغلی دي په داسي خلقودنبي کریم ﷺ اعتمادنه ؤ اونه دخپل
ګوندااعتمادؤ . د دوئ داحال ؤ چي ﴿مُذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ لَاۤ اِلٰى
هٰٓؤُلَاۤءِ وَلَاۤ اِلٰى هٰٓؤُلَاۤءِ﴾(فتاوی محمودیه ۲/۸)

﴿دغیرمعززه سړي امامت﴾

﴿سوال﴾: آیادامامت حق دمعززقوم څخه بغیربل قوم ته کیدای سی اوکه نه؟
بعض خلق وائي چي صرف ددي لاندي قومونوسړي لمونځ وروکولای سي
یعني سیّد، شیخ ، مغل ، پښتون او نورقومونوته دامامت حق نه دی
حاصل.ددي شرعاًڅه حکم دی؟

﴿جواب﴾: دامامت حق وهرهغه مسلمان ته دی څوک چي دامام کیلو
اهلیت لري بیاچي څومره دامامت لوازمات مثلاًدعلم مسائل ، تجوید اوقرأت
اوصلاح اوتقوٰی په چا کښې زیاته وی نوهغه به هغومره اَوْلٰی اواَلْیَقُ بالْاِمَامَتْ
تصور کیږی (یعنی څوک چي په ټولو کي زیات مُستحق وی)په دُرمختاراو
نوروکتابونو کي دي چي په چاکي دامامت اهلیت وي هغه امام کیدی سی.په
دی حکم کي ټول قومونه اوهنرمندخلق برابردی.(ددی څخه ټول پیشه ور
خلق اودهري برادری والاخلق مُراددی.البته که په شرافت علمي وغیره سره
یکښې شرافت نسبی(خاندانی)هم وی مثلاًهغه قریشی وی ، سیّد وی یاشیخ
وی ، یاانصاری وی نودی به افضل وی دنوروحضراتوپه مقابله کي نودابه دثُمَّ
اَلْاَشْرَفُ نَسَباًحامل وی.

ددی خلقوداقول چي دسیّداوشیخ اونوروڅخه بغیرپه بل چاپسی
لمونځ نه کیږی بالکل غلط دی. که هرقوم وی که سیّدوی که شیخ وی که

پښتون وی او که نور څه بلاوی او که کنړی باف وی یا حجام (سلمانی) وغیره وی، خو چی دامامت لائق وی نو لمونځ ورپسی کیږی او په دوئ کی به دزیات علم او تقوٰی او قرأت والاته ترجیح ورکولی سی او که چیری ټول په علم او تقوٰی او قرأت کی برابروی نو کم چی دنسب په اعتبار سره ډیر اشرف وی هغه به دامامت زیات مستحق وی.

دالله تعالی په نیز زیات بزرګ هغه څوک دی څوک چی زیات متقی وی لکه څرنګه چی په قرآن کریم کی دی. "اِنَّ اَکْرَمَکُمْ عِنْدَاللهِ اَتْقَاکُمْ" خو که دسعادت او تقوٰی سره سره پکښې شرافت نسبی هم وی نو بیا خو نُوْرٌ عَلٰی نُوْرٍ دی. لیکن هیڅ مسلمان او پیښه وَرته په سپکه ستر ګه کتل صحیح نه دی. "اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ" (عام مسلمانان ورونړه دی) دی پر دغه موقع باندی ضروریه یادولری. (فتاوٰی دارالعلوم ۳/۸۱ بحواله ردالمختار ۱/۵۲۱ باب الامامت)

﴿چی په صحیح مخارجو قادر نه وی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾: یو امام صاحب دی چی ښه ویونکی نه دی او ډیر حرفونه ئی داسی دی چی سړی نه په پوهیږی. دخو کسانو خیال دی چی دی دامامت څخه لری کړی. دی وائی چی مانوی غابنونه ایښې دی په دی وجه دتارونو څخه آواز دروند غوندی وی.

او پاته سو په حروفو دنه پوهیدو سوال نو امام صاحب وائی چی په ټولو حروفو پوهیږم نو آیا دده امامت صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾: که دا امام حروف په صحیح طریقه دخپلو مخارجو څخه ادا کوی او نژدی خلق کم چی داقرأت اَوری په دی حروفو ښه پوهیږی نو دا امام د امامت زیات حقداردی هم دغه امام برقرار ساتل پکاردی. او که دحروفو په صحیح طریقه د مخارجو دادا کولو قدرت نه لری. که داطاقت نه درلودل دنوی غابنو په وجه سره وّی او که څه بله وجه وی او نژدی اوریدونکی په ټولو حروفو ښه صفا نه پوهیږی او واضح ئی نه اوری نو دده امامت صحیح نه دی. (احسن الفتاوٰی ۳/۳۰۲)

که قرآن مجید داسی غلط وائی چی معنٰی ئی خرابیږی نو په ده پسی دبالکل ناخوانده کسانو دچاچی دری آیتونه هم نه وی یاد لمونځ صحیح دی او که د چادری آیته صحیح په یادوی نو بیا دهغوی لمونځ صحیح نه دی. یو بل صحیح ویونکی امام جوړول پکاردی چی د ټولو لمونځ سم سی. (فتاوٰی محمودیه ۷/۳۹)

﴿چی فرض ئی کړی وی او بیا دفرضو جَمْعَهٔ ورکوی﴾

مسئله داده چی چا فرض کړی وی هغوی بیا دفرض کونکو امام کیدای نسی که چا خپل فرض لمونځ یوازی وکړی نو دهغه فرض اداء سو

پادیدو دمقتدیانو دلمانځه یو ځانته حکم نه دی بیان سوی.ددی څخه داثابته سوه چی دامام پـه رقم به باالآخره دمقتدیانو لمونځ هـم صحیح سی.دقانون تبعیت تقاضاهم داده

خو امام تـه داسی کول هیڅکله نه دی پکار ځکه چی کـه په دی دوران کی دامام یاپه مقتدیانو کی یو څوک مړسونو دقضاسوی لمنځو عذاب به د امام په غاړه وی.(احسن الفتاوی ۳/۳۰۴)

﴿دکم امام په ذمه چی د وِترو قضاء وی﴾

﴿سوال﴾:زیـدپـه یو مسجد کی امام دی دشپی په آخره کی نه را کښینستی او وترځنی قضاء سول اوپه داسی وخت کی را کښینستی چی دسهاردجُمعی وخت ؤو.نـو هـغه دوترقضاء راونه ګرځولـه اود سهـارجُمعَه ئی ور کړه نود مقتدیانو لمنځونه به صحیح وی او که نه؟

جواب:دامـام په رقم دمقتدیانو لمنځونـه هم موقوف ؤو.دوترو دقضاء څخه وروسته چی دشپږو لمنځو وخت تیرسی نود ټولو لمنځونـه به صحیح سی.په دی شرط چی ددی لمنځوپـه وخت به ورته قضاء لمونځ ورپیـادوی.که بله ورځ ئی د لـمرختو څخه دمـخه دوتروقضاء راوړی وه نـو دامام اودمقتدی د ټولو مابینی لمنځونه به باطل سوی وی.

خبرداری:امـام ته داسی کول روانه دی که په دی دوران کی امام مړسویا

اوس ئی دی نفل نسی کولای بلکه که دغه لمو نځ په دویم وارو کړی نودابه نفل وی اوپه نفل کونکوپسی دفرض لمونځ کونکولمونځ نه صحیح کیږی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۱۰۸ بحواله ردالمختار ۱/۵۴۲)

﴿دداسی سړی امامت چی دچاپه ذمه دقضالمونځ وی﴾

﴿سوال﴾:زیـدصاحب ترتیب دی اوپه یو وجومات کی امام دی اتفاقاًیو لمونځ ځنی قـضاسودبل لمونځ دجُمعی وخت سوخوده ددغی څخه مـخکی هغه قضالمونځ ونه کړی نوپه دی وجه زیددغه وخت وقتی لمو نځ ور کړی اوچی نورخلورلمنځونه تیرسول هغه قضاء ئی راوګرځاوه په دی صورت کی به د مقتدیانوپه لمانځه کی څه فسادراځی او که نه؟

﴿جواب﴾:پـه دی صـورت کـی مقتدیانولره پکارده چی هغه امام ته اول د قـضاء لمونځ دکولوموقع ور کړی.پـر امـام باندی لازم دی چی امامت دی نه کـوی بلکه بل څوک دی جُمعه ور کړی.اودی چی کـله قضائی لمونځ را وګرځوی نـوبیا دی هلته په جُمعه کی شریک سی.دغه ر نګ که زیدجُمعه ور کړه نودده دلمانځه په رقم دمقتدیانولمو نځ هم موقوف سو. که دقضاء سره ی لـمانځه څخه مـخکی دداسی پنځو لمنځو وخـت تیرسوچی ددی داداکولو پـه وخت کی ورته قضاء لمونځ هم په یاد وؤ.نود ټولو لمنځونه صحیح سول .د ردالـمحتار(۱/۵۲۹)دعبارت څخه مـعلومیږی چی امـام تـه په

یو مقتدي وفات سو نو دپاته سوي لمنځو عذاب به دامام په غاړه وي.(احسن الفتاوی ۳/۳۰۵)

﴿چي سُنت مؤکده نه کوي دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾ که دجُمعي شخه مخکي ده سُنت مؤکده ونه کړه نو دي امام کیدای سی او که نه؟او د مقتدیانو په لمانځه کي به څه فرق راسي او که نه؟

﴿جواب﴾:دغه سړی امام کیدای سی او دمقتدیانو په لمانځه کي هیڅ فرق او خلل نه راځي.(فتاوی دارالعلوم ۳/۹۶)

په احسن الفتاوی کي دامسئله داسي ده:"امام ته دمعین وخت رعایت کول لازم دي نو پکار ده چي دجُمعي دلمانځه شخه له مخه دسُنتو شخه ځان خلاص کړي. که چیري دیو عُذر په وجه تأخیر راسي نو مقتدیانو ته پکار ده چي امام ته دسُنتو دادا کولو موقع ورکړي.او که داسي ئې ونه کړه او دسُنتو شخه بغیر ئې لمونځ وکړی نو هم صحیح دی"(احسن الفتاوی ۳/۲۸۶).

﴿دمستقل امام حق﴾

﴿سوال﴾:یو امام صاحب یو ځای په امامت باندي متعین دی،دغه ځای بل شوک چي دهغه شخه په علم کي زیات وي جُمعه ورکولي سي که نه؟که ئې نشي کولي نو بیا دي بغیر اجازه نکاح ولي تړي؟

﴿جواب﴾:داحادیثو او دفقهي د روایاتو شخه داخبره ثابته ده چي کم سړی چي په یوه محله یا کلي کي امام وي نو دهغه په حضور کي دي دهغه دمرضي شخه خلاف بل شوک امام نه کیږي.او دنکاح خواني لپاره شارع علیه السلام قاضي نکاح خوان نه دي معلوم کړي او نه ئې مقرر کړي دي ، بلکه دا کارئې اولیاؤ ته ورسپارلي دي چي دفقهي په کتابونو کي موجود دي.نو نکاح خواني پر امامت باندي قیاس کول صحیح نه دي .(فتاوی دارالعلوم ۳/۸۱ بحواله ردالمختار ۱/۵۲۲ باب الامامة)

﴿دموجوده امام اجازت ضروري دي﴾

﴿سوال﴾:په یوه مسجد کي امام مقرر دی که دده په موجودګي کي دده شخه بل شوک افضل سړی راسي نو مقتدي دامام صاحب داجازت شخه بغیر دي امام کړي نو داافعل جائز دي او که نه؟

﴿جواب﴾:دمسجد چي کم امام مقرر وي او په هغه کي دامامت اهلیت وي نو هم دغه مقرر امام دبل سړي په نسبت دامامت زیات حقدار دی.اګر که بل سړی افضل او اعلم او اقرأ نه وي خو که یو شو مقتدیانو دغه بل سړی امام کړي نو په دي کښي هم څه باک نسته.

په ردالمختار(۱/۵۲۲)کي راغلي دي چي که یو زیات فضیلت والا یو مقتدي امام کړي وي نو څه پروا ئې نسته.خو بهتره داده چي دامام معین د

اجازت څخه بغیر دی امامت نه کوی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۸۶)

﴿دنائب امام په موجودگی کی دبل چاامامت﴾

﴿سوال﴾:د کلی امام صاحب موجود نه دی خو هغه یو مقتدی خپل نائب جوړ کړی دی ددی نائب په موجودگی کی دبل چاامامت کول څنګه دی؟

﴿جواب﴾:چی نائب امام وی نو بل چا سری ته په خپله دامامت لپاره ور وړاندی کیدل نه دی پکار.(فتاوی محمودیه ۲/۷۷)

﴿دضرورت په وخت کی بغیر اجازته امام جوړول﴾

﴿سوال﴾:دسهار یادمازیگر دلمانځه وخت ختمیدو ته نژدی دی او پیش امام صاحب نسته نو که په دی حال کی مقتدی څوک تعلیم یافته سړی مخ کی کړونو دده دامام داجازت څخه بغیر امامت کول څنګه دی؟

﴿جواب﴾:سمه ده.(فتاوی محمودیه ۲/۸۲)

﴿دامام اجازت مقتدی ته شرط نه دی﴾

﴿سوال﴾:زید دمسجد امام دی،بکر ته وائی چی ته په ماپسی لمونځ مه کوه نو بکر په زید پسی لمونځ کولی سی او که نه ؟

﴿جواب﴾:په زید پسی بکر لمونځ کولی سی او لمونځ ئی صحیح دی. زید داجازت او دحکم ضرورت نسته پکښې.بکر پر هر حال کی په هغه پسی

لمونځ کولی سی او دزید داوینا بی ځایه ده او دشریعت خلاف ده.(فتاوی دارالعلوم ۲/۱۴۸ بحواله ردالمختار ۱/۳۹۴ باب شروط الصلوة)

﴿که په آخره قعده کی امام وفات سو نو څه حکم به ئی وی﴾

په دی صورت کی به لمونځ باطل سی.دوئم واربه ئی بیرته راگرځوی.(فتاوی رحیمیه ۳/۳۸ بحواله شامی ۱/۵۸۸)

﴿دامام شافعیؒ اتباع په اختلافی مسائلو کی﴾

﴿سوال﴾(۱)په شافعی المذهب امام پسی دحنفی المذهب مقتدی په سورة الحج کی ددوئیمی سُجدی په وخت دتلاوت سجده کول پکار دی او که نه او په سورة(صٓ) کی خو امام (شافعیؒ)سُجده نه کوی نو مقتدی به ئی هغه وخت کوی که به ئی وروسته کوی او یاځنی ساقط سول؟

(۲)او دسهار په وخت کی په لمانځه کی دُعاء قنوت ووائی او که نه؟ که ئی ووائی نو لمونځ خو به ئی نه فاسدیږی؟

(۳)په اختر کی زائد تکبیرونه په شافعی المسلک امام پسی به شپږ وائی یا به د امام دمتابعت په وجه به نه(۹)وائی؟که چیری نه(۹)تکبیرونه ووائی نو لمونځ ئی وسوا او که نه؟

(٤)که دمازیگر وخت دحنیفه مسلک والو په نزد لانه ؤ وداخل سوی او شافعی المسلک والاخلق دمازیگر لمونځ په اول وخت کی وکړی نو حنفی ورپسی

اقتداء کولای سی او که نه که اقتداء ئی وکړه نو اعاده به ئی واجبه وی او که نه؟

﴿جواب(۱)﴾ دامام په اقتداء کی دسورة الحج دوئیمه سُجده مقتدی ته کول پکار دی(شامی ۱/۱۰۸)او که دسورة(صٓ)سُجده امام و نکړی نو مقتدی ته هم نه دی کول پکار ځکه چی دسورة(صٓ)سُجده مختلف فیه ده او دامام د اتباع وجوب متفق علیه دی(شامی ۱/۴۹۰)او کله چی ئی په لمانځه کی سُجده ونکړه نو بیا دی وروسته هم نکوی.

﴿جواب(۲)﴾ مقتدی ته په داسی حالت کی چپ دریدل پکار دی. که دُعاء قنوت ووائی نو دمکروه مرتکب به سی.(دُرمختار ۱/۷۰۰)

﴿جواب(۳)﴾ که دامام په متابعت که نهه(۹)تکبیرونه و کړی نو په لمانځه کښې ئی څه خرابی نه راځی.(شامی ۱/۴۹۲)

﴿جواب(٤)﴾ بهتره خبره داده چی دمازیګر لمونځ دمثلینو څخه دمخه ونکړی او که ئی و کړی نو صحیح دی.(فتاوی محمودیه ۲/۹۵)

که دامام شافعیؒ مذهبی په باره کی وثوق وی چی دی دحنفی مذهب رعایت کوی نو حنفی المسلک مقتدی ته دده اقتداء جائزه ده.

که په وثوق سره ورته معلومه وی چی شافعی المذهب امام دحنفی مذهب رعایت نکوی نو دحنفی اقتداء سمه نه ده.او که درعایت او نه رعایت

دهیڅ حال ئی نه معلومیږی نو بیادده اقتداء مکروه ده.(فتاوی محمودیه ۲/۹۵)

﴿دشافعی او داهل حدیث امامت﴾

﴿سوال﴾:دحنفی مسلک والا لمونځ په اهل حدیث یاشافعی المسلک امام پسی کیدای سی او که نه؟

﴿جواب﴾:که ددی خبری یقین وی چی امام دلمانځه په ارکانو او شرائطو کی دنورومذاهبو رعایت کوی نو دده اقتداء بلاکراهیته جائزه ده او که درعایت دنه کولو یقین وی نو کم لمو نځ چی په ده پسی سوی وی هغه به صحیح نه وی.

او دکم امام چی دارقم حال معلوم نه وی نو په هغه پسی اقتداء کول مکروه ده.نن صبا دغیر مقلدینو اکثریت دانه دی چی دمذهبونو درعایت خیال نه ساتی بلکه داغلط بولی او په قصده ددی څخه خلاف کار کوی.او دمذهب خلاف کار کول ثواب بولی.نو په دی وجه ددوئ داقتداء څخه چی تر څو ممکنه وی ځان ساتل پکار دی خو دضرورت په وخت کی وروپسی لمونځ کیږی جُمُعَهْ مه پریږدئ.

دا تفصیل هغه وخت دی چی کله داامام صحیح العقیده وی که دده عقیده فاسده وی او مقلدینو ته مشرکان وائی او سلفو صالحینو ته بښکنځل کوی نو بهرحال دده امامت مکروه تحریمی دی .(احسن الفتاوی

۲۸۲/۳ بحواله رد المختار ۱/۵۲٦)

﴿دشافعي المسلک په اقتداء کې رفع اليدين(لاسونه پورته کول)﴾

﴿**سوال**﴾: زيد مسلکاً حنفي دی. دَیٔ دجُمعې لمونځ په يودا سی امام پسې کوی څوک چې شافعي ياحنبلي المسلک دی. نوپه دی وجه زيدپه دغه امام پسې په زوره آمين نه ووائی اورفع يدين(يعنی دلاس پورته کولو عمل)هم نکوی. چونکه دا دامام اتباع يانقليدنه سونوپه داسې صورت کې دزيد لمونځ صحيح سوا وکه نه؟

دغه رقم که شافعي المسلک ياحنبلي المسلک په حنفي المسلک امام پسې لمونځ وکړي اودی دامام داتباع څخه خلاف رفع اليدين وکړي او آمين په زوره ووائی نوددی به څه صورت وی؟

﴿**جواب**﴾: په دی کاروکی دامام اتباع لازمه نه ده. نوپه دی وجه دحنفي المسلک اقتداء په شافعي امام پسې اودشافعي المسلک اقتداء په حنفي المسلک پسې صحيح ده. احناف دی رفع اليدين نه کوی. (احسن الفتاویٰ ۳/۲۱٦ بحواله ردالمختار ۱/ ۴۸۰)

که حنفي مقتدی په شافعي امام پسې داخترلمونځ وکړي نوده ته داختر په تکبيرونوکی دی دشافعي امام اتباع وکړي. دشافعي المسلک

وغيره اماما ن چې دسهارپه لمانځه کې کم دُعاء قنوت مستقل وائي يارفع اليدين کوی اويا د جنازی په لمانځه کې چې کم دځلورو څخه زيات تکبيرونه کوی دهغه اتباع به نه کوی ځکه چې دامنسوخ دی. (فتاویٰ رحيميه ۱/۲۴۳)

﴿حنفي امام به دشافعي مقتديانو امامت څنګه کوی؟﴾

﴿**سوال**﴾: زه حنفي المسلک يم، دشافعي المذهب په مکتب کې سبق وايم، کله کله جهری لمونځ ورکم نوکه زه دشافعي المذهب مقتديانولحاظ وساتم اودسورة فاتحه څخه وروسته دومره وخت خاموشه ودريږم چې هغوی څومره وخت کې سوره فاتحه ژرژرووائي، اوزه بيابل سورت شروع کړم نوپه دی کې څه حرج دی؟

﴿**جواب**﴾: حنفي امام ته داسې تأخير کول جائزنه دی. اوداکارممنوع دی. دا لمونځ به ناقص او واجب الاعاده وی، يعنی په دويم واربه دالمونځ راګرځوی.

سُجده سهوه هم کافي نه ده. ځکه چې په صورت مسئله کې خوده قصداًتأخيرو کړي چې داکارسهوه نه ده ځکه چې دا ده په قصدباندی کړی دی (فتاویٰ رحيميه ۱/۱٦٦)

حنفي امام شوافعوته داخترجُمعه ورکولی سی خوپه خپله طريقه دی

کوی.مقتدیان به دده اتباع کوی او که مقتدیان رضامندنه وی نو بیادی دهغوی څخه امام جوړسی او حنفی دی دده په اقتداء کی لمو نځ و کړی اودی به ددغه شافعی المذهبه امام په اقتداء کی داخترتکبیرونه بیا ډیروائی یعنی نه(۹)تکبیرونه به وائی. (**فتاوی رحیمیه ۱/۳۵۹ بحواله درمختار مع شامی ۱/۷۳**)

﴿که دناپاکی په حالت کی ئی جمعه ورکړه نو څه حکم به ئی وی؟﴾

﴿**سوال**﴾: که یو امام صاحب په حالت کی دبی اَوْدسی یادجنابت په حال کی جمعه ور کړی نو ددغه لمونځ گزاروبه څه حکم وی او چی داهم ورته یادنه وی چی دغه وخت څوک راپسی ولاړو او چاچاته به څنگه څنگه اطلاع ور کوی؟

﴿**جواب**﴾: په دُرِّمختارنومی کتاب کی راغلی دی چی که امام صاحب د جنابت په حالت کی یادبی اَوْدَسیُ په حالت کی جمعه ور کړی نو دده ته پکار ده چی مقتدیانو ته خبرور کړی.

نو دغه امام صاحب ته پکاردی چی تر کمه ځای کیدای سی چی کم یو مقتدی ورپیاد یږی نو هغه ته دی خبرور کوی چی دفلانکی وخت لمونځ را و گرځوی ځکه چی هغه لمو نځ نه ؤو صحیح سوی.او چی کم نه ورپیادیږی

نو دهغوی لمو نځ صحیح سو.که هغوی ته خبرنه ؤو رسیدلی نو بیا په دی کی څه حرج نسته.او که بیاچیری امام ته هغه مقتدیان ورپیادسی نو پکاردی چی هغه ته هم خبرور کړی.او امام مذکوردی په خپله هم ددغه لمانځه اعاده و کړی او ددغی گناه استغفاردی دالله څخه وغواړی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۷۷ بحواله ردالمختار ۱/۵۵۳ باب الامامت)

﴿چی ډیروخت ئی امامت کړی وی او دهغه څخه وروسته د کفراقرارو کړی﴾

﴿**سوال**﴾: یوسړی تر ډیره وخته خلقوته جُمعه ورکوله خواوس په خپله د خپل کفراقرارکوی او وائی چی مابه د کفرپه حالت کی امامت کولو نو آیاپر مقتدیانو ددغی اُوږدی مودی دلمنځو اعاده لازمه ده؟

﴿**جواب**﴾: که دهغه په کفرکی داقرار څخه بغیربل څه دلیل نه وی نو ددی داقراردوخت څخه مرتد گرځول کیږی.په تیره زمانه کی چی په ده پسی کم لمنځونه سوی دی هغه صحیح دی. (احسن الفتاوی ۳/۲۷۹ بحواله ردالمختار ۱/۵۵۴)

﴿چی ډیروخت وروسته دامام د کفرحالت معلوم سی﴾

﴿**سوال**﴾: یوسړی تر ډیره وخته پوری خلقوته امامت ورکاوی اوس دقرائنو

څخه معلومه سوه چی دی کافردی خوپه خپله دغه سړی دکفراقرارنه کوی
بلکه خپل ځان تـه مسلـمان وائی خوخلقوته دهغه په خبره باندی باورنسته
بـلـکـه دخـلـقـوخیال دی چی دی منافق دی خوځـسـی ځان مسلمان ښکاره
کوی.نوکم لمنځونه چی دده په اقتداء کی سوی دی آیادهغه اعاده واجبه ده؟

﴿جواب﴾: کـه پـه شواهدواوقرائنودده دکفرظن او گمان غـالـب سی نوکم
لمنځونـه چـی پـه ده پسـی سـوی دی دهغه اعاده فرضه ده. (احسن الفتاوی
۳/۲۷۹ بحواله ردالمختار ۱/۵۵۳)

﴿آیاتراویح ورکول دامام ذمه واری ده ؟﴾

﴿سوال﴾: امـام صاحِب پنځه وخته بنه پـه پـابـنـدی سره جُمعه ورکوی خو
تـراویـح نـه ورکوی.بعض خلق وائی چی تراویح ورکول دامام مه واری ده.د
شریعت څه حکم دی؟

﴿جواب﴾: کـه امـام صـاحـب په تراویحوکی دقرآن شریف داورولو څخه
عاجز اوقاصروی نوپه "اَلَمْ تَرَكَيْفَ فَعَلَ" دی تراویح کوی.دادده ذمه واری ده
کـه مـقـتـدیـان حـضـرات پـه تـراویـحـو کی دقرآن داوُریدلوسعادت
حاصلول غوا ړی نـوددغـه امام انتظام دی مقتدیان پخپله وکړی.امام صاحب
دی نـه مـجـبـور وی. کـه لِوَجْـهِ الله (دالله لپـاره)تراویح ورکونکی پیدا نه سی
نویوحافظ صاحب دی دروژی لپاره نائب امام مقرر کړی.دماخوستن اودنورو

پریادوَو(۲)لمنځو ذمه واری دی وریغا ره کړی.اوس کـه دی په تراویحوکی
قرآن مجید ووائی نوبیاداُجرت ورکولوگنجائش پیداکیږی (فتاوی رحیمیه ۴/۳۴۹)

﴿په تراویحو کی دامامت حق﴾

﴿سوال﴾: بکرپـه مـسـجـد کی امام مقرر سوی دی او دی حافظ قرآن هم دی
اوزیدهم حافظ قرآن دی.اوده به دپخوارا هسی په دی مسجد کی تراویح ور
کولی.اوس بکروائی چی زه امام مقررسوی یم د تروایح ورکولوحق زمادی.
زیدوائی چی زماپخوانی حق دی نوداچاحق جوړیږی؟

﴿جواب﴾: پـه دی مسئله کی کله چی بکرامام جوړسونودتراویحودامامت
حق هم دده دی.(فتاوی دارالعلوم ۴/۲۸۲بحواله دُرمختار ۱/۵۲۲باب الامامت)

﴿په تراویحو کی دمعاوضی شرعی حیثیت﴾

﴿سوال﴾: پـه روژه مبارکه کـی دقـرآن شـریف دختم کولولپاره دحافظ د
اخیستـلـو او د(مـقـتـدیـانو) ور کولوپه نیت دقرآن اوریدل اواورول اوورروسته
اخیستـل ورکول څرنگه دی؟د دواړونیـت دورکـولـواواخیستلووی.ددی
څخه بغیراوریدل اونه اورول کیږی. که چیری په یوه مسجدکی قرآن مجید
نه وریل سی(په تراویحوکی)اوصرف د تراویحوپه کولوسره اکتفاء وسی نو
بیابه دغه خلق دروژی دقیام دفضیلت څخه محروم سی اوکه نه؟

﴿جواب﴾: په مزدوری قرآن شریف ویل بنه کـارنه دی.په داسی کولوکه

ثواب هم نه وی.اوپه حکم سره د"المعروف کالمشروط"دچاچی دورکولو
اواخیستلونیت وی هغه هم داُجرت په حکم کی دی اوناجائزدی.(ددی
مطلب دادی چی که چیری یوحافظ داونه وائی چی زه پیسی غوارم اوند
کلیوال ورته دپیسوورکولو ډغ وکړی لیکن په آخرکی دروژی وهغه ته
پیسی ورکړی نودا کارهم هغسی دی لکه شرط چی ایښي وی دپیسوپه ور
کولوباندی.(مترجم)

په داسی حالت کی دی صرف په "اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ"باندی تراویح
کول اوپه مزدوری باندی قرآن مجیدنه اوریدل ښه دی.اوصرف دتراویحوپه
اداکولو سره دقیام رمضان فضیلت ورته حا صلیږی.(فتاوی دارالعلوم ۴/۲۴۲بحواله
ردالمختارمبحث التراویح ۱/۶۲۰)

﴿دتراویح دامامت لپاره بلوغ شرط دی﴾

مسئله داده چی که چیری په هلک کی دبلوغت کمه نښانه نه وی
مثلاً احتلام ، انزال نوبیاپر پوره ۱۵ کاله باندی شرعاً هغه بالغه بلل کیږی.نوکه
چیری دروژی پراوله دهلک عُمرپوره (۱۴) کاله (۱۱)میاشتی ؤونود ده
امامت په تراویحواوتږوکی سم نه دی ولی چی دامام ابوحنیفه رحمة الله
تعالی علیه صحیح مذهب دادی چی دنابالغه امامت په فرائضو،نوافلو او
واجباتوکی صحیح نه دی.البته که چیری په ده کی یوه علامه دبلوغت

معلومیدل نوبیا پرواه نلری.

اودارقم دخورلسوکالوپه هلک پسی فرض اوتراویح کول هیڅ هم
صحیح نه دی.ترکمه چی پوره د پنځلسوکالونوی سوی.البته که چیری په
خورلسم کال کی دبالغیدلویوه علامه کی ښکاره سوه اودی هم ووائی چی زه
بالغه سوی یم نوبیاپه ده پسی لمونځ صحیح دی.(فتاوی دارالعلوم۴/۲۲۶
بحواله ردمختارباب الامامت ۱/۵۳۹)

﴿دمعذورحافظ امامت﴾

حافظ صاحب که چیری دعُذرپه وجه سره په ناستی تراویح ورکړی
او مقتدیان ولاړوی نوبعض فقهاؤویلی دی چی د ټولو لمونځ صحیح
کیږی.او بعض بیاوائیَ چی مقتدیان دی هم کښینی ددی لپاره چی د امام
متابعت وسی. اودمخالفت صورت پیدانسی.(دواړه صورتونه جائز دی)
(ترجمه عالمگیری ۱/۱۸۹)

﴿چاچی دماخوستن لمونځ نه وی کړی دهغه امامت﴾

﴿سوال﴾:دماخوستن لمونځ وسو.دلمانځه وروسته تراویح شروع سوی .
کم حافظ صاحب چی تراویح ورکوی هغه تراوسه دماخوستن فرض نه دی
کړی دی دتراویحودورکولولپاره ودریدی اودوه رکعته تراویح ئی ور کړی.
بعضی مقتدیانواعتراض وکړی اوحافظ صاحب ئی لری کړی دهغه وروسته

امام صاحب پاته تراویح ورکړی.

دامعلومول دی چی دمقتدیانو اول دوه رکعته وسوه او که نه؟ که چیری هغه نه وی صحیح سوی نو آیادهغه راګرځول ضروری دی؟

﴿جواب﴾: په صورت مسؤله کی دتراویحو دوه رکعتونه دراګرځول ور دی. ولی چی تراویح دماخوستن دلمانځه څخه وروسته دی نه اول.

په هم دغه وخت کی اعاده ضروری وه ، که چیری ئی نه راو ګرځو ل نوبیاوروسته ترصبح صادق پوری یوازی کولای سوی. که چیری ئی تر سهاره هم قضاء نه راو ګرځاوه اووخت وواتی نوبیاددی قضانسته. استغفاردی وغواړی اوپه دغه دوه رکعتو کی ئی چی څومره قرآن مجیدویلی ؤو که ئی نه ؤورا ګرځولی نوبیادی دوئیمه ور ځ راو ګرځوی.(فتاوٰی رحیمیه ص: ۲۳۵بحواله کبیری ص:۳۸۵)

﴿دوِترُوُامامت﴾

دوترو جماعت دهغه امام چی فرض ئی ور کړی وی څخه علاوه بل څوک هم ور کولای سی. (فتاوٰی دارالعلوم ۱۵۸/۴) او داچی په خلقو کی مشهوره ده چی کم سړی فرض لمونځ ور کړی نووترڈی هم هغه سړی ور کړی. که چیری دوئم سړی دوِتروجماعت ور کړی نوهغه جائزنه دی. داخبره غلطه ده بل دوئم سړی دوِترُوجماعت ور کولای سی. او داصحیح ده (فتاوٰی رشیدیه کامل

ص:۳۲۸)

داصورت جائزدی ،چی دتراویح ورکونکی وِترهم ورکولای سی که چیری دغه تراویح ورکونکی بالغ ؤو. څکه‌چی په نابالغ پسی نه تراویح صحیح دی اونه وِتر.(فتاوٰی دارالعلوم ۱۹۲/۴)

﴿امام صرف دفرضوجُمُعه ورکړی اوحافظ وِتر﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب که چیری دماخوستن فرض اووترور کړی یایوازی فرض ورکړی اوحافظ صاحب تراویح ورکړی نوددی څه حکم دی؟

﴿جواب﴾:داهیڅ فرق نه کوی،حضرت عمرفاروق رضی الله تعالیٰ عنه به دفرضواودِترو جُمُعه ورکوله اوحضرت اُبی بن کعب رضی الله تعالیٰ عنه به تراویح ورکولی.هم دارقم که چیری امام صاحب صرف فرض لمونځ ورکړ ی اوحافظ صاحب تراویح اووترور کړی نوپه دی کی هم څه فرق نه راځی. (فتاوٰی رحیمیه ۳۹۴/٤بحواله عالمګیری ۸٤/۱) یادونه:دتراویح دمسائلو د تفصیل لپاره دی دمصنف صاحب"مکمل ومدلل مسائل تراویح"نامی کتاب وکتل سی.

﴿دتلویزن څخه امامت﴾

لمونځ کم ماشینی عمل نه دی،بلکه دایو عبادت دی په کم چی انسان خپل ټول وجود که ظاهری وی او که باطنی ، قلب روح ، زړه اودماغ، ژبه،اعضاء(جوارح)حرکات اوسکناتوسره دالله په حضور کی حاضریږی.د

ادا الله سره دهم کلامی اودزړه دبیری اوعاجزی شخه دډکیلواظهاراونښانه وی.امام چی هرڅه وائی ګواکی هغه په ډیراحترام ،ادب ،خشوع اوخضوع سره دخپلو مقتدیانوخبره والله پاک ته درسولو کارکوی.

پرتلویزون باندی چی کم امامت ورکول کیږی هغه صرف یومشینی حرکت وی.په داسی صورت کی هغه خوف اوخشیت،تواضع اوانکساری، ادب اوشانستګی اوخوف ورجاګله راتلای سی.ددی وجهی شخه دفقهی نقطه نظر شخه ماسوی دعبادت اوبندګی روح هم ددی دشان اوکیفیت شخه مغایردی چی انسان دداسی مصنوعی پرزوپه قتداء کی لمونځ اداکړی.اود فقهی اعتبارپه لحاظ داضروری ده چی دامام اومقتدی په مابین کی دومره فاصله نه وی لکه واله،رُوډ،سړک اوپل. که چیری دومره فاصله وی نوبیا اقتداء نه صحیح کیږی. (فتاوی هندیه ۱ / ۴۵)

اودغه حکم دتلویزون هم دی چی که چیری داصل امام اود مقتدیانوپه مابین کی دصفونودتسلسل شخه بغیردومره فاصله وی نوبیااقتداء نه صحیح کیږی.اوکه چیری لویه مجمعه وی اودصفونوتسلسل هم وی البته دلمانخه په ځای کی دآسانی اودنقل وحرکت داندازی لپاره په مختلفو ځایوباندی تلویزنونه ولګول سی نوبیاخولمونځ اداکیږی.لیکن داکارکول بیا هم دکراهیته شخه نه دی خالی.ولی چی دتلویزون دفقهی حیثیت شخه قطع

نظردلمانخه ومخ ته دداسی عکسوراتګ پرځپل ځای باندی مکروه دی او ددی شخه خشوع وخضوع متأثره کیږی.ترکمه ځایه چی دنقل وحرکت دخبرتیامسئله ده نوهغه خودلاؤډسپیکرپه ذریعه سره هم کیدلای سی. (جدیدفقهی مسائل ص:۵۸)

﴿دټیپ په ذریعه باندی امامت﴾

پرټیپ ریکارډرباندی نه لمونځ صحیح دی اونه اذان. ځکه چی امام اومؤذن هم هغه کیدای سی کم چی ناطق خبری کونکی وی اوپه ټیپ ریکارډر کښی په خپله ګویائی نسته.بلکه دایوه بی اختیاره آله ده کمه چی دیوآواز نقل کوی.آذان اولمونځ عبادت دی کم چی دزړه دکیفیت سره سرته رسولی سی.او ټیپ ریکارډر خویوجامداو غیرحساس شی دی.ددی آوازته عبادت نسی ویل کیدلای.ددی د آوزحیثیت دمستقل"وینا"نه وی بلکه دا تابع محض دی.

هم داوجه ده که یوسړی په ټیپ ریکارډرباندی طلاق ورکوی او ووائی چی ماطلاق درکړی دی اووروسته بیادغه ټیپ دری واره پرهغه ځای باندی واورول سی نوهم یو طلاق واقع کیږی.ددی دتکرارپه وجه سره په اصل طلاق کی تکرارنه راځی. اوهم دارقم که څوک داسی پرټیپ باندی دزړو روږیو اقراروکړی اوډریکارډنګ وروسته دغه اقرارپه واروارو غږول

سي نو هغه دزړو ږوپواقراردی په کی زیاتوب نه راځی. څکه چی دن...
آوازحیثیت دتابع دی.

نوله دی امله په داسی طریقه باندی ورکول سوی آذان او امامت...
صحیح کیږی. بلکه دامحض یو صوتی او لفظی تکراردی. ددی مثال فقهاؤ...
ورکړی دی لکه څوک چی ویوه مُرغه ته تلاوت ورزده کړی. نودغه تلاوت...
فقهاء اصل نه بولی. اوپه دی سبب سُجده تلاوة هم نه واجبیږی. (جدیدفقهی مسا...
ص:۵۸ دبحواله فتاوی هندیه ص:۲۸)

﴿دامامت لپاره تر ټولو زیات حق داره سړی﴾

دحنفیانوپه نیز د امامت زیات حق داره هغه څوک دی کم چی د...
لمانځه دصحیح یاناصحیح کیدوپه مسائلوباندی زیات پو هیږی او دښکاره...
ګناؤ څخه ځان ژغوری.

ددی څخه وروسته هغه سړی دی چی دقرآن مجیدپه تلاوت...
اوتجوید کی ترنورو ډیربنه وی. دهغه وروسته هغه څوک چی ایمان ئ...
پرنوروباندی مقدم وی. اوبیاهغه څوک دی چی په عُمر کی تر ټولوزیات...
وی. اومقتدی او امام بایداول څخه مسلمانان وی. بیاهغه څوک چی دهغه...
بدنی ساخت جوړښت بنه وی. اوبیاهغه چی دهغه صورت تر ټولو بنه وی. ا...
بیاهغه چی په خاندان کی ترنوروبنه وی. اوبیاهغه چی دچالباس ترنوروښائسته...

او صفاوی. که چیری په دغه ټولو امورو کی ټول سره برابروی او په خپل مابین
کی دامامت پر سربانډ ی سره په جنګ وی نوبیادی دقرعه اندازی (پچی)
څخه کارواخلی. که داسی نه وی نوبیاچی ددوی څو بنه وی نوهغه سړی دی
د امامت لپاره مخ ته کړی.

که چیری خلق پر قرعه اندازی باندی نه وی سره خوشحاله نوبیادی
هغه څوک ودرول سی کم چی تر ټولوزیاته رائیه یوسی. که چیری اکثریت
خوایو غیرمستحق امام وټاکی نوداخوئی بدکارو کړی. لیکن ګناه نده. داټول
مسائل په هغه صورت کی راځی په کم ځای کی چی دقوم باچایادهغه ځای
په کم ځای کی چی خلق سره راټول سوی دی مالک یادوظیفی اخیستو
نکی نه وی. که نی دامامت لپاره خوتر ټولومقدم باچادی بیادکورخاوند او دا
رقم دیومسجد مقرر سوی امام بیالائق دی.

که چیری په کور کی مالک او کرایه داردواړه وی نوبیازیات حق د
کرایه داردی. که چیری هغه کوردیوی ښځی وی نوبیاحق دامامت دهغه
ښځی دی لیکن پر ښځی باندی واجب دی چی هغه دامامت لپاره یونائب
ودروی ولی چی دښځی امامت جوړیدل صحیح نه دی. (کتاب الفقه ۱/۲۸۴)

دامامت مسئله ډیره غټه او اهمه ده ددی لپاره دامام دلوړی درجی
متقی اوپرهیز ګار، عالم عامل، عاقل او داخلاق حمیده څخه متصف وی. د

حسن قرأت ښه خبروی ،صحیح العقیده،تندرسته ،وجیهه الصورت ،د
لمانځه په مسائلو باندې پوه اوظاهری عیبو څخه پاک وی.(دمسلمانانو د
امام حیثیت دفوج د مشر څخه زیات دی اودفوجی افسرظاهری عیب والا
وی یعنی ړوند، په لاس ګوډ، په پښه ګوډ،چغر،په یوه ستر ګه ړوند،ناجوړه او
ابلیج وهلی نه وی)اودارقم دا هم ضروری ده چې لمونځ کونکو امام په خپله
مرضی اوخوشحالی سره د امامت لپاره مقرر کړی وی اوده امامت دزړه له
کمی قبلوی.

۞دامامت دمکروهاتو بیان۞

(۱)دفاسق امامت مکروه دی.هو که چیری مقتدیان دده په رقم وه بیاپرواه
نکوی.

(۲)دبدعتی امامت مکروه دی. که چیری ئی بدعت دکفرو درجې ته نه وی
رسیدلی.

(۳)دامام اوږدلمونځ کول مکروه تحریمی دی.ددی څخه علاوه که چیری
یو سړی دیو څو محدودو خلقو امام وی او هغه خلق په اوږده لمانځه باندې
خوشحاله وی.ولی چې نبی کریم ﷺ فرمائی "مَنْ اَمَّ فَلْیُخَفِّفْ"(یعنی چې
کم څوک امام وی هغه دې لمونځ مختصر کوی)

یادونه:۞دمختصر څخه مراددانه دی چې سړی دې درکوع سُجدې

جلسې اوقومې خیال نه ساتی.بلکه مراد ددی څخه دسُنت په اندازه باندې
قرآن شریف ویل دی.ولی چې نبی کریم ﷺ په یو سړی باندې څو واره
لمونځ راو ګرځاوی. هغه سپک لمونځ کاوی یعنی سُجده اورکوع ئې سمه
نه کول.نو ددی څخه مراددا اوږدوسورتونو ویل دی ددی ثبوت دادی چې
معاذ رضی الله تعالیٰ عنه په یوه کلی امامت ورکاوی نوده به دماخوستن په
لمانځه کې اوږده سورتونه ویل نو خلقو دده شکایت ونبی کریم ﷺ ته
وکړی نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل اَفَتَانٌ اَنْتَ یَامَعَاذ اَفَتَانٌ اَنْتَ یَامَعَاذ یعنی
ای معاذه ته خلق په فتنه کې اچوی چې اوږد لمونځ ورکوی.داوږده لمانځه
څخه خلق دجُمعی څخه مُتنفره کیږی ۞ (مترجم)

(۴)دړانده سړی امام جوړول مکروه تنزیهی دی.لیکن که چیری هغه په ټولو
کې افضله وُو(نوبیامکروه نه دی)اودغه حکم دولدالزنایعنی حرمنی هم دی.

(۵)دعالم په موجودګی کې دیوبی علمه امام جوړیدل مکروه دی.خواه هغه د
ښاروی اوکه دکلی(یعنی صحراء)

(۶)دښائسته سپین مخی بې ږیری هلک امام جوړیدل مکروه تنزیهی دی
،که څه هم هغه لوی عالم وی.داکراهیت په هغه صورت کې دی که چیری
دده داما مت څخه څه خرابی پیداکیدله.که چیری دخرابی اندیښنه نه وه
نوبیامکروه نه دی.

(۷)دداسی سړی امام جوړیدل چی هغه بی عقل وی اوبی کاره وی یافالیج وهلی وی یادفِسُ مرض وهلی وی اودفِسُ داغونه ښکاره پرمعلومیږی.اویا جزام مرض نیولی وی اویافالیج وهلی وی اوپرپو ښوسم نسی دریدلای.اوهم دارقم دکم چا چی لاس پری سوی وی دهغه سړی امام جوړیدل مکروه دی.

(۸)اودهغه چاامامت هم مکروه دی کم چی پرامامت باندی اُجرت یعنی مزدوری اخلی(متأخرینو فقهاؤپر امامت باندی اُجرت یعنی مزدوری اخیستل جائز بللی دی.نویه موجوده عصر کی په داسی سړی پسی لمونځ کول بلاکراهیته صحیح دی)البته که دوقف خلقو دامامت لپاره دأجرت شرط ایښی وی نو بیانه دی مکروه.ولی چی په دی صورت کی هغه اُجرت یامزدوری یوقسم صدقه یا کمک دی.

(۹)اودهغه سړی امامت مکروه دی کم چی په فروعی مسائلو کی دمقتدی د مسلک څخه اختلاف لری.اوداپه دی شرط چی ددی کاربیره وی چی هغه د داسی اختلاف پرواه نکوی دکم څخه چی اوُدس یالمونځ دماینه خی.لیکن که چیری په دی کار کی دده شک نه راتلی په داسی رقم چی هغه ته داختلاف پرواه سته یاداچی هغه ته دداسی اختلاف هیڅ علم نسته نوبیائی امامت نه مکروه کیږی.

(۱۰)دامام دنورو ټولو مقتدیانو څخه یو لاس اندازه یادهغه څخه زیات پر لوړ

ځای باندی دریدل مکروه دی.ددی څخه کم لوړځای ژونوبیانه مکروه کیږی.او دارقم دمقتدیانو دامام څخه پرلوړځای باندی دریدل مکروه دی.

په دادوا ړوصورتونو کی کراهیت په داسی حالت کی راځی چی د امام سره دده ددریدوپر ځای باندی بل سړی نه وی ولاړ.اوکه یویادوه کسان د امام سره پرهغه ځای باندی چی امام پرولاړ دی ولاړوی نوبیا کراهیت نه راځی.

(۱۱)دهغه سړی امام جوړیدل مکروه دی چی خلق بدځنی وړی.اوده دیو دینی خرابی په سبب په ده پسی دلمونځ کولو څخه احتراز کوی.

(۱۲)دجنازی دلمانځه څخه ماسوی دښځو جماعت کول مکروه تحریمی دی. که چیری دجنازی لمونځ ښځه ورکوی نو ښځه امام دی د ښځویه مابین (دصف په مابین)کی دی ودریږی.داسی لکه دهغه نارینو جماعت دکم چی ستر لځ وی. دښځویه جماعت کی حاضریدل مکروه دی خواه هغه دجُمُعی لمونځ وی اوکه داخترونویادشپی نصیحت وی.لیکن دورځی دضرورت په وجه په پرده کی تلای راتلای سی.په دی شرط چی ددوی د وتوڅخه دیوڅه خرابی دپیداکیدلو اندیښنه نه وی.

(۱۳)اودارقم دنردښځولپاره امام جوړیدل مکروه دی.اوحال داچی جماعت په یوداسی کورکی وی چیری چی دده سره نږمُقتدیان نه وی.یا ښځی دامام

محرمي لکه مُور،خُور نه وي.(کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ج ا ص:۲۸۸)

(۱٤)دخُصي ،نر ښځي یانامرده سړي پر امامت بانـدي مقررول مکروه دي،اودا رقم دهغه چاامامت هم مکروه دي دچاچي دِخبرو انداز داسي وي لکه دښځو،اودهغه امامت مکروه دي کم چي دي دبل چاناجائزه اولاد وي يعني حرمني وي.داسي خلق که (مستقل)مقررسوی نه ؤونوبيادد وی امامت مکروه نه دی. ﴿يعني يو ځای ئي مؤقتی لمونځ ورکاوی﴾(مترجم).

(۱۵)ديومرئي ياغلام امام مقررکول مکروه دی.

(۱۶)دناسُنته امامت مکروه تنزيهي دی.اودارقم دهغه سړي امامت هم مکروه تنزيهي دی دکم چاچي حال نه وی معلوم چي بدسړی دی او که ښه.اودهغه سړي امامت چي نسب ئی نه وی معلوم.

(۱۷)دامام دمسجدپه محراب کی نفل کول یاپه محراب کی محض دلمانځه په رقم کښينستل مکروه دی.

(۱۸)دړانده امام جو ړيدل جائزدی خودليدونکی امامت افضل دی.(کتاب الفقه ص:۲۹۰)

﴿پرلاؤډسپيکر(ګويا)باندی امامت﴾

دلاؤډسپيکرپه ذريعه باندی لمو نځ کول صحيح دی يانه؟په اول کی پښتوستان اودهندوستان شخه دباندی دعلماؤپردی مسئله باندی اختلاف

ؤو بعض حضراتو داویل چي دلاؤډسپيکر آوازبعينه دامام آوازنه دی، بلکه د هغه د آوازباز ګشت دی.دارقم دمقتديانو دامام پردغه آوازباندی نقل و حرکت کواکی پريوبل آوازپربنيادباندی دی.او داخبره جائزنه ده.چي مقتدی دامام پر ځای باندی ديوبل پرآوازباندی نقل وحرکت وکړي.

ددوی په مقابله کی بيادنوروداخيال ؤوچي ددی باوجود دلمانځه لپاره دلاؤډسپيکراستعمال جائزدی.اوپه شريعت کی ددی مثال موجود دی. چي د لمانځه شخه دباندی ديو سړي پر تـلـقين باندی لمو نځ کـونکو نقل وحرکت کاوی.چنانچه کله چي دبيت المقدس پر ځای باندی کعبه شريفه قبله جوړه سوه اودمدينی په شاوخواکی په بعض مسجدوکی دبيت المقدس وخواته لمو نځ کيدی ،دقبلي داو ښتو خبريوه سړي دوی ته ورکړي دوئ تولوخپل مُخان دکعبي شريفي وخواته پرلمانځه ولاړؤوواړه وي.ښکاره خبره ده چي دا نقل وحرکت ديوداسي سړي پرآوازباندی وسو کم چي د دوی سره په لمانځه کی شريک نه ؤ اودلمانځه شخه دباندی ؤو.

اُوس داخبره په تحقيق باندی رسيدلې ده چي دلاؤډسپيکرآوازدامام دآوازنقل نه دی بلکه دابعينه دامام آوازدی کم چي دده دخولې شخه راوزي دارقم اوس دلاؤډسپيکرشخه دلمانځه او امامت پرجوازباندی دعلماؤاتفاق سوی دی.

بعض علماء ددی په استعمال کی یو څه کراهیت وینی. او دمجبوری په حالت کی ئی استعمال صحیح دی. ددی دلیل دادی چی فقهاؤ بی له ضرورته د امام و آوازته تقویت ورکونکی "مُکَبِّرین" دتقررمکروه اوبدعت بللی دی. ددی جهته دلاؤډسپیکرهم دی. مګردادلیل دغورو ړدی چی د مُکَبِّرینو آوازبعینه دامام آوازنه دی او حال دادی چی دلاؤډسپیکر(مائک) آوازدامام آوازبعینه آواز ثابت سوی دی. نوبیادی دوا ړوته ولی یوه درجه ورکول کیږی. لیکن داضروری ده چی لاؤډسپیکردی دضرورت په اندازه استعمال سی چی آوازئی په مناسبه اندازه وی او دمسجدپه حدودو کی وی لکه نن صباچی داخبره ممکنه ده. (جدیدفقهی مسائل ص:۵۷)

﴿امام دجُمُعی لما نځه ته دباندی ولاړسی او که دما پښین امامت ورکړی﴾

﴿**سوال**﴾: دکلی امام صاحب دجُمعی په ورځ وبل ښار کوټی یا ښارته د جُمعی دلما نځه دادا کولولپاره ځی. امام ته په خپل کلی دما پښین لمونځ ور کول ښه دی او که بل ځای دجُمُعی لمونځ کول؟ ددی حدیث مطلب څه دی؟ چه "چادر ی یا څلور جُمعی دجُمعی لمونځ ونکړی ګویاهغه و اسلام ته شاور وګرځول".

﴿**جواب**﴾: په دی حدیث مبارک کی چی کمه وعیدپر نه کولو د-دمعی د

لما نځه راغلی ده دهغه مطلب دادی چی په کم ځای کی دجُمعی لمو نځ فرض وی او بیایو سړی په قصده سره دجُمعی لمو نځ پریږدی نو دغه موعود عذاب دهغه چالپاره دی. اوپه کوچنی کلی یابا نډو کی دجُمُعی لمو نځ نه دی فرض. او د جُمُعی لمونځ هلته نه کیږی هلته دغه وعیدپرنه کولوباندی دجُمعی نه راځی بلکه ددوی لپاره حکم دادی چی دُوی دی دماپښین لمو نځ هلته په جماعت سره اداکړی.

لیکن که چیری یو سړی وښار کوټی یا ښارتـه دجُمعی دلما نځه د ادا کولولپاره ولاړسی نو دادثواب خبره ده. او کم څوک چی دجُمعی دلمانځه لپاره د باندی ولا ړنسی اوپه خپل کلی کی دما پښین لمونځ اداکړی نوپرهغه باندی هیڅ ګناه نسته. (فتاویٰ دارالعلوم ۹۳/۵ بحواله عالمګیری مصری باب فی الجُمعه ۱۳۶/۱)

﴿امام په جُمعه کی قرأت اُوږد کړی او که خطبه﴾

خطبه بایدمختصره او لنډه وی. اوقرأت دسُنت موافق وی لکه سوره "سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی" او نور داسی. (فتاوی دارالعلوم ۵۳ بحواله ردالمحتارباب الجمعه ۷۵۸/۱)

﴿دامام دخطبی په وخت کی دیوچاتعظیم کول﴾

﴿**سوال**﴾: امام دخطبی په حالت کی خطبه پریښول دیوچادتعظیم لپاره او هغه

ئی پرمنبرباندی کښیناوی اوخطبه ئی پرنیمائی باندی پریښوول اوپاته خطبه ئی ونکړه نولمونځ اداکیږی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:لمونځ ئی صحیح کیږی خوپه آئنده کی دی داسی نکوی.

(فتاویٰ دارالعلوم۵/۹۴بحواله ردالمختارباب الجُمُعه ۱/۷۵۸) .

﴿دامام اودخطیب دنه موجودکی حکم﴾

﴿سوال﴾:(۱)دلمانځه اودخطبی پر ټاکلی وخت باندی خطیب اونه نائب خطیب راغلی نوآیادنیم ساعت انتظارورسته متولی صاحب یوبل څوک امام در ولای سی؟

(۲)بل سړی لمونځ ورکولای سی اوکه نه هغه لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

(۳)خطیب صاحب اکثره وخت غیرحاضروی اوتجارت کوی په ده پسی لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:(۱)متولی بل امام درولای سی.(۲)بل سړی لمونځ ورکولای سی (۳)په داسی خطیب پسی لمونځ صحیح دی.(فتاویٰ دارالعلوم ۵/۱۳۱)

﴿دمنبر ددرجو تعداد﴾

دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم دمنبردری درجی وی.دهغه مطابق اولیٰ دی.کمی اوزیاتوب هم جائزدی.(احسن الفتاویٰ ج:۴ ص:۱۴۰)

﴿آیادامام پرمنبرباندی په ولاړی دریدل ضروری دی﴾

پرمنبرباندی په ولاړی خطبه ویل سُنّت دی.حضرت محمدصلی الله علیه وسلم اودخلفاء راشدینوهم دغه عادت اومعمول ؤو .(احسن الفتاویٰ ۴/۱۳۵ بحواله ردالمختار ۱/۷۷۰)

﴿دمنبرپر کمه زینه باندی خطبه ورکول کیږی؟﴾

په دی کی شرعاًکم حدیااندازه نسته.پرکمه درجه یازینه باندی چی ودریږی زوادی.اودمنبر دختوسُنّت پرځای کیږی.

پس ددی څخه زیات نورڅه شرعاًکم قیدنسته.پردریمه یادویمه پر هره درجه چی ودریږی صحیح دی.په دی کی هیڅ بی ادبی نه راځی.

(فتاویٰ دارالعلوم ۵/۱۱۶ بحواله ردالمختارباب الجمعه ۱/ص:۷۷۰)

﴿په خطبه کی دخلقوشرط﴾

﴿سوال﴾:(۱)که چیری امام صاحب خطبه صرف دکوچنیانواو ښځوومخ ته وویل بل څوک نه ؤو آیادغه جائزدی اوکه نه؟

(۲)که چیری دیوه اویاددو کسانوومخ ته خطبه وویل سی اودرو(۳)یادرو څخه زیات خلقوسره لمونځوسی لمونځ صحیح کیږی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:جائزنه دی.ولی چی دجُمعی دخطبی لپاره دامام څخه ماسویٰ

کم تر کمه ددری کسانو شتوالی لازمی او ضروری دی. په کم سره چی جماعت و درول سی.(احسن الفتاوی ۴/۱۲۳)

﴿دامام لکړه په لاس کی اخیستل او خطبه ورکول﴾

ددی متعلق دفقهي عبارتونه مختلف دی. تطبیقی صورت ئی دادی چی دافی نفسه سُنَّتِ غیرمؤکده دی. منکر ددی لازمول او پردی باندی همیشتوب مکروه او بدعت دی. (احسن الفتاوی ۴/۱۴۲)

دتطبیق بل صورت ئی دادی چی که ضرورت ؤونو بیادی لکړه په لاس کی نیسی او که تکلیف نه وی او ضرورت نه وی نو بیادی ئی نه رااخلی. (فتاوی دار العلوم ۵/۶۶ بحواله ردالمختارباب الجمعه ۱/۷۷۳)

لکړه په لا س کی نیول خطبه ورکول خو ثابت دی او بیله لکړی اخیستلو خطبه ویل زیاته ثابته ده. نو پس حکم دادی چی لکړه په لاس کی اخیستل جائزه ده او نه اخیستل ئی بهتره ده. حنفیانو دنه اخیستلو خپل اختیار کړی ده. نو دلکړی اخیستل ضروری بلل او دنه اخیستلو والا په خلاف بَلُوزَدُویل صحیح خبره نه ده. او دارقم کم څوک چی ئی اخلی پرهغه باندی هم ملامتی ویل صحیح نه دی. (کفایت المفتی ۳/۲۱۴)

﴿دخطبی داذان حکم﴾

داول صفت قید هیڅ ځای نسته. البته دفقهي د کتابو په الفاظو کی اذان

اَلْمِنْبَرُ، عِنْدَالْمِنْبَرُ او بَیْنَ یَدَی الْمِنْبَرِ شخه داثابتیږی چی دااذان دمنبر ومخ ته او ومنبر ته نژدی بایلوی. دمنبر سره دنژدی والی دامطلب نه دی چی په اول صف کی دی وی. (احسن الفتاوی ۴/۲۶ ۱ بحواله جامع الرموز جلد ۱/ص:۱۸)

﴿آیاامام داقامت څخه ترمخه مسئله بیان ولای سی﴾

﴿سوال﴾: داقامت څخه ترمخه دامام لپاره څه مسئله بیانول یانصیحت کول جائز دی او که نه؟

﴿جواب﴾: په مختصر ډول باندی یوه مسئله بیانول او امر باالمعروف او نهی عن المنکر (دبلو څخه منع کول او ونبو کاروته رابلل) جائز دی او اُوږدنصیحت کول نه دی جائز. (احسن الفتاوی ۴/۲۱۳ بحواله ردالمختار ۱/۴۷۰)

﴿په خُطبه او جمعه کی جلاوالی﴾

﴿سوال﴾: په جمعه او خطبه کی که چیری زیات جلاوالی راسی نو بیاخطبه راګرځول لازمی دی او که نه؟

﴿جواب﴾: دخطبی او دجمعی په مابین کی ترحدزیات جلاوالی(فصل) راسی نو بیادخطبی اعاده ضروری ده. (احسن الفتاوی ۴/۱۱۲ بحواله ردالمختار ۱/۷۷۱)

﴿دخطیب شخه علاوه دبل سړی لمونځ ور کول﴾

دجُمعی دخطبی ورکونکی شخه علاوه دبل سړی امامت کول جائزدی په دی شرط چی لمونځ ورکونکی سړی به په خُطبه کی حاضرسوی وی خواه هغه په ټوله خُطبه کی وی او که په لږ کی.(احسن الفتاوی ج:۴ ص:۱۱۸)

﴿آیادجُمعی امام به سُنت کونکوته انتظار کوی؟﴾

خطیب ته دسُنت کونکی ته ددسُنت شخه دفارغیدوپوری انتظار کول لازمی نه دی. کله چی مقرره وخت راورسیږی ،خطیب دخُطبی ویلو لپاره ولاړ یدلای سی ،پرده باندی هیڅ مؤاخذه او ګناه نسته.ولی چی امام متبوع دی (یعنی چی دده به متابعت کیږی)تابع نه دی،مقتدیانوته خوداحکم دی چی کله خطیب دخطبی ویلولپاره پرمنبرباندی و څیږی نوبیادی نفل او سُنتونه پریږدی لیکن خطیب صاحب ته داحکم نسته چی هغه به ددوی د فراغت انتظار کوی، که چیری دوی(۲)یادری دقیقی امام انتظارو کړی نوپه دی کی هیڅ نقصان نسته،لیکن دامام دانتظارنه کولو شخه امام نه ګنهګاره کیږی.(فتاوی دارالعلوم ۵/۶۷بحواله مشکوٰة شریف ۱/۱۰۱ باب الجمعه ردالمختار ۱/۶۷۷)

﴿دخطبی ویلو طریقه﴾

په حدیث شریف کی را څی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم چه کله خطبه ورکول نوستر ګی مبارکی به ئی سری سوی آوازبه ئی لوړاوخبرو په انداز کی به ئی سختوالی راغلی.اودارقم معلومیدل چی لکه یولښکرچی اوس حمله کوی اونبی ﷺ مخاطبین ددغه غټ خطر شخه خبروی.(مسلم شریف ۱/ ۲۸۴)

دجوشی تقریر کونکوپررقم نبی کریم ﷺ لاسونه نه غورځول البته دخلقودپوهاوی لپاره به ئی پرموقع باندی دشهادت په ګوته باندی اشاره کوله د دی لپاره که چیری یوعالم خطیب دموقع په مناسبت وحاضرینوته د خطاب په دوران کی اوخطبه دترغیب اوترتیب په انداز کی ووائی نوبیاجائز اومسنون دی لیکن چپه اوراسته خواته مخ ګرځول دنبی کریم ﷺ شخه نه دی ثابت.په بدائع نومی کتاب کی راغلی دی چی نبی کریم ﷺ به کله خطبه ورکوله نود قبلی وخواته به ئی شاوه اودخلقوخواته به ئی مخ وودریدی به.(ج:۱ص:۲۶۳)ددی لپاره علامه ابن حجرعسقلانیؒ اونورو مُحققینو چپه اوراسته خواته مخ ګرځول بدعت بللی دی.(شامی ۱/۷۵۹)البته که مخ مخامخ وی چپه او راسته خواته و ګوری نوپه دی کی هیڅ تاوان نسته. (ردالمحتار۱/۷۰۹)اوداهم بنکاره خبره ده چی دترغیب اوترهیب مضامین هغه

خو ک اداکولای سی کم چی په معنی او مضمون باندی بنه پوهیږی. نابلده سړی یو داسی غلطی کولای سی چی دیو پوه په نظر کی هغه یو مضحکه انګیز وی. ددی لپاره چی په خطبه کی کم انداز غوره کیږی نو بایدپه دیره پوه او زیرک والی سره هغه غوره کړل سی. (فتاوی رحیمیه ۱/۱۳۴)

آیاپه خطبه کی په زوروالی شرط دی

په خطبه کی دومره په زورویل شرط دی چی نژدی ناست سړی ئی واوری. (احسن الفتاوی ۴/۲۶۴)

دخطیب په غلطی کولوباندی فتحه ورکول

چونکه په خطبه کی دیو خاص مضمون ویل ضروری نه دی. نو که چیری په یوه مضمون کی خطیب ودریږی (اومخ ته نسی ولاړ) نو بیانورشه ویلای سی. له دی وجهی وخطیب ته فتحه ورکول ضروری نه ده، اودخطبی په حالت کی هرقسم خبری کول ناجائزه دی، له دی امله فتحه ورکول هم ناجائزه دی. (احسن الفتاوی ج:۴ ص:۱۴۱)

آیادمُکبِّر (تکبیرویونکی) لپاره دامام اجازت ضروری دی

سوال: په جُمعی اواخترونو کی دامام داجازت څخه بغیرتکبیر (الله اکبر) په زوره ویل ددی لپاره چی دمُقتدیانو لپاره آسانی سی جائز دی او که نه؟ یو عالم

وائی چی بی له اجازته دامام څخه تکبیر کول دمُکبر لمونځ نه کیږی. صحیح څه دی؟

جواب: دلمونځ کونکی دآسانی لپاره او خبرتیا لپاره الله اکبرویل صحیح دی، ددی لپاره دامام اجازت ضروری نه دی. ددی عالم قول صحیح نه دی. (فتاوی دارالعلوم ج:۵ ص:۱۵۰)

داختر خطبه یو چاور کړه او لمونځ بل چاور کړی

دارقم لمونځ صحیح کیږی. مګر مناسبه او بنه خبره داده چی خطبه او لمونځ یو سړی ور کړی. (فتاوی دارالعلوم ۵/۱۸۴ بحواله ردالمختار باب الجمعه ۱/۷۷۲)

آیاامام دوه ځایه داخترلمونځ ورکولای سی

دوه ځایه اودوه واره داختر اودجُمعی لمونځ نسی ورکولای. که ئی چیری داسی وکړه نو ددویم وار دمقتدیانو لمونځ نه صحیح کیږی. ولی چی د امام دویم لمونځ نفل دی اوپه نفل کونکی پسی دفرضو او واجبو الالمونځ نه صحیح کیږی. (فتاوی دارالعلوم ۵/۲۲۴)

په مزدوری دجُمعی اواخترو لمنځونه ورکول

پر امامت باندی فقهاؤ مزدوری اخیستل جائز بللی دی. (فتاوی دارالعلوم ۵/۲۲۳) (البته متأخرینو فقهاؤ جائز بللی دی (مترجم)

﴿وبلوغ ته نژدې(مراهق)خطبه ووائي او بالغ لمونځ ورکړي﴾

افضله خبره داده چې ددواړه کارولپاره امام او خطيب يووي.بياهم که چيرې مراهق دشعور خاونلوی هغه خطبه ووائي او بالغه سړی لمونځ ورکړي نو صحيح دی.(فتاوٰی محموديه ج:۲ ص:۳۴۲)

﴿دامام په خطبه کی دحضرت معاويه رضؓ ذکر کول﴾

﴿سوال﴾:حضرت مولانادوست محمدؒاو حضرت مولاناعبدالستارؒ جي کمی خطبی شائع کړی دی په هغه کی دسيده فاطمهؓ څخه علاوه دنبی کريم ﷺ پاتی دری لو نړونو مونه شامل دی او دصحابه کرامو ؓ څخه دنورو صحابهؓ سره سره دحضرت سيدنامعاويةؓ نوم هم پکښې دی.

داخطبی په جُمعه کی ويل جائز دی او که نه؟که چيرې جائزوی نو صرف دمباح ترحده پورې اويادُوسنی حالاتو په نظر کی نيولو سره افضله او مؤکده دی؟که چيرې داجائزه او افضله دی نوزمو نږ دمتقدمينو اومتأخرينو په زمانه کی چی کمی خُطبی ويل کيدی په هغوی کی دغه نومونه ولی نه وو شامل ؟اودارقم ددی خُطبو په وجه سره خو داکابر سلف صالحينو لکه حضرت تهانویؒ دمسلکه څخه خو به انحراف نه راځی؟

﴿جواب﴾:په هره زمانه کی دخُطبی دمضمون په ترتيب کی په اسلام کی دپيداسو فتنو څخه داهل السُنت دمسلک دحفاظت کولو غم خوړدنی سوی

ده.له دی وجهی دصحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعين نمونه مبارکان اودوی ته دُعااو ددوی مناقب په خطبه کی دراو ړوڅخه دروافضو(شيعه گانو) اوخوارجو تر ديديارَدُاو داهل السُنت دمسلک اعلان مقصددی.

په تيره زمانه کی چی کمی فتنی وی دهغوی دترديدلپاره هم ددی صحابه کرامو ؓ ذکر کافی ؤو.اودا په دغه خُطبو کی ذکرسوی دی.

دموجوده دوريوه نوی فتنه ديوی داسی ډلی ښکاره کيدل دی کمه چی ځان ته داهل سُنّت دعویٰ کوی خوزړونه ئی دصحابه کرامو ؓ دبُغض څخه لکه دزهرو په رقم.خاص کربيادحضرت عُثمان رضی الله تعالیٰ عنه او د حضرت معاويه رضی الله تعالیٰ عنه سره متعلق ددوئ دز ړونجاست ددوئ د ژبواو قلمو څخه راوزی.

داهل السُنت په مسلک کی ديو صحابیؓ څخه ادنیٰ څخه ادنیٰ بد گمانی ځای نسته.ديو صحابیؓ په حقله ډيره لږ بدگمانی هم دالله پاک د غضب او دجهنم موجب گرځی.په دی وجه داخلق داهل السُّنت څخه خارج دی او په الحاد کی دروافضو پرلاره روان دی.او دروافضو دحضرت فاطمهؓ څخه ماسویٰ د حضرت محمد ﷺ دنورو لو نړو سره بُغض لری.نو په دی وجه ددی فتنو د ترديد ترمخی په خطبو کی دحضرت فاطمهؓ او دبنات مکرمات رضی الله تعالیٰ عنهن اجمعين مناقب او دفضائلو ذکر او دوئ لپاره د

رضی الله عنهم معمول جوړول پکاردی. په دی سره دحضرت تهانوی قدس سره دمسلک څخه انحراف نه راځی. بلکه دهغوی دمسلک په تائید وسی. نو په دی وجه چی ددوئ خطبات په کمه نظریه مبنی دی په دی کی دا اضافه هم ددی نظرئیی لاندی کړه سوی دی دکم تفصیل چی پورته و بنوول سو. (احسن الفتاوی ۴/۱۴۶)

دجمعی دلمانځه څخه وروسته به دُعااوږده وی یامُختصره

دُعادی ډیره نه اُوږده وی. (فتاوی دارالعلوم ۵/۱۰۹ بحواله ردالمختار باب صفة الصلوة ۱/۴۰۴) او دا مسئله په کفایت المفتیؒ ۳/۲۸۹۶ کی داسی لیکلی ده "دُعادی داسی وغوښتل سی چی پر مقتدیانو باندی بوجھ نسی اوهغوی ته اُوږدوالی بلنه ښکاره کیږی"

دامام دجُمعی دوئیمه دُعاکول

دجمعی دلمانځه څخه وروسته دسُنتو دکولو څخه وروسته چی هر سړی خلاصیږی خپله دُعادی کوی. داکار ښه اومستحب دی. لیکن داچی د سُنت کولو څخه خلا[illegible] او بیاامام صاحب اومقتدیان ټ[illegible] خای ړ[illegible] په بعض ځایو کی دایورسم اورواج [illegible]نکنځل [illegible] اور دلعن اوطعن ډ[illegible] [illegible]طه ط[illegible] یدپریښبول سی. (فتاوی

محمودیه ۲/۳۰۳)

امام چی کم وخت دلمانځه څخه خلاص سوپه هغه وخت کی دی دمقتدیانوسره یوځای ګډه دُعاوکړه سی. بیادی سُنتونه اونفلونه وکړی اوهریو دی په خپل کارپسی ولاړسی. دویم اودریم وار دُعاغوښتل ثابت نه دی. او لمونځ ګزارمقید کول تر دوئیمی اودریمی دُعاپوری جائزنه دی (فتاوی دار العلوم ۴/۱۳۰)

په امامت کی دخپل مسلک رعایت کول

﴿سوال﴾: داخترو په لمنځو کی امام حنفی المسلک دی اوترنیمائی زیات مقتدیان ئی شافعی المسلک دی. اوحنفی مقتدیان ترنیمائی کم دی. نو امام د چاپرمذهب باندی برابرلمونځ ورکړی؟

﴿جواب﴾: په اخترو کی دی حنفی امام دخپل مذهب برابرتکبیرات زوائد ووائی یعنی په هررکعت کی دی دری تکبیرات دتکبیرافتتاح اودرکوع څخه علاوه ووائی.

مقتدیان کم چی شافعی المذهب دی هغه دی دخپل مذهب برابرخپل تکبیرونه پوره کړی. که چیری ددوی په نیزداجائزوی چی په حنفی امام پسی دی تکبیرات پوره کړل سی. مقصدداچی حنفی امام لره ددوی دمذهب اتباع ضروری نده. لیکن که چیری امام ددوئ درعایت لپاره ددوئ دمذهب په مطابق تکبیرات ووائی نوهیڅ پرواه نلری. (فتاوی دارالعلوم ۵/۲۴۹ بحواله رد المختارباب العیدین ۱/۱۱۳)

﴿چې دامام څخه داخترو تکبیرونه هیرسي﴾

﴿سوال﴾: که چیرې دامام څخه داخترپه لمانځه کې تکبیرات زوائدویل هیرسو اورکوع ته ورسیدی په یادئی سوه. نو آیابیائی په رکوع کې ووائی اود رکوع تسبیحات پریږدی یادرکوع څخه پورته سي اوتکبیرونه ووائی بیا رکوع را وګرځوی؟

﴿جواب﴾: په داسي صورت کې دی نه په رکوع کې وائی اونه دی بیاپه ولاړی وائی. اونه دی سُجده سهو کوی. ولی چې په داتېرلوصورتوکې ولمونځ کونکوته پریشانی جوړیږی اوددوی دلمانځه دخرابیدلوقوی امکان سته. په داسي حالاتوکې سُجده سهوه ساقطیږی اودلمانځه راګرځول هم ندی واجب په دې مسئله کې دفقهاؤنوروقولونه هم سته. کم چې په بحر، بدائع، فتح القدیر اونوروکتابوکې ذکرسوی دی. لیکن دردالمختار ۱/۵٦۱ کې علامه شامیؒ دغه خبره خوښه کړې ده کم چې دلته ذکرسوه. (فتاوی محمود یه ۲/۳۰۷)

﴿په جُمعه او اخترونوکې سُجده سهوه کول﴾

﴿سوال﴾: که چیرې په جُمعه یااخترکې کم واجب ځنې هیرسي اویاځنې پاته سي نو امام به بیاسُجده سهوکوی اوکه نه؟

﴿جواب﴾: که چیرې مجمع کمه وی اومقتدیان ټول پوه سي چې امام

سُجده سهوه وکړه بیاخودی سُجده سهوه وکړی، اوکه چیرې مجمع زیاته وی اومقتدیانوته داحال نه معلومیږی چې دادځه لپاره داسي وسواودوی دا خیال کوی چې لمونځ ختم سوی. نوبیادی سُجده سهوه نکوی. (فتاوی محمودیه ۲/۳۰۸ بحواله طحطاوی ص: ۲۵۳)

﴿په اخترونوکې به دُعاڅه وخت کوی﴾

﴿سوال﴾: په اخترونوکې امام دُعاڅه وخت وکړی دلمانځه وروسته اویاد خطبې وروسته؟

﴿جواب﴾: په اخترونوکې دی دُعادنورولمنځوپه رقم دلمانځه وروسته دی دُعاوکړی. دخطبې وروسته ددُعاکولومُستحب والی دهیڅ یوه روایت څخه ثابت سوی نه دی. اوداخترود لمنځوڅخه وروسته دُعاکول هم دهغه احادیثوڅخه ثابت سوی دی کم چې دنورولمنځووروسته ددُعاکولوپه باره کې ثابت دی. اودلمانځه وروسته دُعاقبلیږی. په حِصن حُصین کې هغه احادیث ذکرسوی دی اوزموږ نیږداکابروهم دغه معمول دی. (فتاوی دار العلوم ۵/۲۲۹ بحواله ردالمختار ۱/۴۹۵)

﴿دنقش اونګارپرمصلٰی باندی لمونځ ورکول﴾

پرمصلوباندی چې کم دکعبې شریفې اودنورونقشونه سوی وی ځکه هغه اصلي نه وی. بلکه دادهغه یومصنوعی نقشه وی. له دې جهته ددې

احترام لازمی نه دی.او دمسلمانانو په زړونو کی ددی عظمت موجود وی.د
دی دسپکو الی خیال ددوی په ذهن کی هم نه را ځی.ددی لپاره که چیری نا
پامه پښه پر کښیښوول سی نو ګناه نسته.او بهتره خبره داده چی پرداسی
مصلیٰ باندی دی لمونځ نه کوی دکم څخه چی په لمانځه کی پرخشوع او
خضوع باندی اثر لویږی.او دلمانځه روح خشوع او خضوع ده.او ددی
څخه بغیر لمونځ بی روحه دی.دلمونځ کونکی ومخ ته چی نقش او نګاروی نو
بیا د هغه توجه او پام هغه خواته اوړی.

آنحضرت مُحمدﷺ دبی بی عائشتی رضی الله تعالیٰ عنها پر دروازه
باندی بنائسته پَرْدَه ولیدل وفرمایل چی دالیری کړه ددی داګلان زما په
لمانځه کی خلل راولی.(صحیح بخاری شریف جلد: ۱ صفحه: ۵۴)

نبی کریم ﷺ کل داره پتهوهم دخان لپاره نه ؤ خوښ کړی او دائی
وفرمایل چی داپتهوما په لمانځه کی غافله وی.(صحیح مسلم ۱/۲۰۸)

ددی حدیث شریف په باره کی امام نوویؒ فرمائی چی دمسجد د
محراب او دقبلی خوا ددیوال نقش و نګار په دی وجه مکروه دی چی دا
شیان دلمونځ کونکی خیالات او توجه وخپلی خواته اړه وی.او نبی کریم
ﷺ دګلانو دپتهو دلیری کولو علت هم دابښوولی ؤ چی ددی نقش او
نګار زما توجه په لمانځه کی واړول.(نوویؒ شرح مسلم)فتاوی رحیمیه ۶/۲۷۴)

دکعبی شریفی دعکس لرونکی مصلیٰ باندی لمونځ کولو کی څه شر
عی ممانعت نسته.او ددی عکسو څخه دکعبی شریفی په تعظیم کی هیڅ فرق
نه راځی.(فتاویٰ محمودیه ۱/۱۱۱)

﴿امام پر چوکی باندی او مقتدی پر فرش باندی﴾

﴿سوال﴾: په ګرمی او باران کی دلړمانو او دمارانو له بیری که چیری د
ماخوستن او دسهار لمونځ امام صاحب دمسجد پر فرش باندی پر چوکی باندی
لمونځ ور کړی او مقتدیان پر فرش باندی وی نو ددی څه حکم دی؟
﴿جواب﴾: که چیری هغه چوکی دذراع (لاس قدر ۲۴ سینتی میټر) په
اندازه لوړه وه نو بیا مکروه ده که نه بیا جائز دی.په هر حال دا کار نه کول بهتر
دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۳۴۳ بحواله ردالمختار باب مایفسد الصلوٰة ۱/۴۰۲)

﴿امام پر فرش باندی او مقتدی پر مصلیٰ باندی﴾

که چیری ترامام لاندی جائی نمازؤ او دمقتدیانو لاندی نه وی.یا بر
عکس وی نو بیا په دواړو صورتو کی لمونځ صحیح کیږی.(فتاویٰ دارالعلوم ۴/
۱۱۱) داله دی وجهی چی ددی څخه هیڅ خرابی نه پیدا کیږی.صرف دادی
چی ځای به پاک وی.هغه که هلته فرش او اروی او که نه .(حاشیه فتاویٰ
دارالعلوم دیوبند ۴/۱۱۱)

داامام دمسجدپه منځنی منزل کی دریدل

سوال: یو مسجددری منزله دی،دمابین په منزل کی امام ولا ړدی ،اوپه لاندی منزل کی اوپه لو ړمنزل کی مقتدیان دریږی،نو دلاندی مقتدیانولمونځ صحیح کیږی او که نه؟په ذکرسوی طریقه باندی لمونځ کول جائزدی او که نه؟

جواب: اقتداء صحیح کیږی لیکن امام بایدپه لاندنی منزل کی ودریږی پرپورتنی منزل باندی دی بی له ضرورته نه دریږی.او دادمسجدداصله وضعی ښخه او دامُت دتواترعمل خلاف خبره ده.(احسن الفتاوی ۳/۲۸۱)

دمسجدپه لو ړمنزل کی جماعت کول

دګرمی له وجهی دمسجدغولی(صحن) پرېښودل اوپـر بام باندی د ماخوستن لمونځاودتراویحوجُمُعه کول مکروه دی.

هو!که چیری یو سړی ته دمسجدپه غولی ځای نسی پیدااوهغه بام ته وخیژی لمونځ اداکی نوبیابلاکراهیته جائزدی.ولی داخومجبوری ده.

پـر کعبه شریفه باندی لو ړلمونځ کول (دبی ادبی اوبی عزتی له جهته) مکـروه دی.لیکن که چیری دتعمیراودرمت په وجه سره ختلی وی نوبیانه دی مکـروه.دارقم هرمسجدچی وی دهغه پربام باندی ختل مکروه دی.اود دی پر بناء باندی دامکروه دی.

دګرمی دسختوالی ښخه دی پـربـام باندی جمعه نه کوی.البته که په

مسجدکی ځای نه ؤونوبیاددی مجبوری په سبب دمسجدپربام باندی ختل مکروه نه دی.

په هرحال دګرمی تیزوالی ضرورت اومجبوری نه پیداکوی ولی چی ددی ښخه داکیږی چی مشقت زیا تیږی.اواجروثواب هم زیا تیږی.دی ته مجبوری نسوویلای.په فتاوی عالمګریه(۳۲۲/۵)کی راغلی دی چی دتولو مسجدوپـر باموباندی ختل مکروه دی.په دی وجه دسختی ګرمی په وجه د مسجدپربام باندی ختل او جُمُعه کول مکروه دی.هو!که چیری مسجد تنګ ؤواودلمونځ کونکولپاره ځای نه ؤونودضرورت په اساس باندی پرلو ړبام ختل مکروه نه دی.

په ګرمی کی دمسجدپه غولی باجماعت لمونځ کول بلاحرجه صحیح دی. که چیری غولی دمسجدپه حلقه کی نه وی دباندی وی اود مسجدبانی او ډلی نه وی نودډلی خلق دی سره متفق سی اودمسجددننه نیت دی وکړی (نو بیابه هغه ځای په مسجدکی داخل سی)اوپردی باندی د مسجدټول احکام جاری کیږی.(فتاوی رحیمیه ۳/ ۱۳بحواله کبیری ص: ۳۹۲اومجموعه فتاوی سعدیه ص: ۱۴۸)

که چیری پر مسجدباندی لو ړمستقل بام لرونکی منزل نه وی نوپه داسی حالت کی بی له ضرورته پرمسجدباندی لو ړختل او دلاندی منزل د

کرمی په سبب اویانورو وجوهاتو په سبب ولوړمنزل ته ختل او جماعت کول مکروه دی البته که په مسجد کی دننه ځای نه ؤ واو څه مقتدیان پربام باندی وخیږی نو بیا مکروه نه دی.(احسن الفتاوی ۳/۲۸۷)

﴿که په مسجد کی دامام څخه لاندی منزل خالی ؤو﴾

﴿**سوال**﴾:تر مسجد لاندی یو دوه منزله مکان دی دامام ددریلو ځای کلک نه دی بلکه کالی دی په دی کی څه حرج سته او که نه؟

﴿**جواب**﴾: که دامام ددریلو دځای څخه لاندی خالی وی نو بیا څه حرج نسته ددغه ځای کلک والی ضروری نه دی.(فتاوی دار العلوم ۳/۱۶۶)

﴿دامام دمحراب دمابین څخه وهغه خواته دریدل﴾

﴿**سوال**﴾: که امام دمحراب نیمائی خواپر یږدی او چپه یا راسته خواته ر دریږی اولمونځ ورکوی نودا څنگه دی؟ که ممبر په محراب کی دننه جوړ سوی وی لکه چی په اکثره مسجدو کی وی نو په دی صورت کی امام ته په کم ځای کی دریدل پکاردی؟

﴿**جواب**﴾:دمحراب څخه مطلب دادی چی امام دی دصف په عین مابین کی ودریږی.او داسُنت دی.نو که محراب په بنه صحیح تو که دصف په مابین کی وی نو بیا دمحراب عین مابین پر یښودل او دمحراب په چپه یا راسته خوا کی دریدل مکروه دی.خواه منبر په محراب کی دننه وی او که دباندی.خو په

هر حال کی به امام دمحراب په مابین کی دریږی.

په زیاتو مسجلو کی دالیدل سوی دی چی امام منبرپر یږدی دنور محراب په مابین کی ودریږی.داکارمکروه دی.ددی اصلاح لازمه ده.اود دی مسئلی خپرول ضروری دی.بلکه ددی څخه زیات کله چی مسجد جوړیږی هلته ددی اصلاح لازمی ده چی دمنبر ځای وراسته خواته پریږدی اودمسجد په عین مابین کی جوړ کړی چیری چی امام دریږی.اودهغه ځای څخه د مسجد فاصله چپه او راسته خوا دواړی سره برابری وی. (احسن الفتاوی ۳/ ۲۹۳ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۳۱)

﴿دامام په محراب کی دننه دریدل﴾

﴿**سوال**﴾دامام په محراب کی ددننه دریدلو څخه لمونځ مکروه کیږی او که نه؟

﴿**جواب**﴾:امام دی خپلی پښې دمحراب څخه دباندی ایږدی،بی له عُذره په محراب کی دننه پښې ایښوول مکروه تنزیهی دی.دکراهیت ئی دوی رجهی ویل سوی دی.

(۱)په محراب کی ددننه دریدلو څخه دامام حالت پر مقتدیانو باندی مشتبه کیږی.البته که اشتباه دمقتدیانو پر امام باندی نه راتله نو بیا نه دی مکروه.

(۲)داهل کتاب(نصارٰی)سره مشابهت راځی.په دی سبب دمقتدیانو پر امام

باندی داشتباه نه کیلوسره سره په محراب کی دننه دریدل مکروه تنزیهی دی. که چیری ئی قدم دباندی ؤونوبیا کراهیت نه را ځی.(احسن الفتاوی ۳/۲۱۱ بحواله ردالمختار ۱/۶۰۴)

﴿دلمونځ کونکو دډیروالی په وجه سره دامام په دروازه کی دریدل﴾

﴿سوال﴾: په روژه مبارکه کی دلمونځ کونکو زیاتوالی راغلی او دمسجدفرش کوچنی دی نو په دی سبب امام په دروازه کی ودریدی لمونځ ئی ورکړی نو آیا داجائزه او که نه؟

﴿جواب﴾: دامام په دروازه کی ددریدو شامی مکروه لیکلی دی. او دامام اعظم امام ابو حنیفه رحمه الله تعالیٰ علیه داقول ئی رانقل کړی دی. له دی جنه امام ته پکارده چی که چیری ضرورت په دروازه کی ددریدوراغلی دلمونځ کونکو دډیروالی په سبب نو بیادی قدم ددروازی څخه دباندی ایږدی او سجده دی په دننه خواکی کوی چی داکاربهتره دی. که نه نو دضرورت په وخت کی په دروازه کی ددریدو څخه لمونځ خو صحیح کیږی لیکن بایدخان ځنی وساتی. او داخبره بهتره خبره ده.(فتاوی دارالعلوم ۴/۱۲۹ بحواله ردالمختار ۱/۶۰۴)

﴿دځای دتنګوالی په سبب داما م په مابین کی دریدل﴾

﴿سوال﴾: درش په وجه سره دصفوبرابروالی نسی پاته نو امام او مقتدی یو ځای سره ودریږی یعنی دیو کوچنی مسجدتوسیع وسوه دکم چی دپخوانی مسجدصرف چپه خواراغله. او موجوده مسجدته عین مخامخ امام صاحب خپل چپه خواته دوه کسان ودرول او امامت ئی وکړی او دغه زوړ مسجدپه اوس وخت کی په خارجی ځای دمسجدزینو دختلو لاره ده په داسی صورت کی دجماعت څه حکم دی؟

﴿جواب﴾: بی له ضرورته داسی کول مکروه دی. مګردځای دتنګیدوله وجهی څخه بلاکراهیته جائزدی.(احسن الفتاوی ۳/۵۱۴)

امام بایدپه مابین کی ودریږی، ددواړخواؤڅخه دی مقتدیان برابر کړی هو! ویوه خواته دمقتدیانو دریدل دسُنت خلاف خبره ده. چی کله جماعت دریږی دواړو خواؤته مقتدیان برابروی. بیاچی وروسته څوک راغله او په لمانځه کی شریک سول هغوی هم بایدالحاظ وساتی چی حتی الوسع په دواړو خواؤ کی شریک سی. او دامام دحد څخه زیات په زوره ویل او یاډیر کرارویل دواړه دسُنت خلاف دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۴۷ بحواله ردالمختار ۱/۸۳)

﴿په کم مسجدکی چی محراب نه وی هلته به امام څرنګه دریږی﴾

﴿سوال﴾: په یوه مسجدکی دامام صاحب لپاره ددریدو هیڅ ځای هم نسته

امام صاحب دمقتدیانو څخه یوقدم ترمخه دریږی نیمی صف دده وچپه خواته اونیمی دده وراسته خواته اوپه مابین کی خالی ځای پاتـه سونو آیادالمونځ صحیح کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: چی کله مسجدډومره تنګ وی نوبیاداامام صاحب په مابین کی دریدل صحیح دی. لکه یومقتدی چې وی نوهغه خوراسته خواته ولاړ وی. اوداړقم ټوله خلق دی راسته اوچپه خواته دی ودریږی. (فتاوی محمودیه ۲/۸۶)

﴿دامام وچپه یاراسته خواته دریدل﴾

﴿سوال﴾: دمسجددتنګی پـه وجه دوه صفونه نشي کیدای نوپه دی وجه په امام پسی ځای خالي پریږدی اوخلق راستـه اوچپه خواته دریږی نوداسی لمونځ کیږی او که نه؟داسی: اول صف، مقتدی، امام ، مقتدی

﴿جواب﴾: دصف دډکولو اودخالی ځای ډکولوډیرزیات تاکیدراغلی دی. لـه دی امله دی دصف په مابین کی خالی ځای نه پریږدی که چیری عُذروی اوبل هیڅ صورت نه وی نوبیادی امام ډیرزیات مخ ته نه ځی بلکه دونی دی مخ تـه سی چی دامام پښې دمقتدیانو دپښو څخه مخ تـه وی. یعنی بجلکی.

(فتاوی محمودیه ۲/۲۴۳)

﴿دمقتدی په وینابانـدی دامام ومخ ته کیدل﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب دشرعی قواعد ومطابق دیوه مقتدی سره لمونځ

کاوی. ددوئم رکعت دختم کیدلو څخه دمخـه یوبـل مقتدی راغلی اوپـه جماعت کی ئی ځان شاملول غوښتل چونکه و اَوّل مقتدی ته دشاتګ موقع نـه وه لـه دی وجهـی دوئـم مقتدی وامام صاحب ته وویل چی ته یوقدم مخ ته سـه. امـام صـاحـب مـخ تـه سواوقرأت ئی هغسی جاری ؤواوبیائی لمونځ ختم کړی. "زید وائی چی دټولولمونځ فاسدسو. ولی چی مقتدی بایددوینا پر ځای په لاس سره اشاره کړی وای" آیادلمانځه دراګرځولو ضرورت سته او که نه؟

﴿جواب﴾: پـه دی صـورت کی دبعضو فقهاؤ قول دی چی لمونځ ئی فاسد سو. مګر صحیح خبره داده چی لمونځ ئـی صحیح سو. لیکن په حقیقت کی خوداؤ چی امام صاحب بایدپه اشاره باندی مخ ته تللای ؤو. لیکن په هر حال کی لمونځ ئی وسو. دلمانځه دراګرځیدلوضرورت نسته. (فتاوی دارالعلوم ۴/ ۳۸ بحواله ردالمختارباب الامامت ۱/ ۵۳۳)

﴿که چیری داما م سره یوسړی ؤو﴾

﴿سوال﴾: که چیری دامام سره صرف یومقتدی لمونځ کوی اوبیادوئم راسی یادجماعت ټوله صف ډک سواوبیایوبل لمونځ کونکی راغلی نوددغه مخکینی صف څخه دمقتدی راایستل ضروری دی او که نه؟

﴿جواب﴾: کـه چیری دامام سره یومقتدی ؤواوبیادوئم راسئ نو ښه خبره داده چی اول مقتدی شاته سی اودوا ړه دامام وشاته ودریږی اوپه دی کی نی

داشرط لیکلی دی چی که چیری دمقتدی دلما نځه دفاسدیدلوبیره نه وه نوبیا
دی هغه شاپوری وهل سی که چیری بیره وه نوبیادی داسی نه کوی.ددی
شخه دامعلو مه سوه چی وشاته کولوضرورت هغه وخت دی چی کله دا
معلومه وی چی هغه (مقتدی)شاته څی اوده ته دامسئله معلومه ده.

اودارقم پـه صف کـی دیوازی دریـدوحـکم دادی چی که چیری د
صف شخه یوسړی دهغه وشاته کیدوسره بی تکلفه شاته سی نوبیادی داسی
وکړی اوکه نه ؤنوبیادی داسی نه کوی اویوازی دی ودریږی.ددی تفصیل
په شامی کی موجود دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۵۸ بحواله ردالمختار ۱/۵۳۱)
(مطلب دادی چی که چیری وشاته دراتګ ځای وی نوبیاخودی مقتدی
شاته راسی اوکه چیری وشاته دتلوځای نه وی نوبیادی امام مخ ته سی اوکه چیری
داسی هم نسوکیدای نوبیادی دوئیم مقتدی دامام وچپه خواته ودریږی لږدی وشا
ته ودریږی لکه څرنګه چی اول مقتدی ولاړ دی)

﴿که یوازی ښځه یاکوچنی وی نوبیابه امام چیری دریږی﴾

﴿سوال﴾: زیدپـه خپل کـورپـه جماعت باندی لمونځ ورکـوی، که چیری
مقتدی یوازی یونابالغ هلک یایوه ښځه وی یاکوچنی او ښځه دواړه اقتداء
وکړی نو دابه چیری دریږی؟دمحرم اودغیرمحرم په مابین کی څه فرق سته
اوکه نه؟

﴿جواب﴾: کوچنی دی دامام وراسته خواته ودریږی اوښځه دی دامام وشا
خواته ودریږی.ښځه محرمه وی اوکه غیرمحرمه ددوی دواړو یو حکم دی.
(احسن الفتاوی ۳/۲۹۹ بحواله ردالمختار ۱/۵۳۰)

﴿مقتدی یوسړی یایو کوچنی وی نوڅنګه به دریږی﴾

﴿سوال﴾: پـه مسجدکی دجُمُعی په وخت کی دامام شخه ماسوی یو سړی اویو
نابالغ هلک ؤنوددوئ صف جوړول به څرنګه کیږی؟

﴿جواب﴾: سړی اونـابـالـغ کـوچنی دی دواړه یو ځای سره ودریږی.(احسن
الفتاوی ۳/۳۰۰ بحواله ردالمختار ۱/۵۳۴)

﴿داقتداء شرعی حدود﴾

﴿سوال﴾: داقتـداء لپاره شرعی حدود څه مقررسوی دی؟په لاندی صورتو
کی کم یوجائز او ناجائز دی؟

(۱)امام پرلوړځای باندی دی اومقتدی لاندی دی.خواه هغه راسته خواته وی
اوکه چپه خواته یاوشاخواته.اوبیاپه دی کی دوه صورتونه دی یوداچی وامام ته
نژدی وی هغـه که دیوال ئی په مابین کی وی اوکه نه.اودوئیم صورت ئی دا
دی چی دامام شخه لری وی هغه که ددوئ په مابین کی دیوال یابل شی پرده
وی اوکه نه.

(۲)امام لاندی دی اومقتدی لوړدی ددی هم لوړذکرسوی څلورصورتونه

دی.

(۳)په افریقه کی دزیاتومکاناتولاندی حصه فرش دلر کی وی او ددی ځخه لاندی ترمځکی پوری دانسان دقدپه اندازه باندی ځای خالي وی.په داسی صورتو کی دجماعت خانی ځخه لاندی په خالی ځای مقتدیان دریدلای سی او که نه؟

(۴)دمسجدسره متصل اوسیدونکی یالری اُوسیدونکی لیکن داسی چی تکبیرات انتقال کیدلای سی داسی سری په خپل مکان کی قتداء کولای سی او که نه؟

جواب: (۱)او(۲)که چیری امام یوازی پرلو ړځای بـاندی ؤونوبیامکروه دی اوکه چیری دامام سره نورمقتدیان هم ؤونوبیاپه یوه حالت کی هم کراهیت نه راځی.لری اونژدی چی کله صفونه سره متصل وی دواړه صورتونه صحیح دی.(۳)په دی که هم هغه جواب دی چی که چیری دامام سره څه مقتدیان وی نوبیاپه لاندی حصه کی ودریږی نوبیااقتداء صحیح ده. (۴)په خپل کورکی د مسجدپه امام پسی اقتداء نسی کیدای.خو که د مقتدیانو صفونه دومره رااوږده سی چی دده دکوره سره یو ځای سی نوهغه وخت بیاپه خپل کورکی دمسجدپه امام پسی اقتداء کول جائزه ده.(فتاوی دارالعلوم ۳/۳۵۶)

دمقتدی دامام څخه دمخ کیدو حکم

سوال: په مسجدکی دجُمعی په وخت کی ددوئیم چت څخه لمونځ کزاره دامام څخه ترمخه سوه(یعنی پښې ئی تیری سوی)نوددوئ لمونځ فاسدسواو که نه؟

جواب: که دمقتدی پونده دامام دپوندی څخه مخکی سوه نودده لمونځ نه کیږی او که ئی پونده ورسره برابره سوه نوبیائی لمونځ صحیح دی. که څه هم دمقتدی کوتی دامام دګوتو څخه مخکی وی.

البته که دمقتدی او دامام دپښو په مابین کی دومره فرق ؤوچی ددواړو پوندودبرابروالی باوجوددمقتدی د پښې زیاته خوادامام د پښې څخه مخکی ولاړه نولمونځ ئی نه کیږی.(احسن الفتاوی ۳/۲۹۸بحواله ردالمختار ۱/۵۳۴)

دلمانځه وختونه به څوک ټاکی

نبه خبره خوداده چی دامام او دمقتدیانوپه متفقه رایه سره دشریعت مطابق وخت و ټاکل سی. که مقتدی نه په پوهیږی اوپه شرعی وخت نه پوهیږی نوبیادی امام وخت ټاکی. اواعلان دی وکړی اوټول دی ددی پابندی کوی (فتاوی محمودیه ۷/۲۸)

دتیاکلي وخت څخه مخکي لمونځ ورکول

که دلمانځه وخت لاپوره داخل سوی نه وی نولمو نځ کول یالمونځ ورکول ناجائز دی. او که وخت پوره داخل سوی وی خودڅه عارض په وجه دوی ذری دقیقی له مخه لمونځ ورکړی اودجُمعي پابنده لمو نځ کونکی هم راغلی ؤونوپه دی کی څه مضائقه نسته. که دجمُعي پابنده لمو نځ گزاره نه ؤو راغلی نودتیاکلی وخته پوری دی انتظاروساتی. (فتاوٰی محمودیه ۷/۱۳۷)

آیاپر امام باندی دمعلوم سوی وخت اهتمام ضروری دی؟

عـموماًکله چی مسجلونوته امام صاحب دلمانځه پر صحیح وخت باندی نسی رانولمو نځ گزاره اعتراض کوی هغوی ته دوه دری دقیقی انتظار کول گران ښکاری. حالانکه دلمانځه لپاره انتظار کولوپه باره کی حدیث مبارک سته. اوداذان څخه وروسته په پوره وخت کی هر وخت دجُمعي کولواجازت سته اودوخت تعین صرف دآسانی لپاره دی چی لمو نځ کونکی په دغه وخت کی سره رایوځای سی. سوال دادی چی .....

(۱)دامام انتظار کول پکاردی که نه اوڅومره انتظاربه کوی؟

(۲)آیاپر امام باندی د گهړی(ساعت)دوخت پابندی چی دوه څلوردقیقی دی هم تأخیر کوی دشرعیت له مخه ضروری دی؟

(۳)کم امام چی اکثره وخت دوه یادری دقیقی ناوخته مسجدته راځی ا

جُمعه ورکوی هغه ته دکمی خبری احتیاط ضروری دی؟

(۴)کم لمونځ گزارچی په ناوخته کیلوپه مسجدکی شوراوشر کوی اوآواز لوړه وی دهغه څه حکم دی؟

(۵)دنبی کریم صلی اللہ علیه وسلم په زمانه کی اوپه قرون اُولیٰ کی به څنگه عمل کیدی؟

(۶)فقهاؤ کرامو په دی مسئله کی څه تفصیل بیان کړی دی؟

﴿جواب﴾:دحضوراکرم صلی اللہ علیه وسلم په زمانه کی اوپه قرون اُولیٰ کی اودغه رقم دفقاؤحضراتو رحمهم اللہ تعالیٰ په زمانه کی نه دُنیاوی مصروفیات زیات ؤواونه گهړی(ساعت)ؤو. په دی وجه دجَمعي به دا اُصول ؤوچی کله به وخت داخل سونواذان به ئی وکړی اوبیابه لمو نځ گزاره سره راټول سوه اوجَمُعه به وسوه.

په دی زمانه کی یوی خواته دخلقوپه دُنیاوی مشاغلو کی مصروفیت، انهماک اوبلی خواته ددین څخه دغفلت اودلاپرواهی له مخه دآسانتیا څخه استفاده کول ضروری سوی دی. نوپه دی وجه دنن صبادحالاتو له مخه په گهړی(ساعت)دوخت معلومول اودامام لپاره دمعلوم وخت پابندی ضروری ده. دحضوراکرم صلی اللہ علیه وسلم اودصحابه کرامو رضی اللہ عنہم په زمانه کی به ئی د خلقواجتماع ته کتل. اوس چونکه دگهړی(ساعت)په برابرباندی خلق سره را

يو خاى كيږى.نوپه دى وجه داامرهم ددى مقتضى دى چى په معلوم وخت كى دى نه ناوخته كوى.ددى څخه علاوه په قرون اُولىٰ كى ائمه كرامو(پر لمانځه باندى دخلقو څخه)تنخواه نه اخيستل.او داُوس زمانى امام خوتنخواه دارملازم دى په دى وجه هم پرده باندى دوخت پابندى كول لازمى دى.البته ولمونځ كونكوته دلاندى اُمورو خيال ساتل ضرورى دى.

(١) كه چيرى كله دبشريت دتقاضاء په مطابق امام يو دوه درى دقيقى وځنډيږى نودبى صبرى اودشورشرپر ځاى دى دصبراوتحمل څخه كارواخلى.او دغه ځنډدى پريوه عُذرباندى حمل سى.اوپرامام باندى دى زبان درازى او لعن طعن نه وائى.

(٢) كه امام هميشه په ناوخته راتګ باندى عادت وى نوپكارده چى بنه په نرمه ئى پوه كړى.

(٣)دپوهولوسره سره ئى كه چيرى خپل داعادت نه كړى بدل نوانتظاميه دغه امام بدلولاى سى خوپه دى صورت كى هم امام ته بدكلامى اودده غيبت كول هيڅكله جائزنه دى.

كه امام په صحيح وخت باندى تيارسى اومسجدته راسى نوپه دى كى څه مضائقه نسته. كه دوخت دمخه څوک مسجدته راسى نولمونځ نه پر مكروه كيږى.البته چى آذان واورى نوپكارده چى دلمانځه تيارى شروع كړى

چى په عين وخت مقتديان انتظارنه وكړى.(فتاوىٰ محمودیه ٢/١ ٩)

﴿دلمانځه په شروع كولو كى امام دمتولى پابنده نه دى﴾

دلمانځه وختونه دشريعت لخوامقررسوى دى خوپه دى كى وسعت سته نوپه داسى وخت دى لمونځ وكړى چى هغه دشريعت په نيزمستحب وى. اودجَمُعِى پابندلمونځ كونكى هم اكثره پردغه وخت باندى راځى. كه متولى دجَمُعى په شروع كولو كى ددى رعايت ساتى نوپه دى كى څه مضائقه نسته كه ددى رعايت نه ساتى بلكه په خپل راتګ ئى موقوف ساتى هغه كه وخت مستحب وى اوكه نه وى كه دجَمُعى اكثره خلق راغلى وى او كه نه بلكه كله چى دى(متولى)په خپله راغلى نولمونځ فوراًشروع كړى اوترڅو چى دى په خپله نه وى راغلى نوامام دده لپاره انتظاركوى اګركه مستحب وخت وزى او په مكروه كى داخل سى اوياتراوسه لامستحب وخت نه وى داخل سوى.نوپه داسى حالت كى ددى رعايت ساتل شرعاًنه خو بنوُل كيږى اوامام ته دده اتباع هم نه ده پكار.په لمانځه شروع كولو كى امام مستقل دى دادمتولى يادبل چا تابع نه دى بلكه ټول خلق دامام تابع دى بياهم امام ته داسى رويه نه دى اختيارول پكارچى ټولومقتديانوته تكليف وى.(فتاوىٰ محمودیه ٧/٦٢ ١)

﴿دامام دیوه سړی لپاره دجُمعی ځنډول﴾

﴿سوال﴾: اکثره جاهلان متولیان په عالم امام باندی حکمت کوی. مثلاًچی کله دلمانځه په مقرروخت باندی امام په لمانځه دشروع کولواراده وکړی نو متولی وائی چی امام صاحب لږ ودریږه فلانکی لاندی راغلی نو آیادا انتظار کول جائز دی او که نه؟

﴿جواب﴾: دلمونځ گزاروداجتماع څخه وروسته دچادرا تک دانتظاریه وجه په جُمعه کی تأخیر کول جائز نه دی. البته که یو شوک ډیرشریرانسان وی نو دهغه دشر څخه دځان ساتلو لپاره تأخیر کیدای سی. (احسن الفتاوی ۳/ ۳۰۶ بحواله ردالمحتار ۱/۴۶۲)

کم سړی چی متولی وی اودخپل ځان لپاره داسی تأکید کوی چی تأخیروسی نو هغه گنهگاره دی اودداسی خلقو انتظار کول هم نه دی صحیح. البته دعامو مسلمانانو انتظار کول صحیح دی په دی شرط چی وحاضروخلقو ته تکلیف نه وی او وخت هم مکروه نسی. مگر درئیسانو او دنیادارانو انتظاربه نه کوی. چی پر خپل وخت ټول خلق راسی اویااکثره خلق راسی نو لمونځ دی ور کړی. (فتاوی رشیدیه کامل ص:۲۸۷)

﴿آیادامام لپاره لنگوټه ضروری ده؟﴾

(۱) عمامه یالنگوټه مستحب ده

(۲) په لنگوټه کی لمونځ ورکول بطورعادت ثابت دی نه بطورعبادت

(۳) دلنگوټی سره لمونځ ورکول اولیٰ او مستحب دی

(۴) دلنگوټی بغیرلمونځ ورکول هم مکروه نه دی.

(۵) دنبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه بیله لنگوټی لمونځ ورکول ثابت دی.

(۶) دامرواجب په رقم معامله دمستحب امرسره ناجائز دی.

(۷) په کموښاروکی چی په معززو مجلسوکی بی لنگوټی تلل دشرم خبره وی هلته لمونځ هم بی لنگوټی ورکول مکروه دی.

(۸) کله کله دمستحبوپه مقابله کی په رخصت یعنی په مباح باندی هم عمل کول پکاردی خاص کرپه هغه ځای کی چی په مستحبوباندی زیات اصرار کیږی چی په هغه مندوب دکراهیت حدته رسیږی ددی په وجه په فساد اماده کیدل خوډیره دجهالت اودگناه خبره ده.

(فتاوی محمودیه ۷/۵۶)

دلنگوټی سره لمو نځ ورکول مستحب دی خو دلنگوټی څخه بغیر هم دغه کراهیت بغیرصحیح دی، البته په کم ځای کی چی دلنگوټی دومره رواج وی چی بغیرد لنگوټی څخه ویوه معززه مجلس ته نه ځی بلکه دخپل کورڅخه هم بغیرد لنگوټی نه وزی نو په داسی ځای کی د لنگوټی بغیر لمونځ ورکول او لمونځ کول مکروه دی. (فتاوی رحیمیه ۴/۳۵۷)

په دستمال کی لمونځ ورکول

سوال: که داسی دستمال وتړی چی دسرمابین کی ښکاره کیږی او جُنډه کی ورکوی نو لمونځ ئی کیږی او که نه؟

جواب: خولی په سر کول پکار دی. دلما نځه په وخت کی داسی دستمال پرسرباندی پیچل مکروه او منع دی. په فتاوی قاضی خان کتاب کی راغلی دی چی پرسرباندی داسی دستمال پیچل چی دسرمابین ئی ښکاره وی نو دامکروه دی. (فتاوی رحیمیه ۱/۱۸۵ بحواله قاضی خان ۱/۵۷)

دلُنګوټی او دشملی اوږدوالی

سوال: څومره اُوږده لنګوټه تړل سُنت دی او ددی څومره وروسته پر ینبوول سُنت دی. که شمله دنری مُلاپوری څوک اُوږده کړی نو په لمانځه کی ئی نقصان راځی او که نه؟ یو سړی وائی چی که ئی شمله دپاؤ بالایوی لویشتی څخه زیاته کړی نو لمونځ ئی مکروه تحریمی دی په دی باره کی شرعی حکم څه دی؟

جواب: په دُرِمُختارنامی کتاب کی راغلی دی چی دلُنګوټی دشملی پریښوول مُستحب دی او دملادمابین پوری دشملی اُوږدوالی مُستحب دی. او بعضی وائی چی دادی یو لویشت وی او پاته سو ددغه سړی ویناچی وائی چی شمله دی دپاؤ بالایوی لویشتی څخه زیاته نه وی کنی لمونځ به ئی مکروه

تحریمی وی نو داخبره بالکل غلطه ده. دمُلاتر مابینه پوری یا یوه لویشت شمله دمستحب اُمورو څخه ده. ددی څخه خلاف کول مکروه تحریمی نه دی او په لمانځه کی څه کراهیت نه راځی. دشملی په باره کی په دُرمختار کی یو قول داسی هم دی چی دنری مُلا څخه بیاتر لاندی پوری دشملی اُوږدوالی مستحب دی ددی څخه دامعلومه سوه چی دمُلاتر پایه هم دشملی اُوږدوالی مکروه نه دی. د لنګوالی په رقم د لُنګوټی داُوږدوالی شرعاً هم څه خاص حد نسته. دنبی کریم ﷺ لُنګوټه به کله لس لاسه وه او کله به اوه لاسه وه. او نورو خلقو ته نبی کریم صلی الله علیه وسلم هیڅری دمعلوم اُوږدوالی حکم نه دی فرمائیلی. نو چی څومره اُوږده لُنګوټه وی او دڅومره لُنګوټی تړلو عادت چی ئی وی نو تړی دی هیڅ وهم دی نه کوی. (فتاوی دارالعلوم ۴/۱۳۸ بحواله بحرالرائق ۲/۲۷)

پر امام باندی دمقتدیانو رعایت

سوال: یو امام چی کله قرأت ختم کړی او رکوع ته ولاړ سی نو دالله اکبر لفظ ډُومره اُوږد ووائی چی اکثره لمونځ ګزاره ددی څخه مخکښې رکوع ته ځی. نو آیا په داسی صورت کی دمقتدیانو درعایت لپاره معمولی قرأت او دومره وخت نه اخیستل پر امام باندی واجب دی او که نه؟

جواب: بی له شکه دمقتدیانو رعایت په داسی موقع امام ته مناسب دی

او تکبیردی ډیرنه اُو ږده وی بلکه مختصردی وکړی چی دمقتدیانوتکبیر مخکښې ختم نسی. اومقتدیانوته پکاردی چی لږوروسته تکبیرشروع کړی چی دامام څخه مخکښې نسی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۹۳بحواله مشکوة شریف ص:۱۰۱)

﴿دامام لپاره دتسبیحاتو تعداد﴾

چی سړی یوازی لمونځ کوی نوهغه ته اجازه سته چی که دری واره تسبیحات وائی که پنځه واره وائی اوکه اُوه واره وائی اوکه زیات وائی چی څومره ئی طاقت وی.البته امام دی ډیرتسبیحات نه وائی بلکه ددی لحاظ دی وساتی چی مقتدیان په آرام سره دری واره تسبیحات ووائی اوپوره ئی کړی.(احسن الفتاوی ۳/ ۲۹۶بحواله ردالمختار ۱/۴۶۲)

مستحب دادی چی امام دی تسبیحات پنځه واره ووائي اوکه ئی دری واره ووائی نوداسی دی ووائی چی مقتدیانوته ددری واره ویلوموقع په لاس ورسی.(فتاوی رحیمیه ۴/۳۷۱)

﴿امام صاحب به دسُنت کونکوانتظارکوی اوکه نه؟﴾

﴿سوال﴾:دماپښین لمونځ پردوی بجی کیږی دووبجوته دری دقیقی پاته دی یوسړی راغلی اودسُنتونیت ئی وتړی په دریم رکعت کی دوی بجی پوره سوی نوامام صاحب ته ددومره تأخیراجازت سته اوکه نه،چی دغه سړی ...نې دغه خلوررکعته پوره کړی؟

﴿جواب﴾:هو!دومره اجازت ورته سته(فتاوی دارالعلوم ۳/۷۰بحواله فتاوی عالمکیری ۱/۵۳)

﴿که مقتدیان رانسی نوامام یوازی لمونځ کولی سی اوکه نه؟﴾

﴿سوال﴾:یومسجدلری دی نوپه دی وجه اکثره جُمعه نه کیږی،کم امام چی هلته مقرردی که هغه دمقتدیانوپه نه راتګ یوازی لمونځ وکړی نودترک جماعت (دجُمعی دپریښوولو) ګناه خوبه نه وی باندی؟

﴿جواب﴾:په دی صورت کی دجُمعی دپریښوولو ګناه پرامام صاحب باندی نسته بلکه چی کله نور څوک رانسی نوامام دی اذان اواقامت وکړی اوبیادی یوازی لمونځ وکړی په دی رقم به دته دجُمعِیُ ثواب هم ورکول سی اودمسجدحق به هم اداء سی(فتاوی دارالعلوم ۳/۵۳بحواله ردالمختار ۱/۶۱۷)

﴿دامام لپاره دیومعلوم سړی انتظارکول﴾

﴿سوال﴾: آیادیوه سړی په وجه په جُمعه کی تأخیرکول جائزدی خوچی مستقل امام موجودوی که دغه سړی نه راځی نودیوی بجی پرځای یوه نیمه بجه اودوی بجی لمونځ کیږی او دده درابللولپاره لپاره په مخه سړی لیږلی کیږی داکاردشریعت په نظرکی مذموم دی که ممنوح؟

﴿جواب﴾: که په معلوم وخت نورمقتدیان راسی نودیوخاص سړی انتظار کول جائزنه دی.خوکله چی په معلوم وخت کی ګنجائش وی اوپه قوم دګرانه هم نه وی یاداسړی شریراوفتنه پروازوی نوپه څه لږانتظارکولوکی څه

لړ انتظار کولو کی څه مضائقه نسته. که دی په دینی کارونو کی مصروف وسی نوده ته دلمانځه په اطلاع ورکولو کی څه پرواه نسته .(فتاوی محمودیه ۲/ ۲۲۳ بحواله طحطاوی ۱/ ۲۲۰)

امام که دیو دنیاداره اودرئیس انتظار کوی او دحاضرینو رعایت نه کوی نو امام او مکبر دواړه گنهګاره دی. خو لمونځ پسی کیږی.(فتاوی رشیدیه کامل ص:۲۲۸)

﴿دیوراتلونکی لپاره دقرأت یار کوع اوږدول﴾

﴿سوال﴾: که امام دراتلونکی لمو نځ ګزارپه وجه قرأت یارکوع اُو ږده کړی چی لمونځ ګزاریکښی شامل سی نودی به ګنهګاره وی او که نه؟

﴿جواب﴾: که امام صاحب یولمو نځ ګزاره وپیژنی اودهغه په خاطرئی قرأت یارکوع اُوږده کړه نو دا کار کول مکروه تحریمی دی. البته دپیژندلوبغیر که اُوږد والی وکړی نو بیاهیڅ پرواه نلری.(احسن الفتاوی ۳/ ۲۱۴)

﴿چی امام سلام ګرځوی په دی وخت کی په ده پسی اقتداء﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب لمونځ ختم کړی او چی اول سلام ئی ګرځاوی نولا ئی لفظ دسلام نه ؤوویلی چی یومقتدی پسی اقتداء وکړه نو دا اقتداء صحیح ده او که نه؟

﴿جواب﴾: دا اقتداء صحیح نه ده. دوئیم واردی تکبیر تحریمه ووائی او لمونځ دی شروع کړی.(فتاوی رحیمیه ۲/ ۲۰۵ بحواله شامی ۱/ ۳۳۶)

﴿دذاتی اختلاف په وجه سره دجماعت څخه پرهیز کول﴾

﴿سوال﴾: بعض خلق دذاتی اختلاف په وجه په امام صاحب پسی دجُمعی لمو نځ نه کوی او نورلمو نځ ګزارهم لمسوی چی زمو نږزړونه صفانه دی نوزمونږ لمنځونه هم نه کیږی نوددوئ داخبره صحیح ده او که نه؟

﴿جواب﴾: دامام سره زړه صفانه لرل اګرچه بددی لیکن لمونځ صحیح دی.(فتاوی محمودیه ۲/ ۸۲)

﴿دشرعی علت څخه ماسوی په امام پسی لمونځ نه کول﴾

دفقهی په کتابو کی ئی لیکلی دی چی که امام بی قصوره وی او خلق دهغه داقتداء څخه کراهت کوی نو ګناه په لمو نځ پریښوونکو باندی ده او که په امام کی قصوروی نو دِی امام ته دداسی خلقو امامت چه هغوی ځنی خو شحاله نه وی مکروه دی.(فتاوی دارالعلوم ۳/ ۷۷ بحواله ردالمختار ۱/ ۵۲۲ باب الامامت)

﴿امام او مقتدیانو ته کله دریدل پکاردی؟﴾

که امام مخکښې ومصلٰی ته نژدی وی نو کله چی تکبیرویونکی حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ووائی نو امام او مقتدیان دی ټول ودریږی او که امام صاحب دصفو لخوارا ځی نو چی کم صف ته امام صاحب راورسیږی نو دهغه صف مقتدیان دی ولاړسی تر داسی حال چی امام خپل ځای ته رسیږی نو ټول خلق

به دریدلی وی. که امام صاحب دمخامخ لخوارا ځی نوچی څنګه ئی په امام نظرو لګیږی نو ټول لمو نځ ګزاردی ودریږی. ومصلّٰی ته دامام درسیلودی انتظارنه کوی.

په اولنی صورت کی ئی په حیَّ عَلَی الصَّلاۃِ باندی ددریلولیکلی دی. نوددی مطلب دادی چی ددی وروسته دی نورنه کښېنې (مثلاً څوک اخته وی تسبیح وائی اودختمیلو څخه مخکښې تکبیرشروع سی نودی که ئی د مُکَبِّرْد حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ پوری درسیلومخکی پوره کړی نوپرواه نه کوی خو د دی څخه وروسته بیاناست وی) خو که هم داقامت په ابتداء کی راولاړ سی نوبیاهم څه پرواه نلری. (فتاوٰی محمودیه ۲/۱۸۱)

اصلـه خبره داده چی کم وخت مُکَبِّرْ حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ووائی هغه وخت دریدل پکاردی خوپه احادیثوشریفانو کی دصفونودسمولواودغه رقم په مابین کی د ځای دنـه پریښوولوډیرتـاکیدراغلی دی. اوعام طورخلق دمسائلو څخه ناآشنادی نوپه دی وجه دتکبیردشروع کیلو څخه مخکی دی صفونه سم سی چی تکبیرهم ټول په آرام سره واوری اودغه وخت څه ږغ هم نه وی. (فتاوٰی محمودیه ۲/۳۴۴)

﴿په امام پسی به نژدی کم خلق دریږی؟﴾

په امام پسی به اهل علم یعنی دعلم خاوندان اوداهل عقل یعنی دعقل

او پوهی خاوندان نژدی دریږی. دابنه خبره ده. خو که په امام پسی مُتصل نور لمونځ کونکی ودریدل نوددوی دلری کولوضرورت نسته. ولی چی لمونځ هررقم کیږی. (فتاوٰی دارالعلوم ۳/۳۵۷)

دفتاوٰی دارالعلوم دیوبندپه حاشیه کی لیکلی دی چی "په امام پسی د نژدی دریلوحق خو هم هغه چاته سته څوک چی اول راغلی وی څکه چی دامام په مابین کی ددریلوحکم دی اوبیاکه چیری صف پوره سی نوبل صف هم دامام څخه شروع کیږی". (فتاوٰی دارالعلوم ۳/۳۵۷)

خو که اهل علم ته ترنوروخلقوترجیح ور کړی اوپرخپل ځای ئی په امام پسی ودروی نوداسی کول هم صحیح دی بلکه مطلوب دی. (فتاوٰی دار العلوم ۳/۳۵۷بحواله ردالمختار ۱/۵۳۲باب جوازالایثاربالقرب)

هر کله چی یو سړی په امام پسی ودریږی نوبل لمو نځ کونکی اویا امام ته دااجازت نسته چی ددغه ځایه څخه دی لری کړی خو که دی په خپله په لیری کیلوباندی خوشحاله وی نوبیا څه نقصان نلری. (فتاوٰی محمودیه ۲/۱۹۲بحواله طحطاوی ص: ۳۰۴)

﴿په امام پسی نژدی دمؤذن ځای معلومول﴾

په مسجد کی دهیچاپاره دځای معلومول روانه دی. که مؤذن دامام سره نژدی دریدل غواړی نودنورولمونځ ګزاروڅخه دی دمخه راځی. کنی

چی کم ځای ورته پیداسی هلته دی اقامت و کړی. داقامت لپاره اول صف یا په امام پسی مُبتنی څه قیدنسته.(احسن الفتاوی ۳/۹۵)

﴿دامام دتکبیرپه وخت پرمصلٰی باندی دریدل﴾

داضروری نه ده چی کله امام په مصلٰی باندی ودریږی نومؤذن دی تکبیرووائی بلکه چی کله امام په مسجدکی موجودوی نوتکبیرویل صحیح دی.امام چی تکبیرواوری نوپه خپله دی مُصلٰی ته راسی.لکه څنګه چی دُرِمُختاردوی عبارت څخه ښکاره کیږی چی وائی:"وَيَقُوْمُ الْاِمَامُ وَالْمُؤْتَمُ حِيْنَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اِذَاكَانَ الْاِمَامُ يَقْرُبُ الْمِحْرَابَ وَاِلَّافَيَقُوْمُ كُلُّ صَفٍّ يَنْتَهِيْ اِلَيْهِ الْاِمَامُ عَلَى الْاَظْهَرِ الخ".(فتاوی دارالعلوم ۲/۱۱۲بحواله ردالمختار ۱/۴۴۷)

﴿دتکبیرڅخه وروسته دامام تر ډیره ساعته دنیت ترلو لپاره پاته کیدل﴾

﴿سوال﴾:یوسړی دماپښین دسُنتونیت وتړی صرف دوه رکعته ئی کړی وُ چی تکبیروسوترکمه وخته چی ددی سړی څلورر کعته پوره کیدل ترهغو پوری لاامام مصلٰی ته نه ؤورغلی کله چی ده څلورر کعته پوره کړه نوامام صاحب مصلٰی ته راورسیدی اوداولنی تکبیرسره ئی لمو نځ اداکړی.دالمونځ

وسواو که نه؟

﴿جواب﴾:په دی صورت کی لمونځ وسواودتکبیرداعادی یارا کرځولو ضرورت نسته.(فتاوی دارالعلوم ۴/۱۶۳بحواله ردالمختار ۱/۳باب الاذان)

﴿که امام بغیرد تکبیر څخه جُمعه شروع کړه نو څه حکم به ئی وی؟﴾

﴿سوال﴾:امام صاحب پرمُصلٰی باندی ودریدی اومقتدیانوته ئی دتکبیرلپاره وویل په تکبیرکی په څه وجه تأخیرراغلی امام دتکبیرپه اندازه تأخیرو کړی او دکونړوالی په وجه ئی وانه وریدی اونیت ئی وتړی نوپه لمانځه کی یادجُمعی په ثواب کی خوبه څه حرج نه راځی؟

﴿جواب﴾:په دی صورت کی لمونځ وسواودجُمعی ثواب هم ورته ور کول کیږی اواقامت چی سُنت دی پاته سوخودنه اوریلوپه سبب داسی وسو نوپه دی وجه پرده باندی څه ګناه نسته.(فتاوی دارالعلوم ۲/۹۲بحواله عالمګیری ۱/۵۰باب الاذان)

﴿امام لنګوټه ترله اواقامت وسونوددی څه حکم دی؟﴾

﴿سوال﴾:امام پرمُصلٰی باندی ولا ړؤولنګوټه یادستمال ئی تړی مؤذن تکبیر ختم کړی امام وویل چی بیاتکبیروولیه نوددوئیم وارلپاره دتکبیرضرورت ؤؤ؟

وخت لمونځ چې وی دهغه تصوردی وکړی.

وَكَفٰى مُطْلَقُ نِيَّةِ الصَّلٰوةِ لِنَفْلٍ وَسُنَّةٍ وَتَرَاوِيحَ وَلَابُدَّمِنَ التَّعْيِيْنِ عِنْدَالنِّيَّةِ لِفَرْضٍ وَلَوْقَضَاءً وَوَاجِبٍ دُوْنَ عَدَدِرَكَعَاتِهٖ وَيَنْوِى الْمُقْتَدِى الْمُتَابَعَةَ. (تنویرالابصار)

امام ته دامامت نیت کول ضروری نه دی خوکه یوازی سړی پسی نیت تړی نودهغه دامامت نیت کول پکاردی.چې هغه ته دامامت ثواب حاصل سی البته مقتدی ته داقتداء نیت کول ضروری دی.(فتاوٰی رحیمیه ۱/۱٦۷ بحواله رد المختارمع شامی ۱/۳۹۴)

﴿دلمانځه نیت په کمه ژبه کی ضروری دی؟﴾

نیت دزړه ارادی ته وائی په ژبه ئی ویناته ضرورت نسته.اوکه ئی ووائی نوښه خبره ده.اوکه په هره ژبه هغه که پښتو،فارسی،اُردو،انګلش اونور داسی ژبی چی وی ووائی نو هیڅ حرج نسته.(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۱۴۹ بحواله عالمګیری ۱/٦۱ طبع مصری)

﴿امام ته دمقتدی ښځی نیت کول﴾

که ښځه دسړی سره یورقم نه وی ولاړه نوامام ته ددی دامامت د نیت کولوضرورت نسته.(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۱۴۹ بحواله ردالمختار ۱/۳۹۴ باب فی النیة)

دحنفیانوپه نیزدلمانځه دصحت لپاره دامام دامامت نیت کول په

﴿جواب﴾:په دی صورت کی ددوئیم وارلپاره تکبیرضروری نه ؤو.(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۱٦۱ بحواله ردالمختار ۱/۳۷۱ تا ۳۷۲ باب الاذان)

﴿دامام دقَدْقَامَتِ الصَّلٰوة سره دلاسونودتړلو حکم﴾

﴿سوال﴾:که چیری یوامام مؤذن ویوره تکبیرلوته نه پریږدی اوهمیشه پرقدقامت الصلٰوة باندی نیت تړی نوڅنګه دی؟

﴿جواب﴾:ښه خبره داده چی دتکبیردختم کیدلو څخه وروسته نیت وتړی اوکه پرقَدْقَامَتِ الصَّلٰوةِ باندی نیت وکړی نوداهم جائزاورروا دی.خو اولی صورت اولٰی دی.(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۱۱۳)

اصح اومعتدل مذهب دادی چی تر څوتکبیرخلاص سوی نه وی تر هغوپوری دی امام لمونځ نه شروع کوی ځکه چی په دی صورت کی به د ټول تکبیرجواب به ټول خلق ورکړی اودامستحب اومسنون دی.

په حدیث شریف کی راغلی دی چی کم وخت مُکبرقَدْقَامَتِ الصَّلٰوة وویل نو حضورﷺ به اَقَامَهَااللّٰهُ وَاَدَامَهَاوویل .(فتاوٰی دارالعلوم ۲/ ۲۱۳ بحواله حدیث ابوداؤدومشکوة باب الامامت)

﴿امام به څنګه نیت کوی﴾

داسی نیت به کوی (۱)زه خالص دالله لپاره لمونځ کم(۲)فرض [illegible]وم (که واجب اویانورلمونځ وی نوردهغه خیال دی ساتی)(۳)دکم

داسي حال کي شرط دی کله چي امام و ښځوته امامت ور کوی. که امام د ښځو دامامت نيت نه و کړی نو دښځولمونځ فاسدسو. البته دامام لمونځ به صحيح وی (کتاب الفقه ١/٦٦٦)

حنفيان وائی چي دامامت نيت صرف په يوه صورت کي لازم راځي کله چي يو سړی دښځو امامت کوی چي په محاذاتو يعني ښځودسړوسره د برابر دريلو په مسئله کي خرابی پيدانه سی. (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ١/٣٤٦)

﴿دژبی اودزړه دنيت په مابين کي داختلاف حکم﴾

(نيت ارادی ته وائی) نيت صرف په اراده کيږی په ژبه دالفاظو دويلو ضرورت نسته بلکه که په ژبه دقلبی نيت څخه خلاف هم وسی نولمونځ به صحيح وی. دزړه دنيت ادنی درجه داده چي دچاپه پوښتلو ورته سملستی وويل سی چي څه ويل غواړی. په قلبی نيت کي دسُنت اودتراويحو اونورو هيڅ رقم دمعلوملو ضرورت نسته مطلق دلمانځه نيت کافي دی. البته په فرضواوواجبو کي صرف دومره معلومول ضروری دی چي دادماپښين فرض دی او که دماز يګر. اوپه واجبو کي داچي داوِتر دی او که نذر. اوپه دی کي د ورځواود رکعتونو د تعداد دنيت ضرورت نسته. بلکه په دی کي هم دقلبی نيت غلطي نقصاني نه ده. که د لمانځه څخه دمخه په ژبه اوزړه کي اختلاف پيداسی نودزړه نيت ته اعتبارور کول کيږی دژبی غلطي اعتبارنلری. او که د

لمانځه دشروع کيلو څخه وروسته په زړه کي نيت بدل کړی نودااعتبار نلری. (احسن الفتاوی ٣/١٦-١٧ بحواله دُر مختار /٣٩٠)

﴿دتکبيرتحريمه څخه وروسته نيت و کړی لمونځ ئی نه صحيح کيږی﴾

﴿**سوال**﴾: زيدتکبيرتحريمه ووائی اولاس ئی پرنامه و تړل اوبيائی په ژبه پوره نيت ووائی او اعوذبالله، بسم الله، اوفاتحه اوقرأت ئی ووائی او لمونځ ئی پوره کړی نولمونځ ئی وسواو که نه؟

﴿**جواب**﴾: دتکبيرتحريمه دختميلو څخه مخکښي نيت ضروری دی په دی وجه دزيدلمونځ نه وسو. او که دتکبيرتحريمه دختميلو څخه ئی دمخه په زړه کي نيت کړی ؤ نواګرچه دقلبی نيت په وجه دلمونځ ابتداء صحيح سوه خو بيا وروسته دنيت دالفاظو دويناپه وجه لمونځ فاسدسو. (احسن الفتاوی ٣/ ١٣ بحواله ردالمختار ١/٣٤٨)

﴿په تکبيرتحريمه کي دګوتو حالت﴾

دتکبيرتحريمه په وخت کي دګوتودنه خلاصولو کوشش کوئ اونه ئی ديو ځای کولو بلکه داپه اصلي حالت کي پر يږدی. لويه ګوته دغوږودنرمی سره ومو ښلوی اوورغوی دقبلی وخواته مخامخ کړی. (احسن الفتاوی ٣/ ١٩

بحواله ردمختار ۱/۳۵۰)

امام دی په تکبیر تحریمه کی تلوارنه کوی

ردالمختار دعبارت "وَيَصف الْإِمَام......الخ" (ردالمختار ۱/۵۳۱ باب الامامت) څخه ښکاره کیږی چی امام ته داضروری دی چی دی مقتدیانو ته د سم دریدلو او د صفونو دسمولو حکم و کړی. نو امام ته پکار دی چی په تکبیر تحریمه کی دی داسی نه کوی چی صف پوره سوی وی که نه او صف سم دی او که نه او ټول لمونځ گزار که برابرولاړ وی او که نه خوبس سملستی نیت وتړی داسی دی هیڅکله نه کوی.

یعنی امام ته پکار دی چی کم وخت پر لمانځه باندی ودریږی نو په خان پسی دی مقتدیان و گوری چی ټول سم ولاړ دی او که نه، او صفونه سم دی او که نه. او دمقتدیانو په مابین کی خو خالی ځای نه دی پاته یعنی اوږه په اُوږه ولاړه پکار ده. ددی په حدیث شریف کی زیات تأکید راغلی دی.

دتکبیر تحریمه طریقه

سوال: تکبیر تحریمه به کله وائی دلاس دتړلو څخه مخکی که نه، چی کله لاس و تړی؟ (۱) که امام غوږونو ته دلاس پورته کولو څخه وروسته کله چی نامه ته لاس وړی او په دغه وخت کی تکبیر تحریمه ووائی نو لمونځ به ئی وی او که نه. (۲) که امام غوږونو ته گوتی یووړی او نامه ته در سیلو سره

دتکبیر یو لفظ "الله" او دوئیم لفظ "اکبر" چی کله پر نامه باندی لاس کښیږدی او ووائی نو لمونځ به ئی صحیح وی او که نه؟ (۳) تکبیر تحریمه کله شروع کړی او کله ئی ختم کړی. (۴) د رکوع او دسُجدی صحیح طریقه څه شی ده. (۵) که امام په لمانځه کی تکبیرونه د سُنت څخه خلاف و کړی نو شرعی حکم ئی څه شی دی؟

جواب: (۱) دتکبیر تحریمه یا تکبیر اُولیٰ او درفع الیدین یعنی دلاس د پورته کولو په حقله دری قولونه دی.

(۱) اول دی لاسونه پورته کړی یعنی دواړه لاسونه دی ترغوږو پوری پورته کړی او تکبیر "اللّٰه اکبر" دی ووائی او څرنګه چی تکبیر ختم سی نو بیا دی لاس پر نامه باندی وتړی.

(۲) تکبیر او رفع الیدین دی دواړه یو ځای شروع کړی او یو ځای دی ختم کړی.

(۳) اول دی تکبیر تحریمه شروع کړی او سمدستی دی لاس پورته کړی او یو ځای دی ختم کړی. (بحر الرائق ۱/۳۰۵ دُر مختار مع شامی ۱/۴۶۵)

په دی ذکر سوی دری صورتو کی اولنی او دوئیم صورت افضل دی او دریم صورت ئی هم جائز دی. خو معمول بِهٖ اَنه دی. (هدایه ۱/۸۴)

او په جوهره نامی کتاب کی راغلی دی چی "اصح دادی چی اول دی

لمونځ ګزاره دواړه لاسونه پورته کړی کله چې دواړه لاسونه دغوږونوسره
برابر سی یوځای سی اوورورسیږی نوبیادی تکبیرشروع کړی.(جوهره ۱/ ۴۹)
په مسئوله صورت کی ئی لمونځ وسوخودلاس ترل اودتکبیرتحر
یمه دځنلولوعادت ئی غلط دی دادثناء یعنی دسُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ دویلوځای
دی دتکبیرویلوځای نه دی.تکبیردلاسودترلوپوری ختمیدل پکاردی.

دلادس دترلوپوری دځنلولویوه خرابی داهم ده چې لوړاوریدلو والا
اوکوڼ مقتدی کم چې کله دامام ورفع یدین ته وګوری نوتکبیرتحریمه به
ووائی نودامام څخه مخکی دتکبیردویلوپه وجه به دده اقتداء اولمونځ صحیح
نه وی ځکه چې که دتکبیراولنی لفظ د"الله"په ویلوکی مقتدی ورانديوالی
وکړی یالفظ "الله"دامام سره شروع کړی خولفظ"اکبر"دامام دختمولو څخه
مخکی ختم کړی نوبیابه ئی هم اقتداء صحیح نه وی.(دُرمختارمع شامی ۴۴۸/۱)نوپه
دی وجه امام ته داعادت پریښوول پکاردی.

﴿جواب﴾(۲):درکوع اودسجدی دتکبیراتوسُنت طریقه داده چې څنګه
رکوع ته راکښته کیږی نوالله اکبردی شروع کړی اوڅنګه چې رکوع ته
ورسیږی نوختم دی ئی کړی.اوکم خلق چې داسی کوی چې رکوع یاسُجد
ی ته ورسیږی بیاالله اکبروائی نودادسُنت څخه خلاف خبره ده اوداکار
مکروه دی اودوه رقمه کراهیت راځی.(۱)اول کراهیت ئی ترک دمحل

سوځکه چې داتکبیرونه دانتقال دی.یعنی رکوع اوسُجدی ته دنقل کیدلو.
چې پکاروه چې دا ورکوع اوسُجدی ته دانتقال په وخت کی ویل سوی وائی
لیکن په پورته صورت کی داپاته سو.(۲)کراهیت ئی دبی محل ارادی یعنی
کم وخت چې به ئی تکبیرویلوهغه وخت دسبحان ربی الاعلیٰ دویلووُیاد
سبحان ربی العظیم ؤو اودتکبیراتووخت نه ؤو.دغه وخت تکبیرویل بی محله
دی.(منیة المصلی ص:۸۸و۹۴کبیری ص:۴۴۵)

مختصرخبره داده چې دامام داعمل دسُنت څخه خلاف دی نوده ته
دسُنت مطابق عمل کول لازمی دی.(فتاویٰ رحیمیه ۲۳۳/۱)

دتکبیرتحریمه څخه وروسته اوپه وتروکی ددُعاء قنوت څخه دمخه،
دغه رقم داخترپه اول رکعت کی ددریم تکبیرپه وخت کی لاس پورته کولی
سی اولاس ایله کول اوبیاتړل چیری هم نه دی ثابت.

اختلاف په دی خبره کی دی چې دقرأت دکولوپه وخت کی به
لاسونه تړی اوکه به ئی پریږدی.دامام ابوحنیفه رحمه الله تعالیٰ علیه اودامام
یوسف رحمه الله تعالیٰ علیه په نیزدلاس د تړلوحکم دی.(ددوئ په نیزدقرأت
په وخت کی لاس تړل دقرأت دآدابو څخه دی)یعنی کله چې دلمانځه
دشروع کولو اراده وکړی نوځپل لاسونه به دلستونوڅخه راباسی اوبیابه ئی
دغوږونوخواته سیده پورته کوی.اوبیادی والله لفظ ته دملوړکولو څخه

بغیر تکبیر ووائی. نیت به ئی کړی وی. اوراسته لاس دی پر چپه لاس باندې دنامه لاندې کښیږدی. د تکبیرتحریمه ځخه وروسته دی بی له ځنډه ثناء یا سُبۡحٰنَکَ اللّٰهُمَّ ووائی. (فتاوی رحیمیه ۳/۳۷ بحواله نورالایضاح ص:۲، الجوهرة النیرة ۱/۵۰)

﴿امام ته تکبیرونه څرنګه ویل پکاردی؟﴾

اکثره امامان داسی وی چی کله دجُمعی لمونځ ورکوی نوتکبیرات انتقالیه دحرکت انتقالیه سره نه وائی. بلکه کله کله خودمنتقل کیلو ځخه وروسته ئی هم وائی. او کله کله ئی دوئیم رکن ته درسیدو ځخه مخکښې مخکښې ختم کوی. مثلاً دقیام دحالت ځخه په منتقل کیلو رکوع ته ځی نو بعضی امامان درا کښته کیلو ځخه وروسته الله اکبر وائی او بعضی امامان دومره ژرالله اَکۡبَرطوائی چی رکوع ته په صحیح طریقه درسیدو مخکی دالله اَکۡبَر آواز ختم سی. اودغه رقم سُجدی ته دتلو په وخت اودسُجدی ځخه دوئیم رکعت ته دراولاړیدو په وخت کی هم کوی.

داخبره دی ښکاره وی چی په دی دوا ړو صورتو کی دتکبیرپوره سُنت نه سوپوره. کامل اوپوره سُنت به هغه وخت اداء کیږی چی کله چی دیوه رُکن ځخه دوئیم رُکن ته دتلو په وخت کی یو ځای دار کانو سره تکبیرات شروع کړی اوچی څنګه وبل رُکن ته ورسی نودتکبیر آوزدی بند

کړی. او کله چی امام الله اَکۡبَرط داسی وائی چی ودوئیم رُکن ته درسیدو وروسته هم تر ځه وخته پوری دده دتکبیر آوازرا ځی. نودومره تکبیراُوږدول مکروه دی. (مسائل سجده سهو ص: ۱۷بحواله کبیری ص: ۳۱۳)

بعضی امامان دتکبیرپه ویلو کی ډیره بی احتیاطی کوی اودالله اَکۡبَرط ویلوپر ځای باندی الله اکباروائی. یعنی د باودرا په مابین کی الف زیاتوی. دغه رقم بعضی امامان دالله اکبرپه شروع کی ملپیداکوی. او آلله اَکۡبَرط وائی. دا دواړه صورتونه بالکل غلط دی. په دی دوا ړو صورتونه کی لمونځ بالکل فاسدیږی او که په تکبیرتحریمه کی ئی داسی وویل نودلمانځه شروع کول به بالکل صحیح نه وی. (مسائل سُجده سهو ص: ۱۷بحواله کبیری ص: ۲۷۳)

علامه شامیؒ دحُلیه اونورو کتابو ځخه نقل کړی دی چی په تکبیر کی اسم ذات "الله" اود "اکبر" "الف" کشول لمونځ فاسلوی. او لام دومره اوږدول چی بل "لام" کی پیداسی هم مکروه دی. لیکن مُفسدنه دی. دغه رقم "ها" کشول هم مکروه دی دبادمدپه فاسدیلو کی اختلاف دی اوپه راباندی پیښ کشول مُفسدنه دی.

خودجهل دغلبی په وجه دمتأخرینو دافیصله ده چی دإعراب اودمد غلطی مفسدنه دی البته که څوک دتنبیه باوجوددااصلاح کوشش نه کوی نو دده لمونځ نه کیږی اوچی داسی غلط ئی وائی نودی امام جوړول په هر

صورت کی ناجائز دی.البته که څوک صحیح ویونکی موجود نه وی نو بیا
پرواه نه کوی.(احسن الفتاوی ۳/۴۲۴)

﴿په تکبیرتحریمه کی عامه غلطی﴾

بعضی وخت مقتدی داسی غلطی کوی چی لمونځ ئی فاسدسی.مثلاً
دا چی مقتدی دامام دتکبیرتحریمه اَللّٰهُ اَکْبَرطویلو څخه دمخه مقتدی اَللّٰهُ
اَکْبَرط ووائی یادامام د لفظ اَللّٰهُ دویلو څخه دمخه مقتدی اَللّٰهُ لفظ ووائی په دی
دواړوصورتو کی هیڅ د لمانځه شروع کیدل صحیح نه دی.داسی مقتدیانو
ته پکاردی چی دوئ دسره اَللّٰهُ اَکْبَرط ووائی اوپه امام پسی نیت وتړی.(مسائل
سُجده سهوص:۷۴ بحواله صغیری ص:۱۴۳)

اکثره مقتدیان مولیدلی دی چی که امام رکوع ته ځی نو دهغه سره په
رکوع کی دشریکیدلولپاره سیده نه دریږی او اَللّٰهُ اَکْبَرطو ووائی اورکوع ته ولاړ
سی.اوداسی ځی چی دالله اکبرآوازئی چی رکوع ته ورسیږی ختم سی.دارقم
په لمانځه کی شریکیدل نه دی صحیح.دتکبیرتحریمه څخه دخلاصیدو
پوری دریدل فرض دی. یعنی په سیده ولاړه کی دی دااَللّٰهُ اَکْبَرط آوازختم
کړی نو ددی وروسته دی ورکوع ته کښته سی. که دتحریمه تکبیرات دقیام
په حالت کی ختم نسی نودده په لمانځه کی شاملیدل نه سوصحیح .(کفایت
المفتی ۳/۲۹۱)

سُنت طریقه داده چی په حالت قیام کی دی تکبیرتحریمه ووائی او
بیادی فوراًدوئیم تکبیرووائی اوبیادی رکوع له دی ځی.دتکبیرتحریمه څخه
وروسته دی لاس نه تړی.په رکوع کی دامام سره لږاندازه شراکت هم کافی
دی.حتٰی تر داسی حالت پوری چی مقتدی په داسی حالت کی رکوع ته
کښته سی چی امام لادرکوع څخه نه وی سم راپورته سوی اودمقتدی لاسو
نه تررکوع پوری ورسیدل نودی په دا رکعت کی شامل سو.ځکه چی دیوی
تسبیح په اندازه باندی په رکوع کی پاته کیدل واجب دی ددی څخه ورو
سته دی باقی تسبیحات پریږدی اودامام اتباع دی وکړی.(احسن الفتاوی ۳/ ۲۸۸)

﴿په تکبیر کی دجهرمقدار﴾

﴿سوال﴾:دامام بعضی تکبیرونه دومره په زوره ویل چی دمسجد څخه
دباندی خلق ئی پرسړک باندی هم واوری اوبعضی تکبیرونه دومره قرارویل
چی ددویم صف والائی هم نه واوری.داڅنگه دی؟

﴿جواب﴾:امام ته پکارده چی په قرأت اوجهر کی دمابین لاره اختیاره کړی
اود حاجت په اندازه ورته په زوره کول پکاردی.اودتکبیرونوترمابین دافرق
اوتفاوت چی بعضی جهر بنه په داسی افراط باندی اداء کول اوبعضی د
حاجت د اندازی څخه هم کم اداء کول مذموم اوبی اصله دی.په شریعت
کی ددی هیڅ اصل نسته صرف په سلام کی فقهاؤ دالیکلی دی چی دوئیم

سلام دی داولنی سلام شخه لږه کښته آواز ووائی اوددی شخه علاوه بل ږ خای هم په جهر کی ددرجاتوفرق نسته .(فتاوی دارالعلوم ۲/ ۱۸۰ بحواله رد المختار ۱/ ۴۹۷، ۱/ ۴۴۳ فصل فی القرأة باب صفة الصلوة ۱/ ۴۴۳)

امام ته په زوره تکبیرویل سُنت دی.نوپه دی وجه ددی په پر ینبوولو خوبه سجده سهوه نه وی پر البته دسُنت دپر ینبوولو گناه به باندی وی. او د جهر حددادی چی ټول صف ته آواز وروړ سیږی.(احسن الفتاوی ۳/ ۲۶۲ بحواله ردالمحتار ۱/ ۴۹۹) یعنی﴿وَلَاتَجْهَرْبِصَلَاتِکَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَاوَابْتَغِ بَیْنَ ذٰلِکَ سَبِیْلًا(سوره بنی اسرائیل ۱۲ ارکوع)﴾(مترجم)

﴿په قرأت کی دجهر مقدار﴾

﴿**سوال**﴾:امام به په تراویحووغیره اوجهری لمنخونه کی قرأت په څومره اندازه کی په زوره وائی؟

﴿**جواب**﴾:افضله اوبهترینه خبره داده چی امام دی په جهری لمنځو کی بی له تکلف څخه په دومره لوړآوازبانـدی ووائی چی مقتدی ئی واوری.ددی څخه زیات تـکـلف کـول مکروه اومنع دی.دالله جل شانه ارشادگرامی دی "وَلَاتَجْهَرْبِصَلَاتِکَ وَلَاتُخَافِتْ بِهَاوَابْتَغِ بَیْنَ ذٰلِکَ سَبِیْلًا" (سوره بنی اسرائیل ۱۲رکوع) **ترجمه**:اومه ته په خپلو لمنځوکی ډیرپه زوره آوازباندی وایه اونه بالکل په قراره.ددی په مابین کی منځنی لاره اختیار کړه.

مفسرینؒ فرمائی چی په لمانخه کی درمیانی قرأت کول پکاردی ځکه په دی سره پرزړه باندی اثر کیږی اودومره په زوره دی ئی نه وائی چی قاری اوسامع دوا ړوته تکلیف وی ځکه چی په دی سره به دزړه په حضور کی خلل راسی. (خلاصة التفسیر ۳/ ۶۷، تفسیرفتح المنان ۵/ ۹۶)

فقهاؤ کرامو په زوره ویلو کی دوی خبری ضروری بولی.(۱)داده چی ویونکی دی په خپل ځان باندی غیرمعمولی زورنه راولی.(ولی چی دامکروه دی) (۲)داچی نوروخلقوته به تـکـلیف نـه وی.مثلاً که دتهجدپه وخت کی څوک بیده وی یا څوک پـه خپـلـوخبروکی اخته وی اوته ورسی ورسره و دربږی اودومره پـه زوره قرأت شروع کړی چی دهغوی پـه کار کی خلل رانسی نوداهم مکروه دی.ددی دواړوخبروڅخه وروستـه دریمه خبره داده چی د جَـمُـعی دکمی اودزیاتوب لحاظ ساتل اوددی نطابق قرأت کول.مثلاً مقتدیانودری صفونه دی نوته دومره په لوړآوازوایه چی تردریم صف پوری آوازورسیږی.

دفقیه ابوجعفرؒداقول دی چی څومره ئی په لوړآوازئی ووائی‌بنه دی. خوپه دی شرط چی پرویونکی باندی سترې والی نه راولی اوبل چاته تکلیف نه راولی.خودنوروفقهاؤداقول دی اوراجح هم دغه قول دی چی دضرورت په اندازه دی آوازدی لوړوی.یعنی صرف دُومره دی آوازلوړوی چی صرف

دریم صف ته رسیږی البته که صفونه زیات ؤونو آوازنورهم لو ړولای سی په
دی شرط چی په ځان زیات زورنه راولی. (**فتاوٰی رحیمیه ۱/۳۵ بحواله
طحطاوی علی مراقی الفلاح ص:۱۳۷، دُر مختار ۱/۴۹۷ فصل فی واجب
الصلوٰة) مجمع الانهر ص:۱۰۲، عالمگیری ۱/۷۳)**

امام دی قومه او جلسه په اطمینان سره کوی

سوال: زمونږ امام صاحب د رکوع څخه وروسته قومی ته لاسیده دریدلی
نه وی سُجدی ته ځی. اوچی څنګه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ووائی نو اَللّٰهُ اَکْبَرُ
ووائی په مابین کی لږ هم نه دریږی. ساهم نه اخلی. دغه رقم دسُجدی څخه
وروسته دجلسی په حالت کی کوی او هم داحالت ئی دسُجدی ته د تلو او د
سُجدی څخه دواپس راتګ دتکبیرونو دی. په دی تکبیرونو کی وقفه نه
کوی. مقتدیان چی ده ته ګوری هغهٔ هم داسی کوی. ددی شرعاً څه حکم دی؟

جواب: داسی حالت اختیارول غلط کاردی. لمونځ مکروه کوی او
قابل دراګرځولو دی. قومه او جلسه په اطمینان سره اداکول ضروری دی.

د دُرمختار دعبارا تو داحاصل دی چی د رکوع څخه وروسته سیده
ودریږی ځکه چی داقومه سُنت ده او دی ته واجب او فرض هم ویل سوی
دی. بیا چی کله مخکی ته کښته کیږی نو اَللّٰهُ اَکْبَرُ دی ووائی او دواړه زنګونه
دی پر مځکه باندی کښیږدی". په عبارت کی لفظ "ثُمَّ" راغلی دی. نو ددی

مطلب دادی چی دوقفی سره دی بنه په قراره سره سُجدی ته ځی. تکبیر دی
وائی او کښته کول دی شروع کړی. داتکبیر دی هغه وخت ختم سی کله چی
راکښته کیدل ختم سی او تندی پر مځکه باندی کښیږدی. بیا دی دواړو
سُجدو ترمابین په آرام سره کښینی. یعنی دومره وخت دی کښینی چی
سُبْحَانَ اللّٰهِ پکښې ووائی. دحضرت محمد ﷺ څخه دقومی او جلسی
طریقه حضرت بی بی عائشی رضی اللّٰه تعالٰی عنها بیانوی او وائی چی کله به
نبی د رکوع څخه خپل سرمُبارک راپورته کړو نو سیده به ودریدی. بیا به
سُجدی ته ولاړی. دغه رقم به ئی دسُجدی څخه وروسته خپل سرمُبارک
راپورته کړی. او بنه برابر به سیده ودریدی. نو وروسته به ئی بیادویمه سُجده
کوله. (مشکوٰة شریف ۱/۷۵)

دغه رقم حضرت ابوحُمید ساعدی رضی اللّٰه تعالٰی عنه دحضرت
محمد ﷺ څخه دقومی طریقه بیان کړی ده. او وائی چی کله به نبی کریم
ﷺ د رکوع څخه سرمُبارک راپورته کړی نو تر هغه وخته به ئی انتظار کاوی
چی دملا بندونه به ئی سره کښیوتل. (مشکوٰة شریف ۱/۷۵)

دحضور ﷺ دلمانځه سره سم خپل لمونځ برابرول پکاردی. هغه
ﷺ فرمائی چی څنګه تاسو په لمانځه کی ماوینی هم هغسی تاسو خپل
لمونځ هم کوی.

که مونږ په خپله دحضور ﷺ دلما نځه په رقم داداء کولو کوشش نه کؤو او دسُنت خلاف لمونځ کؤو نو لمنځونه به مونه قبلیږی. او راکړځول به وغواړی. په حدیث شریف کی راځی چی نبی کریم ﷺ دمسجدلپه یوه کُنج کی ناست ؤو. یو سړی راغلی او لمونځ ئی وکړی بیا حضرت محمد ﷺ تـه راغلی او سلام ئی وکړی. حـضور ﷺ وعلیکم السلام ورته وویل او ورته ئی وویل چی ورسه بیرته دی لمونځ راوګرځوه. تالمونځ ندی کړی. هغه سړی بیرته ولاړی او بیائی لمونځ وکړی. دلمانځه څخه وروسته بیاراغلی او پرنبی کریم ﷺ باندی ئی سلام وکړی. نبی کریم ﷺ ورته وعلیکم السلام ورته وویل او بیائی ورته وویل چی ورسه بیرته دی لمونځ وکړه تالمونځ ندی کړی. دغه سړی دری واره داسی وکړه. خوده نبی کریم ﷺ ته عرض وکړی چی ای دالله رسول ﷺ زه خوددی څخه زیات ښه لمونځ نسم کولای. تاسوئی را وښوی. حـضرت محمد ﷺ ورته وفرمایل چی کله ته لمانځه ته ولاړیږی نو اول په ښه شان سره اودس وکړه بیـا پرقبله باندی مخامخ ودریږه بیا اَللّٰهُ اَکْبَرُ ووایه. بیاچی څومره قرآن دی زده وی په آسانی ئی کی ووایه. دقرآن مجید ویلو وروسته بیارکوع ته کښته سه. او بیاپه آرام سره رکوع وکړه بیادرکوع څخه راپورتـه سه تردی چی په آرام سره ودریږه بیـاسُجدی ته ولاړسه او په آرام سره ودریږه بیـاسُجدی تـه ولاړسـه او پـه آرام سـره سُجده وکړه بیاد

سُجدی څخه راپـورته سه. او ښه پـه آرام سـره رکـوع او هریورکن اداء کوه. (مشکوٰة شریف ص:۸۳)

دفقهي او دحدیثو مبارکو تصریحاتو ته چی وګوری نو په هغه کی په وار واربانډی دآرام لمونځ کولو هدایت سوی دی.

ستـاسو امام صاحب که په آرام سره رکوع، سُجده، قومه او جلسه نه کوی، سمع الله لمن حمده او الله اکبر ط یاددوو سُجدو الله اکبر ط په یوه ساوائی نودی ددغـه احادیثو او فقهي خلاف کار کوی او داکار کول سراسربی ادبی ده او مکـروه دی. پـه مشـکوٰة شریف کی راغلی دی "چی بلترین او دټولو څخه زیات غل هغه دی څـوک چی دخپل لمانځه څخه غلا کوی، صحابو کرامو رض دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی یارسول الله! په لمانځه کی څنګه غلا کوی؟ حضرت محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل چی په لمانځه کی غلا دا ده چی رکوع او سُجدی سمی نه اداء کوی. او بیائی ارشادو فرمائی، الله پاک دهغه چالمانځه ته نه ګوری څوک چی رکوع او په سُجده کی خپله ملاسمه اوسیدہ نه ساتی". (مشکوٰة شریف ص:۸۳)

حـضرت محمد ﷺ یو سړی پـه لمانځه کـی ولیدی چی رکوع او سُجده ئی پوره نه اداء کوله نوئی ورته وفرمایل ته دالله پاک څخه نه بیریږی؟ که ته په دی عادت کی مړسوی نو پردین محمدی به ستامرګ نه وی سوی.

حضرت محمدصلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چی ستاسولمونځ د
یوه هم ترهغه وخته پوری نه صحیح کیږی تر څوچی در کوع څخه وروسته
سیده نه وی ولاړ.او خپله ملائی نه وی سیده کړی.او دده هر اندام پر خپل
خپل ځای باندی قرارسوی نه وی.

دغه رقم حضرت محمدصلی الله علیه وسلم وفرمایل کم سړی چی
د دوسُجدوپه مابین کی خپله ملاسیده نه ساتی او نه ئی سیده کوی نو دهغه
لمونځ نه پوره کیږی.

حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دیوه لمونځ کونکی په څنګ
کی تیرسونو څه ګوری چی دغه سړی ارکان اوقومه اوجلسه سم نه اداء کوی
نوئی ورته وفرمایل چی که ته په دی عادت کی مړسوی نو دقیامت په ورځ به
زماپه اُمت کی نه راکښینی.

منقول دی چی کله یومؤمن بنده لمو نځ په ښه طریقه اداء کوی او دده
رکوع اوسُجده په ښه طریقه اداء کیږی نو دده لمونځ تروتازه اونورانی وی او
ملائکه دغه لمونځ آسمان ته وړی.دغه لمونځ خپل لمونځ ګزارته دُعاکوی او
وائی چی الله تعالٰی دی ستاحفاظت وکړی لکه څرنګه چی تازماحفاظت
وکړی اوکه چیری ذی لمونځ په ښه طریقه نه اداء کوی او ذی درکوع او
سُجدی قومی اوجلسی اونوروارکانو اداکول پرخپل ځای نه کوی نو دغه

لمونځ تک تورشی ځنی جوړیږی اوملائکه نفرت ځنی کوی.اودغه لمونځ
آسمان ته نه وړی.اودغه لمونځ ده ته ښراکوی او وورته وائی چی الله پاک
دی داسی خوار کړه لکه زه چی دی خوار کړم.(فتاوی رحیمیه ۴۵/۳)

﴿دامام صرف دښائسته آوازپیدا کیدو لپاره غاړه تازه کول﴾

﴿سوال﴾: که په فرضو لمنځو کی امام بی له څه عُذره غاړه تازه کوی کم
چی صرف اوصرف دآوازدښائست لپاره وی او ددی تعداددری واره ته ور
سیږی نو ددی غاړی تازه کولو په وجه سره دده لمونځ فاسدیږی او که نه؟

﴿جواب﴾ ددُرمختار په عبارت کی دی چی دآوازدښائسته کولولپاره په
غاړه تازه کولو سره لمونځ نه فاسدیږی.هغه که تردری واره زیات هم وی.
(فتاوی دارالعلوم ۶۵/۴ بحواله دُرِّمُختار ۴۷۸/۱ باب مایُفسدالصلٰوۃ)

﴿دثناء څخه بغیر دقرأت کولو حکم﴾

﴿سوال﴾: که یو امام دتکبیرتحریمه څخه فوراًدثناء(سُبحانکَ اللّٰھُمَّ الخ)ویلو
بغیرالحمدلله شروع کړی نو څه حکم ئی دی؟

﴿جواب﴾:دثناء یعنی د(سُبحانکَ اللّٰھُمَّ الخ) دنه ویلو عادت جوړ کړی
وی نو داډیر بدحرکت دی.باقی ددی څخه په لمانځه کی څه کراهیت نه
راځی.له دی وجهی چی دثناء یعنی(سُبحانکَ اللّٰھُمَّ الخ)ویل محض

مستحب دی او د مستحبو د ترک څخه په لمانځه کی څه قباحت نه راځی

(مکمل مدلل مسائل تراویح ص:۷۰)

﴿آیا امام به د مقتدیانو د ثناء انتظار کوی﴾

﴿سوال﴾: امام ثناء (سُبحانکَ اللّٰهُمَّ الخ) ووائی او قرأت شروع کړی او که د مقتدیانو (سُبحانکَ اللّٰهُمَّ الخ) ویلو ته انتظار وکړی؟

﴿جواب﴾: انتظار دی نه کوی. (خپل قرأت دی شروع کړی) (فتاوی دار العلوم ۲/۱۶۴ بحواله ردالمختار باب صفة الصلوٰة ۱/۴۷۱)

﴿په لمانځه کی د بسم الله حکم﴾

﴿سوال﴾: پر امام باندی په هر رکعت کی د بسم الله د ویل د الحمدلله او سورت سره واجب دی او که نه؟ او د امام او د منفرد دپاره د حنفی مذهب په مطابق مستحب صورت څه دی؟

﴿جواب﴾: در دالمختار باب صفة الصلوٰة ۱/۴۵۷ څخه دا معلومیږی چی امام لره د الحمدلله څخه د مخه د بسم الله ویل سُنت دی. او بعض ئی د وجوب قائل دی.

او د سورت څخه د مخه اگرچه سنت نه دی لیکن مکروه هم نه دی بلکه مستحب او بهتره دی. (فتاوی دار العلوم ۲/۱۸۴)

﴿په قرأت کی د ترتیب لحاظ﴾

د سورتو په ترتیب سره ویل واجب دی. نو په اول رکعت کی تَبَّتْ یَدَا او په دویم رکعت کی اِذَاجَآءَ ویل صحیح نه دی. او په فرضو کی د کوچنی سورت فاصله پریښوول د مثال په توګه په اول رکعت کی سوره اِذَاجَآءَ او په دویم رکعت کی قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ویل مکروه دی. او په نفلو کی داسی کول بیا پرواه نه کوی. او په یو رکعت کی د مثال په توګه سوره مزمل ووائی او بیا سوره اخلاص قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ ملګری کړی داسی کول مکروه دی. او دارقم په دویم رکعت کی معوذتین یعنی په یو رکعت کی دوه سورتونه ویل هم بنه نه دی. اګرچه لمونځ صحیح دی. (فتاوی دار العلوم ۲/ ۲۲۳ بحواله ردالمختار فصل فی القرأة ۱/۵۱۰)

﴿د نیمائی آیت څخه د قرأت شروع کول څنګه دی؟﴾

دارقم خو لمونځ صحیح دی لیکن باید داسی ونکړی. ولی چی دا کار یو نامشروع او د قاعدی خلاف کار دی. بعضو علماؤ خو د نیم سورت ویل هم مکروه بللی دی نو د آیت د نیمائی څخه ویل چیری مناسب کار دی؟ (فتاوی دار العلوم ۲/ ۲۴۰ بحواله غنیة المستملی ص: ۴۶۲)

﴿که امام په جهري لمونځ کې سراً ويل و کړل نو...﴾

﴿سوال﴾: که چیري په جهري لمو نځ کې امام دوه یادرې آيتونه قراروويل، دفتحې ورکولوروسته یاده ته پخپله ورپیادسو. اوس نو ټول قرأت له سره جهراًووائي او که ئي دهغه ځای څخه شروع کړي دکم ځای څخه چې ورته ورپیادسو. اوسُجده سهوبه کوي او که نه؟

﴿جواب﴾: پر کم ځای چې ئې ورپیادسو دهغه ځای څخه دې په زوره شروع کړي.(فتاویٰ محمودیه ۱۷۲/۲)په جهري لمنځو کې درې آيتونه په خطاسره پهِ قرار آوازويل سجده سهو لازمي وي. اودارقم په سِري يعنې په قِرار لمنځو کې دپزوره ویلوهم دغه حکم دی. الحمدلله شریف که ئي چیري قرار وويل نوپه جهري لمو نځ کې دې دويم وارپه زوره ووائي اوبيادې سُجده سهو وکړي. که ئي چیري الحمدلله په زوره نه وويل صرف سورة ئي ووائي او سُجده سهوئي وکړه نوهم لمونځ صحيح کیږي.(فتاویٰ محمودیه ۱۵۰/۲)

﴿امام ته دفتحې ورکولوتفصيل﴾

که چیري امام ددومره قرأت کولوروسته خطاوزي چې دهغه قرأت کولوروسته رکوع کول مناسبه وه نوبياخودې امام رکوع و کړي. که چیري د هغه اندازې څخه ترمخه خطاوزي نوبياامام ته داپکارده چې بل هغه سورت ائي چې دده يادوي.هلته دي نه درېږي.امام ته دهغه ځای باربارويل مکروه

دي پر کم ځای چې دی دریدلي ؤو. اومقتدي ته پکارده چې په فتحه ورکولو کې دې چابکي نه کوي.بلکه ورته ودې درېږي. چې امام به رکوع و کړي يابه بل سورت چې دده يادوي ووائي اويابه هغه ځای چې دی کې دريدلي دی زده کړي اوپرمخ به ئي ووائي.ژرفتح ورکول دمقتدي په حق کې مکروه ده.

کله چې امام نه رکوع و کړي اونه بل سورة ووائي اونه هغه ځای سَم کړي په کم ځای کې چې دی دريدلي دی نوبيادې فتح ورکول شي.هغه کې ئي درې آيت ويلي وي او که نه.ديوه هم لمونځ نه فاسدیږي.نه داامام اونه دمقتدي. (فتاویٰ محمودیه جلد ۲ صفحه: ۱۸۵ بحواله طحطاوي صفحه:۱۸۳)

﴿دامام سورتونه خلاف دترتيب څخه ويل﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب په اول رکعت کې سورة کافرون ووائي اوپه دويم رکعت کې ئې سورة کوثراويا سورة قريش ووائي کم چې دقرآن دترتيب څخه خلاف دي نوآيادالمونځ صحيح کیږي او که نه؟

﴿جواب﴾: دسورتوپه ترتيب سره ويل دقرأت دواجباتو څخه دي.دلمانځه د واجباتو څخه نه دي.له دې وجهې داسي ويل سُجده سهونه لازم وي.هو اپه قصلسره داسي ويل مکروه دي. که چیري ئي په هيره داسي ووائي نوداپرواه نکوي اونه مکروه دي.(فتاویٰ رحيميه ۲۴۶/۱ بحواله شامي ۵۱۰/۱)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿دمقتدی په فتحه ورکولو دامام دسُجدی آیت ویل﴾

امام صاحب دسجدی آیت هیرسواومقتدی ورته ووائی اوفتحه ئی ورکړه اوبیاامام هغه آیت ووائیپ اوسجده ئی وکړه نودایوه سُجده کافی ده اوپه دی صورت کی دوی سُجدی نه لازمیږی.(فتاویٰ رحیمیه ۳/ ۴۹)

﴿دواجب قرأت اندازه﴾

﴿**سوال**﴾:دقرآن مجیدډری کوچنی آیتونه کم دی کم چی په یوه رکعت کی ئی ویل کافی دی؟آیت په ګردی۞دائره باندی دی اوکه پر **ج**،**ص**، ز، **ط** اونوروننبنانوباندی دی.دیوغټ آیت په مقابله کی کوچنی دری آیتونه کافی دی اوکه نه؟

﴿**جواب**﴾:دلمانځه دواجباتو څخه داهم دی چی دسورة فاتحی وروسته دی دری کوچنی آیتونه ووائی اویادی یوغټ آیت ووائی کم چی ددی کوچنی دری آیتوسره برابروی.

کوچنی سورت چی په هغه کی دری کوچنی آیتونه دی هغه "اِنَّا اَعۡطَیۡنٰکَ الۡکَوۡثَرَ"سورة دی.دغه سورة اویادِی ددی په مثال سورت د الحمد لله څخه وروسته ووائی نوواجب ئی اداکیږی.او آیت هغه بلل کیږی پر کم ځای چی ګردی نبنان وی.اودلوی آیت مثال آیة الکرسی شریف ده اویا آیة المداینة.(یٰاَیُّهَاالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡۤااِذَاتَدَایَنۡتُمۡ....البقرة۲۸۲)اونورداسی آیتونه دی.او

دکوچنی آیت مثال(ثُمَّ نَظَرَ۞ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ۞ثُمَّ اَدۡبَرَوَاسۡتَکۡبَرَ۞)دی.
(فتاوٰی دارالعلوم ۲/ ۲۴۵بحواله ردالمحتارباب صفة الصلوٰة ۱/ ۴۲۷)

په لمانځه کی دیوه آیت په اندازه باندی قرأت کول فرض دی.
الحمد لله اوبل یوسورت یادری آیتونه یایواُو ږدآیت ویل واجب دی.په کوریا داقامت په وخت کی طوال مفصل سورتونه ویل په لمانځه کی سُنت دی.
یعنی دسهار اوماپښین په لمونځوکی دسورة حجرات څخه بیادسورة بروج تر آخرپوری هر یوسورة چی ووائی اودمازیګراوماخوستن په وختونوکی دسورة بروج څخه بیا ترلَمۡ یَکُنِ الَّذِیۡنَ پوری اودماښام په وخت کی دلم یَکُنِ الَّذِیۡنَ څخه بیاتروالناس پوری.اوددی څخه علاوه کله کله دخاص سورتونود ویلو ثبوت هم راغلی دی لیکن دمقتدیانودحال اودوقت رعایت ساتل لازمی دی.
(فتاوٰی محمودیه ۲/ ۱۵۸ بحواله شامی ۱/ ۳۶۰)

﴿په لمانځه کی دمختلف سورتورکوع ګانی ویل﴾

﴿**سوال**﴾:که چیری یوامام داسی قرأت ووائی دمثال په توګه دامام په هره سپاره کی یوه یوه رکوع یاده ده اوپه هرلمانځه کی یوه رکوع وائی.اودارقم په ترتیب سره هغه ټولی رکوع ګانی ختم کوی.اوبیادختم کیلو څخه وروسته بیرته ئی دسره شروع کوی.داسی کول جائزدی اوکه نه؟

﴿**جواب**﴾:دداسی ویلوسره لمونځ صحیح کیږی.لیکن افضله اوبهتره

خبره داده چې په هر رکعت کې پوره سورة ووائی. په داسې طریقه سره کم
چې فقهاؤ لیکلی دی. چې په سهار او ماپښین کې طوال مفصل او د مازدیګر او
ماخوستن په وخت کې اوساط مفصل او په ماښام کې دقصار مفصل څخه دې
یو سورة وویل سی. (فتاوی دار العلوم ۲۴۶/۲ بحواله عالمګیری مصری ۷۲/۱)

﴿دلمانځه په قرأت کې دنبی کریم ﷺ عادت﴾

دمختلفو وختو د لمنځو دنبی کریم ﷺ عادت داؤ وچې په دسهار په
لمانځه کې ئې اوږدوالی په ماز یګر کې ئې سپک والی او په ماښام کې لنډوالی
یعنې قصارِ مفصل ویل او په ماخوستن کې اوساط مفصل ویل.

"مُفصل" دقرآن شریف دآخری منزل وسورتونو ته وائی یعنی دسورة
حجُر څخه ونیسی بیا دقرآن مجید تر آخره پوری. بیا د دی هم دری حصې دی.
دسورة حجرات څخه بیا تر سورة بروج پوری سورتونو ته طوال مفصل وائی.
او د سورة بروج څخه بیا تر سورة لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ پوری سورتونو ته اوساط
مفصل وائی او د لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ څخه بیا تر آخر پوری قصار مُفصل ورته وائی.
(معارف الحدیث ص: ۲۵۷)

﴿دامام خلافِ سُنت قرأت کول﴾

﴿سوال﴾: دسهار او ماپښین په لمنځو کې دسورة حُجرات څخه بیا تر سورة
بروج پوری او د ماز یګر او ماخوستن په لمنځو کې دسورة والطارق څخه

بیا تر لَمْ یَکُنِ الَّذِیْنَ پوری او د ماښام په لمانځه کې د سورة زلزال څخه تر سورة
الناس پوری او په وترو کې سبح اسم ربک، سورة القلم، سورة الکافرون،
سورة اخلاص ...... د دی سورتو داسې ویل سُنت دی او که مُستحب؟

که چیری یو امام دپورته ذکر سوی سورتو څخه علاوه بل کمه
رکوع یا دری څلور آیتونه هسې دیوځای څخه ووائی نو دغه امام
تارک السُنت دی او که نه؟ او د دی سورتو په نه ویلو کې دلمانځه په
ثواب کې څه کمی کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: هو! په دغه ترتیب سره په لمانځه کې دغه سُورتونه ویل سُنت
دی لیکن مؤکل سُنت نه دی. د دی پرځای بله رکوع ویل هیڅ پرواه نکوی.
لیکن دا خلاف داولیٰ څخه دی. (کفایت المفتی ۳۰۷/۳)

﴿دقرأت آخری لفظ د رکوع دتکبیر سره یوځای کول﴾

﴿سوال﴾: دامام صاحب دسورة فاتحې څخه وروسته دسورة یاد آیت په
آخری لفظ باندی نه دریدل بلکه دالله اکبر سره وصل کول او رکوع ته تلل
مثلاً وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰی مَا تَصِفُوْنَ اللّٰهُ اَکْبَرُ دسُنت مطابق دی او که نه؟

﴿جواب﴾: که آخری لفظ ئې په ثنا باندی ختم سی نو دا د رکوع سره یو
ځای وصل کول بهتر دی. او که داسې نه وی نو وقف کول او بیا الله اکبر ویل
اولیٰ او بهتر دی. (فتاوی محمودیة ۲۶/۲ ا بحواله شامی ۳۳۱/۱)

﴿د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ صحیح ادا کول﴾

﴿سوال﴾: که امام صاحب سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ داسې ووائي چې هُوْلِیَمَنْ رقم آواز راوزي نو آیا دا صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾: د قرأت په لحاظ داسې ویل غلط دي او صحیح نه دي. د قرأت په قاعده کې دي چې په ضمه او کسره کې دې صرف د **واؤ** او د **یاء** بوئي راسي خو د پیښ څخه دې صریح واؤ او د زیر څخه صریح **یاء** نسي جوړه. یعني که هُوْ لِیَمَن وویل سي نو دا بالکل غلط دي. پکار دي چې امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ووائي. او د داسي قرأت څخه دې ځان وساتي. (فتاوی دار العلوم ۴/۸۸)

﴿دامام د خبرو لو طریقه﴾

﴿سوال﴾: که د امام څخه سهواً آخري قعده پاته سوه او امام قیام ته نژدې سو نو مقتدي ته سبحان الله ویل او اوریدل اولیٰ دي که کښېنتل او سبحان الله ویل؟

﴿جواب﴾: کښېنستل او بیا سبحان الله ویل اولیٰ دي. داسي جزئیه مود ستر گو څخه نه ده تیره سوې. لیکن دواړه رقم ویل صحیح دي (فتاوی دار العلوم ۴/۲۱۹)

﴿دامام په دوئیم رکعت کې قرأت اوږدول﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب د سهار په لمانځه کې د اول رکعت څخه په دویم رکعت کې قصداً دوه دري آیتونه اوږده کړه (زیات ئې وویل) په دې صورت کې لمونځ بلا کراهیته صحیح دی او که نه؟

﴿جواب﴾: په دې صورت کې لمونځ صحیح دی بې له دڅه کراهیته. په شامي نومي کتاب کې راغلي دي چې په غټو سورتونو کې د دریو آیتو څخه زیاتوب ته څه اعتبار نسته. البته په کوچنی سورتونو کې د دوو آیتونو زیات والي مکروه تنزیهي دي. (فتاوی دار العلوم ۲/۲۴۸ بحواله شامي ۱/۵۰۷)

﴿په دوئیم رکعت کې اوږدوالي ته دڅه شي اعتبار دی؟﴾

﴿سوال﴾: په لمانځه کې د اول رکعت څخه په دویم رکعت کې زیات قرأت کول مکروه دي. دا د آیتونو په حساب سره دی او که د حرفونو په حساب او که د کلماتو په حساب سره؟

﴿جواب﴾: که آیتونه سره برابروي یا برابر والي ته نژدې وي نو د آیتونو حساب ته به اعتبار وي چې د دویم رکعت قرأت د دریو آیتو څخه زیات نه وي او که آیتونه په طول او قصر (اوږدوالي او لنډوالي) کې فرق سره لري نو بیا حروف او کلماتو ته اعتبار دی. (فتاوی دار العلوم ۲/۲۵۵ بحواله ردالمختار ۱/۵۱۰ فصل في القرآن)

د دریو آیتونو په زیاتوب به کراهیت تنزیهي راسي. (طحطاوی ص: ۱۹۳) خو دا په هغه کوچني سورتو کې دی دکم چې آیتونه په کوچني والي او لوی والي کې سره نژدې نژدې وي. خو په غټو سورتونو کې دکم چې په آیتونو کې د لوی والي او کوچني والي ښکاره فرق وي بیا د حروفو حساب ته اعتبار سته. د دې دا حاصل دی چې که په دوئیم رکعت کې کم یو سورة ویل سوې

وی اودهغه زيات حروف چې داولنی رکعت دسورة دنيمائی سره برابر وی
یادهغه څخه زيات وی نوکراهيت به وی کنی کراهيت بيانسته. کم سورتونه
چې دحضور ﷺ څخه ثابت سوی دی هغه په کراهيت کی نه دی
داخل.(فتاویٰ محمودیه ۱۶۵/۲ بحواله شامی)

﴿په هر رکعت کی یوسورت ویل﴾

سُنت طريقه داده چې يوسُورت دی په اول اودوئيم رکعت کی
تکرارًا نه وائی بلکه مختلف سورتونه دی په هر رکعت کی دترتيب دخيال
ساتلوسره ووائی. دمثال په توګه په اول رکعت کی قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ اوپه
دوئيم رکعت کی قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ بايلوويل سی. اودارقم کله کم سورة اوکله
کم سورت ويل پکاردی. داسی دی نه کوی چې په اول رکعت کی قُلْ هُوَاللّٰهُ
اَحَد ووائی اوپه دوئيم رکعت کی هم قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَد ووائیٰ. داطريقه دغير
مقلدينو ده چې په هر رکعت کی سورة اخلاص يعنی قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَد دی مکرر
وويل سی. البته دکم سړی چې بل کم سورة نه وی پيادنو بياخو مجبوری ده.
پرواه نکوی. نوهغه خلق چې حنفيان دی هغه دی دسُنت طريقی په برابرخپل
قرأت وائی. په هر رکعت کی دی دسورة فاتحی الحمدلله وروسته دی
مختلف سورتونه دترتيب مطابق ووائی. آنحضرت محمدﷺ هميشه
مختلف سورتونه په لمانځه کی ويلی دی داسی ئی نه دی کړی چې صرف

سورة اخلاص يعنی قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَد دی په هر رکعت کی ويلی وی. (فتاویٰ
دارالعلوم ۲۴۳/۲ بحواله ردالمختار ۵۰۸/۱)

کرارا؛

﴿سُنت قرأت﴾

﴿سوال﴾: دلمانځه په کتابو کی داليکلی دی چې دمثال په ډول دمابنام په
لمانځه کی دلَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ څخه ونيسی بياتروالناسُ پوری قرأت کول سُنت
دی. ددی دامطلب دی چې دقرآن حکيم څخه دی په دغه وخت کی دومره
اندازه قرأت وويل سی څومره اندازه چې ددغه سورتوده. اويادغه سُورتو
څخه قرأت کول زيات ثواب لری؟

﴿جواب﴾: سُنت خوداده چې دغه سورتونه ووائی. اوکله کله ددغه سُورتو
څخه علاوه دنوروسورتوويلوثبوت هم راغلی دی. ليکن په عامووختو کی دی
دغه سورتونه وائی. (فتاویٰ محمودیه ۱۷۱/۲ بحواله شامی ۳۶۲/۱)

﴿په هر رکعت کی پوره سورت ويل﴾

﴿سوال﴾: يوه امام صاحب دسهارپه لمانځه کی په اول رکعت کی دسورة
يٰسٓ آخری رکوع وويل اوبياپه دوئيم رکعت کی وروسی دسورة والصآفا
ت اوله رکوع پوره وويل نوآياداسی کولو څخه لمونځ صحيح کيږی اوکه
نه؟

﴿جواب﴾: دداسی لمو نځ کولو څخه لمونځ صحيح کيږی او؛ مونځ ئی نه

فاسدیږی بلکه صحیح دی.لیکن په یوه رکعت کی یوسورة ویل افضل دی.
(فتاوی محمودیه ۲/۲۰۰ بحواله فتاوی عالمگیری ۱/۷۸)

﴿دامام لپاره تحمیدافضل دی﴾

﴿سوال﴾:امام دسَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ څخه وروسته رَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ هم ووائی او که یوازی ئی مقتدی ووائی؟

﴿جواب﴾:دامام درَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ ویلو کی دواړه قولونه سته.ویل ئی افضل دی.(احسن الفتاوی ۱/۳۱۲ بحواله ردالمختار ۱/۴۴۵)

﴿دامام لپاره آمین ویل څنګه وی؟﴾

﴿سوال﴾:امام دسورة فاتحه ویلوڅخه وروسته آمین ووائی او که نه؟

﴿جواب﴾:دامام اومقتدی دواړولپاره آمین ویل صحیح دی.(احسن الفتاوی ۳/۳۱۲ بحواله ردالمختار ۱/۴۵۹)

﴿په رموز اواوقافوباندی ددریدواونه دریدوبحث﴾

﴿سوال﴾:"اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ"مِنْ شَرِّالْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ ۝الَّذِیْ يُوَسْوِسُ".عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ۝ نِ الَّذِیْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ"(الآية) که پرهغه آیت چی "لا"باندی وی ساودریدل یابنده سوه او وقف وسی اوآخری لفظ دوئیم وارنه ووائی اومخته ولاړسی نوپه لمانځه کی

به کم کم تاوان راځی؟دغه رقم که په دریم مثال کی ئی وقف و کړی نومخته په الَّذِیْ ووائی او که نِالَّذِیْ ووائی؟

﴿جواب﴾:پرهغه آیت باندی چی "لا"علامه وی دضرورت په وخت کی په وقف کولو کی څه نقصان نسته.اودماقبل لفظ دوئیم وارویلوضرورت نسته.او په لمانځه کی هیڅ خلل نه راځی.

اوپه دریم مثال کی الَّذِیْ اونِ الَّذِیْ دواړه ویل صحیح دی.خودوقف په حالت کی الَّذِیْ ویل پکاردی.(فتاوی دارالعلوم ۲/۲۲۷)

اصله خبره داده چی په نَسْتَعِيْنُ وقف کول اوکول دواړه روادی.دغه رقم په قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ۝ باندی آیت کول اونه کول دواړه ثابت دی.نوکه آیت سی نواِهْدِنَا او اَللّٰهُ الصَّمَدُبه وویل سی.اوکه وقف ونه کړی نونَاهْدِنَا او نِالصَّمَدُ به وویل سی.په معنٰی کی ئی څه فرق نه راځی.قرأت دواړه رقم کیږی خوزیات په نستعینُ اوپه اَحَدُباندی آیت جوړول پکاردی.او اِهْدِنَاالصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ اواَللّٰهُ الصَّمَدُ جلاجلاویل ثابت دی.نوپه دی وجه امام ته دڅه شی ضرورت نسته چی هغه دی نَاهْدِنَا اونِاللّٰهُ الصَّمَدُووائی بلکه څنګه ئی چی اکثره قاریان وائی هم هغه رقم دی ئی ووائی.خواتفاقاًکه امام داسی وویل نوپه دی به اعتراض نه کوئ.اوغلط مه ورته وایاست.(فتاوی دارالعلوم ۲/۲۴۶)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

﴿که امام دتجویدرعایت نه کاوی نو...﴾

﴿**سوال**﴾: که دامام تجویدلزده وی اوبیاهم قرأت په تجویدسره نه وائی مثلاً د آیت پر ځای ونه دریدی اویاد آیت څخه بغیرئی ساواخیسته، پروقفه یا سکته باندی ئی سااخیستله اوودریدی،دوقف اووقف لازم اودوقف النبی ﷺ خیال نه ساتی اویادمدپرځای باندی قصرو کړی یائی دنون اظهارپرځای باندی ئی اخفاء وکړه نولمونځ ئی صحیح کیږی او که نه؟

﴿**جواب**﴾: لمونځ ئی صحیح دی.(فتاوی دارالعلوم ۲/ ۲۳۱)

﴿دامام دبعضی الفاظودوه واره قرأت کول﴾

﴿سوال﴾: په قرآن مجیدکی بعض ځایونه کوچنی حروف لیکلی وی.مثلاً "بصطة ج، هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ، عَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ" ددی څخه کم حرف دوئیم وار ویل کیږی.زمونږپه علاقه کی دغه حروف دوه واره ویل کیږی آیادا صحیح دی ؟

﴿**جواب**﴾: لفظ بصطة ج، هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ اوعَلَيْهِمْ بِمُصَيْطِرٍ باندی لوړ "س"دلیکلو څخه دامطلب دی چی دغه لفظ د"س"څخه ویل سوی دی اود "ص"څخه هم ویل سوی دی.یعنی که تلاوت کونکی ئی دصاد 'ص' څخه ووائی هم ئی لمونځ صحیح دی او که ئی د'س' څخه ووائی هم صحیح دی

اوددی کلمودامطلب نه دی چی دغه کلمی دی دوه واره وویل سی .بلکه چی دکم قاری اتباع و کړی دهغه په مطابق دی ووائی.(فتاوی دارالعلوم ۲/ ۲۳۴بحواله جلالین شریف سورة غاشية ص۴۹۸)

﴿دوخت دتنګی لـه وجهی دسهارپه لمانځه کی کوچنی سورت ویل﴾

﴿**سوال**﴾: دسهارپه لمانځه کی وخت تنګ ؤوله دی امله امام صاحب په اول رکعت کی سورة کافرون اوپه دوئیم رکعت کی سورة اخلاص(قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ)ووائی.وروسته یوصاحب اعتراض و کړی چی لمونځ مکروه سو.تا بایدلوی سورت ویلای وائی.صحیح خبره څه شی ده؟

﴿**جواب**﴾: هغه لمونځ بی له څه کراهیته صحیح سو.داویل چی دالمونځ مکروه تحریمی سوداخبره غلطه ده.یووار حضرت محمد ﷺ دسهارپه لمانځه کی قُلْ اَعُوْذُبِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُبِرَبِّ النَّاس ویلی دی.نوددی څخه معلومه سوه چی کله وقت تنګ وی یاسفراویادبل کارله وجهی دچا تلواروی نوبیادسهارپه لمانځه کی دکوچنی سورتونه ویل صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ۲/ ۲۳۷بحواله ردالمحتارفصل فی القرأة ۱/ ۵۰۳)

﴿په اول رکعت کی سوره مزمل اوپه دوئیم کی الٓمّ ویل﴾

﴿**سوال**﴾: امام صاحب دماښام په لمانځه کی دالحمدلله وروسته دسورة

مزمل اوله رکوع وویل اوپه دوئیم رکعت کی ئی دالٓمٓ رکوع وویل اوسُجده سهوئی هم ونه کړه، دالمونځ صحیح سواو که نه؟

﴿**جواب**﴾:په دی صورت کی لمونځ صحیح سو.اوسُجده سهوهم نه لازمیږی.لیکن په راتلونکی کی داسی دقرآنی ترتیب خلاف قرأت نه کوی ولی چی داسی ویل په فرائضو کی مکروه دی.

﴿د کوچنی سورت فاصله ساتل﴾

﴿**سوال**﴾:امام په اول رکعت کی اِذَاجَاءَ اوپه دوئیم رکعت کی ئی قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ووائی نولمونځ ئی صحیح سواو که نه؟

﴿**جواب**﴾:په فرضو کی داسی کول قصداًچی دیوه کوچنی سورت فاصله په مابین کی راولی لکه څنګه چی په صورت مسؤله کی ذکرسو مکروه دی اولمونځ ئی صحیح دی.او که سهواً داسی وسونوپه هغه کی هیڅ کراهیت هم نسته.اوپه نوافلو کی مطلقاًکراهیت نسته.(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۲۴۰بحواله ردالمحتارفصل فی القرأة ۱/۴۹۸)

﴿د کوچنی سورت اندازه﴾

﴿**سوال**﴾:هغه کوچنی سورتونه کم دی چی په اول رکعت اوپه دوئیم رکعت کی دقرأت کولوپه مابین کی پریښول سی نوبیالمونځ مکروه کیږی؟

:هغه سورتونه قصارمفصل دی.چی دلم یکن الذین څخه ونیسی

بیاد قرآن مجید ترآخره پوری دی .(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۲۴۴بحواله ردالمحتار فصل فی القرأة ۱/۵۰۴)

﴿په یوه رکعت کی دوه سورتونه ویل﴾

﴿**سوال**﴾:دماخوستن اوسهارپه لمانځه کی امام صاحب په یوه رکعت کی دوه سورتونه ووائی نوپه لمانځه کی خوبه څه کراهیت نه راځی؟

﴿**جواب**﴾:په یوه رکعت کی دوه سورتونه ویل خلاف اولٰی دی.لمونځ کیږی اود خلاف اولٰی څخه مراد مکروه تنزیهی دی .(فتاوٰی دارالعلوم ۲/۲۵۵بحواله رد المحتار فصل فی القرأة ۱/۵۱۰)

﴿یوسورت په دور کعتو کی ویل﴾

﴿**سوال**﴾:دیوه سورت رکوع په اول رکعت کی ویل اوددغه سورت یابل سورت رکوع په دوئیم رکعت کی ویل اویاپوره یوسورت ویل په دوئیم رکعت کی یایوسورت په دوور کعتو کی ویل جائزدی او که خلاف داولٰی څخه دی؟

﴿**جواب**﴾:اول جواب خودادی چی دا ټول داستحباب څخه خلاف دی دحنفیانوپه نیزسُنت اومستحب دادی چی په یوه رکعت کی ټول سورت په فصل کی دفقهاؤ د ترتیب مُوافق دی ووائی دامعروف دی اودفقهې په کتابو کی مذکوردی.

نو دسورت یو جزء ویل خلاف افضل او خلاف مستحب دی دکم چی حاصل کراهیت تنزیهی راځی نه کراهیت تحریمی.(فتاویٰ دارالعلوم ۲/۲۴۴ بحواله ردالمحتار فصل فی القرأة ۱/۵۰۴)

﴿دآیت شروع پریښوول او نور ویل﴾

﴿سوال﴾: امام دسورة فاتحی وروسته دسورة انافتحنا دآخری رکوع دآخری آیت شخه مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ پریښوی او دوَالَّذِیْنَ مَعَهٗ شخه ئی ووائی لمونځ وسو او که نه؟

﴿جواب﴾: لمونځ وسو مګر دآیت شروع پریښوول ښه کار نه دی.(فتاویٰ دارالعلوم ۲/۲۶۳ بحواله ردالمحتار فصل فی القرأة ۱/۵۱۰)

﴿دضآلّین پر ځای باندی دالّین ویل﴾

د "**د**، **ظ**، **ض**" حروفو دجلا حیثیت او جلا مخارجو کی خو شک نسته او په دی کی هم شک نسته چی په قصده سره سړی یو حرف دبل حرف په مخرج کی ادا کړی نو دا ډیره سخته بی ادبی ده او ډیر خله دلمانځه د فساد باعث ګرځی. لیکن کم خلق چی معذوره وی او دغه حروف صحیح نسی ادا کولای او سره له دی خپل کوشش کوی، نو د دوی لمونځ هم صحیح دی.

او حرف '**دال**' ډک ویل ښکاره خبره ده چی په خپله یو حرف نه دی بلکه هغه '**ضاد**' دی، چی دخپل مخرج شخه پوره نسی ادا نو کم سړی چی په

قصده سره خالص دال یا خالص ظاء ووائی نو په هغه سړی پسی لمونځ نه کوی. مګر هغه سړی چی '**دال**' ډک ووائی تا سو په هغه سړی پسی لمونځ کوی او کم سړی چی د طاقت او وس لرلو سره '**ضاد**' د '**ضاد**' په مخرج کی نه ادا کوی هغه ګنهګاره هم دی او که چیری دبل لفظ دبدلیدو شخه معنیٰ بدله سی نو لمونځ هم نه صحیح کیږی. او که چیری دکوشش او سعی باوجود '**ضاد**' دخپل اصل مخرج شخه نسی ادا نو بیا هغه معذوره دی او دده لمونځ صحیح دی.

او کم سړی چی په خپله پرسم ویلو باندی قادروی نو په داسی معذوره پسی لمونځ کولای سی مګر کم سړی چی قصداً خالص "د" او یا خالص "ظ" ووائی نو په هغه پسی لمونځ نه کیږی.(فتاویٰ رشیدیه کامل ص: ۲۷۴ و ص: ۲۸۴)

﴿دضادپه باره کی دمولانا محمدشفیع صاحبؒ فتویٰ﴾

دعوامو لمونځ خو بی له شه تفصیله او تنقیح شخه صحیح کیږی هغه که "ظاء" ووائی او یا "دال" یا "زاء" او نور داسی. ولی چی هغه پر دی باندی نه دی قادر. او دوی ګنړی هم دا چی مونږ صحیح حرف ادا کړی. او دقرّاء مجودینو او دعلماء کرامو دلمانځه په باره کی تفصیل دی. که چیری غلطی په قصده یا دبی پرواهی په وجه سره وی نو بیا خو لمونځ فاسدیږی. او که چیری دسبقت اللسان او یا دنه تمیز له وجهی وی نو بیا جائز دی.(جواهر الفقه ۱/۳۳۸)

خبر داری لیکن د جواز او عدم فساد څخه دانه ثابتیږی چی بی فکره
دی همیشه غلط ویل جائزوی او ویونکی ئی هم گنهگاره نه وی. بلکه دخپل
قدرت او گنجائش په مطابق دصحیح ویلو کوشش او دهغه لپاره کوشش
کول ضروری دی. کنی بیابه گنهگاره وی. که څه هم لمونځ به نه وی فاسد.
لکه څرنگه چی د مصری چاپ عالمگیری څلورم باب جلد ۱ ص: ۷۴ کی
تصریح موجوده ده. ﴿احقر محمدشفیع الدیوبندی غفرله، خادم دار الافتاء
دار العلوم دیوبند ۲۰ جمادی الاولیٰ ۱۳۵۱ھ﴾

﴿لمونځ فاسدونکی غلطی﴾

دغلط ویلو څخه چی کم لفظ پیدا کیږی دهغه په باره کی امام اعظم
ابو حنیفه رحمه الله تعالیٰ علیه او امام محمد رحمه الله تعالیٰ علیه په دی کی
بحث نه کوی چی هغه لفظ دقرآن څخه دی او که نه. ددوی په نیز ضابطه او
قانون دادی چی دویلو په مابین کی په یوه کلمه کی زیاتوب اویا کمی په وجه
په دی شرط چی معنیٰ بالکل بدله سی لمونځ فاسدیږی. او که چیری داسی نه
وی نوبیانه فاسدیږی. لکه "فَمَالَهُمْ لَایُؤْمِنُوْنَ" کی چی "لَا" حرف پریږدی. یا "وَ
عَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ" پر ځای بانـدی "وَعَمِلَ صَالِحًا كُفْرًا فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ"
ووائی نو لمونځ ئی فاسدیږی. او دکمو حروفو چی امتیاز کول په مشکل سره
کیږی که چیری هغه دیوه بل پر ځای بانـدی وویل سی نوبیا لمونځ نه فاسد

یږی. لکه 'سین'، 'صاد' او 'ضاد'، 'ظ' او 'ذال' او نور داسی. او په کمو کی چی امتیاز
آسان وی هغه که چیری دیوه بل پر ځای بانـدی وویل سی او معنیٰ ئی بالکل
بدله سی نو لمونځ فاسدیږی. لکه چی د طَالِحات پر ځای چی صالحات وویل
سی نو لمونځ فاسدیږی.

او که چیری دالفاظو دبدلیدو څخه معنیٰ بالکل بدله سی نو دلمانځه
فاسد والی یقینی دی. او که بالکل نه وی بدله سوی نوبیا لمونځ نه فاسدیږی.
لکه چی د عَلَيْهِمْ پر ځای بانـدی خَبِيْرٌ و حَفِيْظٌ او داسی نور الفاظ ووائی نو
لمونځ صحیح دی.

او دوَعْدًا عَلَيْنَا اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ پر ځای بانـدی د غَافِلِيْنَ ویلو څخه لمونځ
فاسدیږی. او که چیری ددوو جملو الفاظ بدل سی او معنیٰ ئی هم بدله سی نو
لمونځ ئی فاسد دی. لکه اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ کی جَحِيْم
پر ځای باندی نعیم او دنعیم پر ځای باندی جحیم دویلو څخه لمونځ فاسدیږی
. او که چیری معنیٰ نسی بدله لکه دلَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّشَهِيْقٌ پر ځای باندی شَهِيْقٌ
وَّزَفِيْرٌ ووائی. نوبیا لمونځ صحیح دی. (فضائل الایام والشهور ص: ۱۲۷) (اشرف الایضاح
ص: ۱۳۲ وامداد المفتین ص: ۲۸۵٦)

﴿که دآیت یوه حصه پاته سی او معنیٰ بدله نسی نو لمونځ به صحیح وی﴾

﴿سوال﴾: امام صاحب په لمانځه کی سورة جمعه ویل په مابین کی آیت بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللهِ سهواً ځنی پاته سو لمونځ وسو او که نه او سجده سهو کیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: په دی صورت کی په لمانځه کی هیڅ نقصان نه راغلی. او سُجده سهو هم نه راغله. ولی چی سُجده سهو دواجبو په پریښوولو باندی لازمیږی او دلته خو دواجب په اندازه باندی قرأت ادا کړه سوا او دمابین څخه د قرأت پاته کیدو څخه څه نقصان نه راځی. (فتاوی دارالعلوم ۴/۷۷ بحواله رد المحتار باب زلة القاری ۱/۵۹۱)

﴿ددرو (۳) آیتو وروسته لمونځ فاسدونکی غلطی﴾

﴿سوال﴾: که چیری امام ددریو آیتو څخه زیات قرأت ووائی او بیا فاحش غلطی وکړی نو لمونځ فاسدیږی او که نه؟

﴿جواب﴾: لمونځ فاسدونکی غلطی هروخت لمونځ فاسدوی. البته که چیری دغه غلطی بیرته راو ګرځوی او صحیح ئی ووائی نو لمونځ ئی صحیح کیږی. (فتاوی دارالعلوم ۴/۷۷ بحواله ردالمحتار باب زلة القاری ۱/۵۹۱)

﴿په لمانځه کی پر لیکل سوی شی باندی نظر لګیدل﴾

لمونځ کونکی په لمانځه کی یو لیکل سوی شی ووینی او په هغه باندی پوه سی نو په دی صورت کی لمونځ نه فاسدیږی. ولی چی داکارد

لمونځ کونکی نه دی. بلکه داغیر اختیاری دده په دماغ کی راځی. ولی چی عام طور پر دی باندی سترګی موښتلی. او کتونکی په هغه باندی پوهیږی. له دی امله علماء فرمائی چی دلمونځ کونکی ومخ ته دی داسی شی نه ایږدی ولی چی دشبهاتو څخه پرهیز کول ضروری دی. او دصحیح مذهب په موجب سره لمونځ صحیح کیږی. (**اشرف الایضاح شرح نورالایضاح ص: ۱۳۷**)

﴿دحنفی امام د دُعاء قنوت لپاره رعایت کول﴾

﴿سوال﴾: حنفی امام، دشافعیؒ مذهبو مقتدیانو درعایت لپاره دسهار لمانځه په ددوئیم رکعت په قومه کی دومره توقف وکړی چی شافعیؒ د دُعاء قنوت څخه خلاص سی. نو دا څه رقم دی؟ دده لمونځ کیږی او که نه؟ په داسی امام پسی لمونځ کول صحیح دی او که نه؟ که چیری په ده پسی لمونځ وسی نو لمونځ مکروه کیږی او که نه؟ او په کمو کارو کی دشافعی مقتدی رعایت کول دحنفی لپاره جائز دی، دشافعیؒ مقتدی درعایت کولو وروسته دسلام څخه تر مخه سُجده سهو کولای سی او که نه؟

﴿جواب﴾: په دُرمختار کی راغلی دی چی "دامام دنورو مذهبو دمقتدیانو لکه شافعی المذهب رعایت کول مستحب دی لیکن په دی شرط چی دخپل مذهب دمکروه سره نسی مخامخ". او امام شامیؒ فرمائی چی په مکروهاتو کی مکروه تنزیهی هم شامل دی. یعنی که چیری درعایت کولو څخه دخپل

مذهب مکروه تنزیهی هم راتلی نوبیادی رعایت نه کوی.پس بناء علیه امام
حنفی دی د سهارپه لمانځه کی درکوع څخه وروسته دومره توقف نه کوی
چی پوره دُعاء قنوت کی ووېل سی ولی چی دومره وخت دریدل مکروه دی
اوپه شامی کی ئی دغه مثال ور کړی دی چی درکوع وروسته دیر
دریدل پریښوول واجب دی(یعنی کم دی دریږی)په دی توقف کی ترک د
واجبوراځی.کم چی مکروه تحریمی دی.له دی جهته په داسی امام پسی
لمونځ کول مکروه دی.اودارقم دسلام څخه له مخه سجده سهو کول حنفی د
مقتدی درعایت کولو پر سرباندی کول نه دی صحیح.ولی چی دامکروه تنز
یهی دی. لکه څرنګه چی دشامی په جلد(۱)ص:۵۹۵ کی راغلی دی.(فتاوی
دارالعلوم ۴/۱۰۴ بحواله ردالمحتار کتاب الطهارة مطلب فی ندب مراعات
الخلاف ۱/۱۳۶)

داامام قنوت نازله ویل

دحنفیانوپه نیزدیو حادثی یاواقعی پروخت صرف دسهارپه لمانځه
کی د رکوع څخه وروسته ددوئیم رکعت بی له لاسوپورته کیدو دُعاء قنوت
(نازله) ویل جائزدی.اوپه باقی لمنځوکی نه دی جائز.اوبی له دغه واقعی د
راتګ څخه دهیڅ وخت په لمانځه کی ویل نه دی جائز.

لاسونه به ئی ایله وی.ولی چی پردغه موقع باندی دلاس ترلو روایت

ندی راغلی.اودُعاء قنوت ویلولپاره لاس پورته کیدل هم دحنفی قواعدو
سره نه دی راغلی.له دی امله هوط اوبهتره خبره داده چی لاسونه ایله پریږدی
اومقتدیان دی قرارآمین ووائی.(فتاوی دارالعلوم ۴/۱۸۹ و۴/۱۹۲ بحواله
ردالمحتارباب الوتروالنوافل ۱/۶۲۸)

کله چی دکفارولخواپرعامومسلمانانوباندی دهرقسم ظلم اوتشدد
کیږی چی دهغه عام مسلمانان پریشانه وی ، په داسی وخت کی که چیری
یوامام دسهارپه لمانځه کی دعاء قنوت نازله ددوئیم رکعت درکوع څخه
وروسته کله کله ووائی نو ګنجائش سته.استحباب هم ثابتیږی.مګرداویل
اتفاقاً کیږی.داسی نه چی ددی معمول جوړسی.اودارقم که چیری یوسړی
یوازی په نوافلوکی ووائی نوددی ګنجائش سته.اومقتدی دی دامام پر قنو
باندی آمین ووائی.(فتاوی محمودیه ۲/۱۳۸ بحواله شامی ۱/۴۵۱)

دُعاء قنوت نازله

اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا فِيْمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنَا فِيْمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنَا فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ
وَبَارِكْ لَنَا فِيْمَا اَعْطَيْتَ وَقِنَا شَرَّ مَا قَضَيْتَ اِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ وَاِنَّهٗ
لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ وَنَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوْبُ
اِلَيْكَ وَصَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ الْكَرِيْمِ. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ
وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ وَاَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَاَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِهِمْ وَانْصُرْنَا عَلٰى

عَدُوَّکَ وَعَدُوَّهِمْ. اَللّٰهُمَّ الْعَنِ الْكَفَرَةَ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِكَ وَيُكَذِّبُوْنَ رُسُلَکَ وَيُقَاتِلُوْنَ اَوْلِيَآئَکَ. اَللّٰهُمَّ خَالِفْ بَيْنَ كَلِمَتِهِمْ وَزَلْزِلْ اَقْدَامَهُمْ وَاَنْزِلْ بِهِمْ بَأْسَکَ الَّذِيْ لَاتَرُدُّهٗ عَنِ الْقَوْمِ الْمُجْرِمِيْنَ.

﴿دامام سُتره دمقتديانو لپاره کافي ده﴾

سُتره هغه شي ته وائي چې لمونځ کونکې ئې وخپل مخ ته دروي. هغه که دلرګي وي ديوال وي او که نور. اوددې سُترې دريدلو څخه دا مقصددې چې ددې په ذريعه دسجدې ځاى په معلوم سي. او کم سړى چې دلمونځ کونکې ترمخه تيريږي نو هغه به نه ګنهګاره کيږي.

دسُترې ضرورت هلته په کارراځي چيرى چې لمونځ کونکې په خلاص اوبې پردې ځاى کې لمونځ کوي. که چيرى په مسجد کې لمونځ کيږي ياپه هغه ځاى کې لمونځ کيږي چيرى چې دچادتيريدلو خطره نه وي نوبياهلته دسُترې ضرورت نسته.

دسُترې اُوږدوالى دې ديوه لاس څخه کم نه وي. اوددې پُنډوالى دې کم ترکم ديوې ګوتې په اندازه باندې وي. اودجماعت په صورت کې د امام سُتره دټولومقتديانوله طرف څخه کافي ده. يعنې که چيرى دامام ومخ ته سُتره وي نودمقتديانودمخه څخه دتيريدلو هيڅ ګناه نسته. هغه که د هغوى ومخ ته يوشي پروت وي او که نه. ليکن دسُترې ددې خواڅخه تيريدل جائزنه

دي. هو! که چيرى يو سړى په جماعت کې دشرکيدولپاره په اول صف کې وخالي ځاى ته راتيرسي نوبياپرواه نکوي. په دې صورت کې ګناه ددوئيم صف والادي ولې چې هغوى ومخ ته راغله چې دمخ صف ئې ډک کړاى وائي. (مظاهرحق جديد ۱/۶۴۵)

﴿چې يوى خواته ئې سلام ګرځولي وي اويوڅوک ئې﴾ ﴿مخ ته تيرسي﴾

﴿سوال﴾: زيددلمانځه څخه يوى خواته سلام ګرځولى وُوچې بکرئې د مخه څخه تيرسو، نو آيابکر ګنهګاره سواوکه نه؟ يوعالم دين وائي چې ودواړو خواؤته سلام ګرځول واجب دي. له دې امله بکر ګنهګاره دى دده وينا صحيح ده؟

﴿جواب﴾: په دې صورت کې بکرنه دى ګنهګار. ولې چې لمونځ داول سلام سره ختم کيږي. بلکه دلفظ السلام عليکم دويلوڅخه اول لالمونځ پوره کيږي. دواړه سلامونه ويل واجب دي. مګردوئيم سلام دلمانځه څخه د باندې واجب دي. له دې امله که چيرى يوڅوک دالسلام لفظ څخه وروسته اودوعليکم لفظ څخه ترمخه اقتداء وکړي نودااقتداء ئې نه صحيح کيږي.

(احسن الفتاوى ۱/۴۰۶ بحواله ردالمحتار ۱/۴۳۶)

﴿په خومره فاصله کی تیریدل پکاردی؟﴾

﴿سوال﴾:دلمونځ کونکی ترمخه دری یاڅلورصفونه پریږدی اوبیاتیرسی دا جائزدی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:که چیری په دومره کوچنی مسجد،خونه یاغولی کی لمونځ کوی چی دهغه ټوله رقبه(۴۰)لاسه(۸×۳۶ مربع میټر)شخه کمه وی نوبیاد لمونځ کونکی ترمخ تیریدل مطلقاًجائزنه دی.هغه که نژدی تیرسی اوکه لیری په هر حال کی ګناه سته.البته که چیری خلاصه علاقه وی یاد(۸×۳۶ مربع میټر)علاقه وی اویاددی اندازی شخه زیات مسجلوی یالویه خونه وی اویا لوی غولی وی اوهلته لمونځ کیږی نودسجدی دځای شخه ونیسی بیاترهغه ځایه پوری ترکمه ځایه چی طبعاًنظر سیږی په هغه ځای کی تیریدل جائزنه دی.د هغه شخه هغه خواته تیریدل جائزدی.

ما(مصنف)ددی اندازه ولګول دادسجدی دځای شخه ویوصف ته نژدی ؤؤ.له دی جهته دلمونځ کونکی دولاړی دځای شخه ددو(۲)صفونو اندازه باندی تقریباًاته فټه(۲×۴۴ میټره)هغه خواته تیریدل جائزدی.

لیکن دعاموعبارتو شخه دفقهاؤمتبادرمفهوم دادی چی څلویښت ۴۰ مربع لاسونه(۹۰ مربع فټ یا۸×۳۶مربع میټره)مراد دی.(احسن الفتاوی ۳۱۰/۴بحواله ردالمحتار ۵۹۳/۱)

لوی مسجدیالوی مکان یامیدان وی نوددونی اندازی شخه لیری تیریدل جائزدی چی که لمونځ کونکی خپل نظردسجدی پرځای وکړی او تیریدونکی دی ونه وینی.(کفایت المفتی ۲۴۷/۳)

پس که چیری یو سړی دباندی پرفرش باندی لمونځ کوی نوپه دننه درجه کی ومخ ته تیریدلای سی. (فتاویٰ دارالعلوم ۱۰۱/۴ بحواله ردالمحتار باب مایفسدالصلوٰۃ ومایکره فیها ۵۹۳/۱)

﴿دستری مختلف صورتونه﴾

﴿سوال﴾: که چیری یو لمونځ کونکی وخپل مخ ته دستی بسته اویاکالی کښیږدی.نودده دمخه شخه تیریدل جائزدی اوکه نه؟

﴿جواب﴾:ستره بایدکم ازکم دیوه لاس په اندازه باندی جګه وی.ددی شخه په کمه ستره کی اختلاف سته.راجح قول دادی چی دیوه ذراع په اندازه باندی دی وی. که چیری یولاس ستره میسره نه وی نوبیاددی شخه په کمه باندی هم صحیح کیږی.اودضرورت په وخت کی دستری شو صورتونه دی.مثلاً:

(۱)داسی یوشی چی دیوه ذراع شخه کم وی.

(۲)لکړه اوداسی نورپرمځکه باندی اچول چی ولاړیدلای نسی.

(۳)ومخ خواته لیکه کښول. لکړه یالیکه طولاًیعنی دقبلی پرمخ باندی اچول

زيات بهتره ده. كه څه هم عرضاً هم جائز دی.

(۴) جاء نماز يا كالي واچوی او پر هغه باندی لمونځ وكړی.

(۵) كه چيری دوه كسان دلمونځ كونكی ترمخه تير يږی نو يو دی خپل شاد لمونځ كونكی وخواته وكړی او هغه بل دوئيم دی تيرسی. او دارقم دی هغه تير سوی سړی داسی چم وكړی. او اول سړی دی تيرسی.

(۶) يو صحيح قول داهم دی چی خلويښت لاسه (۲۵×۶۰ مربع ميتره) ياد دی څخه زيات غټ مسجداو په صحراء كی دی دسجدی د ځايه څخه هغه خواته تيريدل بی له ستری هم جائز دی. (احسن الفتاوی ۳/۴۱۱ بحواله ردالمحتار ۱/ ۵۹۳)

بيده سړی ته مخ كول او لمونځ كول

سوال: يو سړی بيده دی كه چيری سړی دده ومخ ته بی له سُتری لمونځ وكړی نو داجائز دی او كه نه؟ كه چيری داسی پروت وی اويانه وی نو بيا ددی څه حكم دی؟

جواب: په دوا روصورتو كی جائز دی. په دی شرط چی دپروت سړی مخ به دلمونځ كونكی وخواته نه وی. بلكه دبام يادقبلی وخواته وی. البته كه چيری پرپروت سړی باندی كالی پروت وی نو بيا په هرصورت كی جائز دی. (احسن الفتاوی ۳/۴۳۵)

دباران په وجه لمونځ ماتول

سوال: دمسجد په غوالی كی باجماعته لمونځ اداكيدی. باران په زوره شروع سو نو آيالمونځ مات كړی او په مسجد كی دننه ئی اداكول جائز دی او كه نه؟

جواب: دباران په وجه سره لمونځ ماتول جائز نه دی. البته دباران څخه وي چاته دناجوړی خطره وی يادلنديدلو څخه دري نيمی ماشي (۳×۴۲ گرام) دسپين زرو دقيمت په اندازه مالی تاوان ورسيدی نو داسی سړی بيالمونځ پريښولای سی. (احسن الفتاوی ۳/۴۳۸)

دامام صاحب په تياره كی لمونځ وركول

سوال: دفرضو لمنځو په وخت امام صاحب رونا مړه كړی او كه لمونځ وركوی. بلكه تراويح هم وركوی. پر يوښتنه كولو باندی ئی وويل چی حضرت محمد ﷺ اكثره خپل لمنځونه په تياره كی كړي دی. صحيح مسئله څه رقم ده؟

جواب: داشرعی مسئله نه ده. بتی مره كول او په تياره كی دلمانځه كولو هيڅ تاكيد نسته. دضرورت په وخت دضرورت په اندازه باندی رُنا استعمالول او بيا په هغه كی لمونځ كول بلاكراهيته صحيح او ثابت دی. د ضرورت او دضرورت څخه زياته رُنا استعمالول په اسراف كی داخل دی

اوداکارممنوع دی.(فتاوی محمودیه ۲۰۸/۲)

﴿په لمانځه کی یو څوک خلیفه کول﴾

دفقهاؤپه اصطلاح کی استخلاف ودی ته وائی چی دامام یادمقتدیا نو څخه یوداسی نیک سړی دامام نائب جوړکړی چی دامام پرځای باندی هغه سړی دلمانځه تکمیل وکړی.داصورت دیوسبب په وجه منځ ته راځی.

مثلاًیو امام دجماعت سره یویادوه رکعته یاددی څخه زیات لمونځ پوره کړی اوبیاپه مابین کی داسی یو کارپیښ سی چی هغه دمقتدیانوسره دلمانځه دپوره کیلوڅخه منع کوی.لکه یوناڅاپه مرض یابی اودسی ورپیښ سی یاداسی یو بل کارمانع صلوٰۃ ورپیښ سی نوپه داسی صورت کی دا روادی چی امام خپل دشالمونځ کونکوڅخه یادموجودو خلقوڅخه یوسړی دامام په طورباندی را مخ ته کړی ددی لپاره چی پاته لمونځ دمقتدیانوسره پوره کړی.

که چیری امام داسی ونکړی اومقتدیان پخپله دخپل مابین څخه یو سړی انتخاب کړی اوددی امام قائم مقام ئی کړی.ددی کارلپاره داشرط دی چی نه به مخ اړه وی اونه به کمه خبره کوی.

ممکنه ده چی څوک داووائی چی آخردامام دقائم مقامه دجوړیلو ضرورت څه شی دی؟آیاآسانه طریقه نسته چی داسی کمځ خنلپراسی چی وامام ته دلمانځه پرمخ بیولومانع وی نوهغه لمونځ مات کړی اوبل یونیک

سړی امام جوړکړی اوپه جماعت سره لمونځ اداکړی.

ددی جواب دادی چی دشریعت اسلامیه په نظرکی لمونځ ډیرد احترام وړعمل دی.له دی امله کله چی کم انسان په لمانځه کی مشغوله سو اودخضوع اوخشوع سره دخپل رب په حضورپه دُعاباندی مصروف سونو ده ته دابښائی چی دی دی په دغه حالت کی واُوسی ترڅوچی دلمانځه څخه خلاصیږی.چنانچه کله په دې حالت کی یوعمل هیرسی نو دالازمه ده چی هغه بیرته پوره سی اودتلافی لپاره ئی سُجده سهووسی.اودارقم که چیری کمه خبره راسی نوجماعت یالمونځ دی باطل کړی نوهغه دی دلمانځه څخه لری سی اوبل څوک دی ددی دپوره کیلولپاره خپل نائب وټاکی.

ددی ټولوامورو څخه مقصددادی چی یووارشروع سی نوبیادی هغه په پوره ډول سره اداکړه سی.ولی چی دشریعت اسلامیه په نظرکی دهغه پوره کول ضروری دی.دکم څخه چی په هیڅ حالت کی بایدغفلت ونسی.

(کتاب الفقه ۲۱۱/۱،۲۱۲)

﴿دخلیفه دجوړولو اسباب﴾

دخلیفه دجوړولواسباب څه کیدلای سی؟په دی باره کی امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله تعالٰی علیه فرمائی چی دخلیفه جوړولوسبب داکیدای سی چی دامام دبی اختیاری په حالت کی یوحدث ورپیښ سی.مثلاًدلمانځه په

وخت کی هوا(ریح)خارج سی یاچیری وینی یابله مُرداری کم چی دانسان د
بدن څخه راوزی راوبهیږی(نوبیاامام خلیفه جو ړولای سی)لیکن که چیری
نجاست ورو لګیږی چی دلما نځه دجاری کیدو څخه مانع ګرځی یاداچی د
امام ستر(عورت)خلاص سی.یاداسی یوه بله خبره ورپیښه سی نوپه داسی
حالاتو کی دامام لمونځ فاسدیږی اوددی سره سره دمقتدیانولمونځ هم ځی.
په دی صورت کی یوڅوک نائب جو ړول نه دی صحیح.اودارقم
چی امام په زوره وخاندی یالیونتوب یابی هوښې اونورداسی حالتونه پرراسی د
کم تفصیل چی به دخلیفه دجو ړولوپه شرائطو کی راسی.نوبیاهم دی څوک
خلیفه نسی جوړولای.

څوک خلیفه کول هغه وخت جائزدی کله چی امام دفرض قرأت د
اندازی داداء کولوڅخه هم عاجزه وی.دغه رقم که امام ته پخپله د څه تاوان
یا دمال دضائع کیدواندیښنه راپیښه سی نوهغه ته داجائزدی چی څوک
خلیفه کړی بلکه پکارده چی دی لمونځ مات کړی اودمقتدیانوچی هرڅومره
وس ورسیږی نودغه لمونځ دی دسره څخه بیاوکړی.(**کتاب الفقه** ۱/۷۱۲)

﴿په لمانځه کی دخلیفه دجوړولو مسئلی﴾

دحنفیانوپه نیز(دامام)یوڅوک خپل خلیفه جوړول افضل دی.که
امام یو څوک خپل خلیفه(نائب)جو ړنه کړی اونه په مقتدیانو کی چاخلیفه

جوړ کړی اونه په مقتدیانو کی څوک پخپله بغیردخلیفه جوړیدلوڅخه په مخ
کي ودریږی نولمونځ به ئی باطل وی.نوکه په وخت کی ګنجائش وونو
دالمونځ دی بیرته دوئیم وار راوګرځوی.که وخت تنګ وونوخلیفه جوړول
به واجب وی.په دی مسئله کی دحنیفانوپه نیزپه جمعه اوپه نورو لمنځوکی
فرق نسته.

که امام څوک خپل خلیفه کړی اومقتدیانو څوک بل سړی
انتخاب کړی نوامام چی څوک خلیفه کړی دی دهغه څخه علاوه به په بل
سړی پسی لمونځ صحیح نه وی.که په مقتدیانو کی یو سړی چاخلیفه کړی نه
وی اوپخپله رامخ ته سی او ټول لمونځ ئی ور کړی نولمونځ به ئی صحیح
سی.خو که امام یاپه مقتدیانو کی چانه وی خلیفه کړی اوڅوک پخپله بی له د
خلیفه جوړیدو څخه رامخکی سی اوخلقو ځانته ځانته لمونځ وکړی نودټولو
لمنځونه باطل دی.(کتاب الفقه ۱/۷۱۳)

﴿که دامام اودس مات سی نوڅه حکم ئی دی؟﴾

﴿سوال﴾:که چیری دامام اَودس مات سی اوهغه په لمانځه کی یوڅوک
خلیفه جوړیدل وغواړی نوددی به څه صورت وی؟

﴿جواب﴾:داستخلاف(خلیفه جوړولو)دتصحیح دری شرطونه دی.

(۱)دخلیفه دمتعین کیدووروسته پاته شرطونه صرف دامام لپاره دی.د خلیفه

او دمقتدیانو دلمانځه لپاره نـدی. کـه چیرې ددې وروسته امام یومنافي فعل
وکړي نو دخلیفه او مقتدیانو لمونځ صحیح کیږي.

(۲) که چیرې خلوېښت لاسه(۲۰ مربع فټ ۶۰×۲۵ مـربع میټره) څخه په
کوچنۍ مسجد کې یاددې څخه په کوچنۍ غولي کې جماعت وي نو دامام د
دې ځایه څخه دوتولو څخه دمخـه اول بایدخلیفه متعین وي. او که چیرې په
پراخـه عـلاقه کې وي او یادذکرسوې مقدارپه اندازه یادهغه څخه زیات لویه
خونـه او یـالوی غولي وي نودقبلي وخواته د ستري څخه او کـه ستره نه وي
نو بیادسُجدې دځایه څخه دتیریدو له مخه دې خلیفه معلوم کړي.

(۳) په خلیفه کې به دامامت صلاحیت وي یعنې ښځه یانابالغه به نه وي.

دخلیـفـه لپاره دانه دې شرط چې دې دې امام معلوم کړي. بـلکه که
مقتدیانو یو څوک دمخه کړي او یایوسړی پخپله ځان خلیفه جوړ کړي او مخ
ته سوهم جائز دی.

ښه خبره داده چې امام خپل خلیفه جوړ کړي. مسبوق هم خلیفه
جوړیـدلای سی. که چیرې خلیفه ته دپاته رکعتو علم نه ؤونو امام دې دګوتو په
اشاره باندې وهغه ته ورو ښئي. او که قرأت پاته ؤونو پرخوله دې لاس کښیږد
ی او اشاره دې ورته وکړي. سورة فاتحه پاته وي نو پر کم ځای چې ده پرې
ایښي وي دهغه ځایه څخه دې دوی کـلمې په زوره ورته ووائي. د رکوع

لپاره دې پر ګوناهو بـاندې لاسونه ونیسي او دسُجدې لپاره دې پر تندي باندې
لاس ونیسي. دسُـجـده تـلاوت لپاره دې پـرتندي او ژبه باندې لاس ونیسي
او دسُـجـده سهـو لپـاره دې پـر سینه باندې لاس کښیږدي او د خـلیفه سردې
ورخلاص کړي. بیادې داو داسه څخه دخلاصي پوري که چیرې جماعت نه
ؤوختم سـوی نـو بیـادې دخلیفـه اقتداء وکړي او کـه جـمـاعت ختم سوی
ؤونو بیادې یوازې لمونځ وکړي.

داقتداء په صورت کې دې پاته سوي ارکان اول ادا کړي او دامام سره
دې شـامـل سـي. که چیرې امام دخلیفه دیوړُکن داداکیلو څخه دمخه او دس
وکړي راغـلـی نـو خلیفه دې شاته سي او اصل امام دې امامت ور کړي په دې
شرط که امام دمسجد څخه نه ؤوتلی. که چیرې اُوبه دمسجد څخه دباندې
وي نـوافضل دادې چې یو څوک خلیفه جوړ کړي خپله دسره څخه لمونځ
راو ګرځوي. البتـه کـې چیرې وخت تنګ ؤونـوبیـاخـلیفـه جوړول واجب
دی. (احسن الفتاوی ۳/ ۳۱۰)

﴿دخلیفه دجوړولو شرطونه او دهغه طریقې﴾

اول شـرط دادې چې امام په مسجد کې لمونځ کـوي دخپل خلیفه
جوړولو څخه دمـخـه دې دهغه ځایه څخه نـه وزي. کـه چیـرې امام دباندې
ولاړي نـوبیاخلیفه جوړول نـه دامـام لپاره صحیح دي او نه دخلکو لپاره. ولي

چې دده دمسجدڅخه دوتلوسره دټولولمنځونه باطلیږي.

دوئیم شرط دادی چې څوک خلیفه جوړیږي هغه به دامامت اهل وی.له دی جهته که چیری یوناخوانده یانابالغه خلیفه جوړسی نوبیاد ټولو لمونځ باطلیږي.

دخلیفه جوړلوطریقه داده چې امام پرخپله پُزه باندی لاس کښیږدی کوږ کوږدی وشاته سی.داسی دی ځان ظاهر کړي ګواکی دده پزی څخه وینی پخپله راووتی.داکار که څه هم خلاف واقعه وی لیکن په دی کی مصلحت ښکاره دی چې په دارقم دلمانځه نظم اوددی دعمومی آدابولحاظ وساتل سی.

دریم شرط ئی دادی چې دموجوده لما نځه دجاری کیدوشرائط به پوره وی.که چیری داشرطونه نه وی نوبیالمو نځ باطلیږي.اوددی لپاره خلیفه جوړول هم نه دی صحیح.هغه شرطونه یولس(۱۱)دی.

(۱)دادی چې هغه بی اودسی به بی اختیاره وی.(۲)داچې هغه بی اودسی به د امام دبدن سره تعلق لري.که چیری ددباندی څخه مُرداری راغلی وی چې هغه مانع لمو نځ وی نوبیادغه لمو نځ جاری نسی ساتلای. (۳)دادی چې هغه بی اودسی به داسی نه وی چې غسل واجبوی.مثلاًداسی فکرکول چې دهغه څخه انزال وسی.(۴)داچې هغه بی اودسی نابلده نه وی.مثلاًپه زوره خندل یا

بی هوښې راتلل اویالیونتوب راتک.(۵)داچې د بی اودسی وروسته به امام یو رُکن نه وی ادا کړی یاتـلـلی نه وی.(۶)داچې داسی یوحرکت به ئی قصداًنه وی کړی چې هغه دلما نځه سـره منافی وی. مثلاً په بی اختاری کی چې کمه بی اودسی وړ پیښه سوی ده دهغـه وروستـه ئـی پـه قصده خبری نه وی کړی.(۷)داچې غیرضروری عمل به ئی نه وی کړی. مثلاً داچې واُوبوته نژدی وی خودی لیری په اُوبوپسی ولا ړسی.(۸) داچې بی له څه مجبوری یادرش له وجهی دومره ځنډدخلیفه په جوړولو کی وکړ ی چې په هغه وخت کی یورُکـن اداسی.(۹)داچې په لما نځه کـی دی ودته دا انکشاف نه وی سوی چې دی خودلما نځه لـه مـخه بی اودسه ؤو (۱۰)داچې امام صاحب به په ترتیب کی وی اوده ته به قضاسوی لمونځ نه وی وریپاد سوی.(۱۱)داچې پاته لمونځ دی ددغه ځایه علاوه بل ځای نه ادا کوی.

له دی امله که چیری امام یامقتدی ته بی اودسی وړ پیښه سی اوهغه د اوداسه لپاره ولاړسی نوداوداسه وروستـه بیرتـه راسی دامام صاحب سره لمونځ کول واجب دی.لیکن ویوازی لمونځ کونکی ته دااختیارسته چې هغه د اوداسه وروسته هلته راسی لمو نځ پوره کړی اوکه بل ځای.(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ۱/۹۱۷)

۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞۞

﴿دبناء دصحت لپاره شرطونه﴾

﴿سوال﴾: که چیری دماښام په لمانځه کی یابل لمونځ کی کوی،هغه دوه یا دری رکعتونه کړی وی،اوس دده اودس مات سی اودوئیم وارداوداسه لپاره ولاړی.نوبیابه دی هغه دوه رکعته یایو رکعت کوی او که به ئی دسره را ګرځوی؟په کموصورتو کی بناء جائزه ده؟په تفصیل ئی راته بیان کړی.

﴿جواب﴾:دبناء دجواز لپاره(۱۳)شرطونه دی.

(۱)پـه بـی اودسی یاددی په سبب کی دهیڅ انسـان دخل نه وی.که چیری ئی په قصده سره اودس مات کړی اویابل چازخم کی جوړ کړی وینی ئی خنی وکښي نوبنـاء نسی کولای.له دی وجهی چی په اول صورت کی نفس حـدث اوپـه دوئیم صورت کی دحدث سبب یعنی زخم دانسان لخوا څخه دی.دټوخـولودوجهی چی ریح یابادخارج سی هغه هم دبناء څخه مانع ګرځی.اودپرچولوڅخه چی ریح ووزی دهغه په بناء کی اختلاف دی.

(۲)بی اودسی به دلمونځ کونکی دبدن څخه وی. که چیری د خارج څخه وی مانع صلوٰة حدث وی نوهغه بیادبناء څخه ممانعت راولی.

(۳)بـی اودسـی بـه مـوجـب غسـل نه وی. که چیری په لمانځه کی خوب ورغلی اواحتلام سونوبیابناء نه صحیح کیږی.

(۴)بـی اودسـی بـه نـادرالـوجـودنه وی.یعنی لکه په زوره خندل یابی

هوښه کیدل.

(۵)دبی اودسی(حدث)سره به ئی یوړکن نه وی اداء کړی. که چیری ئی پـه سُـجـده کـی اودس مـات سـواوسـرئی دسُجدی دپوره کیدوپه نیت راپورته کړی اویاداوداسـه لپـاره تـلـی اوپـرلاره ئی قرأت وائی نوبیابناء نسی کولای.

(۶)دروانیدلوپه حالت کی به یوړکن نه اداکوی.مثلاًداوداسه ورروسته دراګرځیدلوپه حال کی قرأت ویل ، هواپه تګ اوراتګ کی تسبیحات ویل منع نه دی.

(۷)دلمانځه ضـدیو کـاربه نه کوی.مثلاًدقدرتی بی اودسی(حدث) ورروسـتـه پـه قـصـده سره بی اودسی(حدث)یاخبری(کلام)یادڅاه څخه اوبه راکښل اونورداسی.

(۸)بـی ضـرورتـه بـه کـارنـه کوی.مثلاًداچی داوداسه لپاره ځای پریږدی اوددوو(۲)صفوڅخه زیات لیری ولاړسی.هو! که دنژدی ځای سره رش زیات ژوپایه هیره لیری ولاړی بیاپرواه نکوی.

(۹)بی لـه ضرورته به ددری واره سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی په اندازه باندی تأخیرنه کوی. که دپوزی وینی نه دریدی اویادبل اندام څخه وینی نه دریدی نو له دی امله ځنډپـرواه نکوی.داوداسه سُنتونه دی هم پرځای کړی. که چیری

ئی صرف د اوداسه پر څلورو فرائضو باندی اکتفاء وکړه نو بیائی بناء نه ده
جائزه.

(۱۰) پخوانی بی اودسی(حدث) به نه وی ښکاره سوی. مثلاً پرمُوزه
باندی دمسحی دختم کیلو وخت. دمقیم اُو به لیدل او یادمستحاضه څخه د
وخت وتل.

(۱۱) دترتیب ولاخاونلته به قضاء لمونځ نه وی وریبادسوی. البته که
ئی پیادورغلی اوقضاء ئی نه وکړه بلکه دوقتی بناء ئی وکړه او بیائی نور زیات
څلور رکعاته یعنی ټول ئی شپږ(۶) فرض لمنځونه دده پر ذمه باندی سوه
نو بیادبناء والالمونځ صحیح کیږی.

(۱۲) که چیری مقتدی ته بی اودسی(حدث) وریپینه سوی او یاامام ته
اودوی یوخلیفه ودراوی او داوداسه څخه دختم کیلوورو سته هم جماعت نه
وؤختم سوی او ځای هم داسی وؤ چی پرهغه ځای باندی اقتداء نه صحیح
کیږی نوداشرط دی چی دا امام یامقتدی دی پرداسی ځای باندی راسی بناء
دی وکړی دکمه ځایه څخه چی بناء صحیح کیږی. که چیری داوداسه پر
ځای باندی اقتداء کولای سی، یا د اوداسه دختم کیلو له مخه جماعت ختم
سوی وی، یامنفردته بی اودسی وریپینه سوی وی نوپه دی دری صورتو کی
ودوی ته اختیارسته چی د اوداسه په ځای کی بناء وکړی یاپخوانی ځای ته را

وګرځی او هلته لمو نځپوره کړی. خود اوداسه په ځای(ددی صورتو په حال
کی) بناء افضله ده.

(۱۳) امام ته بی اودسی(حدث) وریپښ سونودی به داسی خلیفه نه
جوړوی چی هغه دامامت صلاحیت نلری. داهم دلما نځه ضددی. دکم بیان
چی په (۷) نمبر کی تیرسو. مګر دخفاء له وجهی دامستقل ذکرسو. په حقیقت
کی شرطونه دولس(۱۲) دی.

دذکرسوی شرائطوسره که څه هم بناء صحیح ده خولمونځ دسره
کول افضله دی. البته که چیری وخت تنګ وؤنوبیابناء افضله ده. بلکه که
چیری وخت زیات تنګ وی نوبیاخوبناء واجبه ده. د سره لمونځ د راګرځولو
لپاره داضروری ده چی داول لمانځه څخه دی سلام وګرځوی یادی ئی په یو
داسی کارباندی ختم کړی چی هغه دلما نځه ضلوی. بیادی نوی لمونځ دسره
څخه شروع کړی. بی له سلام ګرځولو یادیو منافی فعل نه کولو څخه بغیرلمونځ
بیرته له سره راګرځول صحیح نه دی. (احسن الفتاوی ۳/۴۳۵)

﴿که امام ته خلیفه جوړول ګران سی نوڅه حکم ئی دی؟﴾

﴿سوال﴾: دفقهی په کتابو کی امام جوړول جائز ګڼل سوی دی. مګر دا
مسئله ډیرکم وبیش راځی. اوخلق ددی څخه په دی ناخبره دی او امام ته
خلیفه جوړول ګران کاروی نوپه دی داسی حالت کی به څه کوی؟

﴿جواب﴾:دفقهی په کتابو کی چی لیکلی دی چی خلیفه جوړول جائز دی نو داخبره ضروری نه ده چی جوړ دی سی بلکه هلته ئی داهم لیکلی دی چی استیناف ئی افضله دی.

نو کله چی دارقم حال جوړ سی کم چی تالیکلی دی نو په داسی حالت کی استیناف کول مناسب کاردی.ددی لپاره چی خلق په غلطی کی ونه لویږی.پس اول دی لمونځ قطع کړی اودلمانځه یومنافی کاردی وکړی او بیاده اودس کولوروسته دی لمونځ دسره وکړی.(فتاوی دار العلوم ۳/۲۰۱ بحواله ردالمختار ۱/۵۲۲)

﴿دامام دسُجدی په حالت کی اودس ماتیدل﴾

﴿سوال﴾:که چیری دسُجدی په حالت کی اودس مات سی نو خلیفه به څه رقم ومصلی ته راځی؟

﴿جواب﴾:په داسی صورت کی دی خلیفه راسی اودهغه سُجدی څخه دی شروع کړی.اوامام دی کم چی بی اودسه سوی دی دی پرخپل تندی باندی لاس کښیږدی ددی لپاره چی وخلیفه ته دامعلومه سی چی دده اودس په سُجده کی مات سوی دی.دغه سُجده دی بیرته وکړه سی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۲۰۳ بحواله ردالمحتار ۱/۵۶۲ باب الاستخلاف)

﴿چی سورت ئی وائی اَوُدس ئی مات سی﴾

﴿سوال﴾:امام یوسورت وائی چی اودس ئی مات سو.اوس هغه مقتدی چی

دده خلیفه سوهغه سورت ئی یادنه ؤو کم چی امام وائی نواوس هغځه وکړی؟

﴿جواب﴾:هغه دی کم بل سورت ووائی اورکوع دی وکړی داضروری نه ده چی هغه سورت دی ووائی.بلکه که چیری هغه امام دواجب قرأت په اندازه بانـدی ویلی ؤونوداخلیفه چی دهغه پرځای ودریدی نوفوراً رکوع ته تللای سی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۲۰۳ بحواله بحرالرائق ۱/۳۹۱)

﴿مسبوق خلیفه به لمونځ څنګه پوره کوی؟﴾

﴿سوال﴾:امام دماپښین لمونځ ورکاوی.دمقتدی اودس مات سو.کله چی هغه داوداسه کولو څخه بیرته راغلی نوامام یورکعت کړی ؤو.کله چی هغه سړی راغلی اوپه لمانځه کی شامل سونودامام صاحب اودس مات سو امام صاحب هغه سړی خلیفه کړی دکم څخه چی یورکعت تیرسوی ؤواوخپله ولاړی داوداسه لپاره.که چیری دی دمقتدیانولمونځ پوره کوی نودده دری رکعتونه جوړیږی او که چیری خپل رکعتونه پوره کوی نوبیادمقتدیا نو پنځه رکعته کیږی.څه به کوی؟

﴿جواب﴾:دکم مقتدی اودس چی مات سواوهغه اوداسه کولوله ولاړی او په دی دوران کی دهغه څخه یورکعت تیرسو.نوهغه لاحق سو.دته دا حکم دی چی دی دی اول خپل تیرسوی رکعت وکړی.اوبیادی دامام سره شریک سی.نوبیاکه چیری ده داسی وکړه نودده لمونځ دامام سره برابر سو

او که چیرې ده خپل تیرسوی رکعت نه راو ګرځاوی او دامام سره شریک
سو او بیادامام او دس مات سو، او امام دغه لاحق امام جوړ کړی نوده ته دا پکار
ده چې کله دامام څلورم رکعت پوره سونو دا سړی دې یو مُدرک مقتدی
خپل خلیفه جوړ کړی کم چې داوله څخه دامام سره په لمانځه کې شریک
ؤ. هغه به سلام وګرځوی او هغه بل لاحق دی ولاړ سی خپل رکعت دې
پوره کړی.(فتاوی دارالعلوم ۳/۳۷۶بحواله ردالمختار ۱/۵۵۸)

﴿دمسبوق دامامت حکم﴾

﴿**سوال**﴾:دمسبوق امامت صحیح دی او که نه؟مثلاًزیدلمونځ کاوی ،بکرپه
دوئیم یادریم رکعت کې شریک سو کله چې زیددلمانځه څخه خلاص سو
نوبکردباقي پاته رکعت لمانځه لپاره ولاړسو،خالدراغلی دده دشالخوا ئي
لمونځ وکړی(یعنی بناء ئي وکړه)دخالدلمونځ صحیح دی او که نه؟

﴿**جواب**﴾:دمسبوق اقتداء صحیح نه ده.هغه په انفرادی حالت کې دامام د
خلاصیدو وروسته امام نسی جوړیدلای.(فتاوی دارالعلوم ۳/۳۷۶بحواله
ردالمختار ۱/۵۵۸)

﴿دعمل کثیراودعمل قلیل تعریف﴾

﴿**سوال**﴾:عمل کثیرکم چې لمونځ فاسدوی دهغه تعریف څه شی دی؟ که
چیرې ئی دمثال سره وضاحت وکړی نوپه پوهیدلو کې به آساني وی.

﴿**جواب**﴾:دعمل کثیرپه تعریف کې پنځه قولونه دي.

(۱)داسې عمل(کار)چې دهغه فاعل(کارکونکی)دلرې څخه څوک ووینې
نوداخیال ئې راسي چې دا سړی په لمانځه کې نه دی.دکم عمل (کار) څخه
چې په لمانځه کې ئې دنه کیدوظن نه وی بلکه خالي شبه وی نوبیاداعمل
قلیل دی.

(۲)کم کارچې عموماًپه دواړولاسوباندې کیږی.لکه کمربند تړل او لنګوټه
تړل عمل کثیردی.که څه هم هغه په یوه لاس باندې وتړی.او کم کارچې
عادةً په دواړولاسوباندې نه کیږی که په لمانځه کې هغه په دواړولاسوباندې
وسی نو هغه عمل قلیل دی.لکه واګه تړل اوخولي دسرڅخه لویدل.

(۳)درې حرکتونه پرله پسې وی.یعنی ددوی په مابین کې دیوه رُکن په انداز
ه وقفه نه وی نوبیاعمل کثیردی او که ددې څخه زیات وخت وی نوبیاقلیل
دی.

(۴)داسې کارعمل کثیردی کم دفاعل دامقصدوی چې هغه عادةً په یوځلا
مجلس کې کیږی.لکه په لمانځه کې چې کوچنی د ښځې څخه شیدې
وروډلی.

(۵)دادلمونځ کونکي پررایه باندې موقوف دی چې هغه کم کار ډیر(کثیر
بولي هغه کثیر.

اول دری اقوال ډیرزیات مشهوردی.اوپه حقیقت کی ددری سره حاصل یودی.له دی وجهی چی په دوئیم اودریم قول کی دذکرسوی عمل و فاعل ته دکتوښخه دغیرلمونځ کولوحالت ظن غالب وی.

فائده:په بعضوعباراتوکی ثَلاثُ حَرَکَاتٍ مُتَوَالِیَةٍ پر ځای باندی ثَلاثُ حَرَکَاتٍ فِیْ رُکْنٍ دی.یعنی په څومره وخت کی چی دری واره سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی وویل سی.ښکاره خبره ده چی په دومره وخت کی دری حرکتونه واقع سی.نوبیاهغه مسلسل ورته وائی.

داسی هم ویل کیږی چی دیورُکن سره دمسلسل کیدلوشرط هم دی.نوپه یوطویل رُکن کښې چی دری حرکتونه داسی راپیښ سی چی د دوئ په مابین کی دیوه رُکن په اندازه وی.نوپه دی به لمونځ نه فاسدیږی. د اولنی قول مطابق کم چی په حقیقت کی زیات صحیح دی اوداصل حیثیت لری ددریومسلسل حرکتونه مسلسل نه وی نوکتونکی ته په کتودا گمان نه کیږی چی دی دلمانځه په حالت کی نه دی.اگرکه دغه دری حرکتونه په یوه رُکن کی وی خاص کرکله چی رُکن اُوږد وی اود حرکتو نوپه مابین کی چی وقفه هُم زیاته وی.(احسن الفتاویٰ ص:۴۱۹)

﴿په سُجده کی ددواړپښو دپورته کیدوحکم﴾

﴿سوال﴾:که په لمانځه کی دسُجدی په حالت کی دوا ړه پښې دمځکی

څخه پورته سی نولمونځ به فاسدیږی اوکه نه؟نوکه دلمانځه دفاسدیدو حکم وی نوپه کمه بناء دی؟

﴿جواب﴾:په دواړوپښوکی دیوی پښې یوڅه حصه دیوه تسبیح په برابر پرمځکه ایښودل واجب دی.اودیوقول مطابق فرض دی.دریم قول دادی چی داسُنت دی.خواول قول راجح دی.نوکه په ټوله سُجده کی ئی دیوی تسبیح برابرددواړوپښوڅخه دیوی پښې یوڅه حصه پرمځکه باندی ولگوله نوواجب اداء سی.اوکه دومره اندازه ونه لگوی نودواجبودتلوپه وجه به لمونځ واجب الاعاده وی.(احسن الفتاویٰ ۳/۳۹۸)

﴿په لمانځه کی دسَتردښکاره کیدوحکم﴾

﴿سوال﴾:په داسی کالویاقمیص کی لمونځ کیږی چی هغه دومره تنگ وی چی رکوع له ځی یاسُجدی له ځی نودنامه څخه لاندی خواښکاره سی دکم چی پوټول فرض دی.اوپه داسی صورت کی لمونځ واجب الاعاده دی اوکه نه؟دسترڅومره اندازه چی خلاصه سی نولمونځ نه کیږی؟

﴿جواب﴾:که چیری په داسی قمیص کی ئی لمونځ وکړی اوحال داچی دی په دی باندی خبرؤوچی زماستر ښکاره کیږی یادلاپرواهی له وجهی ئی دستړپوټولوکوشش نه ؤو کړی نولمونځ ئی نه کیږی. که څه هم هغه په ډیر لږمقدارکی وی.او ښکاره کیدل ئی د ډیرلږوخت لپاره وی.اوکه چیری ئی

ستر په غیر اختیاري ډول باندې ښکاره سي نو په هغه کې تفصیل دادی چې که چیرې د دري سُبحان الله په اندازه ویلو دیوه اندام یوه څلورمه ښکاره وي نو بیائې لمونځ نه کیږي. او که د دې څخه کمه اندازه وي او یا وقت ئې کم وي نو بیا لمونځ کیږي. کم اندام چې ښکاره وي دهغه اندام یوه څلورمه معتبره ده. او که چیرې یو اندام د جلا جلا ځایو څخه ښکاره وي او د دې ټولو ځایو مجموعه دیوه اندام دیوې څلورمې حصې په اندازه راسي نو بیا لمونځ فاسدوي.

دنامه د برابر څخه ونیسي بیاد کوناتې پورې د څلورو خواؤ څخه یو اندام شمارل کیږي. د کوناتې شروع د نامه څخه لاندې دلنډې څخه شروع کیږي. چې ګردې خط دی. (احسن الفتاوی ۳/۳۹۹ بحواله ردالمختار ۱/۳۸۰)

﴿په لمانځه کې بجلکي پورته کول څنګه دي؟﴾

﴿سوال﴾: په لمانځه کې که چیرې بجلکي پورته وي نو پر لمانځه باندې څه اثر پریوزي؟

﴿جواب﴾: دسرې لپاره په لمانځه او غیر دلمانځه په دوا ړو حالاتو کې بجلکي پورته کول ناجائز دي او ګناه ده. په حدیث شریف کې پر دغه کار باندې د جهنم وعید راغلی دی. په لمانځه کې ګناه کول نورهم بد کار دی. په لمانځه کې د بجلکي پورته کولو څخه اګرچه لمونځ صحیح کیږي لیکن په متکبرینو کې دشمارله وجهې دغه مکروه دی. حضرت محمد ﷺ بجلکي

پورته کول، ږیره پرې کول او غزلي اوریدل دهغه بدو اعمالو په فهرست کې شمار کړي دي د کموله وجهې چې پر قوم لوط باندې عذاب راغلی. (احسن الفتاوی ۳/۴۰۲ بحواله طحطاوی علی المراقی ص: ۱۸۹)

﴿دامام سُجدې ته تلل او په ګونډو لاسونه ایښوول﴾

﴿سوال﴾: درکوع څخه وروسته سُجدې ته د تلو په وخت کې لاسونه پر ګونډو باندې ایښوول سُنت دي او که مستحب؟

﴿جواب﴾: دراولاړیدلو په وخت کې پر ګونډو باندې لاسونه ایښوول مُستحب دي. سُجدې ته د تلو په حالت کې په ګونډو باندې لاسونه ایښوول ثابت نه دي. دعدم ثبوت څخه علاوه په دې کښې نور هم دوه قباحتونه دي.

(۱) عوامو داسُنت یا مُستحب ګڼرلی دی.

(۲) دقومې څخه سُجدې ته د تلو سُنت طریقه داده چې تر څوئې ګونډې پر مځکه باندې نه وي ایښې ترهغه دې مُلا او سینه نه را کښته کوي. دغه وخت چې څوک په ګونډو لاس ایښوولو عادت لري نو اکثر دهغه دا عادت لیدل سوی دی چې لا ګونډې پر مځکه باندې نه وي لګیدلې او د بدن لوړه حصه پر مځکه راکښته سي نو په دې وجه دا عادت چونکه دسُنتو د پریښوولو دعادت باعث دی نو څکه قابل احترازدی. (احسن الفتاوی ۳/۵۱)

سُنت طریقه داده چې اول دې دواړې ګونډې پر مځکه باندې

کښېږدي او دغه رقم دې دواړه لاسونه يو ځای کښېږدي او چې کله راپورته کېږي نو ددې برعکس دې هم دغه شان وکړي.

البته که دعُذر په وجه ګونډې اول ايښوول مشکل وي نو په دې صورت کې دې اول ښئ لاس کښېږدي او بيا دې دواړه ګونډې يو ځای کښېږدي.(احسن الفتاوی ۳/۳۲بحواله ردالمحتار ص:۴۶۵)

﴿دامام دسُجدې څخه راپورته کيدل او قميص سمول﴾

﴿سوال﴾:يو صاحب دې چې کله هم دسُجدې څخه راپورته کېږي نو کله په لاس او کله په دواړو لاسو باندې دشادخوا لمن سموی. آيادا صحيح دی؟

﴿جواب﴾:دقميص سمولو ضرورت په دوو(۲) وجهو راپيښيږي.يو دا چې قميص دکمربند څخه لوړو دريږي نو دادبعضې مقتديانو ذهن ور کلوړ وی.او په خشوع کې مُخل کيږي.

دوئيمه وجه ئې داده چې دبعضې خلقو په سرين(کوناتو) کې قميص بنلسي.ديو داسې ضرورت په وجه سره دقميص په راکښولو او سمولو کې هيڅ حرج نسته.البته ددې لپاره يو لاس کافی دی.دوئيم لاس استعمالول مکروه دی او بې له ضرورته ديوه لاس استعمالول هم مکروه دی.(احسن الفتاوی ۳/۳۴۷بحواله ردالمختار ۱/۵۹۹)

﴿چې په لمانځه کې داوړو څخه پتو راولويږي نو دهغه حکم﴾

پتو پر اوړو باندې اچول پکار دي.دکالو ځړول په لمانځه له دتشويش باعث ګرځي.او دتشويش دلرې کولو لپاره يو يا دوه واره بنورول جائز دی.او دغه رقم کالي په لمانځه پرځان باندې ځړول ممنوع دی.او دا کار مکروه دی.دا کار دسدل په عمل کې دداخليدو په وجه مکروه دی.(احسن الفتاوی ۳/۴۳۶)

﴿په لمانځه کې دواګې سمول﴾

﴿سوال﴾:که په لمانځه کې دواګې دخلاصيدو انديښنه وي نو آيا دا په دواړو لاسو باندې بندولای سی؟يا وا که تينګه کړي؟

﴿جواب﴾:اول دې په يو لاس يوه خوا ټينګه کړي او بيا دې دريو وارو سُبحان الله ويلو په اندازه باندې وقفه وکړي او بيا دې هغه بله خوا په هغه بل لاس باندې ټينګه کړي.(احسن الفتاوی ۳/۴۳۷)

﴿سُجدې ته دتلو په وخت کې کالي راټولول﴾

﴿سوال﴾:بعضې خلق چې سُجدې ته ځي نو عادتاً پرتوګ يا لنګ پورته کوي آيا دا مکروه تحريمي دی که تنزيهي؟

﴿جواب﴾:مکروه تحريمي دی.(احسن الفتاوی ۳/۴۰۷بحواله ردالمختار ۱/۵۹۸)

﴿په قیام کې ددواړو پښو ترمابین دفاصلې اندازه﴾

فقهاؤلیکلي دي چې دڅلور ګوتو په اندازه باندې فاصله دقیام په حالت کې د پښو ترمابین ساتل پکار دي. که څه هم زیات وکم کې راسي نو لمونځ به صحیح وي. څه کراهیت نسته. (فتاوی دارالعلوم ۲/ ۱۵۳ بحواله رد المحتارباب صفة الصلوة بحث القیام ۱/ ۴۱۴)

﴿درکوع څخه دراپورته کیدووروسته سیده دریدل پکار دي﴾

﴿**سوال**﴾: بعضې ائمه چې رکوع وکړي نوسیده نه دریږي اوسُجدې ته ځي نولمونځ ئې کیږي اوکه نه؟

﴿**جواب**﴾: که درکوع څخه دراپورته کیدووروسته سیده ونه دریږي نو دائي واجب پریښووی. دغه لمونځ قابل اعاده دی. (فتاوی دارالعلوم ۲/ ۱۵۵ بحواله ردالمحتارباب واجبات الصلوٰة ۱/ ۴۲۴)

﴿دسُجدې څخه څلورګوتې راپورته کیدل اوبیادوئیمه سُجده کول﴾

دبعضې محققینو په قول په دې کې ترک دواجب راځي. اوددې لمانځه اعاده واجب ده. (فتاوی دارالعلوم ۲/ ۱۵۵ بحواله ردالمحتارباب

واجبات الصلوٰة ۱/ ۴۳۲)

﴿په سُجده کې دورون اواَدُم فاصله﴾

﴿**سوال**﴾: په سُجده کې به ورون اواُدُم څومره سره خلاصه وي. آیاقائمة الزاویه جوړول پکار دي؟

﴿**جواب**﴾: په دُرمختار کې راغلي دي چې خپل لاس به بې له تکلف ښکاره کوي اوورون به دنس څخه لیرې ساتي. نومعلومه سوه چې په سُجده کې سُنت اندازه دغه ده. اوزاویه قائمه جوړول لازمي نه دي. او داهم هغه وخت دي چې یوازې لمونځ کوي اوپه جماعت کې نه وي شریک او یاامام وي. که نې داسې دي نه کوي. دکم څخه چې ونورومقتدیانوته تکلیف ور رسیږي. (فتاوی دارالعلوم ۲/ ۱۶۴ بحواله ردالمختار ۱/ ۲۷۰)

﴿دسُجدې څخه دراپورته کیدوپه وخت کې پر مځکه باندې بیله عُذره لاسونه لګول﴾

﴿**سوال**﴾: په دوئیم رکعت کې چې کله دقعدې څخه وروسته ودریږي نو لاسونه هم هغه رقم پرورنوباندې کښیږدي اوولاړسي یاپر مځکه باندې لاس کښیږدي اوبیاولاړسي؟

﴿**جواب**﴾: لاس پر ګونډوا ویاپرورنوباندې دې کښیږدي اوبیاولاړسي نو

دابهتره ده.او که چیری دضرورت له وجهی پرمخکه باندی لاس کښیږ دی وولاړسی نودا هم صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم۲/۱۹۰ بحواله رد المحتارباب صفة الصلوة ۱/۴۷۲)

که امام صاحب دعُذرپه وجه وسُجدی ته دتګ په وخت کی اول لاس ایږدی نودامکروه نه دی.بی له عُذره اول لاس ایښوول مکروه دی. (فتاوی رحیمیه بحواله طحطاوی ص:۱۵۴)

﴿په التحیات کی په ګوته باندی اشاره کول سُنت دی﴾

﴿سوال﴾:دسرحدعلماءپه التحیات کی ګوته پورته کول منع کوی او وائی چی داکاردی په لمانځه کی مه کوی.صحیح خبره څرنګه ده؟

﴿جواب﴾:دحنفیانوپه نیزصحیح داده چی په التحیات کی دی دشهادت په ګوته باندی اشاره کول سُنت دی.په دُرمختار کی د ډیرو کتابوپه حوالو سره دشهادت په ګوته باندی اشاره کول ئی صحیح بللی دی .(فتاوی دارالعلوم ۲/۱۹۴ بحواله دُرمختارباب صفة الصلوة ۱/۴۷۴)

﴿که دراسته لاس ګوته نسی پورته کولای نوڅه به کوی﴾

که چیری په راسته لاس کی ئی عُذروی او ګوته نسی پورته کولای نوبیادچپه لاس د ګوری پورته کیلوحکم نسته.(فتاوی دارالعلوم۲/۱۹۲ بحواله ردالمحتارباب صفة الصلوة ۱/۴۷۴)

﴿داشاری په وخت دګوتودکړی حکم﴾

په التحیات کی دتشهدپه ګوته باندی داشاری په وخت داصورت دی چی دابهام اووسطٰی یوه حلقه جوړه کړی بُنصراوخنصردی بنده کړی. داصورت دحنفی مذهب دفقهی کتابولیکلی دی .(فتاوی دارالعلوم۲/ ۱۹۱ بحواله ردالمحتار ۱/ ۴۷۵)

﴿چی په التحیات کی ګوته پورته کړی نوپرکم لفظ بی ئی راکښته کوی﴾

په شرحه منیه کی دامام حلوائی څخه نقل دی چی پرلَآاِلٰهَ دی ګوته پورته کړی اوپراِلَّااللّٰهُ باندی دی را کښته کړی.(فتاوی دارالعلوم۲/ ۱۸۹ بحواله ردالمحتارباب صفة الصلوة مطلب فی عقدالاصابع ۱/ ۴۷۵)

﴿دګوتوکړی به په التحیات کی ترڅوباقی ساتی﴾

کله چی دی دلَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ ویلوپه وخت د ګوتوحلقه جوړکړی ده نو بیاداترفارغیدلوپوری دی همداسی وساتی.

په شامی کتاب کی بی حسابه روایتونه راغلی دی چی پکښې د عقداصابع داشاری وروسته دخلاصولوذکرنسته اودا ددی خبری ښه واضح دلیل دی چی حلقه یووارجوړه سوه نوبیائی خلاصول ښه کارنه دی . (فتاوی

دارالعلوم ۲/۲۰۲ بحواله ردالمحتار ۱/۴۵۰)

﴿په لمونځو کی دنبی کریم ﷺ قرأت﴾

عَنْ جَابِرِبْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِبِقٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِوَنَحْوِهَاوَكَانَتْ صَلٰوتُهُ بعْدُتَخْفِيْفاً.

ترجمه: دحضرت جابربن سمرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دسهارپه لمانځه کی سورة قٓ والقرآن المجیداودغه په رقم نورسورتونه ویل اووروسته به دده مبارک لمونځ سپک ؤو.(صحیح مسلم شریف)

تشریح: شارحینودذی وروستوخط کشی الفاظودوه مطلبه بیان کړی دی. یوداچی دسهار څخه وروسته یعنی ماپښین، مازیګر،ماښام اوماخوستن داټول به دسهارپه نسبت لږسپک ؤو. اوپه دی کی به هغوی دسهارپه نسبت قرأت کم فرمایلو.

ددی فقری دوئیم مطلب ئی دابیان کړی دی چی په ابتدائی دور کی چی کله دصحابه کرامو تعداد کم ؤواوپه حضور ﷺ پسی به صرف سابقینو اولینولمونځ کولونودحضور ﷺ لمنځونه به عموماًاوږده ؤو او بیا کله وروسته چی وروسره دیوځای لمونځ کولوتعدادزیات سواوپه دوئ کی دوئیمی اودریمی درجی والااهل ایمان هم راغلل نوبیاهغوی لمنځو نه نسبتاً

سپک سپک کول څکه چی په جُمعه کی به دلمونځ کزارو تعداد زیات ؤونوپه دی صورت کی به ددی امکان زیات ؤوچی څوک به پکښی مریضان وی یابه کمزوری یابه کم همته سپین ږیری وی چی هغوی ته به بیا اوږدلمونځ دزحمت باعث جوړسی.(معارف الحدیث ۳/۲۴۵)

دسهارپه لمانځه کی درسول الله صلی الله علیه وسلم دقرأت په متعلق چی کم حدیثونه درج کړی دی اوحدیثوپه کتابونوکی چی ددی څخه علاوه کم روایت په دی سلسله کی ملاویږی،ددغه ټولوومخ ته د ایښنو ولو څخه دامعلو میږی چی دحضورصلی الله علیه وسلم قرأت به دسهار په لمانځه کی دنورو لمنځوپه نسبت اکثراوبیشترلږاُوږد ؤوخو کله به(غالباً د څه خاص داعیه په وجه به)هغوی دسهارپه لمانځه کی په قُلْ يٰاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ،قُلْ اَعُوْذُبِرَبِّ الْفَلَقِ اوپه قُلْ اَعُوْذُبِرَبِّ النَّاسِ باندی هم جمعه ورکوله.

دارقم ددی احادیثو څخه داهم معلومه سوه چی دهغوی عام معمول به دلمانځه پهرکعتونوکی دمستقلوسورتونوویل ؤو.خوکله کله به داسی هم کیدل چی دیوسورت څخه به ئی یوڅوآیتونه وویل دغه رقم کله به داسی هم وسوه چی هغوی ﷺ به په دواړورکعتونوکی هم دیوسورت قرأت فرمائی.

دجُمعی په سهارد"الٓمّٓ تنزیل السُجده"اودسورة لادهردویلو حکمت

حضرت شاه ولی الله رحمه الله تعالیٰ علیه دابیان کړی دی چې په دی دوارو
سورتو کی دقیامت اودجزاء وسزا بیان ډیرپه مؤثره تو که سره بیان سوی دی.
اوقیامت به هم دجُمعی په ورځ راځی لکه څنګه چې په احادیثو کی راغلی
دی پـه دی وجـه به غالباًهغوی دقیامت دیاددهانی اودیادلپاره دجُمعی په ورځ
سهاروختې په لمانځه کی دادواړ سورتونه ویل خوښول. والله اعلم بالصواب
(معارف الحدیث ۳/۲۴۹)

﴿دسهار دلمانځه دقرأت اندازه﴾

﴿سوال﴾: دامام صاحب دسورة یٰسٓین اوسورة مُلک(تبارک الذی)دیاد باو
جوددسهارپه لمانځه کی (۱)وَالضُّحٰی(۲)اَلَمْ نَشْرَحْ(۳)وَالتِّیْنِ اود(۴) سورة
جُمعی آخری رکوع وائی، دکم څخه چې دبعضی مقتدیانو دسُنتو د ضائع
کیدوبیره وی. نو ددی لپاره شرعی حکم څه دی؟

﴿جواب﴾: دسهارپـه لمانځه کی وامام تـه دومـره دمختصرقرأت عادت
جوړول دسُنت خلاف اومکروه دی. که څه خاص عُذرنه وی نوامام اومنفرد
(یوازی لمونځ کونکی)دی د سهارپه لمانځه کی طوال مفصل یعنی دسورة
حُجرات څخه ونیسی اوبیاتـرسورة بروج پوری سورتونو کی دی علیحدة
علیحدة یویوسورة جلاجلاووائی. دا سُنت اومستحب دی. یادی د بلّ ځای
څخه کم ترکمه څلویښت آیتونه ووائی. څلویښت آیتونـه کم تر کمه دی

خو منځنی درجه پنځوس تـرشپیتو آیتو پوری دی. اوددی څخه لا بهتره داده
چې ۱۰۰ آیتونه ووائی.

پـه دی سلسلـه کی دامام اودمقتدی دهمت اوشوق لحاظ به ساتی
البته دوخت دتنګی اویادیوخاص عُذرپربناء باندی که قرأت لنډووائی نو بیا
پرواه نکوی. اوداجائز دی.(فتاویٰ رحیمیه ۱/۱۵۵ بحواله شامی ۵۰۲ وکبیری ص:۳۰۳)

﴿دجُمعی په ورځ دسهارپه لمانځه کی سورة سُجده ویل﴾

﴿سوال﴾: زیـلـوائی چې دجمعی په ورځ دسهارپه لمانځه کی پـه اولنی
رکعت کی سورة سُجده اوپه دوئیم رکعت کی سورة دهرویل مُستحب دی
دا صحیح ده؟

﴿جواب﴾: دجـمعی په ورځ دسهارپه لمانځه کی پـه اولنی رکعت کی
سـورة سُجده اوپه دوئیم رکعت کی سورة دهر ویـل فی نفسه مُستحب دی
خـو پـردی بـاندی مداومت(همیشه والی)کول مکروه دی. ځکه داسی نسی
چې عـوام داکـارکـول واجـب ونه بولی. نن صبادمسجدونو امامانو صاحبانو دا
مُستحـب امربالکل پری ایښی دی. داغـفلت دی اوددی اصلاح کول لازم
دی.(احسن الفتاویٰ جلد:۳ ص: ۸۱)

بی لـه شکـه چې په احادیثو کی داسی راغلی دی خو حنیفیه ئی په پر
بعضـواوقـاتوبـانـدی حمل کوی اوددی په مستقله تو که پـابـندی کول نه

خوښوی. ځکه چې هغوی دسوروتونوتعین دهرلمانځه لپاره منع کوی. خو
کله کله که داسې وسی نوحرج نه لری. خودوام یا همیشګی دی نه پرکوی
(فتاوی دارالعلوم ۲/۲۱۷)

﴿دسورتونوتعین کول﴾

رسول الله صلی الله علیه وسلم به دجُمعې دلمانځه په دواړورکعتونو
کې علی الترتیب اکثروبیشتربه سورة جمعه سورة منافقون ،سورة اعلیٰ یا
سورة غاشیه ویل اوداخترونوپه لمنځوکې به ئې هم یاخودا دوا ړه آخری سو
رتونه ، سورة اعلیٰ یاسورة غاشیه ویل او یا به ئې سورة "قٓ" والقرآن المجید
اواِقتربت الساعة ویلو.

کم حدیثونه چې د پنځه وخته لمنځونواودجُمعې په اوداخترونوپه
لمنځونوکې دقرأت متعلق لیکل سوی دی دهغه څخه مونږته دوی خبری
رازده کوی.(۱)دحضورصلی الله علیه وسلم به اکثره دامعمول ؤوچې د
سهارپه لمانځه کې به ئې قرأت اُوږدوائی اوزیات به ئې طوال مفصل سورتونه
ویل. دما پښین په لمانځه کې به ئې هم څه اندازه اُوږد قرأت وائی دمازیګر
لمونځ به ئې مختصراوسپک وایو. اودغه رقم به ئې دماښام لمونځ هم
مختصرکاوی. دماخوستن په لمانځه کې به ئې اوساط مفصل ویل خو ښنول
خوکله کله به ئې ددې څخه خلاف هم وسو.

(۲)په یوه لمانځه کې حضورصلی الله علیه وسلم دهمیشه لپاره نه د
یوخاص سورة دویلوحکم کړی دی اونه ئې عملاًداسې کړی دی. البته په
بعضو لمنځونوکې اکثروبیشتربعض خاص سورتونه ویل دهغوی څخه ثابت
دی. (معارف الحدیث ۳/۲۶۱)

﴿دحضرت شاه ولی الله رح رأیه﴾

حضرت شاه ولی الله رحمه الله تعالیٰ علیه په خپل کتاب حجة الله
البالغه کې فرمائی"رسول الله صلی الله علیه وسلم په بعضې لمنځونوکې د
څه خاصومصلحتونواوفوائدوپیش نظربعضې خاص سورتونه ویل خوښ
کړی دی خوقطعي طورئې نه دهغه تعین کړی دی اونه ئې نوروته ددې تاکید
کړی دی چې هغوی دی هم دارقم و کړی نوپه دې باره کې که څوک د
هغوی اتباع و کړی(په دغه لمنځونوکې هم دغه سورتونه اکثر وبیشتر
ووائی)نو ښه به وی او څوک که داسې ونه کړی نوهغه ته هم څه مضائقه او
حرج نسته"(معارف الحدیث ۳/۲۶۱)

نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دجُمعې اوداخترونوپه نورو لمنځو
نوکې سورتونه نه معلومول. په فرض لمنځونوکې په کوچنی اولویوسورتونو
کې داسې یوسورت نسته کم چې هغوی نه وی ویلې.
اوپه نوافلوکې به په یوررکعت کې دوه سورتونه هم هغوی ویل. خو په

فرض لمنځونو کی نه.معمولاًبه دهغوی اولنی رکعت ددوئیم رکعت څخه

غټ ؤو.

﴿په لمانځه کی د"سلام علیکم"ویلو حکم﴾

﴿سوال﴾:که امام دالسلام علیکم دویلوپر ځای صرف سلامُ علیکم بغیر دالف لام څخه ووائی نوڅه حکم ئی دی؟

﴿جواب﴾:دا سُنت څخه خلاف دی په دی به په لمانځه کی کراهیت راځی.داهغه وخت دی هم په تلفظ کی سلامُ علیکم ووائی کله کله داسی هم وسی چی په الف بانـدی خلق نه پوه نسی امام خوالسلام علیکم ووائی خو خلق ئی سلام علیکم واوریٔ نودامکروه نه دی.(کفایت المفتی ۳/۴۳۹)

(دالف لام څخه بغیر)سلام علیکم ویل دسُنت څخه خلاف دی نو په دی وجه مکروه دی.امام دی په دی پوه کړه سی چی تصحیح ئی و کړی.

(احسن الفتاوی ۳/۴۴۵بحواله ردالمختار ۱/۴۹۱)

﴿په سلام کی صرف دمخ کرځولو حکم﴾

﴿سوال﴾:دلمانځه څخه دوتولپاره دسلام د کرځولو په وخت به دقبلی څخه صرف مخ راکرځوی او که سینه هم؟

... صرف مخ کرځول دسلام سره کافی دی.(فتا...

...بحواله ردالمختا... ۱/۴۴۲باب اداب الصلوٰۃ)

﴿په سلام کی به مخ څومره راکرځوی؟﴾

عَنْ سَعْدابنِ اَبِیْ وَقّاص قَالَ کُنْتُ اَرٰی رَسُوْلُ اللّٰہِ علیہ وسلم عَنْ یَمِیْنِہٖ وَعَنْ یَسَارِہٖ حَتّٰی اَرٰی بَیَاضَ خَدِّہٖ.(رواہ مسلم)

دحضرت سعدبن ابی وقاص رضی اللّٰہ تعالٰی عنہ څخه روایت دی چی ماپه خپله حضرت محمدصلی اللّٰہ علیہ وسلم لیدلی ؤوچی ده مبارک به راسته اوچپه خواته خپل مخ مبارک کرځاوی اومخ مبارک به ئی راسته او چپه خواته دُومره راکرځوی چی مونږبه ئی دبارخو کانومبارکانوسپین والی لیدی.(معارف الحدیث ۳/۳۰۹)

﴿دامام څخه مخکی سلام کرځول﴾

﴿سوال﴾:یوه مقتدی دامام څخه دمخه سلام و کرځاوی نو آیاددغه مذکور مقتدی لمونځ صحیح سواو که نه؟

﴿جواب﴾:لمونځ ئی وسولیکن داسی. کول مکروه تحریمی دی البته که چیری ډیری سختی مجبوری په صورت کی سلام و کرځوی کم چی په لمانځه کی دتشویش باعث کرځی نوبیادلما نځه راکرځول واجب نه دی. دلته داسوال پیدا کیږی چی دامام متابعت په قصده سره دپریښنولوپه وجه به دالمونځ راکرځول پکاروی او که نه؟ددی متعلق څه صریح حکم نه دی راغلی.البته دسهواًدواجبوپه پریښوولو کی دسجده سهوی دعدم وجوب

څخه دامعلومیږی چی دعمدپه صورت کی دلمانځه اعاده واجبه نه ده.

دونیم جواب دامام اتباع واجب ده په دی وجه دامام څخه په قصده د مخوالی کول مکروه تحریمی دی البته دریح(هواء اونورداسی) د بیری څخه په بناء کی مخکی کیدلو کی څه کراهیت نسته. (احسن الفتاوی ۱/۲۹۴ بحواله رد المختار ۱/۴۹۰)

﴿که په سلام کی دمقتدی دامام څخه مخکی ساه راماته سوه نو دهغه حکم﴾

﴿سوال﴾: دمقتدی سادسلام ګرځولوپه وخت کی دالسلام علیکم ویلو کی دامام څخه دمخه راماته سوه نو دمقتدی لمونځ وسواو که نه؟

﴿جواب﴾: دمقتدی په لمانځه کی په دی صورت کی هیڅ خلل نه راځی (فتاوی دارالعلوم ۲/۱۶۳)

﴿په سلام کی دلفظ "الله" د کشولو حکم﴾

﴿سوال﴾: مقتدی به دامام دالله اکبرویلوسره فوراًسلام ګرځوی؟ اکثره د مسجدلوامامان په سلام کی لفظ "الله" ډیرزیات کشوی، نومقتدی به هم داسی کوی؟ یاهغه ودوارو خواؤته دامام څخه اول دسلام کلمات ختم کولای سی؟

﴿جواب﴾: په سلام اول کی په لفظ السلام ویلولمو نځ ختم سی په سی وجه اول میم دامام څخه اول ویل مکروه دی اوددی څخه وروسته نورڅه د

کراهیت وجه نه ښکاری. (احسن الفتاوی ۳/۳۱۲)

﴿دسهاراوماز یګر دلمانځه څخه وروسته دامام مخ ګرځول﴾

﴿سوال﴾: دسهاراودمازیګردلمانځه وروسته به امام ښې خواته راګرځی او کیڼې به یابه دمقتدیانوخواته متوجه کیږی؟ یومولوی صاحب فرمائی چی راسته خواته ګرځیدل او کیڼناستل مستحب دی اومقتدیانوته مخ کول او کیڼناستل داستحباب څخه خلاف دی نوصحیح جواب ئی څه دی؟

﴿جواب﴾: فقهاء حضرات رحمهم الله تعالیٰ علیهم فرمائی چی کله امام د فرائضو څخه خلاص سی اوهم پرهغه هیئت باندی ناست وی نودابدعت دی نوپه دی وجه دی امام خپل هیئت بدل کړی، ددی مختلف صورتونه دی یعنی یاخو دی دمصلی څخه ولاړسی یادی راسته یاچپه خواته یادمقتدیانو خواته کښینی. که دلمانځه څخه وروسته سُنت کول وی نودهغه د اداء کولولپاره دی دمصلی څخه دمخه یاوروسته یاراسته خواته یاچپه خواته سُنې نو سنت دی وکړی دامام هم په دی هیئت قبلی وخواته په پاته کیدلوبه نوی راتلونکوته به دااشتباه وسی چی ګواکی جمعه لانده ختم سوی اوداخطره به وی چی هسی نه چی یوڅوک نیت پسی وکړی اولمو نځ به ئی نه وی صحیح نوپه دی وجه دامام هیئت نه بدلول مکروه دی.

امام ته پکاردی چې دسهار او دماز یګر دلمانځه وروسته مقتدیانو ته مخ راواړوی اکښینی. البته که دامام سره په اولنی صف کې څوک مسبوق وی نو دهغه ومخ ته کښیناستل مکروه دی. نو په دی صورت کې دی راسته خواته یا چپه خواته کښینی. که دمخ دصف وروسته په هغه بل صف کې څوک مسبوق وی نو دهغه ومخ ته په مخامخ کیلو کې اختلاف دی. علامه شامی د جوازو خواته ترجیح ورکړی ده. (احسن الفتاوی ۳/۶۹ بحواله ردالمحتار ۱/۳۳۲)

﴿دلمانځه وروسته امام کمې خواته مخ و ګرځوی او کښیني﴾

﴿سوال﴾: په کمو لمنځو نو پسی چې سُنت مؤکده نسته دهغه لمنځوڅخه وروسته به امام کمې خواته مخ اړه وی. راسته خواته یاچپه خواته. یادمقتدیانو خواته. کم قول صحیح دی؟

﴿جواب﴾: په دغه دری سره طریقوباندی صحیح دی. دیوه التزام کول نه دی پکار. راسته خواته متوجه کیدل چې قبله راسته خواته وی نو دااولیٰ دی. (فتاوی محمودیه ۲/۱۳۴ بحواله مراقی الفلاح ص: ۱۷۲ مصری)

دډُعاپه وخت دامام راسته او چپه خواته را ګرځیدل ددواړو ذکر په حدیث شریف کې راغلی دی او ددواړو خبر اجازت په شریعت کې سته. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه فرمائی چې څوک دی په خپل لمانځه

کې دشیطان حیصه نه جوړوی. هغه داچې دی داګمان کوی چې راسته خواته راګرځیدل ضروری دی. ماپه ځوواره رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلی دی چې چپه خواته راګرځیدلی دی. خوداهم دحدیث څخه ثابته ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به راسته خواته ډیر راګرځیدی. (مشکوة المصابیح باب الدُعاء ص: ۸۷)

نو معمول داجوړ ول پکاردی چې اکثره دی وراسته خواته راګرځی او کله کله دی چپه خواته هم ګرځیدل کوی. (فتاوی دارالعلوم ۲/۸۹ بحواله غنیة المستملی ۱/۳۴۳)

﴿په نورو لمنځو کې دمقتدیانو خواته مخ ګرځول﴾

﴿سوال﴾: دلته زمونږ په ځای کې چې امام دماپښین، ماښام او ماخوستن لمونځ وکړی نو مقتدیانو ته راګرځی او دُعاکوی داکار څنګه دی؟

﴿جواب﴾: دا دسُنت څخه خلاف دی. (احسن الفتاوی ۳/۵۱۳)

﴿دفرضو وروسته دآیت الکرسی شریفی دویلو حکم﴾

﴿سوال﴾: امام ته دفرضو کولو وروسته تر څومره وخته پوری آیة الکُرسی ویل پکاردی؟ که امام صاحب تر ډیره وخته پوری ناست وُ او وویل ئی کول نو ګواکې مقتدی ته دده پیروی کول لازم دی یادُعاکول او په سُنتو کې مشغولیدل؟

﴿جواب﴾: دفرجو څخه وروسته اودسُنتو څخه ترمخه که آية الكُرسي او تسبيحات اونورداسي شيان په مختصر ډول پوره کړي اوبیاسُنت و کړي نو هيڅ حرج نسته.او دوخت څه اندازه نه ده مقرره.خو ډیر ځنډ دی نه کوی او که چيرى ئی وزياتو اورادوويلوته خيال وی نودسُنتووروسته دی پوره کړی دابهتره خبره ده.او که امام تر ډیره وخته پورى ناست وی او ويل کوی نو مقتديانوته دده اتباع لازمه نه ده.دوئ ته اختياردی چی دوئ سمدستی ولاړ ی او که څه لږډیرول و کړی نوبياولاړسی سُنت کوی.(فتاوى دارالعلوم ۲/ ۱٦۲ بحواله ردالمختارباب صفه الصلوة ۱/ ۴۹۴)

دُعادی دُومره وسی چی پرمقتديانوباندی گرانه نسی اودوئ ئی په اوږدوالی باندی تنگ نسی.(کفايت المفتی ۳/ ۲۸٦)

﴿دپنځه وخته لمنځووروسته ددُعاحکم﴾

دپنځه وخته لمنځووروسته لاس پورته کول اودُعاغوښتل دنبی کريم صلی الله عليه وسلم سُنت دی.په حِصْن حُصَين نومی کتاب کی راغلی دی چی دُعاته لاس پورته کول اوددی څخه وروسته پرمخ باندی لاس راتيرول دمرفوع احاديثو څخه ثابت دی.وئی گوری.دلمنځو څخه وروسته ددُعا کانوسُنت کيدل هم په هغه کی مذکوردی دلمانځه څخه وروسته دُعاپريښول دسُنت څخه خلاف ده.(فتاوى دارالعلوم۲/ ۱۹۹ بحواله مشكوة شريف كتاب الدعوات

ص:۹۵ اودحصن حُصين ص: ۳۰)

دحضرت عرباض بن سارية رضی الله تعالٰی عنه څخه روايت دی وائی چی رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل چی کم بنده فرض لمونځ و کړی اوددی څخه وروسته بنه دزړه داخلاصه دُعاو کړی نودهغه (سړی)دُعاقبليږی.(معارف الحديث ۵/ ۱۳۸)

﴿دسهاراوماز يگرپه لمنځو کی اوږده دُعا﴾

په کموفرائضو کی چی(وروسته) سُنت مؤ کده نسته لکه سهاراو مازيگرپه هغه کی دُعاوی اوږدی کوی اوپه کموفرضويسی چی سُنت وی نو دفرضووروسته دی مختصره دُعاو کړی اوسُنت دی اداکړی.اوبياوروسته د اجتماعی دُعاكولوضرورت نسته.څکه چی اجتماعی هم يوارده بيائی په دويم واردسُنتو څخه وروسته مقتديانوته دامام ددُعاانتظارکول اود هغه انتظام کول ضروری نه دی.(فتاوی دارالعلوم۲/ ۱۹۷ بحواله عالمگيری مصری چاپ ۱/ ۷۲)

يادونه:دنفلو اودسُنتو کول په کورکی افضل دی.په بعضی ځايو کی داررواج غلط دی چی خلق دجمعی دلمانځه څخه وروسته سُنت و کړی اوبياهلته د دُعالپاره پاته وی.اوبياامام دسُنتووروسته دُعاكوی.د ردالمحتارباب الوتر والنوافل (جلد:۲ ص: ٦۳۸) څخه دامعلوميږی چی د سُنتولپاره خلق درول اوبياپه اجتماع باندی د دُعا كولورواج دنبی كريم صلی الله عليه وسلم په

زمانه کی نه ؤو. اونه اُوس دهغه الزام کول صحیح دی. ولی چی داعمل د
حدیث څخه خلاف دی.

﴿دلمانځه وروسته دُعاکراره وغوښتل سی او که په زوره﴾

په قراره دُعاکول افضل دی که دلمونځ گزارولحاظ ساتل پکښې نه
وی نو کله کله ئی په لږزورباندی دُعا کړی وی نوبیاجائز دی. همیشه په زوره
دُعا کولوعادت جوړول مکروه دی. په روایاتو کی په زوره دُعا غوښتل ثابت
نه دی. (فتاوی رحیمیه ۱/۱۸۳)

دُعاقرار کول افضل دی که دُعاتعلیم ور کول دی مقصدوی نوبیا
په لوړآوازباندی کولو کی هم څه پرواه نسته. خوپه دومره لوړآوازدی نه
وائی چی دمقتدیانوپه لمانځه کی خلل راسی. لمو نځ پرسلام باندی ختم
کیږی ددی څخه وروسته دُعاکول دلمانځه جُزء نه دی (فتاوی محمودیه ۲/۴۳)

﴿ددُعاپه الفاظو کی تخصیص (دځان) کول﴾

امام دی ددُعاالفاظ دځپل ځان لپاره نه خاص وی. که چیری هغه
دُعاپه زوره سره کوی لکه چی ووائی "ای زما الله … پرنبی کریم
ﷺ … ارف مدینه)
… کم منفرد دالفاظ راغلی

دی هغه په دی کی شامل نه دی. ولی چی په لمانځه کی دامام څخه کمه
فائده حاصلیږی په هغه کی ومقتدیانوته هم حیصه ورکول کیږی. امام د
مقتدیانو نمائنده وی.

او که چیری قراردُعاکوی نوبیاامام ته اجازت دی چی هغه دځپل
ځان لپاره خاص دُعاو کړی (دبل چالپاره دی بنرانه کوی) ولی چی مقتدی هم
دځپل ځان لپاره دُعاکوی. دارقم په نفس دُعاکی ټول سره شریکیږی.
(معارف مدینه ۶/۱۰۰)

﴿دامام پر دُعاباندی آمین ویل﴾

﴿سوال﴾: دلمانځه وروسته چی کمه دُعادامام سره غوښتل کیږی په هغه که
به آمین وائی یاکم چی خوښه ئی سی هغه به غواړی؟

﴿جواب﴾: کمه دُعاچی غواړی غواړی دی. دالازمی نه ده چی دامام پر
دُعادی (خامخا) آمین ووائی. (فتاوی دار العلوم ۲/۲۰۱ بحواله ردالمحتار باب
صفة الصلوة ۱/۴۸۹)

﴿په دُعاکی دمقتدی شریک کیدل﴾

﴿سوال﴾: مقتدی ته دامام دسلام وروسته په دُعاکی شریکیدل ضروری دی
یا که مستحب؟

﴿جواب﴾: مستحب. (فتاوی دار العلوم ۲/۱۹۰ بحواله ردالمحتاروغنیة المستمل ص: ۳۳۰)

که چیرې مقتدي ته يوضرورت ؤواويائي ضروري کارؤونودسلام
څخه فوراً په تک کې هيڅ ګناه نسته.اوپرپه دغه باندې هيڅ طعن ويل دي نه
کوي او که چيرې دُعادختم کيلوپورې انتظار کوي اودامام صاحب سره په
دُعاکې شريکيږي نودابيا ښه ده.اوپه دې کې ډيرزيات ثواب دې. (فتاوی
دارالعلوم۳/۱۰۳)

﴿دُعاپه وخت کې به کم ځای ته ګورې﴾

دُعاورروسته دآسمان وخواته کتل اونظرپورته کول د دُعا هغه ناخو
ښه صورت دی دکم څخه چې حضرت محمدﷺ منع کړې ده.ولې چې
داشکل دالله سره دادب اواحترام اودُعا کونکي سره مناسب نه دی.کيدې
سي چې داحرکت دبې ادبې اوبې شرمۍ باعث جوړسي اودقبليدو څخه
محروم سي.په دې وجه ددې څخه دځان کتل پکاردي.(حصن حصين:۲۷)

﴿په دُعاکې دتلوارکولو څخه پرهيزکول﴾

دحضرت ابوهريرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روايت دی چې نبي
کريمﷺ وفرمايل "چې کله دالله څخه دُعاغواړې نو ذهغه يقين سره ئې
کوي چې هغه ضرورقبوله سي.اوپه دې وپوهيږې اودا په ياد وساتې چې الله
پاک دهغه چادُعانه قبلوي دچاچې زړه ددُعاپه وخت کې غافل اوبې پرواه
وي"ده مبارکﷺ وفرمايل"زمونږ دُعاوي ترهغه پورې دقبليدو و ړوې تر

کم ځايه چې په هغه کې تلواره نه وي(اوتلواره داده)چې بنده داووائي چې
مادُعاوغوښتله ليکن قبوله نه سوه."(معارف الحديث ۵/۱۲۳او۱۲۵)

﴿دُعادختم کيدووروسته کلمه ويل﴾

﴿سوال﴾:زمونږپه خواپه علاقه کې دارواج دی چې دُعاوروسته پرمخ
باندې دلاس راتيرولوپروخت کلمه طيبه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وائي،آياپه شريعت کې ددې څه ثبوت سته؟

﴿جواب﴾:ددُعاپه آخرکې درودشريف ويل اودآمين ويلو څخه سوادبل
څه دويلو څه ثبوت نسته.له دې وجهې پرمخ باندې دتيريلوپروخت د کلمې
طيبې دويلوعادت اورواج بدعت دی.لکه څنګه چې دخوراک وروسته اويا
دتلاوت کولووروسته يوسرې دماثوره دُعاوپرځای باندې کلمه طيبه ووائي
نوهرسړی هغه په دين کې زياتوب اوبدعت بولي.(احسن الفتاوی ۱/۳۷۴)

﴿دلمانځه وروسته دامام سره روغبړکول څنګه دي﴾

مصافحه(په لاس روغبړکول)اومعانقه(په غاړه روغبړکول)پرخپل
ځای باندې يوسُنت طريقه ده.سلام کول مصافحه کول اومعانقه کول په
عباداتوکې داخل دي.عبادت چې دصاحب شريعت دحکم مطابق اداسي
نوبياهغه په عبادت کې شمارل کيږي اودثواب حقداربه وي. که داسې نه وي
نوبيابدعت دی اودثواب پرځای باندې به ئې عذاب په غاړه وي.د مجمع

البحرين مصنفؒ په خپله شرحه کی دابیان کړی دی چی یو سړی د اخترپه ورځ دلمانځه دمخه په عیدګاه کی دنفلو کولواراده وکړه نوحضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه هغه منع کړی.هغه سړی ورته وویل چی ای امیر المؤمنین زه په دی ښه خبریم چی پر دغه کاربانډی ماته الله پاک عذاب نه راکوی. حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه وفرمایل چی زه هم په دی ښه خبریم چی الله پاک پرهغه کاربانډی چاته ثواب نه ورکوی چی هغه کار حضرت محمد ﷺ نه وی کړی اویائی دهغه ترغیب نه وی ور کړی.نو دا ستالمونځ کول عبث دی اوعبث کارکول حرام دی.نودابیره سته چی الله پاک تاته پر دغه کاربانډی عذاب در کړی.داپه دی وجه چی تادنبی کریم ﷺ خلاف عمل وکړی.(مجالس الابرابر۸/۱۲۹)

تاسی وګوری چی اذان کول عبادت دی .ددین شعاراویو اسلامی علامت دی.اودجمعی لپاره دوه اذانه او اقامت په پابندی سره کیږی لیکن داخترولپاره نه اذان کیږی اونه اقامت.

که چیری په عیدګاه کی اذان یااقامت وسی نوهر سړی په دی خبر دی چی دا کاربدعت دی.دارقم دمصافحی اومعانقی حکم هم دی.داخترو او د نورولمنځوروسته ددی لازمی کول بدعت دی.

په شامی کی رانقل سوی دی چی دهرلمانځه وروسته دلاس یاد

غاړی روغبړ کولورواج مکروه دی.د دی دلیل دادی چی صحابه کرامؒ رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین دلمانځه وروسته رو غبړنه دی کړی.اودکرا هیت یو وجه هم داده چی دادرو افضو طریقه ده.

ابن حجرشافعیؒ فرمائی چی خلق دپنځولمنځووروسته چی کم روغبړ کوی هغه بدعت اومکروه دی.په شریعت کی ددی هیڅ اصل نسته.

ابن الحاج المکیؒ په خپل کتاب المدخل کی فرمائی چی داامام لپاره ضروری دی چی خلقوچی کمه طریقه دسهاردجمعی اود مازیګر دلمانځه وروسته چی کم درو غبړنوی طریقه رواج کړی ده، بلکه بعض خو بیاد پنځولمنځووروسته هم دروغبړ کولوطریقه اختیار کړی ده،ددی ښخه دی خلق منع کړی ولی چی دا بدعت دی.په شریعت کی روغبړ دمسلمان سره دملاقات په وخت کی دی نه دا چی دلمانځه وروسته دی.له دی جهته شریعت چی کم عمل مقرر کړی دی هغه دی پر ځای سی اودسُنت خلاف دی خلق رامنع سی.

دمشکوٰة شریف شارح فرمائی "بی شکه دشرعی روغبړوخت د ملا قات وخت دی.خلق بی له رو غبړه سره وینی ،علمی خبری کوی اوبیاچی لمونځ وکړی نوبیارو غبړسره کوی.دادکم ځای سُنت دی؟ددی وجهی ښخه بعضی فقهاؤدا وضاحت کړی دی چی داطریقه مکروه اوبدعت سئیه

دی.(مرقات شرح مشکوۃ ۴/۵۷۵)

ددی مختصرتصریحاتوپربناؤبایدی داضروری ده چی دروغبرِ ښخه دی اجتناب وسی لیکن داسی طریقه دی نه اختیاروی دکم ښخه چی په خلقو کی غصه اونفرت وغورېږی.پرداسی مواقعوبایدی دی دملاعلی قاریؒ د هدایت خیال دی وساتی.هغه فرمائی"چی کله یومسلمان بی ځایه د روغبرِ لپاره تاته لاس دراوږد کړی نودهغه زړه مه آزاره وه.داسی نه چی د بد ګمانی سبب جوړ سی اوپه قرارئی پوه کړه اودمسئلی دحقیقت ښخه ئی خبر کړه."

(فتاوی رحیمیه ۳/۷۳)

دامسئله احسن الفتاوی جلد: ۱ صفحه :۳۵۵بایدی داسی ده"په شریعت کی دروغبرِوخت صرف اول وخت دملاقات دی،د لمنځوورو سته ده.دلمنځوورو سته روغبرِکول دنبی کریم ﷺ،دصحابه کرامؓ او ائمهٔ دین رحمهم الله تعالیٰ علیهم اجمعین ښخه ثابت نه دی بلکه دا د روافضوایجاددی اوبدعت دی له دی جهته ددی ښخه اجتناب اواحتراز واجب دی بلکه بعض حضرات فقهاء رحمهم الله تعالیٰ علیهم په صراحت سره لیکلی دی چی ددی بدعت کونکی ته دی دزجراوتوبیخ په ذریعه بایدی دی منع سی. که چیری بیا هم ددی کارښخه نسی منع نوبیادی د قدرت په درلودلوسره هغه ته سزا ور کول سی.البته کی چیری ئی دمنع کولوطاقت اووس نه وی نوبیادی نه منع

کوی."(بحواله ردالمختار ۱/۳۳٦)

﴿دمؤلف دُعا﴾

رَبِّ اَوْزِعْنِیْ اَنْ اَشْکُرَ نِعْمَتَکَ الَّتِیْ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ وَعَلٰی وَالِدَیَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَاَصْلِحْ لِیْ فِیْ ذُرِّیَّتِیْ اِنِّیْ تُبْتُ اِلَیْکَ وَاِنِّیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ وَتَقَبَّلْ مِنِّیْ هٰذَا الْعَمَلَ وَجَنِّبْنِیْ فِیْهِ عَنِ الْخَطَاءِ وَالنِّسْیَانِ وَاجْعَلْهُ ذَرِیْعَةً لِّلْفَلَاحِ وَالنَّجَاحِ فِی الدُّنْیَا وَوَسِیْلَةً لِّلنَّجَاةِ فِی الْآخِرَةِ.

محمد رفعت قاسمی مدرس دارالعلوم دیوبند

۱۰ محرم الحرام ۱۴۰۸ھ مطابق ۴ ستمبر ۱۹۸۷ء بروز جمعه

﴿مآخذو مراجع کتاب﴾

کتاب نوم	مصنف ومؤلف	مطبع
معارف القرآن	مفتی محمد شفیع اعظم پاکستان	ربانی بکڈپو دیوبند
معارف الحدیث	مولانا منظور احمد صاحب نعمانیؒ	الفرقان بکڈپو ۳۱ نیا گاؤں لکھنو
فتاوٰی دارالعلوم مکمل ومدلل	مفتی عزیز الرحمن صاحب	مکتبہ دارالعلوم دیوبند
فتاوٰی رحیمیہ	سید مفتی عبدالرحیم صاحب	مکتبہ منشی اسٹیٹ (اندیر) سوات
فتاوٰی رشیدیہ کامل	مولانا رشید احمد گنگوہی	کُتب خانہ رحیمیہ دیوبند
فتاوٰی محمودیہ	مفتی محمود الحسن صاحب مدظلہ	مکتبہ محمودیہ جامع مسجد شہر میرٹھ
امداد الفتاوٰی	مولانا اشرف علی تھانویؒ	ادارہ تالیفات اولیائے دیوبند
فتاوٰی عالمگیری	علامہ سید امیر احمد	مطبع نولکشور لکھنو
کفایت المفتی	مفتی کفایت اللہ دہلوی	کُتب خانہ اعزازیہ دیوبند
احسن الفتاوٰی	مفتی رشید احمد لدھیانوی	سعید ایچ ایم کمپنی ادب منزل چوک کراچی پاکستان
کتاب الفقہ علی المذاہب الاربعہ	علامہ عبدالرحمن	مطبوعات محکمہ اوقاف پنجاب لاہور پاکستان
مظاہر حق جدید	افادات علامہ نواب قطب الدین	ادارہ اسلامیات دیوبند
مسائل سجدہ سہوہ	مفتی حبیب الرحمن خیرآبادی	حرا اکیڈمی دیوبند
معارف مدینہ	افادات مولانا حسین احمد مدنی	مدرسہ امداد الاسلام صدر بازار میرٹھ
ہدایہ	امام ابوالحسن برہان الدین	کُتب خانہ رشیدیہ دہلی
بدائع وصنائع	علامہ علاؤ الدین ابی بکر	پاکستانی
صحاح ستہ	أئمہ حدیث	کُتب خانہ رشیدیہ دہلی
کبیری	....	فخر المطابع لکھنو
ردالمحتار علی الدرالمختار	علامہ ابن عابدینؒ	سعید ایچ ایم کمپنی ادب منزل چوک کراچی پاکستان
طحطاوی علی المراقی الفلاح	سید احمد طحطاوی	پاکستانی
صغیری	....	مطبع محمدی لاہور

کتاب نوم	مصنف ومؤلف	مطبع
حصن حصین	باضافۂ حواشی مولانا ادریس صاحب	نصیر بکڈپو بستی نظام الدین دہلی ۱۳
مسائل تراویح مکمل ومدلل	محمد رفعت قاسمی	مکتبہ رضی دیوبند
نور الایضاح	امام ابوالحسن برہان الدینؒ	مکتبہ تھانوی دیوبند
امداد المفتین	مفتی محمد شفیع	دارالاشاعۃ پاکستان
جدید فقہی مسائل	مولانا خالد سیف اللہ	مجلس تحقیقات اسلامی حیدرآباد
فتاوٰی ہندیہ		نولکشور لکھنو
غنیۃ الطالبین	شیخ عبدالقادر جیلانیؒ	مطبع لاہور پاکستان

—پای—

جمعرات ۲۵/ اگست ۲۰۰۵

﴿اعتذار﴾

انسان دغلطی یوڈهانچه ده۔په دی کتاب کی کوشش داسوی دی چی دکتاب دأردو ژبی څخه بعینه ترجمه وسی۔خوکله کله په ترجمه کولوکی جمله بی ډوله سی اواصلی مفهوم نسی ادا۔ کتاب کی به یو ځای ځای په قوسینو()کی یوه جمله یایوه پیره لیکلی وی هغه دوضاحت لپاره دمترجم اضافه ده۔چی هلته نښانی سوی هم ده۔هم دا رنګه مونږډیرزیار کړی چی د کتابت غلطی ئی حتی الامکان نه وی۔خوانسان بیاهم انسان دی۔که چیری دجملی یوه غلطی وی او یاد کتابت یوه غلطی وی اوستاسوترنظر راسی نوستاسی به ډیره مننه وی چی مونږته اطلاع را کړی۔اومونږته ددی غلطی بخښنه وغواړی۔

مننه

ناشر: مولوی حمدالله آغا سعیدی کُتب خانه نوی کوټه